اِلٰهیٔ دَ خپل حبیبٔ لهٔ برکته   دَا ساده انشا زنګینه دَرحمان کړے

۱۵۶۱

د رحمان بابا کلیات

تحقیق ترتیب او سمونه

دوست محمد خان کامل مومند

او

قلندر مومند

د چاپړے

پرنټرز — پبلشرز — بکسیلرز

۲۴ - ډی ہال پشاور صدر — خیبر بازار پشاور ښہر

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

د اداره حقوق محفوظ دي

د مطبوعاتو سلسله نمبر ۱۱

چاپونکے : عزیز خان

خورونکے : دَ چاپ ځائے

مطبع دَ چاپ ځائے کوهاټ روډ پیښور

کتابت : محمود فآنی . برتاکال

قیمت لائبریری ایډیشن : ۱۲۰ روپئ

۱۹۸۴ء

ضروري نوټ

دے کتاب کښے هر چرته چه "چپ و راست" او "زبیرکے" راغلي دے هلته که دَ قافیې او وزن تبدیلي نه راځي نو دا لفظونه دِ "چاپیراس" او "ژکیروے" ولوستلے شي.

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ترتیب

دَ بیاض ترتیب دَ حروف تهجّی (دَ پښتو دَ ېښتی دَ تورو)
په بنیاد شوې دې چه هره ېښتی کښې اول غیر مردّف غزلونه
او ورپسې مردّف غزلونه نقل شوی دی۔ دَ کوم غزل په سر کښې
یا کومو شعرونو ته چې ق لیکلې شوې دے هغه په چاپي دیوانونو
کښې نشته۔ دغسې کوم شعرونه چه په قلمي نسخو کښې نه دی موندلی
شوی دَ هغو مخې ته توره دائره راکښلې شوې ده۔ دَ دیوان نه
هغه غزلونه او شعرونه وکښلی شوی دی چه زمونږ دَ غور او
فکر په نتیجه کښې دَ قائلې شوې رائې مطابق دَ رحمان بابا دکلام
برخه نه ده۔

مُرتبین

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

پښتو اکیډمي پېښور پوهنتون

هُوَ النّاصر

○

دَ رحمان بابا دَ دیوان دَ دوبارہ ترتیب کار بناغلی صنوبرحسین مومند دَ خپل وفات نه څو کاله ۱۹۳۱ هو شروع کړے وو۔ هغه وخت دوی سره صرف یوه قلمی نسخه وه چه دَ "ا" نسخے په حیثیت ئے په نوټونو کښے ذکر شوے دے۔ دَ مرحوم دَ سیاسی مصروفیاتو له کبله دا کار مکمل نه شو۔ او دغه نیمګړے کار مرحوم دوست محمد خان کامل مومند دَ ا، ب، ج، د او ه نسخو په مدد په ۱۹۷۴ء کښے مکمل کړو۔ دیوان ئے دَ حروف تهجی په بنیاد مرتب کړو۔ په دغه کال دا مرتب شوے نسخه ماته په دے غرض حواله شوه چه پریس ته دَ لیږلو نه مخکښے ئے زه وګورم۔ ما دا ترتیب شوے نسخه یو ځل بیا دَ ا، ب، ج او د نسخو سره مقابله کړه۔ په دے دوران کښے دَ و او ز نسخے هم راپیدا شوے۔ او دا کار نور هم وږد شو۔ او دَ مرحوم کامل صاحب په اجازت ما دا غوره وګڼله چه دا مسوده ټولو هغو نسخو سره مقابله کړم چه موږ ته معلومے شوے وے۔ دا کار په ۱۹۷۵ء (دسمبر) کښے سرته ورسید او د جنوری ۱۹۷۶ء په شلمه نیټه موږ مسوده کاتب ته د دوکولو دپاره تیاره کړه۔ دَ مسودے کتابت او دوباره کتلو ډیر وخت واخست۔ او دَ کامل صاحب دَ شدید خواهش باوجود دا دیوان دَ هغوی په ژوند کښے چاپ نه شو حالانکه هغوی ډیر ځل دے ترېخ حقیقت ته واضح اشارے هم کړے وے۔ خو دا زما په خیال کښے هم نه راتلله چه کامل صاحب به موږ دومره ژر یواځے پریږدی۔ فانّا لله وانّا الیه راجعون۔

زه نه یم خبر چه د کامل صاحب په ذهن کښے څوک وو چه د هغه په نوم ئے دَ دے دیوان انتساب کول غوښتل خو زهٔ دَ رحمان بابا دَ دیوان په سلسله کښے د کامل صاحب

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

د زیاړ او د کتاب د چاپولو په سلسله کښې د هغوی د خواهش د شدت په وجه دا کتاب د هغوی په نامه منسوب کوم۔

د کتاب د طباعت په سلسله کښې دومره ویل شوي دي چه زه د مفصل مقدمې د لیکلو په عذر دا کار نور نه شم ځنډولے۔ مرحوم کامل صاحب د کتاب د پاره سریزه لیکلې وه. خو بیا هم د هغوی فیصله دا وه چه دا سریزه دې مختصره کړے شي۔ او هرکله چه د دې سریزې په اختصار هم وخت لګي نو زه دا خطره هم نه اخلم۔ دا سریزه زه د رحمان بابا په حقله د چلې څیړنې سره د چاپ کولو په نیت د ځان سره ساتم۔ هم دغسې د ښاغلي کامل مرحوم لیکلې د رحمان بابا د دیوان د فرهنګ نظرثاني به هم وخت اخلي او دا به هم انشاءالله تعالیٰ د رحمان بابا په حقله د تنقیدي مقالو سره چاپ کړے شي۔ وبالله التوفیق۔

قلندر مومند

۶ر خوشحال کالونی
پېښور ښار۔

۲۷ر جنوري ۱۹۸۳ء

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

انتساب

(1)

دَ

دوست محمّد خان کامل مومندؒ

په نوم

(2)

خپل نیمګړے تشخص مے قلندره په ژړا کړی
چه کامل په تصور کښې په خندا مخے له راشی

(3)

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

ا

۱۴ 1/1

ګوره هسې کردګار دې رب زما
چه صاحب دَ کل اختیار دې رب زما
همګی بزرګواران چه څوک ئې وائې
تر همه وُ بزرګوار دې رب زما
نه ئې هیڅ حاجت په چا باندې موقوف دې
نه دَ هیچا منت بار دې رب زما
له نیستۍ ئې دَ هستۍ صورت پیدا کړ[1]
هسې رنګ پروردګار دې رب زما
هم صانع دې دَ جمله وُ مصنوعاتو[2]
هم سامع دَ هر ګفتار دې رب زما
چه ئې هیڅ رې نه مثل نه مثال شته[3]
دَ هغو عطر و عطّار دې رب زما
هر تعمیر چه دَ دنیا او دَ عقبیٰ دې
دَ همه وارو معمار دې رب زما
خوانده دَ نا نویسو صحیفو دې[4]
دانده دَ هر اسرار دې رب زما

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

که ظاهر دے که باطن دے که مابین^(۵) دے
له همه و خبردار دے رب زما
شریک نه لری پخپله بادشاهی کښے
بے شریکه شهریار دے رب زما
هسے نه چه واحدی ئے ده له عجزه
په واحد وجود بسیار دے رب زما
حاجت نه لری دَ هیچا و یاری ته^(۶)
له هغو سره چه یار دے رب زما
څه حاجت دے چه ئے بله خواته غواړم^(۷)
په خپل کور کښے همکنار دے رب زما
هیڅ تغیر و تبدیل نه لری رحمانه
تل ترتله برقرار دے رب زما^(۸)

۲۷ ۲/۲ ۱۳

که صورت دَ محمّد نه وے پیدا
پیدا کړے به خدائے نه وه دا دنیا^(۹)
کل جهان دَ محمّد په مخ پیدا شه
محمّد دے دَ تمام جهان ابا
نبوّت په محمّد باندے تمام شه
نشته پس له محمّده انبیاء
نور هاله دَ محمّد وو پیدا شوے
چه نه عرش وو نه کرسی وه نه سما

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

بوی هاله د محمد وو په جهان کښې
چه بوی نه وو د آدمؑ او د حوا
په صورت که آخرین دے پیدا شوے[۱۱]
په معنیٰ کښې اوّلین دے تر هرچا
که نبی دے که ولی دے که عاصی دے
محمدؐ دے د همه وارو پیشوا
چه ئے دین د محمدؐ دے قبول کړے
جنتی دے که فاسق دے که پارسا
محمد د گمراهانو رهنما دے
محمد دے د رندو د لاس عصا[۱۲]
که رښا ده پس روی د محمد ده[۱۳]
گنه نشته په جهان بله رښا
محمد د بیچاره وُ چاره گر دے
محمد دے هر دردمند له دوا
خدائے ئے مه گڼه بیشکه چه بنده دے[۱۴]
نور ئے کل واړه صفات دی په رښتیا
زه رحمان د محمد د درخاکروب یم
که مے خدائے نه که له دے دره جدا[۱۴]

ق ۳۶ $9\frac{3}{2}$

صاحبان چه د ارشاد دی مقتدا[۱۵]
چار یاران د پاک رسولؐ دی په رښتیا

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

لہ اوّلہ ابوبکرؓ چہ صدّیق دے
بھترین دے لہ یارانو پہ ھرچا
پس لہ دہ نہ بیا بھترحضرت عمرؓ دے
چہ ئے حق باطل پہ عدل کڑ جدا
بیا دریم پسے عثمانؓ بن عفان دے
ذوالنّورین ئے نام پہ روغہ پہ رښتیا
څلورم پسے بھتر حضرت علیؓ دے
لہ اصحابو اولیاؤ کبریا
څلور وارہ څلور رُکنہ دَ اسلام دی
دَ اسلام کوتہ بے دوئی دہ بے بقا
اصحابؓ دَ پاک رسوؐل وو لکہ ستوری
ھمہ وارہ دَ حق لارے رھنما
چہ خلاف دَ دوئی لہ قولہ لہ عمل کہ
دَ ھغو خلل پہ دین کښے شو پیدا
ما رحمان دی څلور وارہ قبول کڑی
دوئی زما ھم مقتدا دی ھم پیشوا

۴۴۶ ۴/۴ ۸

عالمان دی روښنائی دَ دے دنیا[۱۶]
عالمان دی دَ تمام جھان پیشوا
کہ څوک لار غواڑی وخدائے او و رسوؐل تہ[۱۷]
عالمان دی دَ دے لارے رھنما

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

کیمیاگر که دَ کیمیا په طلب گرځی
همدمی دَ عالمانو ده کیمیا
په مجلس دَ عالمانو به سرهٔ زرشی
که خوک کاڼی وی که لوټه دَ صحرا[۱۸]
جاهلان دی په مثال دَ مرده گانو
عالمان دی په مثال دَ مسیحاء
چه مُرده ئے له نفسه ژوندے کیږی
عالمان دی واړه هسے اولیا
هر سړے چه رتبه نه لری دَ علم[۱۹]
سړے نه دے خالی نقش دے گویا
زه رحمان حلقه بگوش دَ هرعالم یم
که عالی دے که اوسط دے که اَدنیٰ[۲۰]

۶۵ ۵/۵ ۲۱

دوباره دے راتله نشته په دنیا
نن دِ وار دے که دروغ کړے که رښتیا[۲۱]
هره چارچه تروقت تیره شی عنقاشی
عنقا نه دے په دام نښتے دَ هیچا
تر ورخ تیرے اوبه بیرته نه جارووځی
نه جارووځی تیرساعت په بیرته بیا
تیر ساعت په مثال مړے دَ لحد دے
مړچا نه دے ژوندے کړے په ژړا[۲۲]

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

که مقصود لرے تلوار کړه وقت کوتاه دے

غره مه شه که دے عُمر په بقا

هره نښه چه صحیح ګڼے په زړه کښے

په غرور به دغه نښه کړے خطا

په امید امید ئے خلق نا امید کړه

دَ ایّام له مکره مه شه بے پروا

چه دَ مرګ په تماچه دِ شی خوله ماته

ترو په ماته خوله به څه رنګ کړے ثنا (۲۳)

ویره ژړلے ارتینے چه وینا وائی

تا ته وائی که پوهیږے په وینا (۲۴)

هلک نه ئے چه په زور دِ ښوک تعلیم کا

هم عاقل ئے هم بالغ ئے هم دانا

په عمل دَ نیکو بدو فهم وکړه

چه په دا کښے دِ بهبود دے که په دا (۲۵)

سر دننه په ګریوان کړه ستر ګے روغے

دیر په پورته پورته مه ځه سرهوا (۲۶)

سرهوا سرهوا مه ځه و اسمان ته

ته په اصل کښے له زمکے ئے پیدا

دَ عمل په ځائے به دا پښتنه نه وی

چه ته زوئے ئے یا نمسے ئے دَ فلانا

په خپل ځان ښیګړه وکړه غره مه شے (۲۸)

په ښیګړه دَ اَدے او دَ ابا

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

هغه ناوے چه په ځان بنائسته نه وی[۲۹]
څوک ئے څه کاندی بنائست دَ موراونیا
دا خبرے زه همه و ځان ته وایم
دلګیر مه شه که مے نوم واخست دَ ستا[۳۰]
نوم دَ ستا او دَ بل اخلم ځان ته وایم
نه مے کار نه مے غرض شته په نورځیا[۳۱]
هرچه وایم همه واړه ځان ته وایم
دا همه واړه عیبونه دی زما[۳۲]
که مے ځائے دَ دے غمونو وے په زړه کښے
ما به څه لره کوله دا انشا
چه دَ مرګ سختے خواری دَ ستا په خوا دی
اے رحمانه وے نه مرے لا پخوا

۱۰۵ $\frac{۶}{۶}$ ۴۰

راشه مه کوه له چا سره جفا
لږ ژوندون دِ ضائع کیږی بے وفا[۳۳]
په دُنیا کښے هیڅوک نه دی پاتوشوی[۳۴]
واړه تلونی دی که نن دی که سبا
دا یاران چه نن و [illegible] وته جلوه کا
په دوه ورځے پس به واړه شی فنا
که دیدن دِ دَ چا خوښ وی ورته ګوره
چه فنا شی بیا به کله شی پیدا

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دَ خزان پا نہ چہ بیلے شی لہ ښاخہ
پہ حکمت بہ ئے پیوند نہ کا حکما [۳۵]

چہ پہ زمکہ څاڅکے پریوځی لہ اسمانہ
بیا لہ زمکے ختے نہ شی پہ سما

گومان مہ کرہ چہ بہ بیا سترگو لہ ورشی [۳۶]
هغہ اوښے چہ لہ سترگو شی جدا

دا پہ هرہ ورځ چہ خیژی بیل بیل نمردے [۳۷]
هرچہ پریوځی هغہ نہ شی ختے بیا

کہ جنت پہ زُهد نہ دے بے کرمہ
هر سړے دِ خپلہ غاړہ کا ادا [۳۸]

کہ دَ نفس دپارہ سل محنتہ وکړے [۳۹]
یو محنت بہ دِ پکار نہ شی فردا

کہ تمام جهان پخپلہ گیډہ وخوړے
یاد بہ نہ شے پہ درود او پہ دُعا

کہ یوہ دانہ دَ وُږی پہ لاس ورکړے
هم دغہ بہ دِ توښہ شی دَ عقبیٰ [۴۰]

کہ یو څاڅکے اوبہ تږی لرہ ورکړے
دَ دوزخ او ستا ترمیان بہ شی دریا [۴۱]

کہ یو ځلہ سر دَ خدائے پہ لوری ټیټ کړے
پہ قیامت بہ سربلند شے تر هرچا

بازار دا دے کہ خوک سود و سودا کاندی
پہ هغہ جهان نہ سود شتہ نہ سودا

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

اشنایان که څه پوهیږی نن ئے وقت دے (۴۲)
چه ځاریږی یو اشنا تر بل اشنا

که ژوندون دے خو هم دا دے په جهان کښے
چه له چا سره تیریږی په خندا

خدائے امان وکړه له هسے زندګیه
چه ته بد وائے له بله بل له تا (۴۳)

زهر ښه دی که په صلح په صلاح وی
نه شکرے په فتنو او په غوغا (۴۴)

نفس په خارو په خس ډک ښه دے بے غمه
نه د غم په غوړو وریژو په حلوا (۴۵)

ما ته ملا په مشقت په محنت ښه ده
نه حرامه همیانئ د چا تر ملا

ړوند بهتر دے چه څه نه وینی په سترګو (۴۶)
نه چه سترګے په پردی حرام کا وا

ګونګ بهتر دے چه بے کام و بے زبان وی
نه چه ژبه شی په بد ویئل ګویا

کوڼ بهتر دے چه څه نه اوری په غوږو
نه چه غوږ کاندی د بدو په ویښا

دیو او دد که په خوا دریشی بهتر دے
خدائے دِ بد سړے در نه ولی په خوا (۴۷)

د جاهل تر همدمیه به بهتر وی
که له چا سره همدم وی اژدها

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

که مشکل دی خو دَ زړونو رغول دی
سهل کار دئے سود و زیان دَ دے دنیا
سود و زیان دَ دنیا واړه سهل کار دے
خدائے دِ نه کا څوک په سهل کار رسوا
چه دَ وروردَ عزیز زړه پرِ ازاریږی
حاصل مه شه هغه خپله مدعا (۴۸)
ګاه دَ نورو رضا بویه ګاه خپله
په کار نه ده همیشه خپله رضا
بنهٔ خواږه چه یو ئے خوری بل ورته ګوری
خواږه نه دی هغه زهر دی ګویا
چه بنادی ئے یو زمان وی غم ترتله
دغه هسے چارے نه کاندی دانا (۴۹)
لکه ځان هسے و بل وته نظر کړه (۵۰)
لکه ستا دے هسے ځان دے دَ هرچا
منصفانو لره بویه چه انصاف کا
نه چه نغوته کا دَ حرص او دَ هوا (۵۱)
دَ سړی په خاطرهرڅه هرڅه ګرځی
نه چه وګړی همه واړه روا
دینداران دِ وخپل دین و ته نظر کا
څوک فکرونه دَ صواب څوک دَ خطا (۵۲)
خدائے دِ نه کاند خطا دَ چا له لاسه
څه نسبت دے دَ خطا او دَ عطا

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

هسے نه چه سړی واړه سره سم دی
څوک عالی دی څوک اوسط دی څوک ادنےٰ[۵۳]

دَ هرچا حرمت پخپله اندازه دے
نه چه مومی نفر ځائے دَ امراؔ[۵۴]

زهٔ رحمان له چا شکوه شکایت نه کړم
نشته بل دوست و دښمن زما بے ماؔ[۵۵]

۱۱۳ ۸/۷

هیڅ ثابته نه کړه چا دَ دے دنیا وفا
واړه مینے کاندی بیهوده په دا دنیا[۵۶]
هرڅوک چه دعوٰی په دا دنیا کا دَ خپلویه
واړه باطل وائیٔ دنیا نه ده دَ هیچا[۵۷]
دا فلک کُلال دے سازه ول او ماتول کا
ډیرئے ما او تا غوندے پیدا کړه هم فنا[۵۸]
هرسنګ وکلوخ چه څرګند پرې دَ دے دهر
واړه ککرۍ دی څوک دَ شاه څوک دَ ګدا
دام دِ هیڅوک نه پردی دَ دنیا و رهګذر ته
ښکار به وکړے نه شی دَ سیمرغ او دَ عنقا
هرڅوک چه له دے فانی نفسه وابستګی کړه[۵۹]
نه به شی تړلے په زنځیر سره هوا
ماه دے که افتاب دے عاقبت واړه خراب دے
ګل که همیشه دے هم څه نه تر ابدا[۶۰]

مه درومه رحمانه په خلاف دَ دانایانو
مینه دَ دنیا پسند لے نه ده هیڅ دانا

۱۲۲ ۹ ۸/۸

په بنادی بناد شوے نه یم دَ هیڅا (۶۱)
تور تپ سوے یم په غم دَ هر اشنا
که زه طبع توقع له بله نه کړم (۶۲)
دَ بل طبع توقع کیږی له ما
که مے ورور که مے عزیز دے که مے یار دے
واړه غواړی خپله خپله مدعا
په هر کور کښے رنځوران راته زبیرکی کا
لاس مے نه رسی دَ هیڅا په دوا (۶۳)
دَ دنیا خبرے واړه په دنیا شی
ما به څه کا څوک چه نه لرم دنیا (۶۴)
که په کلی کښے مے کور دے زه گمان کړم
چه کور نه دے دا مے کور دے په صحرا
چه دِ نه پرِ څه پوره وی نه نیمگړی
څوک به څه کا له هغو سره خندا (۶۵)
چه ئے هیڅ په بنه توبنه وبله نه شی
تر هغه اشنا بهتر دے نا اشنا (۶۶)
په توده زمکه استوکه ده مشکله (۶۷)
څه به زیست شی له رحمان سره دَ جا

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

۱۳۰ ۸ ۹/۹

که خپل زړه غواړې له چا ـــ ځان صیاد کړه د عنقا
د حباب کلاه په سر کړه ـــ سور په اس شه د هوا
لکه خضر هسې پا څه ـــ اوبه وڅښه د بقا
له زمینه قدم کیږده ـــ په اسمان لکه عیسیٰ
د هغه استاد شاګرد شه ـــ چه دروښئ کیمیا
ته سر پریکړه وئے غواړه ـــ چه مونده شي په بها ق
دا چه ما درته بیان کړه ـــ که حاصل کړې واړه دا
هاله طبع کړه رحمانه ـــ د خوبانو له وفا

۱۳۹ ۹ ۱۰/۱۰

ته چه ماته وائے چه په څه کوے ژړا
نه درمعلومیږی دغه خپل جور وجفا
ته جورو جفا کړې زه ژړا کوم دلبره
ستاکه دغه نه وے دا به هم نه وے زما (۶۹)
څه بنادی به کاندی طائفه د عاشقانو
رسم د بتانو که هم دا وی لکه ستا (۷۰)
دا خصلت چه ستا دے که هم تل په دغه شان وی (۷۱)
نه رامعلومیږی د دردمند د زړه دوا
څو به دا جفا کړې نه پوهیږم څه بلا شوه
څو به وی ترکومه دا جفا و دا بلا (۷۲) ق
یو د ستا مانے شه بل غورزی د رقیبانو (۷۳)
وار په وارے وژنی کله هغه کله دا

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

هرچه عاشقي کا که په قطع افلاطون وی
زه خوئے مجنون ګڼم که نن وی که سبا (۷۴)
سپی هم په عذاب دَ جدائی دَ وژلو نه دی
زه خو ګونډے ستا دَ کوڅے سپے شوم په وینا (۷۵)
هیڅ مے پکار نه دی رحمان تا غوارم دلبره
زه په دا راضی یم باقی هرچه ستا رضا (۷۶)

۱۵۲ ۱۳

دا دنیا ده بے وفا — بے وفا ده بے بقا
نه ئے مخ شته نه ئے څټ شته — لکه لوټه دَ صحرا
په یوه ګړی ئے مخ وی — په یوه ګړی ئے شا
په یوه ګړی دَ ستا شئ (۷۷) — په یوه ګړی زما
په یوه ګړی ئے درد وی — په یوه ګړی دوا
په یوه ګړی ئے خوف وی — په یوه ګړی رجا
په ساعت کښے ئے بقا وی — په ساعت کښے ئے فنا
په ساعت کښے ئے سکوت وی — په ساعت کښے ئے غوغا
په ساعت کښے ئے خندا وی — په ساعت کښے ئے ژړا
په ساعت کښے ئے وفا وی — په ساعت کښے ئے جفا
په ساعت کښے ئے افلاس وی — په ساعت کښے ئے غنا
نه ئے شان لري نه شکل (۷۸) — کله دا شی کله دا

خدائے خوک پیښ مه کړه رحمانه (۷۹)
په دا هسے رنګ بلا

۲۰۸ ۱۲/۱۲ ۵۶

ښه ده ښه ده دا دنیا — چه تو ښه ده دَ عقبیٰ
مذمت دَ دنیا مه کړه — واوره پند کړه دا وینا (۸۰)
دَ دنیا په بازار کیږی — دَ هغه جهان سودا
په دنیا کښے ډیر حکمت دے — ورشه وېښته حکما
که غلیم لره ئے ورکړے — غلیم دوست کا په هوا
که ترسرئے صدقه کړے — رفع دفع که بلا (۸۱)
که په اورباندے ئے کیږدے — بوی دَ عودو کا پیدا (۸۲)
که ئے تویه په صحرا کړے (۸۳) — ښائسته کاندی صحرا
که ئے نذر کړے وېښته — خوشحال دروهی په خندا
ځوړوندے په دنیا پائی (۸۴) — یاده وی دِ په دُعا
دَ حاتم په څیر دِ ستائی — خطاب درکا دَ سخا
سخی هر یو دَ خدائے دوست دے — وَ لَوْ كَانَ فَاسِقًا
هر بخیل دَ خدائے دښمن دے (۸۵) — وَ لَوْ كَانَ زَاهِدًا
دنیا کښت دَ اخرت دے — دا خبره ده رښتیا
دَ دنیا طالبان ډیر دی — که ئے مومی ځوک له ځا (۸۶)
ولے مرد پکښے هغه دے — چه سخی وی هم پارسا
په دنیا کښے بدی نشته — که بدی نه وی له تا
په دنیا کښے خطا نشته — که له تا نه وی خطا (۸۷) ق
دنیا بحر دے بهیږی (۸۸) — آئینے غوندے صفا
خپل خپل مخ پکښے لیده شی — که ځوک زشت وی که زیبا
هم خطر پکښے دَ سرشته — هم گوهر دے بے بها

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

وفادار لره وفا شوه[۸۹] — جفاکار لره جفا
له یوه مخه ئې درد وی — له یوه مخه دوا
چرته خوند کاندی دَ زهرو[۹۰] — چرته خوند کا دَ حلوا
کار همه وارة موقوف دے — دَ سړی پر مدعا
سالکان دِ نندارچی شی — دَ خپل ځان په تماشا
هرچه کا هغه به مومی[۹۱] — دنیا ځائے دے دَ جزا
لکه وی هسے به پاځی[۹۲] — که نادان وی که دانا
که دانا ئې وپوهیږه[۹۳] — په روا په نا روا
فتوٰی ونسه په مخ کښے — پسے مټ کړه په تقوٰی
دنیا نه ده هغه دین دے[۹۴] — چه له نهی وی سیوا
وطاعت وته ولاړ وی — همیشه ترے ملا
له حراموئې پرهیز وی — بیائې شپول وی پنځ بنا[۹۵]
کلمه ئې وی قبوله — هم په جهر هم په خِفا[۹۶]
دَ دنیا دَ کار دَ پاره — فرض نمونځ نه کاندی قضا
هم صائم دَ رمضان وی — هم زکوٰة کاندی ادا
که ئې توان دَ حج رسیږی — حج هم وکا پسے بیا
دا پنځه بنا دَ دین دی — چه بیان ئې وکړ ما[۹۷]
چه ئې یون په دا طریق دے — هغه کس دے اولیا
که ئې مال دَ دنیا ډیر وی[۹۸] — هیڅ دِ نه کاندی پروا
دنیا بده دَ هغو ده — چه ئې کسب وی ریا
ق یائې کسب دَ ریا وی — یائې وکړی په غلا[۹۹]
یائې تول کا په ظلم — یا دَ خمرو په سودا

یا ئے ورکا پہ شرابو　　یا ئے ورکا پہ زنا
یا ناحق خونونہ کاندی　　یا مالونہ خوری ذَ چا
عبادت کا پہ ځان فرض　　ذَ بادشاہ ذَ امرا
حق باطل کا باطل حق کا　　پہ سبب ذَ روئے ریا
نہ ئے ویرہ وی لہ خدایہ(۱۰۱)　　نہ ئے شرم نہ حیا
ذَ یوے ګیدڑے ذَ پارہ　　ھزار خونے کا بیدیا
همیشہ ئے لہ ستمہ　　خلقہ وی پہ غوغا
ګوش وھوش ئے ھرګز نہ وی　　ذَ مظلومو پہ ژڑا
ذَ فرعون پہ شیر ناست وی(۱۰۲)　　بے پروا و کبریا
بت خانے وتہ ئے مخ وی　　و مسجد وتہ ئے شا
اختلاط کا لہ بدانو　　لہ نیکانو وی جدا(۱۰۳)
هیڅ ئے نہ وی پہ خاطر کښے　　تَوَلّا و تبرّا(۱۰۴)
و رحمان تہ پیښہ مہ کړے　　خدایہ ھسے رنګ بلا(۱۰۵)

۲۲۰ ۱۳/۱۲ ۱۲

چہ لہ تا سرہ پہ سر کاندی سودا
بل بہ نہ وی ھسے ماغوندے شیدا
نہ بہ ما غوندے شیدا وی پہ جہان کښے
نہ بہ تا غوندے دلبر شی بل پیدا
ما بہ صبر ستا پہ جورو جفا وکړ(۱۰۶)
ولے نہ شی ذَ ژړا پہ ځائے خندا
بے ذَ ستا لہ مخہ کون دے کہ مکان دے
بنہ توښہ مے نہ پہ دا شی نہ پہ دا(۱۰۷)

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

جدائی به دِ هیڅ رنګ قبوله نه کړم
خو مے نه وی روح کالبوت سره جدا (۱۰۸)
لکه وروستو مقتدیان وړاندے امام وی (۱۰۹)
ما په تا پسے ده کړے اقتدا
زه یو نه یم درست جهان په تا مئین دے
که بادشاه دے که وزیر دے که ګدا (۱۱۰)
کشکے خط دَ امانیه وما راکړے
چه له ما سره وعده کړے دَ فردا (۱۱۱)
زه پخپله په تا نه یم مئین شوے
ستا له لوریه په ما شوے ده ندا (۱۱۲)
زه په تا باندے مئین یم له ازله (۱۱۳)
نه چه کړے مے نن ورځ ده ابتدا
چه دَ ستا دَ عاشقئ په تیغ اداشی
دَ رحمان غاړه به هله شی ادا (۱۱۴)
دَ رحمان و زیړی مخ وته نظر کړه
چه مدام کاندی په تا پسے ژړا (۱۱۵)

۹ ۱۴/۱۴ ۲۲۹

چه ئے لوئے کاندی په ډول او په سُرنا (۱۱۶)
بیا پرے وائی زمانه دَ ویر وینا
که هر خو مے دلبری او دلجوئی کا (۱۱۷)
زه پوهیږم دَ خپل یار په استغنا

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

په یوه کړی مے یار هم مے اشنا وی (۱۱۸)
بیا مے بله کړی نه ګڼي اشنا
دا زه خپلے تسلے کړم یار ئے بولم
څه یاری ده دَ ناتوان او دَ توانا (۱۱۹)
یو زمان او یو دم بے خپله صنمه (۱۲۰)
زه بهتره تر بقا ګڼم فنا
هر سړے په یوے چارے خدائے مشغول کړ
زه مشغول کړم خدائے دَ ترکو په ثنا
ما بے عشقه بل هنر نه زده ناصحه (۱۲۱)
بخښنده شه که نادان یم که دانا
چه مے غوږ په نارو نه باسی حیران یم
پروا نه لری که وورِ دے که برنا (۱۲۲)
بے دَ یار له ښه دیدنه دِ خدائے نه کا
دَ رحمان په زړه کښے بله تمنا

۲۳۸ ۹ ۱۵/۱۵

که نمابنام تر ستونی کښته کړے حلوا (۱۲۳)
سبا خواست کوے له خدایه دَ ښوروا
په هیڅ حال کښے دِ قرار و صبر نه شی
لیونے کړے ډیر حرص و ډیر هوا (۱۲۴)
تمامی عمر تر یار تر عزیز پورے
لوئے کیدے مختورن کړے هم رسوا (۱۲۵)

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

چه په خپلې رسوايۍ دِ پروا نه شي
نور به څه کړے په جهان دَ چا پروا[۱۲۶]

چه دَ نفس دپاره لاس وخدائے ته نسے
دا رحمت له خدايه غواړے که دَوا[۱۲۷]

نفس بے شماره عالم پړے يست وکوهی ته
خدائے دِ نه کا نابينا دَ چا پيشوا

په روا په نا روا کله پوهيږی
وچارپائے ته څه روا څه ناروا

چارپايان که غوږ او سترگے لری څه شو
په معنیٰ کښے نابينا دی ناشنوا

زه رحمان له هغه علمه پناه غواړم
چه له دينه له مذهبه وی سيوا

۸ ۱۶/۱۹ ۲۴۶

دل و دين مے هغه ترکے کړ رهٔا[۱۲۸]
لائے نه حسابوی دَ ځان بها

دَ بنائست صفت ئے څوکوم حيران يم
په هيڅ رنگ ئے مونده نه شی انتها[۱۲۹]

دَ صورت له عيبه هسے پاکيزه ده
لکه ذات دَ وينتو نشته دے په ها[۱۳۰]

که ئے مخ په زلفو پټ دے باک ئے نشته[۱۳۱]
تل په گنج بانده پراته وی اژدها

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

✓ لکه نمر هسے جلوه کا په شفق کښے
چه په سرکاندی اوړنیٔ دَ سُها
نه پوهیږم چه په کومه لار وردرومم
چاپیراست ئے رقیبان دی هزارها
خدائے دِ هسے تنها نه کا څوک په غم کښے
لکه زهٔ دَ یار په غم کښے یم تنها(۱۳۲)
همیشه دَ بیلتانه په غم کښے لولم
زه رحمان اَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنْهَا(۱۳۳)

۲۵۸ ۱۷/۱۷ ۱۲

که مئین ئے په خپل یار بانده رښتیا
اواره کړه اول دین پسے دنیا
په وفا دَ دلبرانو غلط مه شه
دغه قوم دے بے وفا و کبریا
دَ خوبانو طائفه ده هسے شوخه
چه غوږ نه باسی دَ چا په واویلا(۱۳۴)
دَ ډیر ناز او دَ ډیر کبر له سببه
عمل نه کا په گفتار دَ اولیا
دِل و دین په نیم نگاه دَ سرے یوسی
نه ئے ویره له چا کیږی نه حیا
✓ بل به هسے سرگردان په جهان نه وی
یا عاشق دے یا اسمان دے یا آسیا(۱۳۵)

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

نه چه ژغورے سرو مال په عاشقئ کښے(۱۳۶)
عاشقي دا هسے چرے ده ویریا
دَ جنت تر حورو تیر شه که یار غواړے
خدائے دِ نقده دَ چا نه کاندي نسیا
دَ ساقي له لاسه هسے باده نوش کړه(۱۳۷)
چه دِ غوږ کړه له زړه خیرے دَ ریا
چه ئے کسب عاشقي شي دَ دلبرو(۱۳۸)
نظر نه کاندي په کسب دَ کیمیا
عشق هنر دَ مخلصانو دے رحمانه
نه حصلیږي مخلصي په رُو ریا(۱۳۹)
یو گفتار درلره بس کاندي رحمانه
څه په هر ساعت پښتنه کړے بیابیا

۲۶۹ ۱۸/۱۸

بادشاهي لري هر یو غلام د ستا
دَ خاصانو په ځائے ناست وي عام دستا
پخته کله وي چه لاف دَ پختگئ کا
پختگان دي په دا خم کښے خام دستا(۱۴۰)
خو هم هومره ئے په ننگ و نام نظر وي
څو چا نه وي اوریدلے نام دستا(۱۴۱)
همیشه به له مقامه بے مقام وي
هغه څوک چه لټوي مقام دستا

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

څو په خپلو وينو ګل غونډ ے غرق نه وی (۱۴۲)
و به نه وينی رخسار ګل فام د ستا
صبح وشام په هغو خلقو باندے يووی (۱۴۳)
چه ارزو لری هر صبح وشام د ستا
بل کلام ئے په زړه کله اثر کاندی
چه تر غوږ ئے شی شيرين کلام د ستا
فراموش کاندی همه نورے مستئ (۱۴۴)
هر چه نوش کاندی باده په جام د ستا
دام د ستا د تورو زلفو عالمګير دے (۱۴۵)
تنها نه يم نښتے زه په دام د ستا
هسے نه چه زه رحمان يواځے بند يم
ټول عالم دے بنديوان په دام د ستا (۱۴۶) ق
زه رحمان دعا سلام په هغو وايم
هر چه ما لره راوړی سلام د ستا (۱۴۷)

۲۸۱ ۱۹/۱۹ ۱۲

هر چه وويني په سترګو روئے د ستا (۱۴۸)
خ ئے کوږ وی هميشه په سوئے د ستا
بے دماغه به تر سرو ماله تيرشی
چه ئے تيرشی تر دماغه بوئے د ستا
که لوئي کړے څه بے ځايه خوئے نه کړے (۱۴۹)
چه په دا رنګه قامت دے لوئے د ستا

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

نوبهار شه عالم سیر دَ بوستان کا (۱۵۰)
خدائے و ما وته بوستان کرکوئے دستا

دَ عیسیٰ له دمه دم وهلے نه شم
چه خوله بیرته شي په گفتگوئے دستا

هم په داسے له چشمانو جوئے بهیږی (۱۵۱)
چه یادیږی مے قامت دلجوئے دَستا

همیشه ئے زړه په اوربانده سپندوی
وهغو ته چه شرکند شي خوئے دستا (۱۵۲)

دَ لړم لاشهٔ ئے ماته وی په زړه کښے
چه ئے نقش وی په زړه ابروئے دستا

وزنځیر وته ئے څه لره راکاږے
لیونیو لره بس دے موئے دستا

وګرځنګ وته پخپله ځان پریباسی
چه و زړه وته پریباسی ووئے دستا

کهٔ ته سل ځله زمائے زه دستا یم (۱۵۳)
تلوسے نه دے له ما جستجوئے دستا

ګل لمبه شهٔ دَ بلبل په آه رحمانه
نه ګروهیږی یار په هائے هوئے دستا

۱۵ ۲۰/۲۰ ۲۹۶

خوئ که په دا شان وی دل آزارستا (۱۵۴)
څه بنادی به کاندی طلبګارستا

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

حیف چه اوریدهٔ شی لیدهٔ نه شی
حسن لطافت دے پری وار ستّا (۱۵۵)
بیا دوبارهٔ نه گوری و بل ته (۱۵۶)
هرچا چه لیدلی دی رخسار ستا
خدائے زده چه به ته دکوم یو یارئے (۱۵۷)
هر طرف یاران دی صد هزار ستا
ځائے دَ پښو یښوے مونده نه شی
هومره عاشقان دی په دربار ستا
بل به هسے نه وی که ئے خدائے کا
ما غوندے خاکسار او هوادار ستّا (۱۵۸)
بل کمان دا هسے بد په ما مه کړهٔ (۱۵۹)
عمر وارهٔ زهٔ او انتظار ستا
عشق دے له حسن او حسن دے له عشق (۱۶۰)
ته نگار زما ئے زهٔ نگار ستا
ته زما مطلوب زهٔ دِ طالب یُم
ته زما طبیب ئے زهٔ بیمار ستا
ته که تازه گل دَ نوبهارئے
زهٔ یم عندلیب په لاله زار ستا
جور که جفا ده که ستم دے
وارهٔ مے منلی دی یکبار ستا
حور د چا څوک په بها پیری (۱۶۱)
زهٔ یم دَ جورونو خریدار ستا

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

پښتو اکیډمی پېښور پوهنتون

يو تار که ضائع شي ستا دَ زلفو
ځان به صدقه کړم تر هر تار ستا[۱۶۲]
سل ازمائښتونه دِ را وکړه
حيف دے چې لا نه شي اعتبار ستا
تير يم زه رحمان تر نوره کاره[۱۶۳]
اوس مے ملا تړلے ده په کار ستا

۳۰۵ ۹ ۲۱/۲۱

که څوک يار په جهان غواړي يار دے دا
يار دے دا که دجهان سنګار دے دا[۱۶۴]
خيال دَ زلفوئے زما تر زړه چاپير شه
يا تر ګنجه چا پير شوے مار دے دا[۱۶۵]
دا جهان دے خدائے له عشقه پيدا کړے
دَ جمله وُ مخلوقاتو پلار دے دا
تر عشق غوره بل څه کار په جهان نشته
تر همه کارونو غوره کار دے دا[۱۶۶]
بے له عشقه روزګارونه واړه پوچ دي
ق که روزګار دے خو بهتر روزګار دے دا[۱۶۷]
هيڅ بلبل به دَ ګل نوم اخستے نه وو
که خبر وے چې ګل نه دے خار دے دا
بيا راتله وَ دے جهان ته بل وار نشته[۱۶۸]
بل وار نشته بل وار نشته وار دے دا

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دَ حباب عمر دِ وګوری چه څو دے
که څوک شمار کاندی دَ عمر شمار دے دا (۱۶۹)
دَ مجنون صورت په زړه کا رحمان ګوره
ستا په عشق کښے هسے خوار و زار دے دا

۳۲۶ ۲۱ ۲۲/۲۲

چه امید په عمارت دَ دے دنیا کا
دَ کاغذ په کشتۍ سیر دَ دریا کا
دَ اسمان توسن هیڅ‌ا نه دے تیزلے (۱۷۰)
څوک به څه رنګه سورلی دَ بادیه شا کا
نه لیوه په ادمیت اموخته کیږی
نه امید دَ مروت شی له افلاکا
له فلکه دَ وفا امید باطل دے
کله دیو له اٰدم زاد سره وفا کا
زمانه په اسلام کفر سمه ګرځی
فرق دَ تور و دَ سپین کله نابینا کا
ما دَ دهر علامت په سترګو ولید
چه هر دم هزار پیدا هزار فنا کا
هیڅ امید مے دَ ایام په ګردش نشی (۱۷۱)
چه فرصت به په خپل دَور وَ ماراکا
په خپل عمر به هیڅ‌ا لیدلے نه وی
هغه چارے چه ئے هر ساعت په ما کا (۱۷۲)

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

کہ دَ ګلو غنچہ کیږدم پہ دستار کښې
شوم طالع مې هلتہ خار ځنې پیدا کا
کہ و زرو وتہ لاس کړم خاورې کیږی
کہ دَ خاورو پہ ارزو شم استغنا کا (۱۷۳)
جدائی دَ خدائې بلا شوه نہ توانیږم
خوشې زړه مې پہ دیدن پسې بلا کا (۱۷۴)
دَ دیدن تږی بد څہ رنګہ سهیږی
ق چہ دَ حسن ابر هر لوری بریښنا کا (۱۷۵)
هومره صبر دې عاشق څخه له کومه
چہ دَ نن وعده موقوفہ پہ فردا کا
کہ دَ اور جامہ راواغوندې دلبره
پہ نظر زما جلوه لکہ دیبا کا (۱۷۶)
پہ خپل عشق کښې کہ څوک بد راباندې وائی
زه ګمان کړم چہ همه زما ثنا کا
ملامت پہ عاشق ښائی دا دستور دې
چہ روغ خلق پہ رنځور پورې خندا کا
عاشقی او ننګ و نام دی وبلہ لرې (۱۷۷)
پہ روښانہ ورځ بہ څہ رنګہ څوک غلا کا
کہ زه طمع کړم دَ ګلو لہ طالع نہ (۱۷۸)
ما عاجز لره دَ ګل پہ ځائې خار را کا
کہ زه ځان ژغورم پہ عشق کښې لہ عالمہ
زمانہ مې پہ جهان باندې رسوا کا

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

همیشه به په عالم کښې وی سُرخرویه
چه ثنا لکه بلبل دَ خپل اشنا کا
دا خُواب رحمان هغه کا چه دولت وے
"که دلبر دَ دیدن مئے پیا پے را کا"

۳۴۳ ۲۳/۲۳ ۱۷

هرچه ستا کوخه ماویٰ کا   ځائے ئے بر شی ترافلاکا
ځان هاله ورته بادشاه شی   چه ئے ستا دَ درګدا کا (۱۷۹)
چه دَ ستا دَ درګدا شی   بادشاهیه وته شا کا (۱۸۰)
نظر بے دَ ستا له روئیه (۱۸۱)   نه په ارض نه په سما کا
مینه بے دَ ستا له مخه   نه په دین نه په دنیا کا
ستا په مهر محبت کښے (۱۸۲)   ځان جهان واړه فنا کا
دَ دنیا کور او کوډلے (۱۸۳)   ستا په مینه کښے تالا کا
رضا ستا په رضا کیږدی   ترکه خپله مدّعا کا
په هرخوا چه د ستا مخ وی (۱۸۴)   دے هم مخ په هغه خوا کا
که له چا سره جفا کړے   له هغه سره جفا کا (۱۸۵)
که له چا سره وفا کړے   له هغه سره وفا کا (۱۸۶)
که په عمر چرے خاندی   خوله تا سره خندا کا
که په عمر چرے ژاړی   خو په تا پسے ژړا کا
که مطلب ئے دَ دیدار وی   ستا دَ حسن تماشا کا
که مطلب ئے دَ ګفتار وی   ستا په ذکر مشغولا کا
د رښتینیو مقام دا دے   که څوک مینه په رښتیا کا

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

عاشقان په عاشقۍ کښې چه رحمان وائي هم دا کا

۳۴۸ ۵ ۲۴/۲۴

هسې نه چه زما یار واړه جفا کا (۱۸۷)
صد چندان لکه جفا هومره وفا کا
لکه زه چه په خپل یار باندې مئین یم
یو په سله هومره مینه یار په ما کا
زړه ئې وړې په احسان دې نه په جور (۱۸۸)
مجنون څکه په لیلیٰ پسې ژړا کا
درست جهان دَ خوبرویانو ناز پرور دې (۱۸۹)
نه یوا څې دغه ناز په ما او تا کا
څشکل نه کوري رحمان و هغه مخ ته
چه فرښتې ئې هم دَ حسن تماشا کا (۱۹۰)

۳۵۶ ۸ ۲۵/۲۵

چه په سترګو کښې ئې خاروي څه به خوب کا
چه په زړه ئې غم دَ یار وي څه به خوب کا
خوب له یاره سره هم دَ عاشق نه شي
چه ئې یار په بل دیار وي څه به خوب کا
په دنیا کښې خوب هغه کا چه نادان وي
هغه ژوي چه هوښیار وي څه به خوب کا (۱۹۱)
کوم طالب مطلوب موندلې دې په خوب کښې (۱۹۲)
هغه څوک چه طلبکار وي څه به خوب کا

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دیدار نه دے چا په پټو سترګو کړے (۱۹۳)

چه مطلب ئے دَ دیدار وی څه به خوب کا

بله لار دَ مرګ تر لارے ګرانه نشته

چه په خوائے هسے لار وی څه به خوب کا

هر نګاه دَ دلبرانو ذوالفقار دے

هر چه غوځ په ذوالفقار وی څه به خوب کا

زه رحمان دَ یار بنده او خدمتګار یم

چه بنده او خدمتګار وی څه به خوب کا (۱۹۴)

۳۶۴ ‹۲۶/۲۶›

هغه ژوی چه میٔن وی څه به خوب کا

چه مجنون او کوهکن وی څه به خوب کا (۱۹۵)

هر نفس دَ سړی تله دی له جهانه (۱۹۶)

چه ئے هر نفس رفتن وی څه به خوب کا

چه سبا له خپله یاره جدا کیږی

که دَ سلو شپو کړمن وی څه به خوب کا

عاشقی ده خدائے له اوره پیدا کړے

چه په اور کښے ئے وطن وی څه به خوب کا

دَ اوبو تږی هم خوب کولے نه شی

ترو چه تږے دَ دیدن وی څه به خوب کا (۱۹۷)

دَ رقیب له جوره خوب دَ عاشق نه شی

دَ هغو چه دیو دشمن وی څه به خوب کا

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

خوب خندا له بې غمیه شي رحمانه
ځوک چه ستا په ځیر غمژن وي څه به خوب کا (۱۹۸)

۸ ۲۷/۲۷ ۳۷۱

هغه ژوي چه بې خدایه محبت کا
همګي واړه بې ځایه محبت کا (۱۹۹)

محبت بې خدایه واړه د زړه رنځ دے
که مدام له چنګ و نایه محبت کا (۲۰۰)

خرخاري ده چه ئې یو ځبله کاندي
هر خود رائے چه له خود رایه محبت کا

نتیجه ئې ریش کنده جامه پاره وي (۲۰۱)
ادم زاد چه له چارپایه محبت کا

هغه سرائے لره به تله وربانده ګران وي
هر سړے چه له دے سرایه محبت کا

بوالهوس به نه پتنګ نه پروانه شي
د مګس په ځیر له ورایه محبت کا

چه د تورو زلفو سیورے په حیا وشي
هغه کله له همایه محبت کا

رحمان ځکه د ربیار متابعت کړم
چه رهرو له رهنمایه محبت کا

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

۵ ۲۸/۲۸ ۳۷۶ (۲۰۲)

دَ بے دردو همدمی به دِ بے دردکا
دَ نامردو همدمی به دِ نامردکا
صحبت بے تاثیره نه دے داحدیث دے
کونګو نمری دَ کونګو په څیرزردکا
هرکالے چه ځوک په زمکه باندے کیږدي
هغه زمکه ئے له جنسه دَ خپل ګردکا
په مجلس دَ ویره ژلیو ځوک ورمه شه
که صحیح وسلامت وی اه سرد کا (۲۰۳)
چه دوئ له میانه لرے شی رحمانه
معشوقے عاشق پخپله نازپروردکا

۱۲ ۲۹/۲۹ ۳۸۸

که په ګنج دَ شاهی فخر شهریارکا
عاشقان ئے دَ دلبرو په رخسارکا (۲۰۴)
خرقه پوشو په خرقه کښے دے موندلے
هغه حظ چه په دنیا کښے دنیا دارکا
پتنګانو لره ورکړ خدائے په اور کښے
هغه عیش چه بلبل ئے په ګلزارکا (۲۰۵)
نیک ساعت په بد بدل دَ هیچا مه شه (۲۰۶)
په وصال کښے غم دَ هجر وردو خارکا
نفس دَ ګورو دَ موریو دے په معنیٰ کښے (۲۰۷)
خو په چا ئے تور لحد په چا بازارکا

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دَ بیرې په ډوبیده چه خدائے راضي شي
یکانګیه دَ مانګیانو کله کار کا (۲۰۸)

هغه مخ چه مادرزاد ښائسته نه وي
مشقت دَ مشاطے واړه مردار کا

یار دَ ناز له خوبه پاڅي پسے ګرځي (۲۰۹)
چه فلک دَ عاشقانو بخت بیدار کا

نیمه شپه ئے یار ترسره پورے کښېني (۲۱۰)
لکه شمع چه څوک بله په مزار کا

دَ مستۍ دَ هوښیارۍ یون څرګند دے
په هرچا کښے چه څه وي هغه رفتار کا (۲۱۱)

دَ بلبلو نغمه زاغ کولے نه شي
هر سرود اواز په طور دَ خپل تار کا

رحمان هسے بے وقوف سوداګر نه دے
چه دَ دین متاع بدله په دینار کا

ق ۳۹۷ ۹ ۳۰/۳۰

هرګفتار هره وینا چه څوک عبث کا
تر عبث ویئل دا به دي چه ئے بس کا (۲۱۲)

په وړومبۍ وینا چه وروستو پښیمانیږي
له اوله دِ ئے نه کا تر خولے هسکه (۲۱۳)

هره چار چه له اختیاره وي وتلے
بے هوده به ئے څوک لاف دَ دسترس کا (۲۱۴)

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

فقیری دَ خدائے پہ مهرمونده کیږی
دَ هنر پہ کبر نہ شی چہ ئے نفس کا (۳۱۵)

آدم زاد پہ معنیٰ وارہ یو وجود دے
یو وجود دے هم ئے پاک هم ئے نجس کا

کہ ئے اصل لہ یوه جویہ دے څہ شو
دَ گلونو هنر کلہ خار و خس کا

معتقد لہ اعتقاده مقصود بیاموند
دَ هغو طاعت غلط دے چہ وسوس کا

پہ اخلاص دَ نماز گذارو دے جنب دے
هر نمازی چہ پہ ریا مونځ او اودس کا (۳۱۶)

تہ بہ ئے څہ کوے رحمانہ
دَ خود بینو سزا خپلہ خودی بس کا (۳۱۷)

۹ ۳۱/۳۱ ۴۰۶

چہ امید پہ عمارت دَ دے جهان کا
لکہ کرښہ پہ اوبو هسے نښان کا

دَ اوبو پہ مخ دَ کرښے بقا نشتہ (۳۱۸)
پہ نابود باندے ناحق دَ بود گمان کا

نادانانو هسے دین پہ دنیا بائیلو
لکہ ورکے دُر بدل پہ پارچہ نان کا (۳۱۹)

د دنیا دَ دین نسبت وبلہ نہ شی (۳۲۰)
اور اوبہ سره استوگہ پہ څہ شان کا

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

پہ خپل ځائے دِ سرے غواړی هرچہ غواړی
نہ چہ بے وریځے طمع دَ باران (۳۲۱) کا

عشق دَ نفس لہ خاصیتہ منزّہ دے
کار دَ سترګو بہ څوک څہ رنګ پہ دهان کا

لکہ چشم وګوش پہ کار کښے وبلہ بیل دی
هسے دین او دنیا حکم پہ ځان ځان (۳۲۲) کا

پہ پیری کښے دَ ځوانیہ خیال دے هسے
لکہ څوک چہ دَ باغ سَیر پہ خزان کا

بے درکاهہ ئے بل ځائے دَ رحمان نشتہ
پہ سفر اهتوکہ څو مسافران کا

ق ۶۱۶ ۱۰ ۳۲/۳۲

دلربا کہ دَ خپل حسن مخ عیان کا
دیر بے غمہ جمع زړونہ بہ لرزان (۳۲۳) کا

پہ کشور دَ صابری بہ قیامت شی (۳۲۴)
اسرافیلٔ غوندے اواز بہ هر نالان کا

چہ ئے جام دَ لعلو لبو وی نوشلے
پیمانہ دَ ځیګرخون پہ دا تاوان کا

دَ جبین پہ چین ئے هسے رنګ پوهیږم
چہ محراب بہ دَ کاڼلو زړونو وران کا

دَ پریشان ګیسو دلیل ئے عین دادے
چہ وابست زړونہ پہ دا رنګہ پریشان کا

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

که جلوه ئے دَ جمال شي معیّنه
په شعله به نمر سپوږمیه سوے نان کا
که دَ باد گذرئے وی وخاکِ پائی ته(۲۲۵)
د رندو سترګو دارو به خدائے اسان کا
که شانه په تورو زلفو باندے کیږدی
مښک عنبر به دَ یوے پیسے ډیران کا
تورے زلفے ئے هم مښک دی هم عنبر دی
خو زما له کم بختئ ئے خدائے ماران کا
که پلو له مخه لرے کا رحمانه
په دیدن به هندو واړه مسلمان کا(۲۲۶)

۴۲۳ $\frac{۳۳}{۳۳}$ ۷

زما اوښے چه دا هسے شُست و شو کا
دا محنت واړه زما دَ مخ په ولو کا(۲۲۷)
تل ئے مخ وی تر خوبانو پورے وللے
عاشقي چه دَ چا اوښے په شیبو کا
دَ عاشق دَ سینے چاک به ورځ رګند شی(۲۲۸)
که څوک سر وخپل ګریوان وته فرو کا
دَ عشق اور چه شمع خود په سر قبول کړ
پروانه به څه حجت دَ ځان په سوو کا
ګل څه نه وائی چه غرق په وینو ناست دے
بلبل څه لره بے ځایه ګفتګو کا

زه که مړګ غواړم بې یاره کرم خو نه یم[۲۲۹]
جدائي سرې په ځان پورې په کوکا
معشوقې په محنت نه دي چا موندلی
مګر خدائې په رحمان باندې پیرزوکا

۴۲۹ ۳۴/۳۴ ۶

ورځ چه بده شي عاقل او دانا څه کا[۲۳۰]
چه قضا شي وردوځاره حکما څه کا
مور او پلار خو نیک فرزند له خدایه غواړي
چه بدبخت شي ادې څه کا ابا څه کا[۲۳۱]
یار له یاره په لوئې لاس کله بیلیږي
چه لاس نه رسي یار څه کا اشنا څه کا
په بیرو په دعا څه شي کړوني خدائې دې[۲۳۲]
چه خدائې نه کا بنیرې څه کا دعا څه کا
بخت په زور او په زر نه دې چا چپل کړې
په دا کار کښې ناتوان څه کا توانا څه کا
اې رحمانه پتنګ عذر شو چه وسوو
اوس د شمع خندا څه کا ژړا څه کا

۴۴۴ ۳۵/۳۵ ۱۵

عاشقان د ناصحانو وینا نه کا
مست هاتیان د مهوتانو پروا نه کا

وارړه جور دَ دے دور ے قبول دے [٢٣٣]
کہ خدائے ما له خپله یاره جدا نہ کا

چہ دَ ګلو پریشانی شوه ورخړګنده
غنچے سر په زانو کښیښوو خندا نہ کا

وسیلاب ته دَ ړنړوکی څه استاد دے
زړه چه ژاړی سترګے ځرنګ ژړا نہ کا

دنیا کل په احمقانو ده ودانه [٢٣٤]
دانا ځکه وابستګی دَ دنیا نه کا

خود پرست تر بُت پرست په هغه خوار دے ق
سالک ځکه کار په خپله رضا نه کا [٢٣٥]

چه ئے زړه ه‍ی په هوا پورے تړلے
دَ حباب عمارت ځکه بقا نه کا

بے هنردی چه څوک دین په دنیا پلوری
هنرمند سړے دا هسے سودا نہ کا

کہ څوک وائی هوښیار کوم دے وایه دا دے
چه بے خدایه نوره مینه په چا نه کا

ګدائی که وریښیږی دا ئے ځائے دے
هر بادشاه چه دلجوئی دَ ګدا نه کا [٢٣٦]

هر چه زړه ئے وی یار بانْدے بائیلوے [٢٣٧]
نوره مینه په چا بے له اشنا نه کا

چه ترغوږ ئے وی وینا دَ اشناشوے
هغه غوږ هرګز په نوره وینا نه کا

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

وبه نه رسی دَ یار تر بلند بامه
چه دَ زره غوڅے روشن په ژړانه کا
چه بیدل بے په یوه نګاه رغیږی
څه انصاف دے چه دلبرے دوانه کا (۲۳۸)
زه رحمان دَ هغه یار په جفا خوښ یم
که اغیار مے خدائے له میانه پیدا نه کا (۲۳۹)

۴۵۱ $\frac{۳۶}{۳۷}$ ۷

څوئے یو ځله تاراج په جفانه کا
یار له یاره سره مهر وفا نه کا (۲۴۰)
که ئے سر په بوسه ورکړم زه پوهیږم
چه قبول به دغه عجز زما نه کا (۲۴۱)
چه یخپله رضا تللے مادرزاد وی
هغه هیچرے دَ نورو رضا نه کا
څوئے خپله مدعا حاصله نه شی
مهرویان په خوله دَ خضر سودا نه کا
که ئے سل ځله دُعا کوم په عمر
ګوش وهوش دَ دعا کوئی په دُعا نه کا
که اهونه اتشین پسے وکاږم
لکه سروه له خزانه پروا نه کا (۲۴۲)
که ارام غواړی رحمان په عاشقئ کښے
دغه واړه ناروا کا روا نه کا

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

۴۶۷ ۱۶ ۳۷/۳۷

که سرے له خپلے پوهے تقصیر نه کا [۲۴۴]
دَ خدائے کړه به څوک په پوهه تغییر نه کا
خواه ناخواه به دَ تقدیر شوی ورپیښ شی [۲۴۵]
که څوک هیچرے نظر په تقدیر نه کا
دَ هغو چه بخت بیدار شه غم ئے نشته
که هیچرے بیداری و شبګیر نه کا [۲۴۶]
دا له خپلے کم فهمیه مونږه وایُو
چه فلانا سرے تلاش و تدبیر نه کا [۲۴۷]
دلګیری او خوشحالی که په خپل لاس وے
په خپل لاس به خپسر هیڅوک دلګیر نه کا
معرفت دَ خدائے څرګند دے په هر څه کښے
سترګے وخوره چه څوک هومره نظیر نه کا
دا نفس په مثال برق صورت فانوس دے [۲۴۸]
برق به هیڅوک په فانوس کښے اسیر نه کا
دَ دنیا سری همه واړه درماند دی [۲۴۹]
کوم بادشاه دے چه منت دَ وزیر نه کا
کوم واده کومه کوژدن ده په جهان کښے [۲۵۰]
چه فلک ئے وَاخروته ویر نه کا
په خوله هریو سرے اسم دَ پیر اخلی
بارے څه پکار چه نغوته دَ پیر نه کا

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دغه نښې د قیامت نه دي نور څه دي
چه د پلار وئیل په زویه تاثیر نه کا [۲۵۱]
هسې چارې له ناصحه واقع کیږي [۲۵۲]
چه له شرمه ئې هیڅ غل او کاسیر نه کا
په مرده پسې تکبیر وکا روان شي
هیڅ ګمان په ځان د هسې تکبیر نه کا
په دنیا پسې درست عمر زهیریږي
ځان یو دم د خدائې د پاره زهیر نه کا
د عیال د پاره تیر تر سر و مال شي
دلجوئي په یوه ټوک د فقیر نه کا
رحمان کرم دے چه نارے د هجران اوري
و اشنا وته کاته په خیر خیر نه کا

۴۸۰ ۳۸/۳۸ ۱۳

زړه مې بې خپله نګاره ارام نه کا
کامراني راڅخه غواړي ناکام نه کا [۲۵۳]
بې ناکامه زیست محال دے په جهان کښې
د کوم اس په خوله کښې دخل لغام نه کا [۲۵۴]
د اسمان مانړۍ هم په قرار نه شوې
سالک ځکه خیال د قصرو د بام نه کا [۲۵۵]
ګاه ئې کښېنوي په تخت ګهې په خاورو
زمانه رضا د هیچا مدام نه کا

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

بے لہ سروے چہ ازادہ خدائے پیدا کا
ترکے ځکہ وھیچا تہ سلام نہ کا (۲۵۶)

کوہ و دشت ھم دَ خزان لہ غمہ زیړ دی
زرکہ ځکہ وچمن تہ خرام نہ کا

چا چہ سر وی پہ سجدہ و یار تہ ښنے
دوبارہ لہ دے سجودہ قیام نہ کا

چہ ئے کړہ وی دَ یار پہ لوری لښلے
لکہ بحر ھسے دروھی مقام نہ کا

نشستن دَ عاشق نشتہ لکہ شمع
څو صورت دَ عشق پہ اور کښے تمام نہ کا

چہ محظوظ وی پہ تش بوئ دَ مھرویانو
ھغہ فکر دَ بوسے دَ پیغام نہ کا

چہ لذت ئے دَ سرو شونډو وی موندلے
نورہ مینہ دَ شرابو پہ جام نہ کا

پہ ھغو دَ لعلو لبو مئے حرام دی
چہ دا نور لذت پخپسر حرام نہ کا

رحمان ھسے وخپل یار تہ بے حجت دے
لکہ عذر و صاحب تہ غلام نہ کا (۲۵۷)

۴۸۷ $\frac{۳۹}{۳۹}$ ۷

ترحد تیرہ شوہ پہ یار پسے ژړا زما
نہ کړو ھیړی پہ ژړا زما اشنا ژما (۲۵۸)

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

کہ مے هره وینا دُر او مرغلر شی
ستا دَ غوږ لائقت نه لری وینا زما (۲۵۹)
په نارو به ما بیدار کړه خوب وړے وے
بارے ویښ راته وُوده شه دلربا زما
زه مکتوب غوندے په پټه خوله خبر کړم
خاموشی زما تیرے کا تر غوغا زما (۲۶۰)
ګښت دَ عشق په توده زمکه اسان چیرے
سمندر بویه چه زیست کا په صحرا زما (۲۶۱)
دا یار نه دے چه هجران له مانه بیل کړ
روح زما دے چه له تنه دے جدا زما
زه رحمان بے خپله یاره هیڅ نه غوارم
که قبوله وی دَ خدائے په در دُعا زما (۲۶۲)

۴۹۵ ۴۰/۴۰ ۸

هر چا چه لیدلے نه وی یار زما
څه شو که بد وائی په کار زما (۲۶۳)
هر چا چه زما دلبر لیدلے دے
نه به کا انشاء الله انکار زما
سر زما او درګاه دَ هغه یار عزیز
بے دے لارے نشته بله لار زما (۲۶۴)
ما بے عاشقیه نور هیڅ زده نه دی
هرچه دے هم دا دے واړه کار زما (۲۶۵)

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

هیڅوک دِ خدائے یو ځبله ازار نه کا
اے دلبره مهٔ اخله ازار زما
ستا دَ جدائیه په غمونو کښے
سیند دَ اوښیو دروی په رخسار زما
لوئے او هلک واړه ستا خبرے کا
بل ګفتګوئے نشته په دیار زما
زه رحمان به لاف په عشق کښے ځه وهم
خود په ځان څرګند کا انتظار زما

۵۰۶ ۱۴۱/۱۴۱ ۱۱

سل ځله که وخوری ناصحان ځیګر زما
بیل به ځبله نه کا در دَ ستا او سر زما(۲۶۶)
تیر شه په دا طمع په درستا عمر زما ق
ګوندے چرے کیږی دے به قدم په سر زما
تا وے چه دَعشق پیاله خوږه ده ترشکرو ق
وسوه په هجران کښے دے پیالے ځیګر زما
سل جفا که ووینم په ستر ګو ستا له لاسه ق
ستا په جفا نه کیږی هرګز باور زما
صبر ستا په عشق کښے داخبره څوک او زه څوک
نشته دَ دے چارے توان یو موئے قدر زما
ستا له محبته جار واته وما ته عار دے(۲۶۷)
ولے خاوړے نه شی په دا لار بشر زما

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

وارہ معشوقے دَعاشقانو خبر اخلی
بے لہ تا چہ نہ اخلےیو دم خبر زما
هیڅ اندوه مے نشته بے دَ ستا له جدائیه
نور اندوه به څه وی تر دغه بتر زما
خوب دَ کورو کلی په نارو زما برهم شه (۲۶۸)
څه چار ده چه نه شی ستا په زړه اثر زما
یا له ما رحمان سره جفا مه کړه دلبره
ق یا بے تا را وښیه یو بل دلبر زما
درست جهان که وارِه ما رحمان لره دلبر شی (۲۶۹)
چرے دے دلبره بے تا بل دلبر زما

۵۱۵ ۹ ۴۲/۴۲

هسے یاد یُے همیشه مدام زما
چه اوراد یُے په هر صبح و شام زما
هر کلام چه بے دَ ستا له یاده وکړم
سل توبے دی په هغه کلام زما
که بے تا دَ زړه ارام کړم په سل رنګه (۲۷۰)
نه شی نه شی په هیڅ رنګ ارام زما
ننګ و نام که ستا په مینه له ما دروی
ځار شه ستا تر مینے ننګ و نام زما
چه قائم شوم په مقام دَ عاشقیه
هیر شه دلے وِته بل مقام زما (۲۷۱)

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

څو دَ عشق په خم خانه ے داخل نه کړ
پخته نه شه دغه عقل خام زما
نن دِ وقت دے که ے آه و فریاد اورے
څو لا نه دے خاورے هر اندام زما (۲۷۲)
هزار جام و صراحی دے فلک مات کړه
څو به ګرځی په دا دور جام زما
زه رحمان به دا ناکام کوم ترکومه
وایه کله به حاصل کړے کام زما

۱۰ $\frac{۴۲}{۴۳}$ ۵۲۵

سر زما سامان زما ځارشه ترجانان زما
ځارشه ترجانان زما سر زما سامان زما
زیان زما نقصان زما واړه دَ یار هجر دے
واړه دَ یار هجر دے زیان زما نقصان زما
ګل زما ریحان زما ستا رخسار او زلفے دی
ستا رخسار او زلفے دی ګل زما ریحان زما
مښک زما زعفران زما ستا دَ کوڅے خاورے دی
ستا دَ کوڅے خاورے دی مښک زما زعفران زما
فکر زما توان زما ستا په غم کښے نه رسی
ستا په غم کښے نه رسی فکر زما توان زما
آه زما افغان زما هیڅ په تا اثر نه کا
هیڅ په تا اثر نه کا آه زما افغان زما

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

پیران زما شیخان زما ستا په غم را نه رسی(۲۷۳)
ستا په غم را نه رسی پیران زما شیخان زما
زړه زما چشمان زما بے تا هیڅ حال نه لری
بے تا هیڅ حال نه لری زړه زما چشمان زما
باغ زما بستان زما بے تا میوه نه نسی
بے تا میوه نه نسی باغ زما بستان زما
وصال زما هجران زما رحمانه واړه خیر دے
رحمانه واړه خیر دے وصال زما هجران زما(۲۷۴)

۵۳۲ ۴۴/۴۴ ۷

(۲۷۵)
نور خوبان دَ ستا په څیر نه دی لیدلی ما
نه لیدلی نه په غوږو اوریدلی ما
هیڅ وفا دَ عاشقانو سره نه کا
دلبران دَ زمانے دی ازمائیلی ما
چه مے ستا و ښکلی مخ وته نظر شه
نور بیا نه دی وبل مخ وته کتلی ما
دَ زړه غولے مے نیولے ستا غمونو
نور غمونه له خاطره دی یستلی ما
چه مے کار دَ عاشقئ په لاس اخستے دے
نور کارونه دی له لاسه اچولی ما
هم په دا مے نور غمونه له زړه وویست
چه په زړه کښے ستا غمونه دی کرلی ما

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

زه رحمان بے یاره خوب وخندا نه کړم
خوب خندا بے یاره کله دی پسند لی ما

۵۴۲ ۴۵/۴۵ ۱۰

چه ئے نقش په زړه خیال شی دَ اشنا (۲۷۶)
صدقه ئے سرو مال شی دَ اشنا
پس له مرګ به ئے دَتیغ په خیرخ روڼ وی (۲۷۷)
چه اشنا په تیغ حلال شی دَ اشنا
په اسمان دَ اشنایۍ به ئے مکان وی (۲۷۸)
چه زمین غوندے پائمال شی دَ اشنا
تر ابده به ئے بخره ملالی وی
له هغه چه زړه ملال شی دَاشنا (۲۷۹) ق
خوشحالی زما دَ زړه په هغه دم وی
په هردم چه زړه خوشحال شی د اشنا
روح هغه ساعت داخل کړم په تن کښے
چه مے دخل په وصال شی دَ اشنا
نور دَ هیچا قیل و قال مے پکار نه دے
چه تر غوږ مے قیل وقال شی دَاشنا
هم هغه یوه ګړۍ رابانده کال شی
چه یوه ګړۍ محال شی دَ اشنا
نه بل څوک زما طبیب بے اشنا شته دے
نه به بل څوک په مثال شی دَ اشنا (۲۸۰)

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دَ رحمان نظر په هيچا باندے نه وی
چه نظرئے په جمال شی دَ اشنا

۵۵۱ ۹ ۴۶/۴۶

عاشقيه مے په زړه وکړ اثر بيا (۲۸۱)
بيلتانه مے لمبے بلے کړے په سر بيا
که دفتر دخپل قسمت مے په خپل لاس وے
ما به ستا له غمه وران کړ دا دفتر بيا (۲۸۲)
ما به نوم دَ عاشقئ اخستے نه وو (۲۸۳)
جدائيه راته جمع کړ لښکر بيا
پس له مرګه به ئے بيا له تا قربان کړم (۲۸۴)
که صورت مے خدائے پيدا کړ په محشر بيا
دَ هجران محنت مے واړه له زړه هير شه
چه مے وليده په ستر ګو ستا بشر بيا
چه اسمان ئے مخ پټ کړے په سحاب وو
خدائے وما وته ښکاره کړ هغه نمر بيا (۲۸۵)
چه رقيب راته تړلے په زنځير وو
خپل حبيب را باندے پرانت هغه در بيا
په يوه نظرئے زړه راڅخه يوړ
ترو لا ګوره که راوکا بل نظر بيا (۲۸۶)
په وصال ئے منت بار وسه رحمانه
په صدف کښے دخل نه وی دَ ګوهر بيا

۵۸۸ ۳۷ ۴۷/۴۷

هغه بيامومند سعادت په دا دنيا
چې ئې بيامومند قناعت په دا دنيا[۲۸۷]
نه ملکونه دَ شليمانٌ په هزار کالهٔ[۲۸۸]
نه يوه کړي طاعت په دا دنيا
يو نفس دَ خدائې په يادو اولیٰ تردے
نه دَ درست جهان دولت په دا دنيا
په دنيا کښې لوئ هغو عالمو وکړ
چې ئې وکړ عبادت په دا دنيا[۲۸۹]
که نعمت دے خو طاعت او عبادت دے
گنه نشته بل نعمت په دا دنيا
که محنت که مشقت دے خو دَ دين دے
پکار نه دے بل محنت په دا دنيا
بے له خدايه هرچه دی واړه فانی دی
که لذت دے که زينت په دا دنيا
که بادشاه وی اخر خاورو لره درومی
څه عزت دے څه حرمت په دا دنيا
ترهغه به بل نادان په جهان نه وی[۲۹۰]
هرچه غواړی فراغت په دا دنيا
ته چه چندکاهه فرصت په دنيا غواړے
چا موندلے دے فرصت په دا دنيا

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

عمارت په سر دَ ریګِ روان کاندی
هرچه کاندی عمارت په دا دنیا
دَ مستانو تر لغزشه څه کم نه دے
دَ سړی استقامت په دا دنیا
هر ژوندے چه دَ مړه په قبر ورشی
بس کا هومره نصیحت په دا دنیا
په روانو اوبو ورشه عمر ګوره (۲۹۲)
ډیر دے هومره اشارت په دا دنیا
دا پاخه پاخه سرایونه محلونه
خو به وران شی عاقبت په دا دنیا
وړے ستر ګے د اسمان څه هسے نه دی
چه څوک پریږدی سلامت په دا دنیا
هرچه راشی همه وارِه ځنے دروی
مسافر دے هرصورت په دا دنیا
ریاضت په قیامت نه شی مرد هغه دے
چه ئے وکړ ریاضت په دا دنیا
هم په دا خوی او خصلت به سبا پاڅی
خدائے څوک مه کړه بدخصلت په دا دنیا
هم هغه به ئے خرمن وی پس له مرګه (۲۹۳)
هرچه کاندی زراعت په دا دنیا
که هغه جهان په دا کښے لیده نه شی
زه ئے وینم علامت په دا دنیا

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

(۲۹۴)
په قیامت کښې بنه توبنه وبله نه شي
مالیدلے دے قیامت په دا دُنیا
امانت به دَ لحد په میان کښې پروت وي
هر چه وُسي امانت په دا دنیا
نیک عمل حضور جنت دے طالع بویه (۲۹۵)
چه حاصل کاځوک جنت په دا دنیا
نیک کردار نیک عملونه نیک خویونه (۲۹۶)
هم جنت دے هم راحت په دا دنیا
ضدیت دَ سړي عمر په عذاب کا
پکار نه دے ضدیت په دا دنیا
لاس په سر په سینه ښې وهرچاته
هم دغه دے شرافت په دا دنیا
که بلنده مرتبه دَ چا په کار وي
لوئے مقام دے عدالت په دا دنیا
بل ارمان به له جهانه یو وړه نه شي
مګر مهرو محبت په دا دنیا
دَ هغه جهان سودا واړه دلے ده
که ځوک کاندي تجارت په دا دنیا
که طالع دَ سړي نه وي جار وتلے
هیڅ پتې نه دے حقیقت په دا دنیا
نیک له نیکو سره بویه بد له بدو
که ځوک غواړي ولایت په دا دنیا

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ولایت دے خدائے هغو لره ورکړے
چه ئے ورکړو سکونت په دا دنیا (۲۹۷)
که تمامه دنیا واړه سره یو شی (۲۹۸)
نور به نه کا خپل قسمت په دا دنیا
که څوک مرد دے خو هغه دے په دنیا کښے (۲۹۹)
هرچه نه لری حاجت په دا دنیا
چه رغبت ئے دَ جمله خطاؤ سر دے (۳۰۰)
څوک به څه کاندی رغبت په دا دنیا
په رحمان باندے دا عمر هسے تیر شه
لکه تیر شی یو ساعت په دا دنیا

۶۳۲ ۶۴ ۴۸/۴۸

هوښیار مه ګڼه هوښیار دَ دے دنیا
بے وقوف دے وقوف دار دَ دے دنیا
روښنائی په هغو زړونو ده حرامه (۳۰۱)
چه پرے کښینی ګرد غبار دَ دے دنیا
پوچ ګوئی ده چه ئے اهل دَ دنیا کا (۳۰۲)
هر کلام او هر ګفتار دَ دے دنیا
دَ طفلانو په څیر واړه خاکبازی کا
هرچه کاندی کاروبار دَ دے دنیا
واړه وړے خولے دَ پیو هلکان دی
کاردیده او پخته کار دَ دے دنیا

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

همیشه به بے وقوف او بے شعور وی
چه مخمور وی په خمار دَ دے دنیا
دَ شرابو هم لا هومره مستی نه وی
لکه مست وی خمرخوار دَ دے دنیا
هر بیمار لره دارو په جهان شته دے (۳۰۳)
دارو نه لری بیمار دَ دے دنیا
دَ هر سوی علاج وشی په جهان کښے (۳۰۴)
مګر سوے په شرار دَ دے دنیا
لکه څوک چه سرو لمبو کښے دَ اور سوزی
هسے سوزی طلبګار دَ دے دنیا (۳۰۵) ق
هرچه اچوے و اور ته هغه سوزی (۳۰۶)
موړ به نه شی طلبګار دَ دے دنیا
ګرفتار ئے همیشه په غم کښے ډوب وی (۳۰۷)
هیڅوک مه شه ګرفتار دَ دے دنیا
تل به پروت وی په ظلمت او په تورتم کښے
چه اسیر وی په کفار دَ دے دنیا (۳۰۸)
څه وَ بُت وته سجده څه و دنیا ته
بُت پرست دے پرستار دَ دے دنیا (۳۰۹) ق
په مسلمو کښے خاصه مسلم هغه دے
چه ئے وشلاوه زنار دَ دے دنیا
تن ئے پاتو شی بے سره سر ئے لاړ شی (۳۱۰)
سردار کله دے سردار دَ دے دنیا

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

زویه لونه یتیمان کا ځنے دروي
بے وفا دی مور او پلار دَ دے دنیا
همیشه به ئے یو پنڅه دَ غم په سروی
چه په سرئے وی دستار دَ دے دنیا
واړه غم دے که ئے پیرے یا ئے پلورے (۳۱۱)
نور څه نشته په بازار دَ دے دنیا
همگی واړه تکان دی تگی کاندی
فروشنده او خریدار دَ دے دنیا (۳۱۲)
په دنیا به مینه نه کاندی هیڅرے
چه خبر وی په اسرار دَ دے دنیا
چه نظر دَ چا په دین او په ایمان وی
هغه نه کا انتظار د دے دنیا (۳۱۳)
چه ویریږی له کوهیه له کرنگه
هغه نه دروي په لار دَ دے دنیا
هر سړی لره چه ورشی ځنے دروي
ق ما لیدلے دے رفتار دَ دے دنیا (۳۱۴)
اشنایان ئے همه واړه مکاران دی
څه ویسا دہ په مکار دَ دے دنیا
لوئے هلک ئے همه واړه اغیاران دی (۳۱۵)
یار دے چرے په دیار دَ دے دنیا
چه پیدا شی همگی واړه فنا شی
راشه وگوره ناتار دَ دے دنیا

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

په يوه ګړۍ بهار بيا ئې خزان شي
بقا نه لري بهار دَ دے دنيا
که هزار هزار پښتيه ورته کيږدے
بے بنياده دے ديوار دَ دے دنيا
که دَ اوسپنو حصار ترځان چاپير کړے
بنيبنه وګڼه حصار دَ دے دنيا (۳۱۶)
لکه سيورے دَ افتاب په مخ کښے ګرځي
نشته هيڅرے قرار دَ دے دنيا
هيڅ ګمان دَ بهتريه پرے و مکړه
کهتري ده وار په وار دَ دے دنيا
بے مقراضه غوڅوي دَ سړي عمر (۳۱۷)
هم دا ليل او هم نهار دَ دے دنيا
پس له مرګه به حساب له سړي غوښتے شي
په انداز او په مقدار دَ دے دنيا
عاقبت خو به يو موټے شي دَ خاورو (۳۱۸)
ګل عذار وګل رخسار دَ دے دنيا
برابر به له ګدا يه سره پاڅي
شهزاده او شهريار دَ دے دنيا
پاس به داغ وي دَ لئيم په سينه باندے
هر درم و هر دينار دَ دے دنيا (۳۱۹)
دَ قانع ترقناعته صدقه شه
هم دنيا هم دنيا دار دَ دے دنيا

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

پس لہ مرکہ بہ ہمہ وارہ مظلوم وی
ظالمان و ستمکار دَ دے دنیا
تر قیامت بہ دغہ شل او دغہ لس وی (۳۲۰)
پورہ نہ کڑ ہیچا شمار دَ دے دنیا
چہ ایام پرِ دَ کفن دَ غسل ورشی
بے پردے شی پردہ دار دَ دے دنیا
پہ تختہ باندے بیرون شی لہ حجابہ
شرمناک و شرمسار دَ دے دنیا
تر ہرچا بہ پیغمبرؑ ځنہ وہ ډیرہ
کہ ځہ قرب وے یا وقار دَ دے دنیا
یو فساد بہ ئے بیان پہ رحمان نہ شی (۳۲۱)
فسادونہ دی بسیار دَ دے دنیا

ب

۶۴۳ ۱/۴۹ ||

زہ پہ سل رنگہ راغب | تہ پہ سل رنگہ غائب
دا بہ ځہ رنگ شی دلبرہ | چہ زہ مست یم تہ تائب
کہ لہ جورہ دِ فریاد کرم | دا ہم نہ دی مناسب
کہ ځہ وایم نہ مے رسی | زہ مغلوب یم تہ غالب
ځہ سیالی برابری دہ | دَ مطلوب او دَ طالب
دَ ستا مہر محبت کڑ | خدائے پہ ما باندے واجب
درد وغم دِ ہومرہ نہ دے | چہ ئے وکښنم پہ کاتب

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

جدائی دہ ډیره سخته ‏ ‏ ‏ ‏ دَ ارواح او دَ قالب
چه مجنون په ځنکدن شه ‏ ‏ ‏ ‏ زه ئے پرینبووم نائب(۲)
وصیت ئے راته وکړ ‏ ‏ ‏ ‏ په څو رنګه عجائب
چه روزی دِ شه رحمانه ‏ ‏ ‏ ‏ زما واړه مراتب

۶۵۶ ۱۳ ۲/۵۰

هسے مست یم ستا دَ شونډو په شراب
چه به نه وی بل دا هسے مست خراب
لاس دَ ستا له مینے اچوم وګل ته(۳)
لکه بوټی ته لاس اچوی غرقاب
دا سُرخی او سفیدی دَ ستا دَ مخ ده
که زما په مخ باران دے دَ خوناب
څه اثر به زما اوښے په تا کاندی
لا تازه شی اور په اوښیو دَ کباب
عاشقان دِ ستر ګے روڼے کا په عشق کښے
دا خوب نه دے دا منزل دے دَ سیلاب(۴)
ما چه خال دَ ستا دَ وروځو په میان ولید
نه بل هسے رنګ امام شته نه محراب(۵)
بناپیری چه لیده نه شی سبب دا دے
مخ دَ ستا له شرمه نغاړی په حجاب(۶)
چه سبا شی ستا ترمخ پورے شرمیږی
ځکه زیست په توره شپه کاندی مهتاب

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

حجاب واخله مخ کړه تور دَ هغو خلقو(٧)
چه تحسین کا ستا په دور دَ افتاب
هسے نه چه زه دلبر وایم وتاته(٨)
خدائے دے تالره درکړے دا خطاب
ستا دَ مخ په ورق باندے خط وخال دی
دَ مصحف په صحیفو باندے اعراب
ستا دَ حسن حساب هیڅ په رحمان نه شی(٩)
هم په دا چه بے حساب دے بے حساب
یو کتاب په سره بن کښے چا ونه کړ
بے رحمانه چه ئے کړے دے کتاب(١٠)

٦٦٦ ١٠ ٣/٥١

لاس مے وتړی دَ زلفو په طناب
بیا مے وپلوری دَ سترګو په قصاب
هسے اُب ئے دے دَ دوو سترګو په تیغ کښے
چه بے سره په سر نه لری حباب
له فراقه چه ئے اُه کړم سوک په سترګو
ق یو لستوڼے مے ګرد باد وی بل ګرداب(١١)
چه توسن دَ فلک زین کاندی له نازه
دَ هلال په ځائے را وبنسئی رکاب
په درګاه ئے دروېزه کاندی دَ حسن
کندولے په لاس سپوږمیه هم افتاب

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

چه رایادے ئے سرے شونډے سوکېږوان کړم
تر چشمانو مے بهیږی سره شهاب
چه دَ مخ و اُب و تاب ته ئے نظر کړم
را ته هیڅ شی دَ ګلونو اُب و تاب
چه نسیم ئے دَ زلفینو را پیدا شی
د رست مے ډوب کاندی په مشک او په ګلاب
ما وے ګوندے مخ ئے وینم په خوب کښے[۱۲]
بارے څرے شی بے یاره دَ چا خواب
په غزل کښے خو دوه بیته انتخاب وی
دَ رحمان تمام غزل دے انتخاب[۱۳]

۶۷۸ ۴/۵۲ ۱۲

هر مطرب چه غوړے تاؤ کا دَ رباب
په دا تاؤ کښے زما زړه کاندی کباب
چه سامع ئے په نغمه په ترانه شم
دیوانه شم ګرځوان ځیرے مست خراب
هم ئے تار هم ئے ګفتار هسے اثر کا
چه هیڅوک ئے نه طاقت لری نه تاب
یو ئے ساز بل ئے اواز وی دَ لبنتیو
دَ زیم شعر پر آغاز کا انتخاب
خلوره ئے یو ساقی دَ څنګه کښینی[۱۴]
چه مخ ئے نه افتاب وی نه مهتاب

دا څلور واړه فتنې په څلور کنجه
او پينځمه صراحي دَ ميو ناب
شپږم وقت دَ نوبهار او دَ ځوانيه
اووم شغل دَ بياض او دَ کتاب
چه دا هومره افتونه سره ټول شي
ترو څوک څرنګ ځنې کاندي اجتناب
چه دا هسې دلبران پر اثر نه کا[۱۵]
يا به ديو يا به ديوار وي يا دواب
ق مرد هغه چه ترسود تيرشي ثواب وکا
نه هغه چه ډيرې سود وي لږ ثواب[۱۶]
را څرګند به شي پرهيز دَ پرهيزګارو
که قادر شي په شاهد او په شراب[۱۷]
زه رحمان له ريا زهده پناه غواړم
دَ ريا زهد عذاب دے هم عتاب[۱۸]

۶۸۶ $\frac{۵}{۵۳}$ ۸

ورقونه لټوم دَ هر مکتوب
پکښې غواړم خال و خط دَ خپل مطلوب[۱۹]
يا تنور دے يا دکان دَ اهنګرو
چه په عشق کښې تصور کړم خپل قلوب
په خندا خندا ځان اچوي و اور ته[۲۰]
خدائے څوک مه کړه په جذبه دَ عشق مجذوب

زړه چه غم د مهرویانو را په زړه کړم
له دے غمه لاړ شی زړه راځنه ډوب(۲۱)
ګوره څه رنګ عشق اسان کړه وعاشق ته
دا مشکل مشقتونه د ایوبؑ(۲۲)
عشق دے دا چه معشوقه شوه وعاشق ته
ښه رخسار د مهرویانو په اسلوب(۲۳)
هغه څه ښېنتے له هجره له وصاله
چه پخپله هم محب شی هم محبوب
چه نظر ئے له صورته په معنو کړ
و رحمان وته یکسان شو زشت و خوب(۲۴)

۶۹۳ $\frac{۶}{۵۴}$ ۷

چه نظر کړم په قسمت او په نصیب
را ته هیڅ شی خپل تلاش او خپل ترتیب
مګر خود پخپله خدائے د چا طبیب شی
ګنه نشته په جهان کښے بل طبیب
را څرګند دی ښسور ورده د رقیبانو
که خدائے نه کاندے خپل یار زما رقیب(۲۵)
چه خپل یار د چا رقیب شی دلیل دا دے
لکه څوک چه په وطن کښے شی غریب
چه غریب شی په وطن کښے فرق ئے نه وی
که فرسنګ ئے وی ترمیانه که جریب

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ما پہ عشق کښے هیڅ حاصل نه کړه بے غمه
هرچه وائی واړه ښه وائی ادیب
د ښمن هم د سری کله کله دوست شی[۲۶]
دوستی نه کا له رحمان سره حبیب

۷۰۵ ۱۲ $\frac{1}{55}$

ت

افرین د عاشقانو په همت
چه په عشق کښے یک انداز وی یک جهت
نه ئے هیڅرے تغیر نه ئے تبدیل وی[۱]
که تمام جهان پر وائی ملامت
که څوک سل نصیحتونه ورته کاندی
غوږ ئے نه وی د هیچا په نصیحت
چه په یار پسے ترڅان ترجهان تیر شی
څوک کولے شی دا هسے مشقت
که تمام عمر ئے یار په سترګو ناست وی
تمام عمر ورښکاریږی یو ساعت
که یو دم شی هغه یار ورڅخه لرے[۲]
هغه دم شی ورته عمر د قیامت
که دوزخ لره د یار په مینه درومی
دوزخ هم ورته جلوه کا د جنت[۳]
د عشق لار د توکل په پښو غوځیږی
نه په پښو د ریاضت و دیانت[۴]

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

په تدبیر او په تالاش کله مونده شی
چې موقوف وی هغه کار په عنایت(۵)

دَ عاشق خاطر له غیرو پاکیزه وی
دَ دریاب په مخ کښې نه وی نجاست(۶)

حق حرمت دَ هغه یار په ما لازم دے
نه په یار باندے زما حق و حرمت(۷) ق

چه خدائے زړه دَ مطلوب کا ځنے کړ رحمانه
کا ځنے پریوت دَ طالب په عمارت(۸)

۷۱۶ ۲/۵۶ ۱۱

که مے وشی له دلبره ملاقات
یا به نه شم له دے دره په حیات(۹)

پس له دے مے دِ استوګه خدائے نصیب کا
په دا در کښې که حیات وی که ممات(۱۰)

ځائے لری که زه ویار وته سجده کړم
هغه یار زما قبله دے دَ حاجات

دَ خپل یار تر لعلو لبو به ئے ځار کړم
که شکرے وی که قند وی که نبات

دا زما دَ یار جلوه ده چه لیده شی
لکه نمر په صومعه د سومنات

تر ما لا په دلبرانو وړیر مین دی(۱۱)
چه خبرے کا دَ کشف و کرامات

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دَ ریا له زاهدیہ زما توبه ده
چې ئې کاندی څوک په رسم او په عادات
په ورځ پند و نصیحت وائی و بل ته[۲]
په شپه ناست وی دَ مغان په خرابات
دین ئې دام وی دَ دنیا په لار کښې ېښې
پر را اړوی وحشیان دَ مخلوقات[۳]
دَ هغو په لور ئې سترګې وی خټلې
چې په لاس ئې سرمایه وی یا زکوٰة
زه رحمان له هسې اهله پناه غواړم
هر چه لاف کا په خلاف دَ مقامات

ث

۷۲۶ ۱۰ $\frac{۱}{۵۷}$

یار یاری راسره نه که الغیاث
نه ئې ترس شی نه ئې کړکه الغیاث
سر و مال واړه زما و دل ارام ته[۱]
نه ارزیږی په کنجکه الغیاث
په حملو حملو مې زړه وړی نه پوهیږم[۲]
اپریدیه ده که خټکه الغیاث
بیلتانه ئې پیښبور راته تنور کړ
له خیبره تر اټکه الغیاث[۳]
خو چې راکاږی چوګان په مخ دَ زلفو
ګوی زما دا خراب زړه که الغیاث

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

هیڅ سبب ئے لیدہ نہ شی جفا کاندی
نه پوهیږم چه په څه که الغیاث
په اخلاص او په راستیٔ ورته ولاړیم
یار جفا هومره په څه که الغیاث(۴)
سل خبرے که له صدقه ورته وکړم
یار یوه راسره نه که الغیاث
چه مے وینی له رقیبه سره خاندی
په ژړا مے لیمه سره که الغیاث
زه رحمان مدام دَ یار په رضا دروم
یار په خپله رضا تله که الغیاث

۷۳۲ ٦ ۲/۵۸ ٦

دَ وصال شپه مے بدله په بیلتون شوه الغیاث
دَ قیامت خواری را پیښه په ژوندون شوه الغیاث
ما لا طمع دَ وصال دَ نعمتونو تر کوله
ناګهان کاسه نسکوره دَ ګردون شوه الغیاث(۵)
هغه چار چه مے په لاس وه زه پر نه وم پوهیدلے(٦)
اوس چه یوه شوم له اختیاره مے بیرون شوه الغیاث
دَ وصال په طمع طوق دَ جد ایئ شو را په غاړه
هغه طمع چه زما وه اوس طاعون شوه الغیاث
په حکمت په عقل بیتے دَ عشق ښوک اخستے نه شی(۷)
په دا کار کښے ماته ملا دَ افلاطون شوه الغیاث

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ما رحمان دَ یار وصال په اسانی موندلے نه دے(۸)
زرد روئ مے سرخروئ په جګر خون شوه الغیاث

۷۴۱ ۹ ۳/۵۹

چه وئیلے مے له تا دے دا حدیث
سرنامه دَ هر انشا دے دا حدیث
چه اغاز مے کړ په مدحه دَ خوبانو(۹)
ځکه ګنج بے بها دے دا حدیث
په ثنا دَ دلپسندو دلرباوُ
دل پسند و دلربا دے دا حدیث(۱۰)
لکه باد دَ صبحدم چه غنچه وا کا
هسے رنګه دلکشا دے دا حدیث
چه اوصاف مے دَ سرو شونډو ویکښے راوړه
خوږ ترقند و ترحلوا دے دا حدیث
نه پوهیږم چه اوبه دی دَ حیاتو
که نفس دَ مسیحا دے دا حدیث
دَ غونډ ژبیو شاعرانو دَ خولے نه دے(۱۱)
ځکه هسے رنګ صفا دے دا حدیث
ستا و مخ ته که څوک شمس و قمر وائی
دروغ نه دی په رښتیا دے دا حدیث
که څوک وائی چه چا کړے دا حدیث دے
رحمان وائی چه زما دے دا حدیث

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ج

٧۴٩ ١/٦٠ ٨

چه برهم کا عاشقي دَ چا مزاج
حکيمان ئے درمانده شي په علاج[١]
په اشنا پسے تل ژاړي په دوه سترګو[٢]
دَ اوښو په ځائے خوناب کاندي اخراج
دواړه لاس ئے وي له دواړه کونه وللي
ډوب وي تل دَ عاشقيه په امواج
په هغو کښے چه څه بوي دَ عاشقۍ وي
پکښے نه وي بوي دَ رسم و دَ رواج
ابراهيم ادهم څه هسے نادان نه وو
چه نظر ئے يا په تخت وو يا په تاج
مجنون هسے رنګ مئين په ليلىٰ نه وو
چه په نورو ئے موقوف وو احتياج
ليونتوب دَ ليونيو تلونے نه دے
که ئے راج په خونه ورشي که تاراج
که ئے سر لکه منصور غوندے په دار شي[٣]
دغه دار دے و رحمان و ته معراج

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

پښتو اکېډمي پېښور پوهنتون

ح

۷۵۸ ۹ $\frac{۱}{۶۱}$

ستا وصال دے رابخښلے زما روح
ستا هجران دے راپرودلے زما روح (۱)
ستا په مخ پسے ئے مخ ونیو راهی شه
له صورته دے وتلے زما روح
چه هرګز ملک الموت پر نه پوهیږی (۲)
هسے شان دے تا وکښلے زما روح
ځان مے هسے ستا په مینه پسے ورک کړ
چه هیچا نه دے لیدلے زما روح
که وی هم به تا ځمنه وی که ئے خدائے کا
نه دے بلے خوا ته تللے زما روح
بلبل نه دے دا چه الوزی په ګلو
ستا په لور دے الوتلے زما روح (۳)
چه ئے خاور ے کړ صورت دَ ستا په درکښے (۴)
سر تر عرشه دے وکښلے زما روح
ته ئے پیژنے چه څه دے یا څه نه دے
نور چا نه دے پیژندلے زما روح
زه رحمان له خپله ځانه خبر نه یم
چه په څه رنګ دِ وکښلے زما روح (۵)

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

۷٦٦ ٨ ۲/٦۲

په طلب دَ مهرويانو سرګردان دے زما روح
لکه باد دَ ګل په بوی پسے پرېشان دے زما روح
ستا دَ حُسن و افتاب ته ځان سپاری په تبسّم کښے(٦)
لکه صبح دَ ژړا په ځائے خندان دے زما روح
چه ئے وليده دَ ستا دَ جمال عکس په خپل ځان کښے
هم په دا دَ ائينے په شير حيران دے زما روح
ستا دَ مخ له ائينے له برکته زما جانه
هميشه لکه طوطا هسے ګويان دے زما روح(٧)
لکه رنګ دَ ميو نابو چه ليده شی په بنيبنه کښے
هسے رنګ په ضعيف تن کښے نمايان دے زما روح
منتظر دِ دَ وصال دَ ګلستان يم تل ترتله
سرتر پايه دَ شبنم په شير چشمان دے زما روح(٨)
چه حاصله ئے له حسنه روښنائی شوه په طلب کښے(٩)
شپه او ورځ لکه افتاب په لار روان دے زما روح
ستا په زلفو په رخسار پسے رحمان يم بے وطنه
مسافر دَ هندوستان و خراسان دے زما روح

خ

۷۷٦ ١٠ ١/٦۳

ما سحر سبا ليدلے وو دَ چا مخ
چه مے درسته ورځ و نه ليده دَ ستا مخ(١)

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دا خو مخ زما وتا وته خدائے هیڅ کړ
ګنه هریو اشنا ګوری دَ اشنا مخ
دیر مخو نه دَ جفا دِ راڅرګند کړه
لا به کله راڅرګند کړے دَ وفا مخ [2]
څو دَ مرګ په تماچه اوښتے نه دے
اوښتونے له تا مه ګڼه زما مخ [3]
زه په تا پسے راغلے په دا مخ یم
که ته نه وے ما به څه کول په دا مخ
ما به څه لره په تا پسے ژړا کړه
که موندهٔ شوے بل دَ ستا په څیر زیبا مخ [4]
دَ رقیب طمع مے نه وه ستا په درګښے
دا دِ وښوو په جنت ګښے دَ بلا مخ [5]
زه به څه رنګ دَ رقیب و مخ ته ګورم
کله اهل سنت ګوری دَ ترسا مخ
دَ چکنا چکنۍ بیلتون په نیمه شپه وی
ستا زما په حال غماز شه دَ سبا مخ [6]
رحمان ستا په مخ دا ورانه دنیا ګوری
خدائے بے تا راڅرګند مه کړه دَ دنیا مخ [7]

۷۸۳ ۲/۶۴ ۷

کله شو لا کله خریدار یم ستا دَ مخ
تیر ترسرو ماله په بازار یم ستا دَ مخ

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

بې دَ ستاله مخه مې نورهيڅ په مخکښې نشته[۸]
هسې رنګ نتلې په ناتار يم ستا دَ مخ
هيڅ په سترګو نه وينم دا خپل صورت چه کوم دې
ډوب تر هسې حده په بازار يم ستا دَ مخ
دُود دَ اَه وکاږم په بانه دَ تماکوو
سوې لوغړن مدام په نار يم ستا دَ مخ
نور وکړې وارږه همکی دَ دنيا کار کا
زه هميشه غرق په انتظار يم ستا دَ مخ
شکر چه ئې خلاص کړمه دَ خلقوله منته[۹]
سر په سجده ږدمې منت بار يم ستا دَ مخ
هره خواچه دروم زه رحمان دَ زړه په سيّر[۱۰]
بل مطلب مې نشته طلبګار يم ستا دَ مخ

۷۹۱ ۸ $\frac{۳}{۶۵}$

چه پيدا شو ستا چشمان دا هسې شوخ
نور به نه وی مردمان دا هسې شوخ
لکه کږې وروځې کږې زلفې ستا دی[۱۱]
نه لرم شته نه ماران دا هسې شوخ
ډير غمونه شوخ شوخ شته دې په دنيا کښې[۱۲]
ولې نه لکه هجران دا هسې شوخ
مګر ديو وی چه بې غم وی په هجران کښې
ګنه نه به وی انسان دا هسې شوخ[۱۳]

دا فتنې او فسادونه به وو چرے[۱۴]
که پیدا نه وے اسمان دا هسے شوخ
دَ اشنا له هجره زړه دَ اشنا چوی
افریده کړ خدائے جهان دا هسے شوخ[۱۵]
چه یوسفؑ به دَ دنیا په متاع پلوری[۱۶]
پیدا مه شه بل کاروان دا هسے شوخ
چه بوسه له یاره غواړی بے ادبه[۱۷]
خدائے دِ نه کاندے رحمان دا هسے شوخ

د

۸۰۱ ‎۱/۶۶‎ ۱۱

بادشاهانو که قصرونه کړه اباد[۱]
ما دَ عشق عمارتونه کړه بُنیاد
نوم دَ کوم یوه بادشاه هسے یادیږی
لکه نوم دے دَ مجنون او دَ فرهاد[۲]
عشق عاشق لره یو هسے پیر استاد دے
چه به نه وی بل دا هسے پیر استاد
دغه واړه کرامات دَ عاشقئ دی
چه څوک قطب کا څوک غوث کا څوک اوتاد[۳]
دَ دنیا چارے همه واړه فانی دی
څوک به څه کا په دا چارو اعتماد[۴]
لکه سیورے چه دَ نمر په مخکښے کرځی[۵]
نه استوکه چرته کاندی نه اِستاد

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

هیڅ وفا ئے له هیچا سره و نه کړه
که جمشید وو که بهمن وو که قباد(۶)
که جمشید وو که بهمن وو که قباد وو(۷)
که نمرود وو که فرعون وو که شداد
رسولی ئے ترمراده هیڅوک نه دی
همه واړه هسے پاتو شو نامراد
نه چا ختم نه دُعا وریسے وکړه(۸)
که ئے آل که ئے عیال وو که اولاد
زه رحمان دَ زمانے له جوره دروم
خپل صاحب لره په داد او په فریاد

۸۱۸ ۱۶ ۲/۶۷

زه که لافے دَ وفا کوم هرچند
هغه یارے باور نه کړه په سوگند
زه بے یاره هسے زیست کړم په جهان کښے
لکه زیست وی په مجمر کښے دَ سپند
آبروی دَ طالبانو خپل مطلوب وی(۹)
آبروی دَ غلامانو خپل خاوند
لکه یارے سربلند دے په جهان کښے(۱۰)
په تاثیر ئے هسے زه شوم سربلند
لکه یارے چه خرگند دے په دا دور(۱۱)
زه هم هسے په دا دور شوم خرگند

چه مے مدحه دَ خوبانو کړه اغازه
هر کلام مے دِلپذیر شو دِل پسند
لکه خوند لری زما خوږے خبرے (۱۲)
په شکرو کښے هم نشته هسے خوند
هغه قند چه خدائے زما په خوله کښے کیښوو
حلوایانو څخه نشته هسے قند (۱۳)
لکه زه چه سخندان و هنرمند یم
بل به نه وی سخندان و هنرمند
په اشعار کښے قوت ناک لکه مزرے یم (۱۴)
ولے نه یم دَ مزری په څیر ګزند
هم په مدحه بنه پوهیږم هم په هجوه
ولے نه یم په داچارو ډیر خورسند
بے له عشقه کړمے عیَب که هنر دے
ما غوخ کړے دے له ځانه بل پیوند (۱۵)
زه عاشق یم سریکارے دے له عشقه
نه خلیل نه داوُدزے یم نه مومند
چه وما ته نصیحت کاڅوک په عشق کښے (۱۶)
ګویا پلار ته نصیحت کاندی فرزند
هر سړے چه ائینه په لاس کښے خاندی (۱۷)
ګویا کاندی په خپل ځان پورے ریشخند
رنګریزان دِ اول خپلے ږیرے رنګ کا
بیا هاله دِ و رحمان ته وائی پند

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

۸۳۸ ۲۰ ۳/۶۸

که قاصد ئے دَ مقصود[۱۸] اواره کړه زیان و سُود
هر چه درېښتي په مخکښې واړه وګڼه بهبود
هر چه دی سوا له خدایه واړه وګڼه نا بود
رضا پاسله وقضا ته مدام خوښ وسه خوشنود
و هستئ وته جلوه کا[۱۹] لکه ابر هسے دود
ته وځان وته نظر کړه چه قبول ئے که مردود
نندارچي دَ خپل صورت شه چه مسلم ئے که جهود
امتي دَ ابراهیم؏ شه تابع مه شه دَ نمرود
دَ غفلت له خوبه پاځه څو به وسے خواب اٰلود
مقید او مشغول وسه[۲۰] په دُعا او په درود
اسمان طوره په رکوع شه زمین طوره په سجود
هر اشیا دَحق ثنا کا په نغمه لکه داؤد
که بیدار شے خو به اورے په هر لوری دا سرود[۲۱]
که ایاز شے په بندګی کښې نو به ناز کړے په محمود
هر اسباب دَ بنو دَ بدو مهیّا دے هم موجود
که دانائے وبله بیل کړه فرموده و نا فرمود
څو سپند نه شي په اور کښې نه وی خوند دَ بوی دَ عود[۲۲]
ځان له خبثه پاکیزه کړه[۲۳] لکه بحر نامعدود
هلاک ځکه شه رحمانه چه پاک نه شه دا وجود

رحمان بے دَ یار له ذکره
نه زده بل ګفت و شنود

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

د

چه مې یار ولید په سیمه دَ اغیار کښې
له غیرته مې لیمه شوه په خونبار کښې

زه په یار پسې له خلقه هسې بیل یم
لکه نشته ناپیدا په دا بازار کښې[1]

ق

دغه حق دَ بلبلانو په جانب دے
خدائے دِ نه کا مبتګیرک په لاله زار کښې

زه په وصل کښې هجران هسې بیخمه[2]
لکه څوک چې خالي لاس وي په بازار کښې

زړه مې بے خپله نګاره ارام نه کا
که هر څو ئے کړم په نقش او په نګار کښې

په امید دَ زلفو ونښتم په دام کښې
روهیلے وم ساده دل په هندوبار کښې

دَ دیدن په ګدائۍ کښې مې ننګ نه شي
درویزه کړم دَ بتانو په دربار کښې[3]

سخت سفر دَ عاشقۍ څوک او زه څوک
خدائے ناڅاپه پر راکښه کړم په دا لار کښې[4]

ق

دَ وفا دَ ګلو پاڼے پکښې نشته
کشکے مه وے دَ دے دهر په ګلزار کښې

که پخوا تر اشنائۍ بیلتون لیده شوے
هیڅ بنده دَ خدائے به نه وو په دا کار کښې[5]

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

زه رحمان ئې دَ فردوس له غمه خلاص کړم(۶)
چه په کلي په کوڅه شوم دَ خپل یار کړه

ر

۸۶۲ ۱۳ ۱/۷۰

دا څه مخ دے منور ... چه هم شمس دے هم قمر
دا څه زلفې دي مښکینې ... چه هم مښک دي هم عنبر
دا څه پیوسته ابروئې دي(۱) ... چه هم نیش دي هم نشتر
دا څه سترګے دي قاتلې ... چه هم سیف دے هم خنجر
دا څه شونډے دي میکونے ... چه هم مے دي هم شکر
دا څه سپین سپیځلی غابش دي ... چه هم دُر دي هم ګوهر
دا څه سیب زنخدان دے(۲) ... چه هم سیم دے هم ثمر
دا څه قد او څه قامت دے(۳) ... چه هم ګل دے هم عرعر
دا څه ملا دَه باریک وضعه ... چه هم موئې دے هم کمر
دا څه زړه دے دَ خوبانو ... چه هم موم دے هم حجر
دا څه یار دے نه پوهیږم ... چه هم دل دے هم دلبر
دا څه بت دے زما ربه! ... چه هم بت دے هم بشر
دا څه شعر دے رحمانه! ... چه هم ګنج دے هم هنر(۴)

۸۷۹ ۱۷ ۲/۷۱

زه تیر شوے یم ترسر ... په طلب دَ خپل دلبر
څو ژوندے یم په دنیا کښې ... پرے به نه بدم دغه در

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دَ اشنا په طلب گرځم　　وچې شونډې لیمه تر
یو قدم مې دې په بحر　　بل قدم مې دې په بر
د واړه لاس مې دي نیولي　　هم په شام هم په سحر
مناجات مې دي وخدائ ته　　که ئې وويـنم بشر
همیشه له خپله بخته　　گیله مند یم مـرور
چې په مائې پیرزو نه کړ　　دَ خوبانو یو نظر
هم ئې و نه بښو وماته(۵)　　بې له عشقه بل هنر
عاشقي مې خدائې رسواکړه(۶)　　په جهان کښې لکه نمر
نصیحت زاباندې نه کا　　لکه موئې هومره اثر
واوره غوږ باسه ناصحه　　کوتاه وایم مختصر
په مولیٰ مې دِ سوگند وی　　هم په روح دَ پیغمبر
جاروانه مې بیرته نشته　　چه عالم شه راخبر(۷)
تر مئینه به ئې ځار کړم　　که مې سیم وي که مې زر
که مې سیم وی که مې زروی　　که مې دُر وی که گوهر(۸)
زه رحمان تر هرڅه تیریم(۹)　　تیر به نه شم تر دلبر

۹۳ ۳/۷۲ ۹۷۲

په نظر دَ بې بصر　　لکه شام هسې سحر
لکه شام هسې سحر　　لکه سنگ هسې گوهر
لکه سنگ هسې گوهر　　لکه خاورې هسې زر
لکه خاورې هسې زر　　لکه خیر هسې شر
په نظر ئې معلومیږي(۱۰)　　همه واړه برابر

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

که څوک ښه ورسره وکا   تر بد به وي بد تر
که څوک بد ورسره وکا   تر نیکیه وي بهتر
نه په بد وئیل زهیر وي[۱۱]   نه پر ښه وي دَچا زبر
په صواب او په خطا ئې   نه دلیل وي نه نظر
نه اګاه په خپل بهبودوي   نه اګاه په خپل ضرر
نه په عیب څه پوهیږي   نه پوهیږي په هنر
لکه ړوند او کوڼ چې کوږ ے[۱۲]   هسې هیڅ نه وي خبر
له طاعته له ګناهه   څه خبر وي څناور[۱۳]
څناورو نورڅه نه زده   یا ئې خوب وي یا ئې خوړ[۱۴]
دا خو ته ئې زما نفسه   چه دِ زړه کړم کوروکر
تمام ووتې له عقله   په دنیا پسې اوتر[۱۵]
نه دِ فرض دَخدائ ادا کړه   نه سُنت دَ پیغمبرؐ[۴]
نه دِ مرګ په زړه کښې یاد دے   نه خواری دَ محشر
وُوده پروت ئې دا دِ نه زده   چه په خوا لرم سفر
په هر دم در څخه دروی   که پوهیږے دا بشر
هغه تور ویښته دِ څه شو   چه هم مښک وو هم عنبر
هغه قد دِ مجنون بید شه   چه چنار وو هم نښتر[۱۶]
تن دِ درست زیر و زبر شه   زړه دِ نه شه لر و بر
تر پنځاه تر پنځه تیر شوے   ته لا ځان بولے پسر
نه دِ ترس شی نه دِ ویره   نه په زړه باندے اثر[۱۷]
بل به نه وی لکه ته ئې   هسې شوخ او ځیګرور
په غفلت دِ عمر تیر کړ   نه رهرو شوے نه رهبر

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

عبادت دِ دَ ریا شه[18]   لکه ډک په لاکو زر
لکه قلب نا سره مهر[19]   پیټ په زرو کښې مجر
لکه پنټ وی په دانه کښې   سل اغزیه دَ شجر[20]
لکه سحرچه برپائے کا   سحرکر و جادوګر[21]
لکه تش صورت بے روحه   چه تصویر کا مصور
لکه تش کدو بے مغزه   میان خالی و تن پرور[22]
لکه زړے په میوه کښې[23]   درون سنګ بیرون ثمر
لکه بے لاسه لستونے[24]   سر ترپایه پائے ترسر
لکه ټګ او دغا باز وی   په مرغانو کښې دګر[25]
لکه بے نمکه ناوے   چه په سرکاندی میزر
ترمیزر لاندے چاښه زده[26]   چه دختر وی که مادر
نه ئے حسن نه جمال وی[27]   غولوی خلق په زیور
هائے له هسے فریبانو[28]   لکه زوړند چاوُد کمر
نیم په زمکه کښې دننه   نیم برخیره لکه غر[29]
په دَ ستار کښې ئے مسواک وی   تر بغل لاندے خنجر
په ایرو کښې پټ بخرے   په وښو کښې پټ ژور
په شپه وینے دَ مظلوم خوری   سبا کښینی په منبر
په زړه تور لکه تبه وی[30]   په مخ سپین لکه قمر
دَ دنیا په طلب ګرځی   خپسر بولی قلندر[31]
کلمه په ژبه وائی   په زړه نه لری باور
په مثال دَ منافقو[32]   نه مسلم وی نه کافر
نه مسلم وی نه کافر وی   نه پخلا نه مرور

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

پریشان ګرځي سروهلے کوځے په کوځے او در په در[۳۳]
همیشه رفت و آمد کا[۳۴] دَ زردارو په ګذر
په کوڅه دَ دنیا دارو ګوره خوږګی کا لکه خر[۳۵]
اورنګ زیب هم یو فقیر وو چه ټوپۍ ئے وه په سر[۳۶]
و ټوپۍ وته ئے شاکړه چه قادر شه په افسر
خو ئے هومره فقیری وه چه څه نه وو میسّر
چه فلک ئے یاری وکړه نور ئے ملک کړ مسخّر[۳۷]
ګوره څه چارے ئے وکړے په عیال دَ خپل پدر
وار په وار ئے تر تیغ تیر کړ[۳۸] دَ خرمّ تمام ټبر
یو ټبر دَ خرم څه وو ډیر عالم ئے کړ ډبر
تمامی جهان ئے ونغړد[۳۹] چه ئے لاس شه بانده بر
په فریب فریب ئے خپل کړه بیجاپور او باک نګر
بیجا پور باک نګر څه وو لاجنجي او جینجاور
هم ئے هند په ډکه واخست هم کابل هم پښاور
بیا ئے ذکر شوه په زړه کښے بادشاهی دَ هفت کشور
له حرصه ورته هیڅ شو هم دارا هم اسکندر[۴۰]
خیال ئے دا وو په خاطر کښے چه به خپل کړم بحرو بر
بارے ورځ ورڅخه لاړه[۴۱] وقت پر راغے نماز دیګر
نه ئے مراد دَ زړه حاصل شه نه ئے یخ کړ خپل تبر[۴۲]
همګی شو څنے پاتو که ئے ملک ووکه لښکر
خالي لاس له دنیا ووت لکه عین درویزه ګر[۴۳]
له دنیا ئے هیڅ یو نه وړه مګر شو ئے یو څادر

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

خوار حیران په زمکه پریوت — بے بالین و بے بستر [۴۴]
نه پوزی شوه تر دَ لاندے [۴۵] — نه تر لاندے شه تغر
دَ بینے په خیر خفیف شه [۴۶] — چه ثقیل وو لکه غر
دَ سیلاب په مخکښے لاړ شه [۴۷] — لکه خس وی یا وزر
حق ئے پاتو په گردن شه — دَ سپائیٔ او دَ چاکر
اوس ئے زړه په روح دعا کړم — که ئے خدائے کا بهره ور
حق تعالیٰ ئے په نصیب کړه [۴۸] — شیرین حوض دَ کوثر
دَ جنت په خوشبوئی ئے [۴۹] — خدائے دماغ کړه معطر
په درست هند باندے ئے حق وو — هند یو شپه وه دے ئے نمر
دَ دے نمر په روښنائیه — تمام هند وو منور
په رڼا ئے خلقو زیست کړ — نه څه خوف وو نه خطر
خو چه مخ ئے په غروب کړ — نور پیدا شه شور وشر
چه په نام دَ اورنګ زیب وو — وخوړ کاؤ هغه دفتر [۵۰]
اوس نوبت دَ شاه عالم دے — دور طور نشه دګر [۵۱]
خدائے زده څه بازی شی پینه — عاشوره شی که اختر [۵۲]
رنګارنګ بازی کاندے — دا اسمان دے بازیګر
کله تلخ شی لکه زهر [۵۳] — که شیرین لکه شکر
څه چه وشو هغه وشو — لا به کیږی مقدر [۵۴]
ما خو نوم دَ اورنګ واخست — دا احوال دے دَ هرهر
هر سرے دَ خپلے خونے — هم بادشاه دے هم سرور
هرچه اهل دَ دنیا دی — واړه هسے دی اکثر
دا بیان دور و دراز وو — رحمان وکړ مختصر [۵۵]

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

۱۶ ۴/۷۳ ۹۸۸

چه په زور ورسره نه ئې برابر
 دَ هغو له څنګه مه کښینه زړه ور (۵۶)
زورآور اور او اوبه دی فهم وکړه
چه ډوب نه شې یا و نه سیزې بشر
زندګی که بې اوبو بې اوره نه شی
تل هم یُښی هیڅا نه دی په تهتر (۵۷)
خدائې ورمه وله سیلاب دَچاپه خونه
که په قطع هم اوبه وی دَ کوثر (۵۸)
و ذِ نه لګیږی اور په کور دَ هیڅا
که رڼا ئې وی دَ شمس او دَ قمر
چه دِ درست صورت غلبیل شی په اغزیو
وخوړمه شه دَ هغې ونې ثمر
دَ هغه دیوال په سیوری څوک کښېنې مه نه
چه ولاړ وی لکه زوړند څاؤد کمر
چه په ګیډه دِ څرخیږی مخ ئې ورک شه
که دَ سرو زرو چاړه دی یا خنجر (۵۹)
ناکرده سودونه ډیر دی په دنیا کښې (۶۰)
سود هغه وی چه دَخیر وی نه دَشر
و اوبو ته اچوه نه شی ځان خوړدې (۶۱)
کُنه ډیر دی په دریاب کښې دُر ګوهر

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

چه له ابه له حرمته سره نه وی
خدائے ورمه کړه وچا هسے سیم و زر
زور اور که رسوی وچا ته فیض
له دے فیض سره وکړه ضرر (۶۲)
په یاری دَ زوراورو غلط مه شه
مګر دا چه ترده ته ئے زوراور
په هرګاه چه دے مغلوب وی ته غالب ئے (۶۳)
ترو هاله ئے قدمونه ږده په سر
یا خو دا چه که قدم ئے په درنه ږدے
دغه پسه ئے ځان وګڼه پدر (۶۴)
چه هنر ګڼی یاری دَ زوراورو
بول وکړم زه رحمان په دا هنر (۶۵)

۹۹۹ || ۵/۷۴ ||

پورته بدر راخرګند شه ښکته نمر
ښکته پورته واړه مخ دے دَ دلبر
نمر سپوږمی مے دَ پالنګ د پاسه رغړی
چه مے یار په بالښت ولګوی سر (۶۶)
په سرو سپینو درو لعلوئے غوږ ډک شی
چه مے غوږ کاندی دَ اوښیو په دردر
چه ئے ووینم په مخ مے اوښے دروی
لکه موم چه په افتاب شی برابر

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

بل مذکور ئے سخن کویو سترکو نه زده (۶۷)
بے له دے ذکره چه اللهُ اکبر
ضد دی اور او اوبه بے ذیار له شونډو
چه هم اور دی هم اوبه دی ذکوثر
په شرابو کښے خوند نشته ذ شکرو
ذ یار شونډے هم شراب دی هم شکر
که سل ځله پټ ترشونډو لاندے خاندے
نه پټیږی اب ذ لعل او ذ ګوهر (۶۸)
ذا خو ما لره خدائے راکړ ګنه نشته
هسے بُت په بت خانه کښے ذ آزر
پس له دے به ډِ په نام ذ فرښتو بولم (۶۹)
هم په دا چه نشته دا رنګه بشر
که رحمان صاحب نظر باله شی ښائی (۷۰)
چه مدام ذ یار په مخ لری نظر

۱۰۰۹ ، ۱۰ $\frac{۶}{۷۵}$

هومره اوښے مے بهیږی په رخسار (۷۱)
چه غرقاب مے هم ګریوان دے هم کنار
هغه یار مے هسے ناست ذ زړه په سر دے
لکه ږُنبے چه چا کل وی په دستار
که څوک وائی چه مارکله په کټ خیږی
زه خوړلے یم په کټ ذ زلفو مار

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

خو دَ یار بیمارے سترګے خدائے خونی کړے (۷۲)
ګنهٔ خون کله کولے شی بیمار
کهٔ پهٔ دار شم زهٔ دَ یار لهٔ لاسه خوښ یم
سرو قد دے زما یار و زما دار (۷۳)
بس کا داچهٔ زهٔ پهٔ یار پسے غوځ غوځ یم
خدائے دِ نهٔ کا لکه زهٔ یم هسے یار
هومره جور لکه یار له ماسرهٔ (۷۴) کا
یاد مے نهٔ دے هومره جور دَ اغیار
دلبری خو کوړکر هم پهٔ کوډو وکا
هغه وایه چهٔ بے کوډو شی دلدار (۷۵)
چهٔ دَ زړونو دَ نماځنے بے پروا دی (۷۶)
ترو که زړهٔ دَ سړی یوسی څه پهٔ کار
پهٔ ګریوان ئے تل دَ او ښیو باران ووری (۷۷)
نهٔ ورکیږی دَ رحمان دَ زړهٔ غبار

۱۰۱۹ $\frac{۷}{۷۶}$ ۱۰

چه دِ زړهٔ پورے تړلے استوار
دا جهان دِ دَ نیکه دے که دَ پلار
ته خپل پلار او نیکهٔ وګورهٔ چهٔ څهٔ شو
هسے ستا دے پهٔ هغو پسے رفتار
تل وړومبے دَ وروستی پُول دے پر تیریږی
کړے نهٔ دے چا پهٔ پلهٔ باندے قرار (۷۸)

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

هسې نه چې زه تنها و تا ته وايم
راغله لاړه ستا په طور صد هزار (۷۹)
دعوٰی مه کړه په ناحق به ئې خپل نه کړې
پردې ښهر پردې ملک پردې دیار (۸۰)
چه استوګه په پردي وطن کښې کاندي
هغه نه لري هيڅ واک او اختيار (۸۱)
که هزار قسمه وخوري په معامله کښې (۸۲)
نه کا څوک په مسافرو اعتبار
چې په صبح شګفته شي په شام ريژي
څه اميد دے په ګلونو دَ ګلزار
که دِ ورور که دِ عزيزوي که دِ ياروي
مه ئې ورور مه ئې عزيز ګڼه مه يار
چه پيدا شي هګې واړه فنا شي (۸۳)
اے رحمانه دا جهان دے دا ئې کار

۱۰۲۵ ۶ $\frac{۸}{۷۷}$

څو جفا قبوله نه کړے دَ اغيار
و به نه وينې په سترګو مخ دَ يار
چه اول ئې خار زرغون شي په پهلو کښې
غنچه هله شګفته شي په ګلزار
جنت چا په رياضت موندلے نه دے (۸۴)
ولے بويه هر بنده لره خپل کار

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

که موندهٔ شوے خوشبوی په خوشخوئ
پروت به نه وو دَ چندنړ د پاسه مار(۸۵)
اب تر لعلو دَ لاله دَ گلو ډیر دے
بخت دے دا چه څوک عزیز کاندی څوک خوار
هسے زیب کا په بیاض دَ رحمان شعر
لکه زلفے دَ خوبانو په رخسار

۱۰۳۶ ۱۱$\frac{۹}{۷۸}$

څوک دِ راکاندی قسم په کردگار
که درم لرم په کور کښے یا دینار(۸۶)
زهٔ دینار و درم نه لرم په کور کښے(۸۷)
ولے نور خلق مے بولی دنیا دار
هم په دا چه نه له ځایه چرته ځم(۸۸)
نه دَ هیڅ یوهٔ مخلوق یم منت بار
نه مے بشکته ملک لیدلے دے نه پورته
خبر نه یم په یمین او په یسار(۸۹)
اُب وخور لکه اُسیا په ځائے را رسی
په خپل کور کښے مے سکون دے هم رفتار(۹۰)
لکه ونه مستقیم په خپل مقام یم(۹۱)
که خزان راباندے راشی که بهار
توکل مے لاس و پښے کړے په نکریځو(۹۲)
چه په ځائے ئے کښینولے یم قرار

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

چه زما په باب ئې کبنلي دي رارسي[۹۳]
که راحت دے که زحمت دے واره واز
چه هژده هزار قومونه ئې پيدا کړه
مربّي ے دے هغه پروردګار[۹۴]
کار همه په اراده دَخدائے موقوف دے
هيڅ موقوف نه دے زما په انتظار[۹۵]
غم به هيچرے و نه کا په دنيا کښے
که څه کيږي دَ رحمان په اختيار[۹۶]

۱۰۴۴ $\frac{۱۰}{۷۹}$ ۸

دغه يار دے دا اغيار	دغه ګل دے دغه خار[۹۷]
دغه ګل دے دغه خار دے[۹۸]	دا منصور دے دغه دار
دا رقيب دے دا حبيب دے	دغه ګنج دے دغه مار[۹۹]
دغه عقل دغه عشق دے	دغه غم دے دا غم خوار[۱۰۰]
دا هجران دے دا وصال دے	دا خزان دے دا بهار
دا طاعت دا معصيت دے	دغه نور دے دغه نار
دا عالم دے دا جاهل دے	دا خفته دے دا بيدار
دا رحمان دے دا جانان دے	دا طبيب دے دا بيمار

۱۰۵۱ $\frac{۱۱}{۸۰}$ ۷

هر چه نه وي خوار و زار	په طلب دَ خپل دلدار
تر پروني صدقه شه	دَ هغه عاشق دستار

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

هزار حیف دے هزار حیف دے — هزار ځه لا صد هزار
چه عاشق په عاشقۍ کښې — نه حلال وی نه مردار(۱۰۱)
نه پتنګ دَ خپل ځراغ وی(۱۰۲) — نه بلبل دَ خپل ګلزار
نه مجنون غوندے رسوا وی(۱۰۳) — نه منصور غوندے په دار
دواړه نه کیږی رحمانه
یا به یار شے یا ویزار

۹ $\frac{۱۲}{۸۱}$ ۱۰٦۰

په بزرګۍ دَ هغه پاک پروردګار
موقوف مه شه په سړی دَ سړی کار
په سړی چه دَ سړی غرض موقوف شی
نور بے ابه بے حرمته شی روزګار
احتیاج هسے بلا ده په جهان کښې
چه پلار زویه کا دَ زویه زویه پلار(۱۰۴)
که دَ پیر په خپل مرید باندے غرض وی(۱۰۵)
هیڅ ئے نه وی په مرید باندے وقار
زمانه هسے بے مخه ده بے رویه — ق
چه غالب کا په اسلام باندے کفار(۱۰٦)
په ساعت کښې شاه ګدا ئے کا ګدائے شه کا(۱۰۷)
دا فلک ځکه باله شی کج رفتار
چه همه عمر ئے تاج وی په سر کښې
ور په سر کاندی ګیډے دَ خس وخار

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

چه قادر نه په درم نه په دینار وی[۱۰۸]
په هغو باندے گنجونه کا انبار
زمانے دَ رحمان زړه دے کباب کړے
له احواله ئے څوک نه دی خبردار[۱۰۹]

۱۰۶۹ ۹ ۱۳/۸۲

که دَ عشق لاره اغزنه ده هرگور[۱۱۰]
دَعاشق په پښو څپلی دی دَ اور
که دیدن دِ دَ گلزار په انتظار شی[۱۱۱]
زما سترگے دی شبنم غوندے څلور
تیغ دَ او سپینے محتاج دَ نرم اب وی
قرب و حلم یو په سله وی تر زور
له لوئی له سرکښئ زما توبه ده
خدائے څوک مه کړه دَ اسمان په څیر نسکور
خدائے زده څه سودا به پیښه په بازار شی
دَ بازار خبرے نه شی په خپل کور[۱۱۲]
دا همه واړه عاشق لره پیدا شو
که تهمت که ملامت دے که پیغور
جفا جور ناز او کبر دَ خوبانو
ما په ځان دی قبول کړی لکه پور
راحت بے زحمته نه دے چا موندلے[۱۱۳]
غم ښادی دی دَ دے دهر خوراو ورور

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

رحمان هسې په خپل يار پسې غوځ غوځ يم[۱۱۴]
لکه غوځ په خپل اولاد وی پلار ومور

۱۰۹۰ ۱۴/۸۳ ۲۱

پس له مرګه که څوک ارت غواړی خپل ګور[۱۱۵]
که حق وايم هومره ارت نه بويه ګور
ترځان زياته که چارخد په کار نه ده[۱۱۶]
ځان په لويشت کړه چه دِ څودی وو وړه پسور
چه جامه دَ چا کوتاه يا وړه ده شی[۱۱۷]
ورکاوه شی هنرمند لره پيغور
هر سړے چه په حساب کښے تيرو بيرشی
ملامت پر وايه کيږی لور په لور[۱۱۸]
چه لائق دَ ملامت او دَ تهمت شی
ځائے لری که بے عزت شی هم سرتور
چه عزت حرمت ئے نه وی په جهان کښے
هغه هسے ژوندون وسوزه په اور
بے عزت سړے به خوبن دَ هيچا نه وی
مګر هسے بے عزت وی ځنے نور
خپل مجلس ئے له جمله مجلسه خوبن وی
په هر ځائے چه وبله وريښی خسور
هر هم جنس له خپل هم جنسه سره جوړ وی
زيب کا هره کشيده په خپل انځور

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

نابینا په خپله سیمه کښې بینا وی
بینایان په پردی ملک شی کر وکوړ (۱۲۰)
که ته نه یې بدکردار ډِ بدکردار کا
کښېناسته له بد کردار سره پیغور (۱۲۱)
درست صورت دَیوه نوک په درد دردمند شی
وران شی ښهر دَ یوه سری په تور (۱۲۲)
چه یوغابښ په خوله کښې زوړند شی یا ووځی
درسته خوله پر بد نمایه شی هرګور (۱۲۳)
یو سړے چه په کوړمه کښې دَ چا ګرم شی
واړه ګرم کا که پینځه وی که څلور (۱۲۴)
بدکردار زویه پیدا مه شه له موره
حبطه کاندی ناموس دَ پلار و مور
هر څوک خپله خوشحالی له خدایه غواړی (۱۲۵)
بارے نه شی دغه کار په زر و زور
خدائے په خپل قدرت څوک لوئے څوک ئے هلک کړه
نه چه هر ښهر ډیلے شی یا لاهور
دَ تنګو پوروننه هرڅوک وبله کاندی
بخت هیڅ ورکړے نه دے وبله پور (۱۲۶)
دَ چا تاج په سر زرین خنجر تر ملا وی
دَ چا پنډ په سر په ملا تومبلے لور
څوک په اس د پاسه سوروی توغ دَ وړاندے
څوک بزیر کلے کرځاوه شی په خره سور (۱۲۷)

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

اے رحمانہ دَخدائے نوم بہ چا وانہ خست
کہ دَخدائے چارے پہ پلار شوے یا پہ مور (۱۲۸)

۷ ۱۵/۸۴ ۱۰۹۷

ھسے تلہ کاندی وگور تہ یاران ژر ژر
لکہ تلہ کا وخیل کور تہ کاروان ژر ژر (۱۲۹)
ھسے ژر ژر مرگ پہ مونږہ شتابی کا
لکہ لو دَ پاخہ کښت کا دھقان ژر ژر (۱۳۰)
ھسے ژر ژر دا دنیا وبلہ اوړی
لکہ اوړی وبلہ ریگ روان ژر ژر (۱۳۱)
ھسے ژر ژر صورتونہ دی ماتیږی (۱۳۲)
لکہ ریژی لالہ زار پہ خزان ژر ژر
ھسے ژر ژر دا شیرین عمر تیریږی
لکہ بحر چہ بھیږی روان ژر ژر
ھسے ژر ژر اشنایان سرہ بیلیږی
ق لکہ سا اخلی سنړی ستومان ژر ژر (۱۳۳)
دَ بنو خپل ھم ھسے ژر ژر نہ وی (۱۳۴)
لکہ دروی لہ جھانہ رحمان ژر ژر

۱۰ ۱۶/۸۵ ۱۱۰۷

تل بہ نہ وی شگفتہ گلزار دَعمر
نہ بہ جوړ وی ھمیشہ بازار دَعمر (۱۳۵)

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

لکه سیند دَ اباسیند په غورزی درومی
هسې یون دے په تلوار تلوار دَ عمر
لکه برق چه مې څرګند کاندی بیا نه وی
هسې تیز دے په پلشکون رفتار دَ عمر (۱۳۶)
سرکښی لری تر هسې حده پورے
چه نیوے نه شی هیڅوک مهار دَ عمر
چه سمند ئے نه جلب لری نه واګے
خو به پریوځی عاقبت شهسوار دَ عمر
په ساعت دَ سلوکالو یاری پرے کا
بے وفا دے هسې رنګے یار دَ عمر (۱۳۷)
خپل صورت به دَ حباب په سترګو ګوری
که څوک وکاندی په زړه کښے شمار دَ عمر
نه ووځم چرته له کوره نه سفر کړم (۱۳۸)
بے سفره مے غوښیږی لار دَ عمر
عاقبت به دَ اجل په مقراض غوڅ شی
پیوسته به مدام نه وی تار دَ عمر
بیا ئے وار په دا دنیا نشته رحمانه (۱۳۹)
په هر چا باندے چه تیر شه وار دَ عمر

۹ ۱/۸۶ ۱۱۱۶

ر

خراب دل مے دَ دلبرو هوا یوړ (۱)
دَ هوا له ورېوچا زده چه چا یوړ

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

گو ښے گو ښے ښائسته مے زړه راکاږی
زړه وکوم یوه ته وایم چه تا یو وړ
چه مے زړه لړه دَ تورو زلفو ځائے غوښت
هغه زړه راځخه تورے بلا یو وړ
دَ سیلاب په مخکښے کله دَ چا خوب شی
شیرین خوب راځخه ډیرے ژړا یو وړ(۲)
هغه عقل چه مے لاف دَ خود رائۀ کړ
په یوه پیاله دَ میو مینا یو وړ
هغه رخت چه مے دَ صبر دَ سکون وو
هیڅ رانه کړه مهوشانو ویړیا یو وړ(۳)
څو ئے وړے فراغت له درست جهانه
ق هغه هومره ئے یواځے له ما یو وړ(۴)
که ئے یو وړ خسته دل مے تر قربان شه
نا اشناؤ وړے نه دے اشنا یو وړ(۵)
هیڅ ناحق پر شوی نه دی که حق وایم
معشوقو دَ رحمان زړه په رضا یو وړ(۶)

۸ ۲/۸۷ ۱۱۲۴

ستا دے خواب الودو سترګو خواب راځخه یو وړ
لبو دِ لذت دَ میو ناب راځخه یو وړ
نه مے او ښے پاتو شوے نه صبر په صورت کښے
ډیرے بے صبریه دَ مخ اب راځخه یو وړ

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

زړه مې په نغمو نغمو سوري کړ مطربانو
عقل ساقیانو په شراب راځخه یووړ
یو ساقي بل یار دریم مطرب سره یوځای شول
زړه ئې له کوګله په شتاب راځخه یووړ
څه شو که ئې یووړ خراب دل مې ترقربان شه (۷)
نورچا وړې نه دي خپل احباب راځخه یووړ
خط دِ تورحرفونه مخ دِ پاڼې دَ کتاب دی (۸)
شغل دَ کتاب دِ بل کتاب راځخه یووړ
هر اسباب چه ماسره دَ زهد دَ تقوی وو (۹)
واړه تا دَ حسن په اسباب راځخه یووړ
کړې ما رحمان په زړه کښې نقش دَ محراب وو
ستا ابرویو نقش دَ محراب راځخه یووړ

ز

۱۱۳۶ ۱۲ $\frac{1}{88}$

لکه کاندي په کوترو نظرباز
هسې زه یم دَ دلبرو نظرباز
زه و نورچا ته خبرې دراز نه کړم
بې هغو چه موئې مژګان لري دراز (۱)
بل بادشاه لره محال دي ملک دَ زړونو
مګر مخ دَ چا محمود شي خال ایاز
ستا دَ زنې تر سیب پورې رابشکاریږي
نورې زنې دَ خوبانو لکه پیاز

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دَ تصویر له کلو طمع دَبوی مه کړه[۲]
بے وفا دی واړه تر کے دَ مجاز

هغه یار که په خپل ناز خوښ وخرم دے
زه هم خوښ یم همیشه دَ یار په ناز

همیشه مے لاس نیولی وی داخواست کړم[۳]
چه مدام دِ دَ یار ناز وی زما نیاز

که څوک آه وفریاد ښه کښی په عشق کښے
زه په عشق کښے دغه کار کړم غماز

ښادی هرچرے دَ غم په اندازه وی
هسے غم دے دَ ښادیه په انداز

نیستی واړه دَ هستۍ په دنبال کرځی[۴]
نه ډوبیږی په اوبو کښے تش جهاز

دا قاعده ده لکه لوړ هومره ږ ځوړ وی[۵]
یو صورت دے هم نشیب شی هم فراز

چه یکسان کوری و شاهو وګدائے ته
هسے یار دے دَ رحمان غریب نواز

۸ $\frac{۲}{۸۹}$ ۱۱۴۴

که بے ځایه زر کے نه وکښے اواز[۶]
نه صیاد ځنے خبر وو نه شهباز

سکه له دے خبرے هسے معلومیږی
چه خپل صوت دے هر سړی لره غماز

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دَ منصور وحال نهٔ کوره حال ئے څه شه
خدائے دِ فاش دَ هیچا نه کاندے پټ راز
دریغه دریغه که وروستے عقل وړومبے وے
دَ انجام خبرے نه شی په آغاز
نیک عمل دَ عاملانو نیک فرزند دے (۷)
خدائے څوک مه کړه شراب خوار وقمارباز
چه فرزند ئے شراب خوار وقمارباز شی
نور ئے کانی شی دَ پلار په خونه ساز
خدائے له هسے زاهو زاده امان وکړه
چه بے دین بے دیانت شی بے نماز (۸)
چه منکر پرے اعتراض کولے نه شی
دا دِ شعر دے رحمانه که اعجاز

۷ ۳/۹۰ ۱۱۵۱

بد اختر به نیک اختر نه شی هرګز
مرغ پیچ به درګوهر نه شی هرګز
که مکان ئے یو اسمان دے غزا وشوه (۹)
ستاره به شمس قمر نه شی هرګز
که ئے اصل له یوے زمکے دے څه شو (۱۰)
بید به سرو صنوبر نه شی هرګز
که همه عمر باران ورباندے وورِی
خس به ګل دَ پیغمبر نه شی هرګز

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

له نااهلو دَ وفا طمع و مه کړه
ګنده نل به نیشکر نه شي هرګز (۱۱)

که تور غر له ځایه خوځي و به خوځي
ولې نور به مقدر نه شي هرګز (۱۲)

دَ رحمان په باب چه وشو هغه وشو
مکرّر به دا دفتر نه شي هرګز (۱۳)

س

۱۱۶۰ ۹ $\frac{۱}{۹۱}$

تیر شه درست عمر زما په دا هوس
که مې وپوښتې چه څوک ئې یا څه کس (۱)

یو پرسش دَ هغه یار ما لره بس کا
که څه کس وي خو یو اوئې ورلره بس

هزار حیف دې چه په هر نفس تر تښتم
هغه لور ته چه مې تله دي هر نفس

چه ئې زه په هر نفس له خدایه غواړم (۲)
هغه کله کله وینم په ډیر پس

که یو خس وي په محتاجو لک او کرور شي (۳)
خدائې دِ نه کا څوک محتاج دَ یوه خس

هر مارغه په خپله ځاله کښې هماځ دې
که قارغه که مېنګیرک دې که ققنس (۴)

که شهباز لره سینه ده دَ تنځري (۵)
عنکبوت لره سینه ده دَ مګس

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

خو چه خاورو لړه ورشي برابر شي
که چا غُنډے وی اغوستے یا اطلس(۶)
هم هغه ئے ژړوی چه خندوی(۷) ئے
نور څوک نشته دَ رحمان فریادرس

۱۱۷۵ ۱۵ ۲/۹۲

ویښته سپین ستر کے تاریکے غابښ کنډاس
نه وکاږے دَ دنیا له چارو لاس
په هر طور چه ئے مومے پسے دروے
نه په چپ لوری صرفه کړے نه په راس
یو ویښته دَ عقیدے دِ په تن نشته
سر تر پایه هسے ډوب ئے په وسواس
خدائے رازق بولے او رزق ګڼے له کسبه
په داشناخت وځان ته وائے حق شناس
هسے رنګ په مذبذب صفت موصوف شوے
نه پوهیږمه چه ناس ئے که خناس(۸)
په دوی کښے به ورنه شے تر توحیده
که پیشوا کړے مهتر خضرؑ مهتر الیاسؑ
واړه زهر قاتل نغرے که پوهیږے
که سوا له خدایه نغرے هر انفاس(۹)
امر دا دے چه له نهی لاس کوتاه کړے(۱۰)
او که نه وی خپسر وګڼه مواس

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

خیر دا دے چه له شره وجاروځے[۱۱]
په دا چاره کښې هیڅ نشته کوز او پاس
که زما وئیل دروغ یا کوز او پاس وی
ته پخپله په خپل زړه کښې وکړه قیاس
له سریه غرض واړه سړی هوښ دے
نه چه پټ وی مس د زرو په لباس[۱۲]
څه په دا به عراقی او ترکی نه شی
که د خره په سر سرائے کړ د اس[۱۳]
د تشنه خو له اوبو سره مطلب وی
نه تش بے اوبه د سیم و زر و طاس[۱۴]
هر زاهد چه په ریا زهد نازیږی
د خر ببنت کمان ئے کیږی په اماس
اے رحمانه که څه کار دے خو د دین دے
نور کارونه بے وفا دی بے اساس

۱۱۸۶ ۱۱ $\frac{۳}{۹۳}$

که څوک فخر کا په ننګ او په ناموس[۱۵]
دا په عشق کښې نه ارزیږی یو فلوس
که اغوستی ئے زری جامے وی څه شو[۱۶]
ګنه یا مرغ زرین دے یا طاؤس
که ئے تاج وی په سر ئینے غزا وشوه
په نظر زما هدهد دے یا خروس

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

نه ئې فهم فراست وی نه ئې علم (۱۷)
خالی نقش لکه عکس دَ معکوس
نه ئې مغز نه دانه وی په خرمن کښې
عبث ځي په سر لونی واړه بوُس (۱۸)
دَ مجاز له اهله طمع دَ خیر مه کړه
هسکی شر و شدت دے دا الوس (۱۹)
ودانۍ ئې همه واړه ویرانه دی
راشه وګوره ماڼۍ دَ کیکاؤس (۲۰)
که زما په ګفتګوی کښې زیات وکم وی
څوک دِ ګېږ کا په دا ښهر کښې جاسوس
ساقی جام وباده راوړه چه بے خود شم
خدائے څوک مه کړه په خودیه کښے محبوس (۲۱)
که څوک وغواړی تمامه دنیا واړه
زما یار غوندے به نه وی بل عروس
رحمان حسن دَ یار وینم په پرده کښے
نه پټیږی نور دَ شمع په فانوس (۲۲)

ص

۱۱۹۵ ۱/۹۴ ۹

څه عجب بلند مقام دے دَ اخلاص
چه جهان واړه غلام دے دَ اخلاص
که له زمکے و اسمان ته خاته ګران دی
دا سفر په یوه ګام دے دَ اخلاص

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

چه خبر کا مخلصان له غیبه علمه
دا همه واړه الهام دے دَ اخلاص(۱)

دَ رواج او رسم عمر مدام نه وی
لکه عمر چه مدام دے دَ اخلاص(۲)

بے اخلاصه دَ اسلام حلاوت نشته(۳)
که اسلام دے خو اسلام دے دَ اخلاص

څه عجب دے که همائے ئے په دام نښلی(۴)
هر صیّاد ښخه چه دام دے دَ اخلاص

څه عجب دے که مستان وی تر چاپیره(۵)
هر ساقی ښخه چه جام دے دَ اخلاص

پس له مرګه به دا مهر اخلاص نه وی
که اخلاص کړے نن هنګام دے دَ اخلاص(۶)

دَ رحمان کلام په دا سبب شیرین دے(۷)
چه ئے هر کلام کلام دے دَ اخلاص

ض

۱۲۰۱ ۶ ۱/۹۵

که ته نه کړے په بل چا باندے غرض
بل به هم نه کا په تا باندے غرض(۱)

که ګدائے دَ بل په غولی غرض نه کړی
سپے به نه کا په ګدا باندے غرض(۲)

په ساحل کشتی دَ هیچا نه ډوبیږی
که څوک نه کا په دریا باندے غرض

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

خلوتیان په خپل خلوت کښې فراغت وی
دَ رسوا دے په رسوا باندے غرض(۳)
دا دنیا په احمقانو ده ودانه(۴)
دانا نه کا په دنیا باندے غرض
زه رحمان دَعشق په درد کښې هسے خوښ یم(۵)
چه مے نشته په دوا باندے غرض

ط

۱۲۰۸ ۷ ۱/۹۶

طمع مه کړه په دنیا کښې دَنشاط
بیا به نه مومے نشاط په دا بساط(۱)
لکه راغلے بیا به هسے ځنے دروے
دا جهان دے دَ رهرویو یو رباط(۲)
تر هر کام لاندے کوهے دے دَدے دهر
ږدې بویه هر قدم په احتیاط
و دانا وته په دا جهان ښکاریږی(۳)
هم جنت او هم دوزخ او هم صراط
په عاشق به هیڅ دهشت دَ رقیب نه وو
که ئے نه کړے له خوبانو اختلاط
له کم اصله بے دیانته بے نمازه
طمع مه کړه دَ نیکئ دَ یو قیراط(۴)
غم دَ ترکو تر رحمان هسے چاپیر شه
لکه وسکښے جامه په چا خیاط(۵)

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ظ

۱۲۱۷ ۹ ۱/۹۷

اومه کله دی پاخه وائی واعظ
هرچه وائی واړه ښه وائی واعظ (۱)
چه دے ما له خپله یاره لرے باسی
نور به څه راته اومه وائی واعظ
جاروانه زما له یاره ډیر مشکل دی
زیاتی څه له دوباره وائی واعظ
په خوږو پستو خبروئے غلط شوے
دا خواږه خواږه تراخه وائی واعظ
څوک به څه باورد ده په نصیحت کا
چه له یاره جاروانه وائی واعظ
یو ساعت مے بے له ناستو ارام نه شی
تل له ښکلیو پاخیده وائی واعظ (۲) ق
زه بے عشقه بل یو کار کولے نه شم
ډیر له عشقه تښتیده وائی واعظ
اعتبار ئے په نرمۍ په ګرمۍ مه کړه
دا تاوده تاوده ساړه وائی واعظ
اروید ونے د رحمان د ویئل نه یم
بهتر دا دے چه نور نه وائی واعظ

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ع

۱۲۲۲ ۵ $\frac{۱}{۹۸}$

په تندۍ چه اتش بل کا مدام شمع
ځکه بیاموي له خلقه اکرام شمع
په انوار دِ منوّر اهل ابصار شي
لا به کله شي ښکاره دَ انعام شمع
پتنګان ئې لور په لور په مخ څرخیږي
ځکه نه کوي په سول کښې ارام شمع
وسیزه ته ځان زما په شعله باندے
کړه پتنګ ته په رموز کښې کلام شمع
ستا مجلس دَ خاص الخاصو صرافانو
دَ رحمان په څیر نه مومي هر عام شمع

غ

۱۲۲۷ ۵ $\frac{۱}{۹۹}$

هر یو ګل دَ ستا دَ باغ روښن تر دے ترچراغ
روښن تر دے ترچراغ هر یو ګل دَ ستا دَ باغ
ستا دَ باغ او دَ بن زاغ په نظر زما هما ئې دے
په نظر زما هما ئې دے ستا دَ باغ او دَ بن زاغ
دَ دردمنو په دماغ ستا دَ درخاورے عنبر دی
ستا دَ درخاورے عنبر دی دَ دردمنو په دماغ
دَ عاشق دَ تهتر داغ په اسمان دَ عشق افتاب دے
په اسمان دَ عشق افتاب دے دَ عاشق دَ تهتر داغ

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دَ رحمان دَ زړه فراغ نه شي نه شي بے خوبانو
نه شي نه شي بے خوبانو دَ رحمان دَ زړه فراغ

۱۲۴۲ ۱۵ $\frac{۱}{۱۰۰}$

ف

اورنګ زیب وشاهجهان غوندے اشراف[۱]
صدقه شه تر منصور غوندے نداف
که دَ تن په لوګي لوئے دے به ئے څه کړے[۲]
مه کړه خدائے چه کوه طور شي کوه قاف
بوالهوس دِ عاشقۍ ته هوس نه کا
دا دروغ دي چه زردوز شي بوریا باف
دَ مکے په بزرګۍ کښے هیڅ شک نشته
ولے خرئے حاجي نه شي په طواف[۳]
که په سل دریابه غسل وځان ورکا[۴]
ګمان مه کړه چه به سپے شي پاک وصاف
کشتۍ هم چه ډیره ډکه شي ډوبیږي
دَ مسرف په ځان بلا شه خپل اسراف
صابرانو صبر پرېښوو حریصان شو
نه څه عدل شته په چا کښے نه انصاف
دا څلور مذهبه واړه سره یو دي
ما او تا پکښے پیدا کړ اختلاف
دَ همه واړو ملکونو څښتن یو دے[۵]
که دوزخ دے که جنت دے که اعراف

شهیدان نه دی هغه خون فروشان دی
چه خونی ته خون بها نه کا معاف
دَ کاذب ژبه په خوله کښې وچه شه ده
لکه توره دَ لرګیو په غلاف (۶)
دَ دیوال په سربه څو زغلی ترکومه
دروغژن چه په دروغه کاندی لاف
اٰب وتاب دَ ناسره مهر وی هومره (۷)
څو نظر پرے شوی نه وی دَ صراف
دَ دنیا په دولت ناز مه کړه رحمانه
دا یو موئے دے په نظر دَ موشګاف
مدحه هجوه دَ حبیب او دَ رقیب کرم
رحمان نه زده بلّه هجوه نور اوصاف (۸)

ق

۱۲۵۹ ۱/۱۰۱ ۱۷

چه پائے بند شه دَ لیلیٰ په اشتیاق
مجنون واچول و نورو ته طلاق (۱)
چه دَ میو دَ مطرب په خوند خبر شه
فراموش کړه صوفی نفل دَ اشراق
داځلی په مثال باغ مرګ ئے خزان دے
چه خزان پرے باندے راشی (۲) ق
جام دَ میو دے یا رقص دَ خوبانو
په هرځائے چه وبله جمع شی عشاق

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

په نسیاؤ نظر نه کاندي بے نقده[۳]
که څوک حورے ورته ستائي یا براق
چه حاصل ئے دَ دلبرو یګانګي شي
دَ دوئي خبرے نه کاندي مشتاق
حرکت له ځایه نه کا لکه شمع
که ئے اور دَ عشق بلیږي په تاراق
هسے خوښ وي دَ خپل یار په دردوغم کښے
ته به وائے چه بادشاه دے دَ آفاق
هسے محوه وي دَ عشق په میوُ ناب کښے[۴]
چه خبر نه وي په وصل په فراق
چه روان ئے دَ سفر په لویه لار ته
راشه پریکړه له هرچا نه اشتیاق[۵]
که ظاهر په صورت وي په معنیٰ نه وي
لکه کښلے دَ لا لفظ په اوراق[۶]
څو ئے تن په کار و زار کښے فنانه شي[۷]
نه جار باسي څ اسونه دَ عراق
دَ عراق اسونه کار په اشارت کا
په وهل په کوتل کار دے دَ الاق[۸]
چه خدائے پوه کړه دَ ښو په ځمبل پوه شو[۹]
چه پوه نه شو نه پوهیږي په شلاق
که ئے سرځي که ئے مال ځي خدائے دِ نه کا
دَ طالب او دَ مطلوب ترمیان نفاق[۱۰]

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دَ قسمت پاسے پہ لاس نیولے ناست یمہ(۱۱)
نہ پوهیږم چہ بہ جفت شی کہ بہ طاق
تہ چہ پند واۓ ناصحہ و رحمان تہ
کشکے نور کړے هغہ کښلی دَ میثاق(۱۲)

۱۲۶۶ ۲/۱۰۲ ۷

خدایہ څہ شہ هغہ ښکلے ښکلے خلق
پہ ظاهر پہ باطن سپین سپیځلے خلق
هیڅ خنداے لہ دے خلقہ سرہ نہ شی(۱۳)
ژړوی مے هغہ تللے تللے خلق
خبر نہ یم چہ وکومہ خوا تہ لاړشہ(۱۴)
لیدہ نہ شی هغہ ما لیدلے خلق
لکہ نمر چہ دَ اورو پہ څوکہ درومی(۱۵)
هسے دروی پہ دنیا راغلے خلق
دریغہ یو ځلہ خو بیا پہ جهان راغے
لہ جهانہ پہ ارمان و تللے خلق(۱۶)
هزار حیف دے چہ پہ خاورو کښے لاړہ شی
پہ چووہ او پہ چندن لړلے خلق
رحمان هسے کوښے خوند لہ خلقہ بیامومند
چہ هرګز نہ دے داخوند موندلے خلق(۱۷)

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

۱۴ ۱/۱۰۳ ۱۲۸۰

ک

چه په زړه مے تورلحد شي دَخپل خاک
بے مزه شي هم مے خوب هم مے خوراک
چه دَ خوب او دَ خوراک مزه شي ورکه
نور له مرګه برابر شي هغه ژواک
غلط وائي چه څوک عمر ورته وائي
هغه عمر چه تیریږي په پخساک
تن سپیره په خاورو ډکه خوله بهتریم(۱)
چه اخر مے دا خوراک دے دا پوشاک
ځائے لري که ژوندے ځان په زمکه ښخ کړم
چه مے پس له مرګه ځائے دے یو مغاک
ګویا شوے دے هغه چه شدني دے
زه پخوا تر هلاکته یم هلاک(۲)
زړه چه روغ وي ګریوان کله څیراوه شي
له ګریوانه معلومیږي دَ زړه چاک
تن وځائے جامه هاله پکار ده
چه ورومبے شي دَ چا زړه له غیره پاک(۳)
سرے بویه چه درون بیرون ئے یو وي(۴)
نه هغه چه بیرون زر وي درون لاک
له سرپیه غرض واړه سړي هوبن دے
که په سر کښے ئے طره وي یا مسواک

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دَ دنیا چارے همه واړه فانی دی
څوک یو دوه ورځے خوشحال وی څوک غمناک (۵)
په ساعت کښے څوک خوشحال کا څوک ملال کا
دا خوبونه لرغونی دی دَ افلاک (۶)
رضا پاسله وقضا ته فراغت شه
اے رحمانه څه بنده او څه ئے واک (۷) ق
چه څه کاندے واړه خدائے دے نورڅوک نشته (۸)
رحمان څه دے څه ئے واک څه ئے ادراک

۱۲۸۸ ۲/۱۰۴ ۸

ماتوی مے خوله په سُوک — خراشی مے زړه په نوک (۹)
که نارے وهم که ژاړم — پروا نه لری یو چُوک
راشئ گورئ منصفانو — دَ دلبرو دا سلوک
لکه گل په لاس دَ طفل — زما زړه کړی شوک په شوک (۱۰)
دَ چشمانو په غمزه ئے — ژوبل ژوبل یم ټوک ټوک
په توسن دَ فلک سورشی — دستارکیږدی په سرهُوک (۱۱)
هیڅ اثر وربانده نه کا — دَ درد منو درد او دُوک
اے رحمانه چه عاشق شی — ځان دِ ژاړی کوک په کوک

۱۲۹۸ ۳/۱۰۵ ۱۰

زړه مے تراشی دَ بنو په تیره نوک
ماتوی مے دوه دیرش غابښ واړه په سُوک

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

چه قبول شي په درګاه ذَ مهرويانو
ذَ هغو په ځير به نه وي بختورڅوک [۲۷]

که زما ذَ يار په مخ ذَ چا نظر شي
و به نه کا و بل مخ و ته نظرڅوک

که هرڅو دلبران ډير دي په جهان کښې
بل به نه وي زما يارغوندے دلبرڅوک [۲۸]

ذَ ديدن طاقت ئے هيڅ څخه نشته
و افتاب ته کښې نه شي برابرڅوک

عاشقي لويه پايه ده عجائبه
دغه کار کولے نه شي هرڅوک هرڅوک [۲۹]

له هجرانه بله سخته بلا نشته [۳۰]
خدائے دِ نه کاندے زخمي په دا نشترڅوک

مخ به بل خواته هرګز و نه جاړباسي
چه شي ستا په خماري سترګو ابترڅوک

و به نه رسيږي تاته په اسانه
چه په غم ستا خاورے نه کاندي په سرڅوک

ارمانونه به کوي زار زار به ژاړي
چه حاصله کونته نه کا په شش درڅوک

هومره نوم ذَ عاشقۍ وربانده مه ږده
چه ذَ يار په غم کښې نه شي قلندرڅوک

هغه نه کوي نظر و سيم و زر ته
چه په لور ذَ خپل اشنا کاندي نظرڅوک

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

په ګلونو دَ ګلزار به سیر کاندی
چه خوبو نه کا دَ یار په خاکسترخوک
بے رهبره یون په لار دَ هرچا ګران دے(۳۱)
دلته بویه چه پیدا کاندی رهبرخوک
چه بیلتون په سترګو وینی اشنائی کا
دَ رحمان په شیر به نه وی بے هنرخوک(۳۲)

۱۳۳۷ ۱۱۴ ۶/۱۰۸

چه مشغول نه وی دَ ترکو په جمال څوک
نور به څه کا په د نیا کښے اشتغال څوک(۳۳)
دَ بل خط په عبارت به څه نظر کا(۳۴)
چه نظر کاندی دَ ستا په خط وخال څوک
نور خوبان دَ ستا تر مخ پورے دی هسے
لکه بل کا دَ افتاب په مخ مثال څوک
چه عنقا شو اهل دل په دا دنیا کښے
ترو به څه وائی وچا وته احوال څوک(۳۵)
که عاشق په عشق کښے ژاړی هیڅ ګرم نه دے
په دا هسے درد کښے نه لری مجال څوک
چه ئے قیل وقال له یاره سره وشی
نور له چا سره به څه کا قیل وقال څوک
چه په اصل کښے خدائے نه دے پیدا کړے(۳۶)
ترو به څه غواړی دَ ستا دَ مخ مثال څوک

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

(۳۷)
سرخروئي دَ هر سړي په ځګر خون ده
نه هغه چه ئے په سرکاندي سورشال ځوک
(۳۸)
مخ روڼي ده دَ هرچا په خپلو اوښيو
په دا نه شي چه ئے مړي په روئمال ځوک
(۳۹)
ق بے ښه خوي به مخ روڼي دَ هيچا نه شي
که هر څوئے پاکيزه کړي په روئمال ځوک
سړے بويه چه په نيک عمل نازيږي
نه چه ناز کا دَ دنيا په ملک ومال ځوک
دَ دنيا چارے فاني دي مرد هغه دے
(۴۰)
چه نظر کا په حرام او په حلال ځوک
هرچه کر کا دَ وربشو غنم غواړي
له خاطره دِ بيرون کا دغه خيال ځوک
(۴۱)
که ئے شعر دَ رحمان مومند ترغوږ شي
غوږ به نه باسي په شعر دَ خوشحال ځوک

۱۲ ۷/۱۰۹ ۱۳۴۹

ق
که په بخت کم بخته نه وے سوخته دل ځوک
(۴۲)
بے حضور به له تا ولے بيليدل ځوک
وديدن ته ئے دَ هرچا رضا کيږي
(۴۳)
ولے حکم ئے بے تا نه لري بل ځوک
که ئے لاس دَ خدائے په چارو رسيدلے
(۴۴)
بے مقصوده به يو دم نه سهيدل ځوک

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دا همه زما شامیت دے چه رارسی
ګنه ته او دَ چا زړونه بدول څوک

دَ دیدن په طمع وغلیدم بندی شوم
ګنه زهٔ او دَ هجران خواری زغمل څوک

زهٔ لارغه دَ ستا په مینه کښې شهره یم
نه چه نن ګانده خبریږی پردی خپل څوک (۴۵)

مأ دا یو سر دے دَ ستا شکرانه کړے
کهٔ دَ سر ماغزه مے خوری په داکبل څوک (۴۶)

په هیڅ رنګ به دِ له مینے منکر نه شم
هر شان قصد چه مے کوی په قتلول څوک

کهٔ مے زړهٔ ستا مینے نه وی راپرودلے (۴۷)
په رضا له سره کله تیریدل څوک

کهٔ اثر دَ محبت ورسره نه وے
روغ صورت دا هومره زړهٔ زهیریدل څوک

کهٔ په مینه دَ لیلےٰ مبتلا نه وے
خوار مجنون بیدی بیدیا غرونه ځنګل څوک (۴۸)

مینه هره بلا کا په عاشقانو
ګنه زهٔ غریب رحمان هومره ویئیل څوک (۴۹)

۱۳۵۹ ۱۰ ۱/۱۱۰

ګ

زغره واغونده ملا وتړه په جنګ
دغه پسه معرکه کوه دَ ننګ

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

و بے ننګ و ته ذَ ننګ خبرے مه کړه
یا ځان وګڼه په خپلو وینو رنګ
ننګیالے چه یو ځل مخ په هغه لور کا
نور هیڅ نه وینی کوهے وی که ګړنګ[1]
هیڅ له ځانه له جهانه خبر نه وی
چه چراغ په نظرکښیوځی ذَ پتنګ[2]
ذَ بلبلو وچمن وته پرواز وی
ذَ اورښتی و اتش وته غورځنګ[3]
که جهان و بے هنرو ته فراخ دے
یو لحد دے هنرمندو لره تنګ
هغه ښهر جوهری لره زندان وی[4]
چه یکسان وی پکښے لعل ومردارسنګ
اسمان زمکه دواړه ژامے ذَنهنګ دی
څه به زیست کاڅوک په خوله کښے ذَنهنګ
په ښادی ئے هیڅ ښاد مه شه که دانا ئے[5]
غم ښادی دی ذَ دے دهر څنګ په څنګ
که رحمان ذَ هغو تللیو وصال مومی
تیر به نه کا په دا دور کښے یو درنګ

۱۳۶۶ $\frac{1}{111}$ ۷

ل

هیڅ مے نه کړه په دا عمر کښے حاصل
هسے پاتو شوم مردود و ناقابل[1]

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ما لا بوی هم دَ وصال موندلے نه دے
تش په توره مے خدائے نوم کړ دَ واصل
ھسے ډوب یم دَ ګناه په ګردابونو
چه په سترګو مے و نه لیده ساحل
له وطنه مے په هر زمان وباسی
راپیسے کړه حاکمانو محاصل
که بلا ده که جفا ده که وفا ده
دا همه واړه په ما کړه خدائے نازل
دَ دنیا په پلیتۍ مے ځان پلیت کړ
حیف دے دا چه نه عالم شوم نه عامل(۲)
توره ډیره مے شوه سپینه زه حیران یم
چه رحمان لا نه بالغ شوم نه عاقل(۳)

۱۳۷۲ ۲/۱۱۲ ۶

یُښے مے په سر دے ستا دَ مخ دَ مینے ګل
بیا مے تور لیمه دی ستا دَ زلفو تور سنبل(۴)
ته چه ائینه په لاس کښے واخلے حیرانیږے(۵)
زه له کومه راوړم صبوری او تحمل
ګرځے په چمن کښے منګل ډکه په ګلونو(۶)
خدائے زده چه ګلونه وړے که زړونه په منګل
هم مے منبک لیدلی هم عنبر دی په جهان کښے
شابش شابش ستا دَ زلفو په کاکل(۷)

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

نہ بہ ستا دَ مخ پہ شیر گلشن وی چالیدلے (۸)
نہ بہ وی زما پہ شیر اهونہ دَ بلبل
هسے تغافل کا ستا پہ جور پہ جفا کښے
خلق حیرانیږی دَ رحمان پہ تغافل

۱۳۹۵ ۳/۱۱۳ ۲۳

مہ غوږ باسہ دَ نا اهلو قیل وقال
پکار نہ دے قیل و قال دَ بدسگال
یا بہ فخر پہ خپل اهل و پہ نسب کا (۹)
یا بہ فخر کا پہ اٰل و پہ عیال
یا بہ ذکر دَ لذت او دَ زینت کا (۱۰)
یا بہ فکر کا دَ مال او دَ منال
یا بہ هسے پوچ گوئی کاندی اٰغازہ
چہ مضمون ئے نہ مردار وی نہ حلال
دَ دانا او دَ نادان صحبت دے هسے
لکہ گډ شی وبلہ لعل او کوتی لال
لکہ لعل او کوتی لال چہ وبلہ گډ شی
یا صحبت شی دَ عیسیٰؑ او دَ دجّال (۱۱)
هغہ عمر چہ تیریږی بے هم جنسہ
ترو بہ څہ وی دَ هغہ عمر احوال
دَ دنیا چارے فانی دی مرد هغہ دے
چہ خبر شی پہ حرام او پہ حلال (۱۲)

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

اباسیند لا څه محال لری په تله کښې
دَ دنیا دَ چارو هیڅ نه وی محال(۱۳)

دَ دنیا چارے په مثل خواب وخیال دی
څوک به څه کا اعتماد په خواب وخیال

لکه مال و ملک په خوب کښې ورڅرګند شی
خو چه ویښ شی نه ئے ملک وی نه ئے مال(۱۴)

لکه ځک چه دَ اوبو په سر لیده شی
که ئے واخلے هیڅ در نه شی په چنګال(۱۵)

لکه دود چه غرونه غرونه څرګندیږی
تار په تار شی په یوه نری شمال(۱۶)

لکه یخ چه دَ ساړه په زور شی جمع
هیڅ ئے نه وی دَ افتاب په مخ مجال(۱۷)

په یوه ساعت باران بیا شین اسمان شی
لکه ابر دَ پسرلی دَ پشکال(۱۸) ق

په یوه ساعت ئے سازکا بیا ئے وران کا
خاورے خټے دی په لاس کښې دَ کلال

دَ مجاز په معشوقو کښې وفا نشته
ما هزار ځله وکښلے دے دا فال(۱۹)

اعتماد ئے په بنادہ او په غم مه کړه
نه ئے هجر په قرار دے نه وصال

کاهے تورکودے په مخ باندے راکیښ شی
کاهے راکیښ شی په مخ باندے رومال

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

لکه غونډه ذ مالګې کیږدے په اوبو کښے
زه هم هسے سرزده شوم په مثال[۲۰]
چه ذ مرګ وتاخت و باخت وته نظر کړم
صورت وینم ذ میږی په خیر پائمال
خراب زړه مے بهی غواړی بلا دا شوه
چه کهی رامعلومیږی کال په کال[۲۱]
که وصال مے ذ یار بیامونده هاله سیال یم
ګنه اوس خو زه رحمان یم ذ چاسیال[۲۲]

۱۴۰۷ $\frac{۴}{۱۱۴}$ ۱۲

چه له نازه پوشیده لری چشمان خپل
څه به وینی مظلومان او مقتولان خپل
چه ښکنځل راته په قهر قهر کاندی
دا لا ګڼی په ما باندے احسان خپل
ګفتګوئے په اشارت کاندی له نازه[۲۳]
کله اسم ذ چا اخلی په زبان خپل
په ګریوان باندے چه تک وهی غوتیه
عاشق کښیباسی لاسونه په ګریوان خپل
خریدارئے له حیرته بے شعور شی
چه ذ حسن رخت خرکندکا په دکان خپل
چه خپل مخ په ائینه کښے ورڅرګند شی
خود ښکیله سرفرو کاندی په ځان خپل[۲۵]

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

چه ئې څوک وعاشقۍ وته هوس کا
ګویا لوبې کا په دین او په ایمان خپل(۲۶)
هیڅ صرفه دَ چا په سر او په مال نه کا
ما لیدلی دی په خپله ظالمان خپل(۲۷)
دا مقام دے دَ هغو رنګه عالمو
چه هیڅ نه وینی په سترګو سود او زیان خپل(۲۸) ق
مجنون ملک دَ عاشقیه هله بیاموند
چه په اور باندے ئې وسهٔ خان ومان خپل(۲۹)
آفرین دَ عاشقانو په همت شه
چه ورتیر ترسر و مال دی په جانان خپل(۳۰) ق
هیڅ دَ سترګو غړولو خوند ئې نه وی
چه رحمان په سترګو نه وینی جانان خپل(۳۱)

۱۴۱۴ ۷ ۵/۱۱۵

بیلتانه دِ هسے خوار کړ زما دِل(۳۲)
چه له ځانه ئې ویزار کړ زما دِل
لاس وپښے دَ خلقو نسی دعا غواړی(۳۳)
مینے هسے منت بار کړ زما دِل
عاشقۍ دومره داغونه دی پرے ښی
چه تمام ئې لاله زار کړ زما دِل
بے سببه آزار اخسته بنه نه دی
تا په څه سبب ازار کړ زما دل

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

چه دَ زلفو په کمند سره دِ راکیښل
په بلا دِ گرفتار کړ زما دِل (۳۴)
ستا چشمانو په کښې هسې مقام ونیو
چه له غیرو دِ ویزار کړ زما دِل (۳۵)
زه رحمان دَ عاشقیه منت بار یم
چه میئن ئې په دلدار کړ زما دِل

۳۰ $\frac{۱}{۱۱۶}$ ۱۴۴۴ **م**

چه له مرگه بې پروا يئې په هردم
دغه هسې غم دِ هیر دې په کوم غم (۱)
نور همه واړه غمونه به دِ هیر شي
که یو ځل دربانده درشي دا ماتم (۲)
چه زخمي ئې سبا نه مومې په بیعه
مفت موندہ شي نن ساعت هغه مرهم
دَ مرهمو تیاری درلره بویه
څو لا نه ئې دَ اجل په تیغ کړم (۳)
چه دَ تن له سرایه دروځې تونبه واخله
تر دا سرائې په هورته نشته سرائې دوئم (۴)
دَ دې هسې لارې تله څه اسان نه دي (۵)
مشکلات دي په هر دم په هر قدم
که دِ ویره شي له ظلمه له ستمه
ته هم مه کړه په هیچا باندې ستم

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

که امید لرے له رحمه له کرمه
ستا هم بویه په هرچا باندے کرم
له هرچا سره چه کړے هغه به مومے
دَ هیڅ تخم میوه نه درومی برهم
اجر وارَه دَ عمل په اندازه دے
دغه دوارَه سره یو دی هم درهم
اوس دَ ستا رضا نیکی کړے که بدی کړے
نیک وبد دِ دوارَه کښوے شی په قلم (۶)
خدائے دَ رزق په زیرمه مه هیروه کلک شه (۷)
تر سرَی دَ سرَی رزق دے مقدم
که گنړے چه په حرص سره به زیات شی (۸)
زیات به نه شی دَ یوے ستنے ترسوم
که هزار رنگه تالاش وتدبیر وکړے (۹)
دَ قسمت شوی به نه کړے زیات وکم
ډیر هوا او حرص مه کوه خدائے یاد کړه
دے کافی دے دَ عرب او دَ عجم (۱۰)
په تا فرض عبادت دَ خپل څښتن دے
نه لښکرے خزانے ملک و حشم
ټوک روټی، یوه شرَی، درلره بس کا (۱۱)
نور همه وارَه اسراف دے مسلّم
له خوراکه غرض قوت لایموت دے
نه چه غوښے غوړی وریژے یا غنم

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

له پو شاکه غرض خپسر پټول دي
نه اطلس و سقلات تاج و علم (۱۲)
پس له مرګه به دِ هورے هم خانه وي
څه پوهيږے که به ماروي يا لړم (۱۳) ق
که حرص درباندے زورشي مرګ درياد کړه
دا علاج دے دغه رنځ لره محکم (۱۴)
دَ لحد دَ تاريکۍ علاج به څه کړے
چه دلے وته ويريږے په تورتم (۱۵)
غفلت هيڅ مناسب نه دے دَ سپين ږيريو (۱۶)
خوب روا نه دے په وقت دَ صبحدم
مار چه سورے لره ورشي ګوره سم شي
ته دَ ګور په غاړه راغلے نه شوے سم (۱۷)
خم قامت دَ دنيا کار کړے عمر واړه (۱۸)
او په دوه رکعته نفل نه شوے خم
ځان پخوا تر هغه وژاړه که مردے (۱۹)
چه په تا باندے ژړا کا نورعالم
نورعالم چه په تا ژاړي انصاف وکړه (۲۰)
بے انصافه ته په څه يے خوښ خرم
که زه نه وايم ته خپلے سترګے وا کړه
کور دِ چوړ شه ته چارپائے يے که آدم (۲۱)
که زما نغوږے عبدالرحمان په خدائے کړه
بيا دِ هم دَ خدائے په نام وي ستا قسم (۲۲) ی

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

اے رحمانه لکه ته چه په خدائے کرم یې
بل به نه وی په جهان کښې هسے کرم (۲۳)

۱۴۵۱ ۲/۱۱۷ ۷

که مے ونمانځی ساقی په یوه جام
تردا هورته به نورځه وی احترام (۲۴)
بس دے ما لره دا فیض دَ شرابو
چه پرے پریونیځم دا دلق ازرق فام (۲۵)
مے خواری که په عالم کښې بدنامی ده
ما تر پښو دے لاندے کړے ننګ ونام (۲۶)
په میزان کښې یو سر لعل وی بل سر کانړی (۲۷)
مساوی ده عاشقی په خاص وعام
عاشقان دَ سپین رخسار دَ تورو زلفو
څه پروا لری دَ کفر و دَ اسلام (۲۸)
په مجنون باندے قلم راغلے نه دے (۲۹)
که حلال په مخکښې ورشی که حرام
حلال عشق دے په رحمان باندے راغلے
په حلالو کښې مدام وی احترام

۱۴۵۷ ۳/۱۱۸ ۶

هسے زه یم ستا په غم کښې بے آرام (۳۰)
چه به نه وی بل یو ما غوندے بدنام ق

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دَ محمود و سلطنت و ته نظر کړه
چه غلام کړ خپلے مینے دَ غلام
دَ نیکانو مدّعا خو نیک عمل دے
ساعت نهٔ گوری که صبح وی که شام
چه دَ زړهٔ حضوری نه وی په نمانځهٔ کښے
پکار نه دے مقتدی وی که امام (۳۱)
چه مجنون غوندے په مینه کښے صادق وی
رحمان وایم په هغه باندے سلام (۳۲)
هم نغمے کاندی هم رقص کا هم خاندی
دَ رحمان په شعر ترکے دَ باکرام

۱۴ ۴/۱۱۹ ۱۴۷۱

په لیمه کښے مے مدام — گرځی عکس دَ گلفام (۳۳)
تور دَ سترگو مے گلگون شوه — په ارزو دَ گل اندام
بے دَ سترگو له خونابه — نه باده لرم نه جام
په طلب دَ دل ارام کښے — ما و نه لیده ارام
زنخدان ئے خدائے کوهے کړ — وړپیریوځم په هر گام
که ئے خال غلام دَ مخ دے — زه غلام یم دَ غلام (۳۴)
که په عشق کښے ناکام ویر دے — دا نا کام دے زما کام
خوښ یم زه په عاشقئ کښے — که نیک نام یم که بدنام (۳۵)
په یارئ کښے مے قبول دے — ملامت دَ خاص وعام
دَ دعا په عوض غواړم — دَ خپل یار دَ خولے دشنام

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ترښکنځلو به ئې ځار کړم | دغه خپل دعا سلام (۳۶)
تلخ گفتار ئې راته خوږ ووئې (۳۷) | ترکشمش و تر بادام
هم هغه مې مسیحا دے | چه ئې راکاندې پیغام
ځ دَ یار ماه تمام دے | رحمان ولیده تمام

۱۴۷۷ $\frac{۵}{۱۲۰}$ ۲

دَ هجران له ډیره غمه ولے نه مرم
له دے هسے رنګ ماتمه ولے نه مرم
چه یو یار له بله یاره لرے باسئ (۳۸)
دَ دے دور له ستمه ولے نه مرم
چه هرهر سحر زما په ژړا خاندې (۳۹)
له دے هسے صبحدمه ولے نه مرم
یار چه یار په سترګو نه وینې خو مرګ دے
ترو زه بې خپله صنمه ولے نه مرم (۴۰)
چه په لږه ګرمئ شا کاندې وګل ته
له دے بې وفا شبنمه ولے نه مرم (۴۱)
چه دَ مرګ خوارئ په خوا لرم رحمانه
لا پخوا تر دغه دمه ولے نه مرم (۴۲)

۱۴۸۷ $\frac{۶}{۱۲۱}$ ۱۰

که په سر دَ هغه یار دَ لاسه سنګ خورم
خدائے دِ نه کا چه به بله خوا ته ځنګ خورم (۴۳)

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

عاشقي او ننګ و نام دي وبله لرے
څو به عمر وارړه غم دَنام وننګ خورم
خدائے وما وته شيرين تر نيشکر کړ
که دَ يار له لاسه غشے دَ خدنګ خورم (۴۴)

دَ اشنا دَ بيلتانه په کاروزار کښے
هميشه په تندی توره دَ فيرنګ خورم (۴۵)
نوکری دَ معشوقو کوم په عشق کښے
مهينے نه دَ بهلول نه دَ اورنګ خورم

شين لوګے مے په سرچتر دو نهه تخت دَ ے (۴۶)
ګرد غبار دَ خپل دولت لکه ملنګ خورم
هم په دا چه له خوديه شم ـــے خوده
دَ هجران په غم کښے ليپے ليپے بنګ خورم (۴۷)

لکه څوک چه نعمتونه دَ دنيا خوري
زه دَ يار دَ جفا زهر په دارنګ خورم (۴۸)
وارړه زهر شي زما تر ستوني درومي
بے له يارہ که همه لاچي لونګ خورم (۴۹)

زه رحمان به څو ژوندے په جهان ګرځم
چه په بلو لمبو څرخ لکه پتنګ خورم (۵۰)

۱۴۹۶ $\frac{۷}{۱۲۲}$ ۹

صبح وشام مے لاس نيولی وی دُعا کړم
خواست له خدايه ستا دَ مهر دَ وفا کړم (۵۱)

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

هیڅ دروغ رشتیا مے نه زده که باور کړے
ستا دَ پاره هم دروغ کړم هم رښتیا کړم
واړه ته یې خندول که ژړول کړے
زه په خپله نه خندا کړم نه ژړا کړم
که ته نه یې راته وایه بارے څوک دے
زه دا هسے رنګ سرتور پښے یبل چاکړم (۵۲)
خوب خندا دَ بیلتانه په زمکه نشته (۵۳)
څه ارام به په دا دشتِ کربلا کړم
هره ورځ چه مے تیریږی ستا په غم کښے
زه په هره ورځ پوهیږم چه غزا کړم
یو ویښته مے دَ صورت کوږ شوے نه دے
هسے رنګ دِ پټ پټهم په زړه ادا کړم (۵۴)
زړه که یو وی خو وتا دے ما درکړے
مګر نورو نورو لره نور زړونه پیدا کړم (۵۵)
چه مے واغوست سروپائے دَ عاشقیه
زه رحمان دے سروپائے بے سروپا کړم

۱۵۰ $\frac{۸}{۱۲۳}$

زه دا هسے دیوانه و مجنون چا کړم (۵۶)
له رواجه له رسومه بیرون چا کړم
نه پوهیږم چه دا چارے په ما څوک کړه
لیونے دَ خپل نګاه په افسون چا کړم

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

کومے سترگے کوم بانړه کومه غمزه ده
ډوب شهید غوندے په خاک او په خون چاکړم
توان توفیق دَ فتنو هیڅ راشخه نشته
په فتنو دَ تورو سترګو مفتون چاکړم (۵۷)
رحمان هیڅ له خپله ځانه خبر نه یم
چه دا هسے رنګ محزون و زبون چاکړم

❋

۱۵۰۸ ۹/۱۲۴ ۷

ق

سرے پکار نه دے چه ئے ستا ترسر قربان کړم
زر راشخه نشته چه ئے ستا په پښو ویران کړم (۵۹)
کار دَ عاشقیه اول ډیر راته اسان وو
اوس هسے حیران یم چه دا کار به په څه شان کړم
ډیرو خلقو لاړے ستا دَ مینے دی وهلے
هیڅوک هسے مه شه لکه زه چه ئے په ځان کړم (۶۰)
نه لری مرهم دَ عاشق زخم بے تسلیمه
دا هسے درد نه دے چه ئے دفع په درمان کړم (۶۱)
نه کا هیڅ دښمن په دښمنانو هسے چارے
ستا په عاشقۍ کښے لکه زه چه ئے په ځان کړم (۶۲)
ولے کافر نه وی مسلمان به شی که خدائے کا
هر چا ته چه حسن لطافت دَ ستا بیان کړم
وراندے دی که ورو ستو اخر هسے معلومیږی (۶۳)
ستا له بے رحمۍ به زه رحمان لاس په ګریوان کړم

۹ ۱۰/۱۲۵ ۱۵۱۷

دَ ستا درد به په هزار درمان ورنه کړم (۶۴)
دانسته به دغه سود په زیان ورنه کړم
که څوک راکاندی دنیا اوعقبیٰ دواړه (۶۵)
عاشقی به دِ په این و آن ورنه کړم
که مے چرے لاس دَستا په بوسه برشی
دا نعمت به دَجنت په خوان ورنه کړم (۶۶)
څو مے تیغ په پهلو نه دے بلوشیدلے (۶۷)
ستا پهلو به و زقیب اسان ورنه کړم
که یو ځله مے ستا زلفے په لاس کښیوځی
یو ویښته به دِ په درست جهان ورنه کړم
څو ونه وینم ستا ستر کے که ئے خدائے کا
عزرائیل لره به هومره ځان ورنه کړم
معشوقے دَ عاشقانو دین ایمان دی (۶۸)
زه به چالره خپل دین ایمان ورنه کړم
ستا تر زلفو پورے نورے زلفے څه دی (۶۹)
په خاشاک به دَ چمن ریحان ورنه کړم
په رحمان دَهغولبو مے حرام دی (۷۰)
څو دَ خپلو وینو جام تاوان ورنه کړم

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

۱۵۲۴ $\frac{۱۱}{۱۲۶}$ ۷

دا یو څه رنګه ژوندون دے نه پوهیږم
خواب دے خیال دے که افسون دے نه پوهیږم (۷۱)
جام دَ میو چه دَ ځان په وینو مومَم (۷۲)
ترو زلال که جګرخون دے نه پوهیږم
دَ پتنګ اودَ بلبل ترمیان حیران یم (۷۳)
مخ دِ اور دے که ګلګون دے نه پوهیږم
په شانه سره دِ تار دَ زلفو بیل شه
که غوخ شوے مے ناروں دے نه پوهیږم (۷۴)
عشق په هسے رنګ مقام باندے قائم کړم (۷۵)
چه وصال دے که بیلتون دے نه پوهیږم
دَ خپل زړه وعلامت وته حیران یم (۷۶)
چه موسیٰ دے که قارون دے نه پوهیږم
دَ رحمان ځهره ئے زیړه تر کونګو کړه (۷۷)
خدائے زده عشق دے که طاعون دے نه پوهیږم

۱۵۳۱ $\frac{۱۲}{۱۲۷}$ ۷

بیا دِ نوی شراب څښلی دی پوهیږم
په رخسار دِ ګل کرلی دی پوهیږم (۷۸)
که هزار ځله لاس سره کړے په نکریځو
تا زما په وینو وللی دی پوهیږم

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

معرکه زما دَ مرګ نه دۀ نور څه دۀ
رقیبان چه تا بللی دِی پوهیږم (۷۹)
څه حاجت دے چه دِ خط په مُلا لولم
چه زما په باب دِ کښلی دی پوهیږم (۸۰)
چه رقیب او تاغوږونه وبله وروړۀ (۸۱)
ما هغه ساعت ژړلی دی پوهیږم
ته خپل جور و جفا څه وائے وما ته
ما همه واړۀ لیدلی دی پوهیږم (۸۲)
رقیبان ځکه تیرے په رحمان کاندی (۸۳)
تا په خوا پورے نیولی دی پوهیږم

۱۵۳۹ $\frac{۱۳}{۱۲۸}$ ۸

په یوۀ غمزۀ دَ سترګو ئے فنا شوم
سرترپایه بے بنیادۀ بے بقاشوم
ما دَ یار له غمه دم وهلے نه دے
که مے دم وهلے نه دے هم رسواشوم
تنهائی مے یوۀ تومنه شوۀ په عشق کښے (۸۴)
هاله څاڅکے دَ شبنم وم اوس دریاشوم
زۀ دَ یار وغځ ته ګورم یار و ما ته
چه داخل په تماشاشوم تماشاشوم
په هجران کښے ئے ګدائے وم کند په غاړه
په وصال کښے ئے بیاخان او امراشوم

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

پہ خپل کلی پہ خپل کور کښے مے غربت دے
پہ صدف کښے یتیم دُرغوندے یکتا شوم (۸۵)
مستوری راڅخہ یوړہ مستو سترګو
رحمان ځکہ پہ وګړی کښے رسوا شوم
بادشاهی دَ ګدایانو پہ دُعا شی
زہ رحمان ځکہ بادشاہ شوم چہ ګدا شوم

۱۵۴۶ $\frac{۱۴}{۱۲۹}$ ۷

تر هغہ حدہ پہ هورتہ بد سرے شوم (۸۵ / ۱)
چہ دَ درست جهان پہ سترګو کښے اغزے شوم
دنیا واړہ وبلہ زیست و روزګار کاندی
خو یو زہ پہ دغہ بار کښے کوږ لړګے شوم (۸۶)
تمامی جهان لمن راڅخہ ټغاړی
سپین زړوکی مے اغوستی تورکودے شوم (۸۷)
هیڅ حاجت دَ هنر نشتہ و نصیب تہ
غزا وشوہ کہ مومنډ یا دویزے شوم (۸۸)
دَ نوح زوئے هم یو دَ نیک نیکہ نمسے وو
ګنہ زہ هم یو دَ نیک نیکہ نمسے شوم (۸۹)
کل وسواس لہ احتیاطہ پیدا کیږی
زہ لہ ډیرے هوښیاریہ لیونے شوم (۹۰)
اوس عطا دَ ادمیت راباندے وشوہ
چہ رحمان دَ هغہ یار دَ کوڅے سپے شوم

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

۱۳ ۱۵/۱۳۰ ۱۵۵۹

په ښه خوی له بد خواهانو بے پروا یم
په نرمۍ لکه اوبه دَ اور سزا یم
دَ خپل ځان له خاکساریه سربلند شوم
لکه ګرد هسے شهسوار دَ هر هوا یم (۹۱) ق
کمینۍ هسے کاملَ کرم چه زه دروهم
لکه زمکه درست جهان راسره بیا یم (۹۲) ق
و هرچاته په خپل شکل ښکاریږم
ائینه غوندے بے رویه بے ریا یم
دراز عمر مے حاصل شه له راستیه
لکه سرو مدام سبزه تازه پایم (۹۳)
هم په دا سپینو جامو چه معلومیږم
لکه ابر هم ګوهر یم هم دریا یم
قناعت مے ترخرقے لاندے اطلس دے
پټ دَ درست جهان بادشاه ظاهر ګدا یم
دَ غنچے په څیر په سل ژبے خاموش یم (۹۴)
لکه بوئی هسے په پټه خوله ګویا یم
په ژړا مے دَ خپل یار دیدن حاصل کړ
دَ شبنم په څیر دَ ګل سره یکتا یم (۹۵)
ما چه خپل معراج دَ دار دَ پاسه ولید ق
دَ منصور په څیر رښتنے په وینا یم (۹۶)

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ق ذَ منصور او زما هومره تفاوت دے
چه نارے ئے کړے په جهر زه خفیا یم (۹۷)
ق له عیانه هیڅ حاجت ذَ بیان نشته
زه رحمان په خوله څه وایمه چه وایم (۹۸)
که چا لار ذَ عاشقئ وی ورکه کړے
زه رحمان ذَ ګمراهانو رهنمایم

۱۵۷۱ ۱۶/۱۳۱ ۱۲

زه له دے جهانه تلونے په شتاب یم
لکه پاڼه ذَ خزان پښه په رکاب یم
که هزار ابادانئ کړم په جهان کښے (۹۹)
غرض دا چه نهایت خانه خراب یم
که مے اصل ذَ حیاتو له اوبو دے (۱۰۰)
بیا خو دا چه ذَ اوبو په سر حباب یم
دا جهان قصاب خانه کړه خدائے وما ته
پائے بسته ولاړ په غولی ذَ قصاب یم
چه ذَ خدائے له معرفته خبر نه شوم (۱۰۱)
معلومیږی چه یا دیو یم یا دواب یم
که صورت مے ذَ سړی دے به ئے څه کړم (۱۰۲)
په معنیٰ کښے ذَ چارپایو په حساب یم
لکه بت چه په رڼو سترګو وودہ وی
هسے زه په بیداری کښے ویدے خواب یم

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

په طاعت په عبادت مے زړه يخ نه کړ
هميشه د معصيت په اور کباب يم
سر د خدائے وعبادت ته وبنکے نه شم
مدام ډوب د ګناهونو په ګرداب يم
چه وخپلو ګناهونو ته نظر کړم
سزاوار د هر عذاب د هر عتاب يم(۱۰۳)
لکه څوک چه په خرۀ سوروی مخ ئے توروی
زۀ هم هسے ترخپل خدائے پورے بے آب يم(۱۰۴)
غزا وشوه که ګفتار لرم په ژبه
زۀ رحمان چه کردار نه لرم کذّاب يم

۱۵۸۵ $\frac{۱۷}{۱۳۲}$ ۱۴

که هزار ځله نژدے د زړه په ياد يم
زۀ چه يار په سترګو نه وينم ناښاد يم
که يار سل ځله وعده د وصال وکا
زۀ له ډيرے تلوسے بے اعتقاد يم
په جفا او په وفائے لارغه نه شی
پرحذر د نازپرور په قرارداد يم(۱۰۵)
د بے نيازو په نيازغه اميد د کړو دے
زۀ پرون سلطان خسرو وم نن فرهاد يم
که همه عمرے يار په غيږ کښے پروت وی
زۀ همه عمر له هجره په فرياد يم

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

یو زمان مے دَ زړه مراد موندلے نه دے [۱۰۶]
پیدا کړے خدائے په اصل کښے نامراد یم

دَ وصال په یوه کال مګر برپائے شم
دَ هفتے په هجر هسے بے بنیاد یم

په وصال کښے مے دَ هجر طمع نه وه
حق حیران متفکر په دا فساد یم [۱۰۷]

چه ئے نوره نتیجه نشته بے غمه
حق حیران دَ عاشقئ په دغه داد یم [۱۰۸]

که دَ یار له لاسه اور راباندے بل وی [۱۰۹]
لکه شمع مستقیم په خپل اِستاد یم

بے مئینه قراری راباندے زوږ وی [۱۱۰]
شپه او ورځ په حرکت کښے لکه باد یم

بے له عشقه چه مے پړے شه دَ پوزے [۱۱۱]
ګنه نور له جملګی قیده ازاد یم

که مے پیری که مے پلوری چاره نشته [۱۱۲]
زه رحمان دَ بناګسته و خانه زاد یم

دا ځواب رحمان هغه کا چه مرزا وے
ق زه څرګند دَ محبت په ښه بنیاد یم [۱۱۳]

۱۵۹۵ ۱۸/۱۳۳ ۱۰

که مے څوک په فقیری شمیری فقیریم
که مے څوک په امیری شمیری امیریم [۱۱۴]

دَ دلبرو صدقے لرہ ئے غوارم
هسے نه چه په دنيا پسے زهيريم
دَ خرقے خدمت مشکل دے اوکه نه وی[۱۱۵]
زۀ هردم ودغه چارے وته خيريم
هم پند اخلم هم پند وايم وهرچاته
زۀ دَ ځينو يم مريد دَ ځينو پيريم[۱۱۶]
په هجران کښے دَ يار خيال راسره مل دے
په زندان کښے دَ يوسفؑ سره اسيريم
په خندا کښے مے ژړا دۀ لکه شمع
لۀ عالمه پټ پنهم دَ ځان په ويريم[۱۱۷]
ازادی تر دا په هورته نوره څۀ دۀ
چه بندی دَ يار دَ زلفو په زنځيريم[۱۱۸]
خوشحالی تر دا په هورته بله کومه
چه مدام په خپل اشنا پسے زهيريم[۱۱۹]
چه هميش په غوږ نعرے دَ هجران اورم
رحمان ځکه دَ خپل يار وخ ته ځيريم
خوشحالا او دولتا مے غلامان دی
زۀ رحمان په پښتو ژبه عالمګيريم[۱۲۰]

۹ ۱۹/۱۳۴ ۱۶۰۴

زۀ دَ يار په درد وغم کښے غرقاب خوبښ يم
په دا درد کښے بے طاقته بے تاب خوبښ يم

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

که ډوبیږم په اوبو یا په اورسوزم
دَ سرو شونډو په اَتش او په اَب خوښ یم(۱۲۱)
چه دَ یار دَ خط وخال ننبے پکښے وی(۱۲۲)
زوړند سر په موتاله دَ کتاب خوښ یم
تر دا پوچه گفتگویه چه ئے اورم(۱۲۳)
په نغمه په ترانه دَ رباب خوښ یم
دَ ریا تر ناقبوله عبادته
دَ ساقی په میو مست و خراب خوښ یم
چه نه علم نه تسبیح نه تلاوت وی(۱۲۴)
له دے هسے بیداریه په خواب خوښ یم
خاموشی که هرڅو لویه مرتبه ده
زه له یار سره په سوال وځواب خوښ یم
دَ طوبیٰ دَ ونے سیورے مے خوښ نه دے
ستا دَ مخ په لمبوسوے کباب خوښ یم
دَ یار ډیرے غمخواری یم عاجز کړے(۱۲۵)
رحمان ځکه په خوردن دَ شراب خوښ یم

۱۶۲۲ $\frac{۲۰}{۱۳۵}$ ۱۸

زه دَ یار په درد وغم کښے شاډمان یم(۱۲۶)
لکه گل دَ پریشانۍ په وقت خندان یم
دَ یار غم زما بنادی ده سر تر پا یه
ق لکه شمع په سوختن سره روښان یم(۱۲۷)

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

زه چه ورک په کمینۍ لکه ذره شوم
دَ خورشید په څیرځرګند په درست جهان یم
دَ طلب سرګردانی زما بزرګی شوه
دَ تمام جهان په سر لکه اسمان یم
له راستیه شاه ګدائے راباندے یو شو
مروت دَ هیچا نه کړمه میزان یم
ته زما وبیکسۍ ته نظر مه کړه
خدائے ساتلے لکه ګنج په بیابان یم
لکه ونه دَ ځنګل په میوه پوره
په ویرانه ویرانۍ کښے اباداں یم
یو وینبسته مے دَ صورت بے عشقه نه دے
څوکیدار په هرنفس دَ خپل کاروان یم
دَ وصال مرغه دَ اوښیو دانو راکړه
لکه لعل و دُر په غاړه دَ خوبان یم (۱۲۸)
دَ کاملے عقیدے له برکته
دَ دوئمے په غاړه ناست شاه جهان یم (۱۲۹)
روښنائی مے په طلب کښے شوه حاصله (۱۳۰)
شپه او ورځ لکه افتاب په لار روان یم
دَ اشنا دَ وړدو زلفو صفت څو کړم
پلے سر په لویه لار دَ هندوستان یم (۱۳۱)
بے میُنه مے هیڅ حال دَ صورت نشته
لکه بے مال او متاعه تش دکان یم (۱۳۲)

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دَ هوس بلبل ویسا را باندے نه کا
په مفلسه جامه ونه دَ خزان یم [۱۳۳]
و یارانو وته خاک تر تلی لاندے
دَ دے نورجهان په سر لکه اسمان یم
چه دَ یار په مینه سرومال بښندمه [۱۳۴]
خلقو واورئ هغه زه عبد الرحمان یم
خپل جانان مے هسے رنګه وی په زړه کښے
نه پوهیږم چه رحمان یم که جانان یم [۱۳۵]
په هردم کښے نوے نوے تماشا کا
زه رحمان دَ خدائے وکړو وته حیران یم

۱۶۳۷ ۲۱/۱۳۶ ۱۵

ژوبل ژوبل دَ ترکانو په نګاه یم
تردا لا په دا غوښیږم چه پناه یم [۱۳۶]
چه یوسفؑ غوندے هزار پکښے پراته دی
بندیوان دَ هغه سیم ذقن په چاه یم [۱۳۷]
چه ئے قد و قامت نه وینم په سترګو
عندلیب په سر دَ سروے دَ خپل آه یم [۱۳۸]
دَ سپین مخ دَ تورو زلفو له رغبته [۱۳۹]
منت بار دَ هر سفید دَ هر سیاه یم
لکه څوک چه په خره سورروی مخ ئے توروی
زه هم هسے تر خپل خدائے پورے روسیاه یم [۱۴۰]

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ذ رقیب خبرے ورم ذ یار ذ پاره
دُعا گوئے هم ذ نیک خواه هم ذبدخواه یم (۱۴۱)

بے له عشقه که مے عیب که مے هنر دے
نه خبر په عبادت نه په گناه یم

ښاخ ذ زلفوئے په خپله خدائے راته پیښ کړه (۱۴۲)
گنهٔ زه ذ یار ترقد پورے کوتاه یم

ځان هرگوره نا اگاه راڅرگندیږی (۱۴۳)
له هغے ورځے را هسے چه اگاه یم

بے صبری ذ یار په وصل کښے مجبور کړم
ذ پسرلی په مرغزار کښے وچ گیاه یم (۱۴۴)

له اوله تهتر ووهم بیا اه کړم
په نارو نارو خروس ذ صبحگاه یم (۱۴۵)

په جذبو جذبوئے راکښوم وځان ته
هغه یار مے کهربا دے زه ئے کاه یم (۱۴۶)

لکه بار ذ ونے پوخ شی ځنے ریږی
زه هم هسے بار ترلے سربراه یم

اوس مے ځائے په دا جهان کښے پاتو نه شه
خوځیدلے تر چهل و تر پنجاه یم (۱۴۷)

ذ رقیب علاج اسان دے بلا دا شوه
زه رحمان له خپله یاره ناویساه یم

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

۱۲ ۲۲/۱۳۷ ۱۶۴۹

زه یو دم دَ ستاله غمه بے غم نه یم
بے غم ستاله ذکره فکره یو دم نه یم
هر زیارت لره چه درومم مراد مے ته ئے
څه زائر دَ بت خانے دَ حرم نه یم (۱۴۸)
ستا دَ در په تورو خاورو باندے خوښ یم
بے تا خوښ په تماشا دَ ارم نه یم
چه دَ ستا په تماشا یم خبر شوے
نور خبر په تماشا دَ عالم نه یم
بے دَ ستا له زیبا مخه وبل مخ ته
منتظر دَ یوے ستنے تر سوم نه یم
که دَ ستا دَ ښکلی مخ عاشقان ډیر دی
زه په واړو کښے اول یم دویم نه یم
که له غمه دِ و نه مرم هاله وایه
چه یا دیو یم یا دواب یم آدم نه یم (۱۴۹)
زړه مے ستا په غمزه غوڅ دے غزا وشوه
که په لاسو په پښو روغ یم کړم نه یم (۱۵۰)
سم قامت لکه الف یم په راستۍ کښے
لکه غشے څه فساد لره سم نه یم
خم دَ زلفو یم محراب دَ کږو وروځو
څه دَ مار او دَ لړم په څیر خم نه یم (۱۵۱)

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

که مے کم و بیش له لاسه واقع کیږی
یم سړے شکم لرم بے شکم نه یم
زه رحمان دَ بیلتانه له لاسه ژاړم
واقعه ده ډیره سخته هیڅ کرم نه یم(۱۵۱)

(ن)

۱۶۶۳ ۱/۱۳۸ ۱۴

هسے تیز دروی دوران — گویا برق دے دا جهان(۱)
دَ اسیا په خیر گردش کا — په زمین باندے اسمان
ککری دی دَ سړیو — چه وړیږی تر دا میان
پیدا کیږی فنا کیږی — نه ئے سرشته نه سامان
نه ئے سرشته نه سامان شته(۲) — نه ئے حد شته نه پایان
څنے ډول وهی ښادی کا — څنے ویر کا دَ خپل ځان(۳)
څنے شمع غوندے ژاړی — څنے گل غوندے خندان
که ئے گورے یو بازار دے — که ئے گورے یو زندان
که ئے گورے یو گلشن دے(۴) — که ئے گورے یو زندان
که ئے گورے یو گلزار دے(۵) — که ئے گورے یو بیابان
یوه هسے تماشا ده — چه ئے هیڅ نه شی بیان(۶)
کیفیت ئے مونده نه شی — په دلیل او په برهان
چه ئے کومه خوا رفتن دے — یا ئے چرته دے مکان
خدائے عالم دے په دا علم — هیڅ خبر نه دے رحمان

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

۲۱ ۲/۱۳۹ ۱۶۸۴

خان سلطان دَ دے جهان — اخر دروی خوار حیران
دَ قضا په ځیل ترلی — په مثال دَ بندیوان
شیرین ځان ورځخه دروی — نه ئے زورشی نه ئے توان (۷)
که بندی مال وملک واړه — هیڅ رنګ نه موی امان
نه ئے مل نه ئے حامی وی — درد ئے وریشی په ځان
درمانده ورته ولاړ وی — وزیران او وکیلان
هیڅ دارو ئے کړلے نه شی (۸) — کوز کوز ګوری حکیمان
بادشاهی ئے پاتو کیږی — زره ئے چوی په ډیرارمان (۹)
چه ئے روح له تنه بیل شی — نور پر ژاړی فرزندان
یو ساعت وربانده ژاړی — اخر صبر کا خواران
بیا ئے غسل لره واخلی — په تخته باندے عریان
په جامو ئے هوسیږی — مرده شوے وغاسلان (۱۰)
چه له قبره ئے بازګښت کا — مال ئے یوځی میراثیان (۱۱)
په مسند ئے دعویٰ کاندی — هم دوستان هم دښمنان
سهیلیه ئے تالا کا (۱۲) — هغه خیل مصاحبان
نام نښان ئے هسے ورک شی — لکه عین بے نښان
نه ئے نقش پاتو کیږی — نه ئے اسم په زبان
دا دنیا اُب روان ده — نه شی نقش په اُب روان
که هزار ابادانی کا (۱۳) — نهایت خانه ویران
لکه باد هسے به تیرشی (۱۴) — هغه دور دَ دوران
دا بیان دور و دراز وو — کوتاه قطع کړ رحمان

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

۱۶۹۰ $\frac{۳}{۱۴۰}$ ۶

چرته دَ یار شونډے چرته غم دَ دل وجان
چرته کوتې لال او چرته لعل دَ بدخشان
پاک و منزّه دے عشق دَ نفس له خاصیته
چرته چاه دَ کیږے چرته چاه زنخدان[۱۵]
لږ تفاوت نه دے دَ رندۍ دَ زاهد یه
چرته ځلمي جوته چرته کونډے یتیمان
واړه بے وقوف دی چه څوک دین په دنیا پلوری
چرته پینځه ورځے چرته عمر جاودان
ځار شه دَ هوا وحرص خیال تر قناعته
چرته ملک دَ مصر چرته دیهه غلامان[۱۶]
نه شی دَ ملنګو دَ خانانو سره کلی[۱۷]
چرته عزیز خان چرته ملنګ عبد الرحمان

۱۶۹۹ $\frac{۴}{۱۴۱}$ ۹

فراموش مے دے دَ ستا په مینه ځان
ځان لا څه دے بلکه عیش جاودان
لکه زه چه ستا دَ در په خاورو خوښ یم
هومره عیش طرب نه لری شاهان[۱۸]
لکه زه چه ستا دَ غم پنډ و نه اخلم
هومره پنډ اخستے نه شی پالوان

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

هسے بے سر و سامان یم ستا په عشق کښے (۱۹)
چه اګاه نه یم په سراوپه سامان
هسے بے شرابو مست یم ستا په مینه
چه خبر نه یم په زمکه په اسمان
دا به څرنګ شي چه ته دَ کال وعده کړے (۲۰)
په ما نه تیریږی بے تا یو زمان
تمامی عمر دَ ستا په طلب ورک یم (۲۱)
لټوم دِ په هر ښهر په بیابان
طفلان هم په یو دوه کاله سخندان شي
رحمان زوړ شه ولے نه شه سخندان (۲۲) ق
چه له دره ئے شړے ګناه ئے کوم دے
ډیر دے ستا په مخ میئن عبدالرحمان (۲۳)

۱۷۱۱ ۵/۱۴۲ ۱۲

څو به شمیرم درد غمونه دَ هجران
هومره ډیر شو لکه شګے د بیابان (۲۴)
دَ سری دَ دښمنیه توان مے نه وو
خدائے راپیښنه دښمنی کړه دَ اسمان (۲۵)
لکه څوک چه دَ اوښ بار په میږی کیږدی
هسے زه یم ترخبل غم پورے ناتوان (۲۶)
لکه غم چه دَ په ما وریږی
یاد به نه وی د چا هسے رنګ باران (۲۷)

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

زما غم به دَ هغه سرې په شمار وی
چه شمیرلی ئے ویښته وی دَ خپل ځان
که څوک وائی حال دِ څه دے په هجران کښے
په خاطر دِ تصور کا دوزخیان
ناقرار زړه مے دَ یار په هوا والوت
نقش صورت مے په ځائے پاتو شه پریشان
دَ یار یاد مے زړه په غېتو سترګو یو وړ
لکه بت په دیوال کښلے یم حیران (۲۸)
ما وے زړه دَ مومن عرش دے خبر نه وم
چه به عشق زما دا عرش کاندی ویران (۲۹)
عاشقۍ ئے تر هغه حده بے هوش کړم
چه نه هوش لرم نه سر و نه سامان (۳۰)
لور دَ لوړه دَ تهمت په غونډو ویشت شم
ملامت را باندے وائی درست جهان
چه دا حال ورباندے نه وی ورغلے (۳۲)
په ویُل به څه ګروهیږی دَ رحمان

۱۷۱۶ ۶/۱۴۳ ۵

ورکه عاشقی شه هم ئے نوم هم ئے نښان
زه ئے هسے خوار کړم لکه خاورے دَ بیابان (۳۳)
زه دَ عشق په کار کښے تیر تر سریم بارے څه کړم
دریغه که په سرے دا مشکل کا خدائے اسان (۳۴)

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

کښېوتم دَ عشق په آدم خورو گردابونو
نه په وړاندے تلے شم نه په بیرته گرېزان
رنځ دَعاشقیه چه ظاهر کړم وطبیب ته
هیڅ وئیلے نه شي طبیبان وحکیمان
راشه عاشقي مه کړه رحمانه اوکه نه وی
تل به په اورناست ئے که بادشاه ئے دَجهان(۳۵)

۱۲ $\frac{۷}{۱۴۴}$ ۱۷۲۸

که تر ولښه بادشاهان اوسلطانان(۳۶)
هیڅ نیمگړے په چا نه شه دا جهان
که هزار فنا شي په هر دم کښے
بیا پیدا شي په هر دم کښے هزاران
دَ رفتن و آمدن حساب ئے نشته
لکه بحر چه بهیږی بے پا یان(۳۷)
یو دَ بل په غم نه نرم وی نه گرم(۳۸)
هم هغه زده چه ئے وریشي په ځان
پیغمبر غوندے صاحب تر دنیا تیر شه
دا دنیا ئے وراَنه نه شوه په هجران
چه دا هسے عالم لاندے شه ترخاورو
دَچا یاد دی ما او تا غوندے سکان
که غلبیل کړم دَ تمامے دنیا خاورے
بیا به نه مومم دارا او شاه جهان(۳۹)

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

بوئ دَ نام او دَ ننبان ئے پاتو نہ شه
چه دعوے ئے کړے دَ نام او دَ ننبان (۴۰)
کہ دروغ وایم ته ورشه نظر وکړه
دَ خپل پلار او دَ نیکه په گورستان
چه ئے ته په دوارو سترگو کښلولے
گوره څه شوے هغه خولے هغه لبان
چه مدام ئے په قربان قربان بللے
اوس دِ غږ دربان دے وکا چه قربان
دَ رحمان و سوزان شعر ته حیران یم (۴۱)
چه ئے اور بل شوے نه دے په دیوان

۱۷۵۱ $\frac{۸}{۱۴۵}$ ۲۳

ته چه هسے کاه ئے ترش کاه ئے خندان (۴۲)
له عاشق سره کینه کړے که احسان
له احواله دِ چا هیڅ نه زده چه څه کړے
کله جوَر کله غوَر کړے عیان (۴۳)
رنځ راحت دَ عاشقانو واړه ته ئے
دا دروغ دی چه وصال دے یا هجران
هغه شونډے چه خوږے دی ترشکرو
له بنکنځلو ئے عار نه کا عاشقان
رجوعات دَ بناٸسته وُ چا ته نه وی (۴۴)
هرگز نه وی سرکوزی دَ سرو شان

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دغه هسې رنګ بنائست لکه چه ستا دے
نشته دا رنګه بنائست د هیڅ انسان (۴۵)
قصد تر هسې حده ولے کړے ګل رخے (۴۶)
چه له ډیره نازه وژنے عاشقان
د سرې صورت څه روغ دکانې نه دے
نشته کانې څخه ستا د جور توان (۴۷)
و هرکار وته چه ستا قوت رسیږی (۴۸)
هلته نه رسی قوت د درست جهان
ستا له جوره زهره نه لری چه آه کا
که کشور د عاشقانو شی ویران
خوار حیران لکه عاشق دے ستا له دره
خدائے دِ هیڅوک هسې نه کا خوار حیران
لکه ډیر دی د وصال دِ راحتونه
دغه هسې د فرقت دِ سخت زندان (۴۹)
د رخسار نښې دِ واړه د خورشید دی
چه ئے درست جهان له نوره دے تابان (۵۰)
له هوسه دِ هر ګل کړه خندا شوه (۵۱)
چه ئے ولید ستا د حسن ګلستان
کله وی چه نصیحت کا وعاشق ته
که له حسنه دِ آګاه شی زاهدان
رنګ و روئے دِ رنګ و روئے لری د ګلو (۵۲)
تورے څنې دِ بناخونه د ریحان

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

سیاهي د نوي خط دِ هسې زیب کا [٥٣]
لکه کښېلي وارۀ توري د قران
و کوهي وته لغزش که کل خطر دے
کل خیرت دے کوهے ستا د زنخدان [٥٤]
که د درو تجلي دۀ ډیره ډیره
در تاریک شي چه ظاهر شي ستا دندان
ته سلطان د ښائسته ؤ ئے دلبره
دا نور وارۀ ښائسته دِ غلامان [٥٥]
که دا نور ښائسته ستوري و بلکېږي [٥٦]
ته خورشید غوندے صورت لرے روښان
له هرچا چه اوریدۀ شي دغه وائي
چه ښائست دِ ذره نه لري نقصان
ترو وئیل د رحمان ځکه در ولعل شو
چه د ستا د لعلو شونډو شه گویان [٥٧]

١٧٨٠

ډیر یاران وو د گل خان د جمال خان
په کار نه شه یو په وقت د زارستان [٥٨]
د همه وارو یارانو مخ دِ تور شي [٥٩]
که به څوک وبله یاري کا په دا شان
چه یو یار په سیوري ناست وي بل په اور کښې [٦٠]
و هغو ته به څوک څه وائي یاران

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

هیڅ تعریف به ئې په ژبه را و نه شي
صد رحمت شه په یاریه دَ ګل خان(۶۱)

تر دا هورته دَ یاریه شرط نورڅه دے
چه په اور کښې دواړه وسوزي یکسان

چه له آله له اولاده سره وسول(۶۲)
خدائے دِ نه کا څوک دا هسے مظلومان

چه په اور کښې یو دَ بل دَ پاره سوزي
ما لیدلي نه وو هسے مخلصان(۶۳)

دَ نمرود چارے ے ولیدے په سترګو
چه ئې اچول و اور ته مرسلانٌ

څه رنګ شوخ وو هغه اور هم هغه خلق(۶۴)
چه ئې مړ نه کړ دَ اوښیو په باران

الغیاث دے الغیاث دے الغیاث دے
چه انسان کا هسے ظلم په انسان

وَ دے زمکے او اسمان و ته عجب یم
چه نه زمکه په نارو شوه نه اسمان(۶۵)

هم دے لویو لویو غرونو ته حیران یم
چه و نه لوښته له ویخه سرغلطان(۶۶)

له دے خیله سپیه نفسه ے زړه بد شه
چه اوبه څښني یا خواړه خوري په جهان

عالم وائي چه قیامت به په جمعه وي
ولید ما په یک شنبه په دا دوران

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

سربندونه گویا دشت کربلا ووٌ (۶۷)
چه سیلاب شه دَ سرو وینو پر روان
هزار حیف دے چه دا هسے رنگے چارے
واقع کیږی دَ دنیا په سود و زیان
په عیسیٰ او په جمال کښے گناه نه وه
دا مکرونه وو دَ نفس او دَ شیطانٌ (۶۸)
عزیزانو به په څه وبله وژلهٌ (۶۹)
دا همه واړه تقدیر دے دَ سبحان
هسے نه چه دا ئے وکړه نور به نه کړه
چه ئے زړه شی هغه کاندی بادشاهان
شاه عالم اعظم وکوره چه ئے خسا کړ
په خونونو واړه ملک دَ هندوستانٌ (۷۰)
و دارا او اورنگ زیب وته حیران یمٌ (۷۱)
چه ئے څه چارے واقع شولے ترمیان
دَ حسنؑ حسینؑ غزا دِ څوک په یاد کا
چه همه واړه په تیغ شو شهیدانٌ (۷۲)
دوړ غاښی اوښه ئے وینو رغړولهٌ (۷۳)
هسے بے حسابه خلق شه طوفان
هر چه اهل دَ دنیا دی حال ئے دادے
که سړی دی که پیری که حیوان
آدم زاد په مځ دَ زمکے وبله وژنی
په دریاب کښے وبله غوښے خوری ماهیانٌ (۷۴)

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

لکه غوښې چه ماهیان خوري په دریاب کښې
په هوا کښې هم دغه کاندي مرغان (۷۵)
خزنده و پرنده دي دَ دے دهر
همه وارهٔ یو تربل مشت و کریوان (۷٦)
مرداري دَ دے دنیا خو هم دغه ده
ځکه بیرته ځنې کرځي درویشان
مکاري دَ زمانے څه هومره نه ده
چه رحمان ئے کا و چا وته بیان (۷۷)

۱۷۹۳ ۱۰/۱۴۷ ۱۳

که پخوا تر اشنائیه وے بیلتون
ما به نه وو له چا کړے پیوستون
چه مے یار په سترګو ولید ما ګمان کړ
چه هم دا ساعت مے بیاموندهٔ ژوندون
په نیمګړي داد خبر دَ فلک نه وم
چه به بیا شي پستنه راڅخه ستون (۷۸)
نن ساعت چه له دے حاله خبردار شوم
سکه تر نن ورځے بهترهٔ وهٔ پرون (۷۹)
هر زبون چه په ما راشي شکریت کا (۸۰)
عاشقي تر هسے حده کړم زبون
اوس که لاس پر بله مړم هیڅ سود نشته (۸۱)
هغه چار چه مے له لاسه شوه بیرون

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

لکه نمر په ځلورم اسمان ځلیږی
محبت ئې له حجابه کړم بیرون[۸۲]
چاچه رخه له بنه مخه راکوله[۸۳]
اوس دِ سور په نیلی کړځی دَ کردون
په دا هسې حال کښې څرنګه صبوری شی
چه دښمن دِ کامرانی کا ته محزون[۸۴]
کم په صبر سره تور کاڼې لعل کیږی
لعل ئې مه کړه په دا هسې شوا خون[۸۵]
دَ دنیا هوس په ما باندې حرام شه
دَ هوسی هسې کړم شپه په میږه تون[۸۶]
دریغه یو ځله هغه زما په حال شوې
چه وما ته لولوی صبرو سکون
و رحمان ته ځان هغه کړی اسمان شی
چه دَ ستا په غم کښې ناست وی سرنګون[۸۷]

۱۸۰۲ ۱۱/۱۴۸ ۹

دنیا دار دَ دنیا کار کا زه د دین
خوانین زما په ملک دی خوشه چین
هیڅ کم نه دې ترسپین مخیو دلبرانو
بلکه به دې زما دا شعر نمکین[۸۸]
مراد له تورو سپینو واړه دلبری ده
موقوف نه دې دغه کار په توراوسپین

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

چہ رنگین رنگین مضمون پر کښلے نہ وی
څہ پکار دے دَ بیاض کاغذ رنگین[۸۹]
چہ خدائے چالہ مرتبہ دَ سلیمانؑ ورکا
هیڅ پورہ نیمگړے نہ دہ پہ نگین
خوند پہ خولہ دے نہ پہ ژبہ پہ خوارہ دے
اب و خور کہ دَ چا تلخ دے کہ شیرین[۹۰]
غرض خوب دے کہ پہ خس وی کہ پہ خاورو[۹۱]
څہ حاجت دے پہ بستر او پہ بالین
مصری تورہ هم پہ بد غلاف کښے زنگ شی
خدائے څوک مہ کړہ دَ بدانو هم نشین
څہ عجب کہ پہ ورځ مهر پہ شپہ ماہ شی
دَ رحمان اشنا چنان دے هم چنین

۱۸۱۱ ۱/۱۴۹ ۹

و

هر ساعت زما دَ غوږ پہ تاوولو
دَ اسمان لاسونہ شنہ شو تر څټکلو[۱۱]
هومرہ غم دَ بیلتانہ راباندے راغے
چہ حساب ئے نہ پہ خولہ شی نہ پہ کښلو
هغہ سترگے چہ نرگس وے هم بادام وے[۲]
تیرے تورے شوے زما پہ قتلولو
هغہ شونډے چہ شیرینے وے ترقندو[۳]
ما هیڅ فیض ترے بیانہ موند بے بنکنځلو

دا کاږه کاږه بانړه او کږې وروځې
نورخه نه کا بې کږو کږو وهلو[۴]
په شپه نوکې دَ عاشق په وینو سرې کا
سبا پورې کا نکریځې په منګلو
دا زما دَ قاتل لاس دې چه لیده شی
که تر باغ وتلې ښاخ دې دَ سروګلو[۵]
دریغه مرګ ئې په دنیا کښې نیمه خواشوې
ښائسته غنچې ئې پرې یستې دَ ګلو[۶]
هسې بند شه په کمند دَ تورو زلفو
چه حیران یم دَ رحمان په خلاصولو[۷]

۱۸۲۵ ۲/۱۵۰ ۱۴

تا چه رنګ دَ میو ورکړ وَ لبانو[۸]
اور دِ پورې کړ په کور دَ میخوارانو
چه دِ جوړه کړه لینده دَ کږو وروځو
خوب دِ زوړ کړ دَ حرم په غزالانو[۹]
چه دِ اسم دَ زنځیر په زلفو کښینو و[۱۰]
معطر دِ کړ دماغ دَ دیوانګانو
په رخسار چه دِ دَ خط غبار ښکاره شه[۱۱]
سربلنده شوه فرقه دَ خاکسارانو
کاږه غشی واړه بیرته ځی له ښنې
ږه ادا کړم ستا کږو وکږو مژګانو[۱۲]

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دَ پیزوان دغمے دِ زیب کا په لبانو

ق دواړه زلفے دِ چورۍ دَ ملنګانو (۱۳)

• ۓ چه زما دَ یار ترمینځه جدائی کا

کانړے پریوتے په خونه دَ بدانو (۱۴)

• ـــ که مے چرے خواست دَ خدائے په درقبلیږی

سوال به زه دَ عمر کرم دَ مهوشانو (۱۵)

• ـــ سور پیزوان دِ په سروشونډو هسے زیب کا

لکه جیم په قلم بنکلے کاتبانو (۱۶)

تور اوربل دِ لکه مار په جبین پروت دے

ق شینکے خال دِ محاصل په رنځورانو (۱۷)

ق دا چکوه چکوۍ چه ژاړۍ کرم خونه دی

په ارمان ئے ځبله بیل کړه رقیبانو (۱۸)

ق ستا دَ خولے له حقیقته صوفی څه زده

له دے رازه څوک خبر دی بے رندانو (۱۹)

• دواړه لیچے دِ وکبنلے مصرۍ توریږی (۲۰)

درپوهیږم سر به پریکړے دَ خوارانو

ستاله غمه په ځان زړه دَ رحمان سوزی

لکه شمع په زیارت دَ شهیدانو

۱۸۳۵ ۳/۱۵۱ ۱۰

چه کوتلی وی په تیغ ستا دَ چشمانو

سرحلقه وی دَ جمله وُ شهیدانو (۲۱)

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ستا وصال دَ سر پریکړیو دے دلبره
ژوندی نه مومی جنت بے مردهٔ کانو
دَ پیری سیورے عاقل لره ضرر دے (۲۲)
دا مقام دے دَ سرتورو دیوانګانو
په سرپوښ محل کښے نور دَ افتاب نه وی (۲۳)
دا دولت دے نازل شوے په ړ اکیانو
هم په دا زما له سترګو وینے (۲۴) څاڅی
چه دِ نقش په کښے رنګ دے دَ لبانو
مشکین خال دِ په سرو لبو هسے زیب (۲۵) کا
لکه مهر په مخزن دَ دُر مرجانو
ق دواړهٔ لب دِ بناڅسته تر سرو یاقوتو
شرمولے دهٔ بړلی دَ ستا دندانو
ق دوهٔ رخسارهٔ دِ دوهٔ سیب دَ سمرقند دی
پر سینه دِ دوهٔ نارنج دَ رنځورانو
ق دَ لیلیٰ دَ کوڅے سپے په مجنون پیښ شو
په بار بارئے ښکلوهٔ په دوهٔ عینانو (۲٦)
ما سوا له یاره هرچه دی رحمانه
واړه کفر دے په دین دَ عاشقانو (۲۷)

۱۸۴۳ ۴/۱۵۲ ۸

که هرڅو په صحرا سُر شوم هم په کلیو
بیا مے نه موند هیڅ خبر دَ هغو تللیو (۲۸)

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

هر اشنا چه مخ پنهان کا نه ئے موم
که ئے غوارم شپه و ورځ په سورو پلیو [۲۸]
خدائے زده کومه خواته لاړه حال ئے څه دے [۲۹]
خبر نه یم دَ کړنګ له پریوتلیو
له دے غمه مے زړه څوی که څوک خبر یئ
لږ په ما هم خبر وکړئ خدائے ساتلیو
پس له دے به چرته درومئ ځائے موکوم دے [۳۰]
راته وایئ دَ دنیا په سرائے راغلیو
له ناپوهه خلقه نه کیږی پښتنه
زه وتاسو وته وایم پوهیدلیو [۳۱]
ګونده ستاسے په مخ زه هم وپساندہ شم
لاس دَ خدائے و در ته ونسئ پسندلیو [۳۲]
خبر نه یم چه په باب مے کښلی څه دی .
زه رحمان په اندېښنه یم له دے کښلیو

١٨٥١ ۵/١۵٣ ٨

تور لیمه مے دَ فراق په ژړا سپین شو
دوباره دَ زړه په وینو کښے رنګین شو [۳۳]
ما وے زه به لا دیدن کړم دَ یارانو [۳۴]
خبر نه وم چه یاران په کوچ تعین شو
چا پتنګ غوندے ځان پاسلوه چراغ ته [۳۵]
څوک ژوندی لکه بلبل په اتشین شو

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

و مړده وُ تهٔ دَ مرګ خوارۍ شوے پېښے
او ژوندی په زندګۍ کښے اندوهګين شو (۳۶)
دَ قضا سپاهيانو هسے لاس په تاخت کړه (۳۷)
چه پائمال هزار خسرو هزار شيرين شو
چه قدم ئے په اسمان ئېښو له نازه (۳۸)
هغه هسے ناز پرور زير زمين شو
چه مدام ئے په سنجاب دِ پاسه خوب کړ (۳۹)
وُس په زمکه بے بستر و بے بالين شو
دَ رحمان خاطر به ولے پرېشان نهٔ وی
چه پرېشان ورځخه جمع هم نشين شو

۱۸۶۵ ۶/۱۵۴-۴

هيڅوک مه شه ګرفتار دَ تورو زلفو
مه اسير شه په کفار دَ تورو زلفو
هم په شان دَ تورو زلفو به پرېشان وی
هر چه کاندی انتظار دَ تورو زلفو
دَ محشر په عالم کله قراری وی
څوک به څهٔ غواړی قرار دَ تورو زلفو
ولے صبح دَ قيامت دميده نه شی (۴۰)
ورځ به نه شی شب تار دَ تورو زلفو
مګر شمع دَ سپين مخ شی باندے بله
ګنه نشته بل انوار دَ تورو زلفو

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

تار په تار کا دَ عاشق دَ خاطر خونه
چه حلقے شی تار په تار دَ تورو زلفو (۴۱)
چه تمام جهان ئے نښتے وی په دام کښے (۴۲)
څوک به څه کاندی انکار دَ تورو زلفو

زړه له کوم یوه کمنده سر وکاږم
کمندونه دی هزار دَ تورو زلفو

هومره زړونه ئے پیڅلی په هر تار دی
چه تسبیح کړ خدائے زنار دَ تورو زلفو

په تندی دَ محتسب کا درّه ماته
چه پر راشی دره دار دَ تورو زلفو

ملک دَ هند او دَ حبش ئے واړه زیر کړ (۴۳)
چه پیدا شه شهریار دَ تورو زلفو

ښامارانو غونډے کړځی په کنجونو (۴۴)
نه شی هیڅ په زړه کښے ډار دَ تورو زلفو

که بل مار چیچل په لاسو یا په پښو کا (۴۵)
په زړه خوله لګوی مار دَ تورو زلفو

دَ رحمان تر قلم مښک او عنبر وورې (۴۶)
چه آغاز ئے کړه اشعار دَ تورو زلفو

۱۸۷۵ $\frac{۷}{۱۵۵}$ ۱۰

او ښے نه لری حساب زما دَ سترګو
بے حسابه شه سیلاب زما دَ سترګو

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

سیاهي ئے همه واړه سفیدي شوه
هسے پریوځے شه کتاب زما دَ سترګو (۴۷)

که مے سره دي که مے سپین دي که مے تور دي (۴۸)
اوښیو یو وړ هر اسباب زما دَ سترګو

چه رخسار دَ هغه یار راڅخه پټ شه (۴۹)
حبطه شه آب و تاب زما دَ سترګو

چه ګدازئے په داګرمو اوښیو نه شه
مګر کاڼے دے حباب زما دَ سترګو (۵۰)

که نور خلق دَ افتاب په رڼا زیست کا
څ دَ ترکو دے افتاب زما دَ سترګو (۵۱)

ما ئے خیال لره ابلق دَ سترګو زین کړ
قدم نه ږدي په رکاب زما دَ سترګو

چه مے نقش په زړه سرے شوندے دَ یار شوے
کان دَ لعلو شه ګرداب زما دَ سترګو

لکه تښتي وحشیان له مردمانو
هسے وتښتیده خواب زما دَ سترګو

ما رحمان چه سترګے روڼے په خپل یار کړے
وُس محال شه اجتناب زما دَ سترګو (۵۲)

۱۸۹۱ ۸/۱۵۶ ۱۶

که نظر کا څوک په کار د درویشانو
خود به ووینی وقار د درویشانو

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

[۵۳]
په دغه لاره به ورئشي وخدائے ته
که څوک یون کاندي په لار دَ درویشانو
هر ګفتار به ئے دَ خدائے په در قبول وي
چه قبول ئے وي ګفتار دَ درویشانو
[۵۴]
هسے ګرم بازار بل په جهان نشته
لکه ګرم دے بازار دَ درویشانو
په یوه قدم تر عرشه پورے رسي
ما لیدلے دے رفتار دَ درویشانو
هومره خلق ئے طواف کا پس له مرګه
چه بازار وي په مزار دَ درویشانو
[۵۵]
بادشاهان دَ دے دنیا واړه پراته دي
لکه خاورے په دربار دَ درویشانو
هر بهار لره خزان په جهان شته دے.
خزان نه لري بهار دَ درویشانو
دَ جنت دَ باغ ګلونه به ئے هیر شي
[۵۶]
که څوک ووینی ګلزار دَ درویشانو
چه دنیا ئے کړه دَ خدائے دپاره ترکه
صد رحمت شه په روزګار دَ درویشانو
[۵۷]
دَ قارون وحال ته ګوره حال ئے څه شه
راشه مه کوه انکار دَ درویشانو
[۵۸]
په هرچا چه دَ غضب لینده کا غرقه
خطا نه درومي ګوزار دَ درویشانو

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

(۵۹)

که دَ زړه سترګې بیناوي و به وینې
لکه نمر ھسې انوار دَ درُویشانو — ق
که دِ زړه وي چه دِ زنګ شي دَ زړه لرې
راشه وګوره دیدار دَ درویشانو — ق
که مرادِ دنیاوي اُخروي غواړې
هرګز مه پریږده جَوار دَ درویشانو — ق
درست دیوان دَ رحمان ځار تر دا غزل شه
چه بیان ئې کړ کردار دَ درویشانو (۶۰)

ه

۱۸۹۸ $\frac{۱}{۱۵۷}$ ۷

دَ دلبرو په درګاه — نه حرمت لرم نه جاه (۱)
غوښوی مې دَ زړه ولې — دَ چشمانو په نګاه
هومره قدر مې ھم نشته (۲) — لکه قدر دَ ګیاه
یو نظر را باندې نه کا (۳) — ازبرائې عند الله
هیڅ له ځانه خبر نه یَم (۴) — چه ئې څه لرم ګناه
که له غمه ئې سر پټ کړم (۵) — بل سر نه لرم پناه
دَ رحمان په ښیر ومه (۶) شه — حال احوال دَ چا تباه

۱۹۱۴ $\frac{۲}{۱۵۸}$ ۱۶

ته شهائې شکر لبه — ګل رخساره سیم غبغبه (۷)
په نادرو کښې نادره — په عجبو کښې عجبه
په جمله مُعشوقو کښې — بوالعجبه منتخبه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

بے زیورہ دلفریبه — بے ترتیبه مرتبه
دغه دادِ الٰهی دے — بے تالاشه بے طلبه [۸]
اٰب حیاتو حیات بیا موند — ستا دَ لبو له سببه
مخ دِ سپین ترسپین صباحه [۹] — زلفے تورے ترتورشبه
ستا دَ مخ عرق دانهٔ — زینت رانیو له کوکبه [۱۰]
دَ بنائست مخے دِ نشته — ترمشرقه تر مغربه
دَ وصال موندہ ذکران دی — مګر مهر شی له ربه
چه دَ رب مهر پر وشی — هغه خلاص شی له غضبه
دا دولت دَ خدائے په داد دے — موندے نه شی له نسبه [۱۱]
عشق څه هسے علم نه دے — چه حصلیږی له مکتبه [۱۲]
مکتب حال دَ مذهب وائی — عشق سوا دے له مذهبه
دَ عاشق مذهب هم دا دے — چه دم نه وی بے مطلبه [۱۳]
ستا دَ حسن په تعریف کښے — رحمان ګنګ دے له ادبه [۱۴]

۱۹۲۹ ۳/۱۵۹ ۱۵

په ورځ ناست ئے بے طلبه — په شپه خوب کړے بے ادبه
لاس دِ وخاته له دواړو — هم له روزہ هم له شبه
نه دے شوے نه هورے شوے — ترمیان ورک شوے مذبذبه [۱۵]
عبادت دِ په ریا شه — په مذهب کښے بے مذهبه
مدام بندئے په سبب کښے [۱۶] — بے خبر له مُسبّبه
وارہ تښے شلومبے شار ښے — خبر نه شوے له مطلبه [۱۷]
ته وُودہ ورباندے ناست ئے [۱۸] — اُس دِ یون کا بے جلبه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

تن دِ تش په توره وسه | اُس دِ داغ کړ بےمنصبه
دَ راکب چه واک پردے شي | سود ئے څه وی له مرکبه
له ژوندیو سره ناسته | له مرده وُ مرکبه
هلک لوئے شوے په اوبو کښے | اوبه نه پیژنے کبه
لکه کاڼے یا کودرے | په دریاب کښے تشنه لبه[۱۹]
ناآګاه خیسر آګاه بولے | دا خبره ده عجبه
مراد له زهده معرفت دے | نه تش ځان وژله اقربه
دَ رحمان شراب له عشقه | نه له کوړو له عنبه[۲۰]

۱۹۳۸ $\frac{۴}{۱٦۰}$ ۹

په هر زره چه دَ یار مینه شي غالبه
بله مینه ئے هیڅ نه وی مناسبه
نورے واړه مرتبے به ورته هیڅ شي
که خبر شي څوک له هسے مراتبه
لاُنقت ئے هر وګړی څخه نشته
عاشقي یوه پایه ده عجائبه[۲۱]
دَ طلب له کوتاهیه ویره وکړه
که هر څو دِ لار کوتاهه ده طالبه[۲۲]
عشق څرګنده خزانه ده خوار هغه شه
چه څرګنده خزانه شوه ترغائبه
واړه خط دَ مهرویانو ترخط نشته
که هزار کتابتونه کړے کاتبه[۲۳]

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

هیځ ئې مه پښتنه له فرضو له واجبو
په هغو چه عاشقي کړه خدائې واجبه
عاشقان تر سرو مال و یار ته تیر دی
خدائې دِ دا طائفه نه کاندکاذبه[۲۴]
زه رحمان دَخپل صاحب په رضا زیست کړم
څه په کار دے بنده بې خپله صاحبه

۱۹۴۸ ۵/۱۶۱ ۱۰

چه ئې ولیده ستا حُسن بې حسابه[۲۶]
له دے قصده تاؤ پیدا شه له آفتابه
په ارزو دِ دَ نرګس ستر کے څلور شوے
غنچه سره دَ زړه په وینو شوه غرقابه[۲۷]
ستا په غم مے سترغلی سرے سرے ناغے شوے
یا خیمے دی سیاه پوښے سره طنابه
که دِ زلفے په مخ پیچ و تاب شوے بنائی[۲۸]
ویښته څه طاقت لری دَ اور له تابه
زه چه خدائے دَ ستا له غم سره اشنا کړم
خوشحالی مے نور نایابه شوه نایابه[۲۹]
سترغلی مے دَ فراق په ژړا شنه شول
دَ سبزی اثر ئے پاخیده له آبه[۳۰]
ماه خورشید دِ په ښائست پورے شرمیږی
ځکه مخ پټه کوی تر کوهِ قابه[۳۱]

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

زه دِ پیژنم په اصل کښے خاکی ئے
ځان به څو ښنډے په کوته له ترابه
څو دِ خیال دَ اشنا ګرځی په لیمه کښے
خبر زده کړه ته دَ اوښیو له سیلابه [۳۲]
دَ رحمان بخت به هاله له خوبه ویښ شی [۳۳]
که ته ستر ګے ورته پورته کړے له خوابه

۱۹۵۹ ۶/۱۶۲ اا

ورځ دِ تیره په شومی کړه شپه له خوابه
خدائے به کله یاد وے خانه خرابه
په شتاب شتاب دِ تله دی که پوهیږے
غافل مه شه دَ دے عمر له شتابه
دلته دم و قدم دواړه په حساب دی [۳۴]
پل غلط له لارے مه بږده بے حسابه
راستو لے خدائے حساب دے په کتاب کښے
خبر زده کړه له حسابه له کتابه
څو په دا جهان اوبه له تنه نه شے ق
په قیامت به دِ سینه نه شی سیرابه
اندرون به دِ له اوره هسے ډک شی ق
چه نن ډک شوے له شراب وله کبابه [۳۵]
ته دا خپل نیک وبد وتله په خپله
چه ثواب دِ څو تیرے کا له عذابه [۳۶]

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

په هغه جهان به څرنګه ځواب وکړے
چه په دا جهان عاجزئ له ځوابه (۳۷)
چه آفتاب يوه نيزه شي تروبه څه کړے
چه نن سيوري لره تښتے له افتابه (۳۸)
دَ کاغذ په کشتۍ سير کوے رحمانه
دا کشتۍ به دِ مرګے کاندي غرقابه (۳۹)
په ازار دَ چا راضي مه شه رحمانه
که خلاصے په قيامت غواړے له عذابه (۴۰)

۱۹۷۳ ۷/۱۶۳ ۱۴

ما دَ دهر غم وهلے دے په لته
دَ پيالے دَ صراحي له برکته
که اوبه دي دَ حياتو په ظلمت کښے
ساده رويو وما راکړے بے ظلمته
هغه يارچه وما جام دَ ميو راکړه
دَ دښنو وينے مے وڅښے بے شدته (۴۱)
بے خوديه د دنيا له غمه خلاص کړم
لا رے بيامونده بيرون له شش جهته (۴۲)
دَ دښمن له دښمنيه مے خندا شي (۴۳)
لکه شمع دَ مقراض له خصومته
بے خبرۍ مے کل په خير دي شميرلي (۴۴)
دَ مزري په خوله کښے ناستيم فراغته

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

(۴۵)
مړ بهتر دے نه هغه چه څوک بے پت شي
په يارئ کښے دِخدائے نه کا څوک بے پته
دا ستي چه په اور سوزي مراد ئے داوي
چه په اور کښے سوے بنه يم نه بے پته
خدائے هاله دَ سړي يادشي چه دردمند شي
کمه نه ده دردمندي تر عبادته
(۴۶)
خود پرست دَ خپل وجود په تياره ورشي
دَ مستانو لار به خدائے نه کا غلطه ق
بے ديدنه که فردوس وي پکار نه دے
باغ څوک څه کا بے دَ يار له وصالته ق
دَ دنيا ښادي به واړه اخر غم شي
دغه مل دَ چا مل نه دے ترمنته ق
(۴۷)
خدائے نبيؐ به دِ روزي نه شي رحمانه
څو خلاص نه شے دَ دنيا له محبته ق
زه رحمان په سل حلقو دَ زلفو بند يم
لا د پاسه يو پيزوان شه بله نته (۴۸)

۱۹۷۹ ۸/۱۶۴ ۲

ق

(۴۹)
چه خلے ئے ستا دَ څنو شه په کوته
په تحقيق توره بلا تيروي سرته
چه په توره شپه په توره بلا سرشي
دَ ژوندون اميد به څه وي وهغه ته

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ستا دَ زلفو دَ زنځیر هسې حلقې دی
چه دَ اور شعلې ئې خیژی تر هر وته
و هرچا وته چه دا بلا شی پیښه
په ژوندون به ئې څهره نه شی ثابته
ستا بلا به عاشقان اخلی دلبره
په هاتیانو ولیسا څوک کا بې مهوته
ما رحمان چه څوک جار باسی ستاله مینې (۵۰)
ګویا عین نصیحت وائی وده ته

۱۹۸۵ $\frac{۹}{۱۶۵}$ ۶

تاچه په دا تورو سترګو وکاته وماته
زړه دِ زما تور کړ له دې نوره مخلوقاته
ما خو چه ته ولیدې هغه ساعت مې ووې
نوره به مې مینه دَ زړه نه شی له تا ماته
شیخ و زاهدان چه نصیحت وماته وائی (۵۱)
نه دی خبر شوی ستا دَ مخ له محسناته
څه وشو که زه انګشت نمائی شوم ستا په مینه
لا تر ما نه خوښ ئې و قاضی او و ملاته
مرمه زه په دا چه ما جارباسی هغه خلق (۵۲)
بیا دِ په دیدن ترما ورومبې زغلی وخواته
زه رحمان چه وینم یار وایم خدایه خیر کړې
ګڼه بناپیری دَه دَ بنی آدم له ذاته (۵۳)

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

۱۹۹۲ ۱۰/۱۶۶ ۷

تا خو زده زما دَ زړه له احتیاجه
ترو ما څه پوښتې چه څه غواړې محتاجه (۵۴)
دَ طالب مطلوب روش به ما درو ښو (۵۵)
که ته نه وې خبردار له دې رواجه
یار که یار ته حال په خوله نه وائې څه شو
وحکیم ته پټ څرګند وی له مزاجه (۵۶)
که زما له حاله ما پوښتې حال دا دې
چه بې تا مې ورځ تیره تر شب داجه (۵۷)
اشنائې به ما په کوم قوت کوله
که خبر وې ستا دَ هجر له تاراجه
که له سلو به یو خواست زما قبلیږی (۵۸)
خدائې دِ هیڅوک رنځور نه کا بې علاجه
په رحمان بلا پېښې که زهیریږی
ته مشغول اوسه له خپله تخت و تاجه (۵۹)

۲۰۰۱ ۱۱/۱۶۷ ۹

چه خبر شوم دَ ساقی دَ جام له راحه
لکه مړې ملاقی شوم له ارواحه
زه چه زلفې دَ یار وو ینم په خوب کښې (۶۰)
په شپه مبنک راباندې وو زی تر صباحه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

سبا زیرے دَ وصال پہ مهجور کاندی
دَ هیواد خبر موندہ شی لہ سیاحہ (۶۱)
کہ روا کا خون خوردن دَ عاشقانو
څوک وتے شی دَ خوبانو لہ صلاحہ
هر ساقی چہ جام دَ عشق لری پہ لاس کښے (۶۲)
دا پیالہ ئے پہ مستانو دہ مباحہ
مخ بے مینے کہ څوک ستائی ستا یہ نہ شی
دَ ممدوح لہ قدرہ چا زدہ بے مداحہ
دَ جملہ مشکلات قلف بہ ئے شی لرے (۶۳)
کہ دَ فتح کنجی ورکاندے فتاحہ
مرتبہ دَ عاشقئ وارہ پہ عشق دہ
نہ لہ زهدہ لہ تسبیحہ لہ صلاحہ
دَ دنیا ناوے پہ عقد کښے دین غواړی
اے رحمانہ ځان ئے ژغورہ لہ نکاحہ (۶۴)

۲۰۰۷ ۱۲/۱۶۸ ۶

څہ شوکہ خاموش یم ستا دَ عشق لہ اہ سردہ (۶۵)
ستا زما لہ مینے خلقہ وارہ خبر دہ
هیڅوک دِ پہ خولہ دَ عاشقیہ لافے نہ کا (۶۶)
کلہ هم پټیږی وچے شونډے گونہ زردہ
اهل دَ دنیا وارہ نامرد دی رنگ ئے ورک شہ (۶۷)
خدائے دِ ملاقات دَ هیچا نہ کا لہ نامردہ

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

کله بې دردانو لره زړه دَ چا وردرومې
زه به صدقه کړم سل بې درد تراهل درده (۶۸)
بې دَ ستا دَ عشق دَ شهیدانو له خاکدانه
کله زرغونیږی سره لاله له هره کرده
یو خوشحال یو کم سل ختک نور په طبیعت کښې
ځار شه دَ رحمان سره بنی له یوه فرده

۲۰۱۵ $\frac{۱۳}{۱۶۹}$ ۸

ګوره بیا به څوک ادا کا په زړه غوندړه (۶۹)
چه دا هسې مسته دروې مخ بربنډه
ته چه ګل دَ اشنائۍ له باغه غواړې
خبر زده کړه دَ هجران له خار وخنډه
طالبان که مرور دی هم پخلا دی
بې مطلوبه دَ چا نه رسی دا هنډه
ما رستم دَ دهر ولیده په سترګو
دَ خپل یار له جوره ژاړی لکه کونډه (۷۰)
دَ عاشق دَ لاغرۍ سبب دا دے (۷۱)
چه فرقه دَ معشوقو شوه په زړه تنډه
زه به حورے دَ جنت بې یاره څه کړم
خدائے دِ سروه دَ چا نه کاندے ارهنډه
سخت ساعت دَ بیلتانه مے به هیر نه شی
که را ډکه شی دَ نور لحد ګورهنډه (۷۲)

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

زه رحمان دَ هغهٔ حُسن دعاګوی یم (۷۳)
چه جرګه دَ عاشقانو وی پر پښه ره

۹ ۱۴/۱۷۰ ۲۰۲۴

ستا په عشق کښې دروغژن یم سرترسره
چه له غمه دِ ژوند ے کړم دلبره
زه به ستا له لاسه کلهٔ شو لا مړ وم
ولے دم دَ خدائے په لاس دے نازپروره (۷۴)
جدائی به مے یو دم قبوله نه کړه
که چا مرګ او بیلتون ګڼې وے په غوره (۷۵)
شام سحر زما دَ ستا زلفے رخسار دی
هیڅ مے مه پښته له شامه له سحره
چه خبر دِ په وصال او په هجران شوم
خبر نه یم له فردوسه له سقره
بے دَ ستا له مخه ورځ رابانده شپه ده
روښنائی دَ ورځے چرے وی بے نمره
هسے بے سر وسامان دِ هیڅوک نهٔ شی (۷۶)
لکه زه چه بے سامانه یم بے سره
یو هنر مے منظور ستا په نظر نه دے
که زه وکړم ستا په عشق کښې سل هنره (۷۷)
هیڅ اثر دَ رحمان اوښے په یار نه کا
خدائے دِ اوښے دَ چا نه کا بے اثره

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

۲۰۳۰ ۱۵/۱۷۱ ۶

ما چه جور و جفا بیاموندہ له یاره
دَ وفا طمع به څه کړم له اغیاره
له دښنو به دَ ښادۍ امید څوک څه کا (۷۸)
چه دَ دوست دَ لاسه غم شي وردوخاره
دل آزار که جفا کا مانه ترنه شي (۷۹)
حیف نجوداده چه دلسوز شي دِل آزاره
دا کله هم ډیره ډیره له هغو شي
هر چه طمع تر دَ ښو کینږي بسیاره
طالبان خو تر مطلوبه پورے پڅه دي
خدائے دِ تا بے وفا نه کا وفاداره
که له ډیرے حیا نه ګورے وچاته
څه خو مټ کړه دَ رحمان دَ زړه دپاره (۸۰)

۲۰۴۲ ۱۶/۱۷۲ ۱۲

ستا په عشق کښے هسے خلاص یم له شعوره (۸۱)
چه یوه خبره نه لرم منظوره
طبیبان وائي چه صبر دِ دارو دی
خدائے فرقه زمونږ پیدا کړه ناصبوره (۸۲)
تورے هرچرے ترلے په دښمن شي
یاره ستا سترګے دوستان وژني په توره

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

معشوقے دَ زمانے شوے سره تولے
دَ زړه خونه مے ئے ولوټله چوره (۸۳)

زه تنها په ضرور نه یم ستا له غمه
پیدا شوے عاشقي ده له ضروره

هرے شپے لره ورځ شته دے په جهان کښے
زما عمر جدائیه کړ بے نوره (۸۴)

مهرویان وفا له هیڅیا سره نه کا
دا خبره په عالم کښے ده مشهوره

چه خبر شي واړه کوتے په غابن نسي
په هجران کښے خبر مه شه له مهجوره (۸۵)

دَ رقیب له بدو سترګو دِ ځان ژغوری
هر عاشق چه بهره مند وی له حضوره

هو مره توان وتوفیق نه کنم په بخت کښے
چه تائب کا ما له فسقه له فجوره (۸۶)

په نظر دَ مدعیانو تور کودے دے
که ئے کښینوم دَ کټ د پاسه حوره (۸۷)

دَ رحمان دَ سترګو نم به هاله وچ شي
که وچ شوے دَ چا نم وی له ناسوره

۱۴ ۱۷/۱۷۳ ۲۰۵۶

نه رسیږی ستا وحُسن و ته حوره
څه به رسی و میرمنے ته مزدوره (۸۸)

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ستا و قد او و قامت ته نه رسیږی
که نښتر که سپاری وی که کجوره (۸۹)
تر قامت پورے دِ سروه ده سرکوزے
تر صورت پورے دِ شمع ده بے نوره
هر سړے چه دِ وحُسن ته نظر کا
ښا پیری ئے په نظر وی نامنظوره
تا چه مے دَ خپلو شونډو وربه خوله کړه (۹۰)
طائفه دِ دَ صوفیانو کړه مخموره
اوس ته وایه چه په څه رنګه دِ ستائیم (۹۱)
زه خو ستا په مینه لاړ یم له شعوره
دا جذبه دَ عاشقئ نه ده نور څه ده (۹۲)
ګنه کله ځوک وتے شی له دستوره
اوس به زه دَ شب خیزیه څه منت کړم
چه څهره دِ کړه په خوب کښے راحضوره (۹۳)
که سل ځله زوبیه غوره وی تر لوښو (۹۴)
صدقه شه ناقابل زویه تر لوره
چه په ننګ او په ناموس تر لوښو کم وی
خدائے دِ مور کاندے په هسے زویو بوره
ننګیالی تربرونه ښه دی او که نه وی
ننګیالے ترله هم ښه ده تر نتربوره
خوبروی بے دلبریه پکار نه ده
لکه ونه بے میوے په پانږو کوره (۹۵)

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

که دَغلوځې لباس وکا غزا وشوه[۹۶]
شهد نه دی چا موندلی له زنبوره
په رحمان دَ ښائسته وُ قدر ډیر دے
دَ طبیب له قدره چا زده بے رنځوره

۲۰۶۳ ۱۸/۱۷۴ ۷

ق

زه دِ پرے یستم له خپله زوره شوره[۹۷]
په ځوګران ئے ته دَعشق ناتاره زوره
که دَ ځان وینے مے تل دَځان خوراک وی
خدائے مے مه کړه دَ زړه متینه لهٔ تانوره
چه دَ ستاله اشنائۍ له عهده ووځم
رب مے مه کړه پهٔ دا شانے دعوٰی سپوره
چه پهٔ تله دَ سر ومال ورځنے نهٔ ځې
عجب شان لرے دَعِشق عظیمه توره
په زورل دِ ډیره نفع راته رسی[۹۸]
ځو دِ زړه ځو دِ رضا هومره مے زوره
ربه روی دَستا دَ دوستؐ مے دے دروړے
دَ بیلتانهٔ دَ سخت ساعتهٔ مے وژغوره[۹۹]
که ګذر په قبرستان زما دَ یار شی
سر به هسک کړم زه رحمان ورتهٔ لهٔ ګوره

۲۰۷۱ ۱۹/۱۷۵ ۸

زه عار نه لرم په عشق کښې له پیغوره
بې پروا یم دَ ستې په شیر له اوره
بردی په خوله دَ سمندر مهر دَ مومو
څوک چه مامنع کوی دَ عشق له شوره [۱۰۰]
بې هجرانه زما نوره خواری نشته [۱۰۱]
ولې نشته تر دا بله خواری نوره
لکه ته چه خدائے هرګوره بناشته کړې
زه ئې هم هسې بې صبره کړم هرګوره [۱۰۲]
چه په تورا و سپین مې اړوی داڅوک دې
که ته نه ئې په مخ سپینه! په زړه توره
دَ رقیب له بده خویه به څه وایم
لا چه یار ورسره مل شی هاله ګوره [۱۰۳]
چه ئې پور دَ مرګ تر پوره لابد تر دې [۱۰۴]
هې توبه دَ بیلتانه له بده پوره
عاشقی سرې مجنون کاندی رحمانه
ګنه څوک په هوښیاری ووځی له کوره

۲۰۸۲ ۲۰/۱۷۶ ۱۱

چه په وقت دَ ځنکدن وکاږې بیره
ترو نن ولې هسې ناست ئې بې تدبیره

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

هر سړے چه کانده غم په مخ کښے وینی
له هغه غمه لا نن کړځی دلګیره

چه سبا ارمانوے پند دَ پیرانو
ولے نن دَ پیر طلب نه کړے بے پیره [۱۰۵]

دَ یار یاد به دِ ځائے څه رنګه په زړه شی
چه دِ غَیَر لرے نه شی له ضمیره [۱۰۶]

چه دَ توک په طلب کړځے خدائے دِ هیر دے
فقیران دا هسے چرے وی فقیره [۱۰۷]

دغه غم دِ خدائے بدل کړه په ښادیه
زهیر مه شے په اشنا پسے زهیره

که هر څو ښائسته ډیر دی په جهان کښے
و هرچا ته خپل اشنا دے بے نظیره [۱۰۸]

هر سړے دَ هغه مخ په [۱۰۹] رنها کرځی
چه ئے خونه دَ خاطر وی پر منیره

تمام عمر ئے په اور او په اوبه وی [۱۱۰]
عاشقان دَ لعلو لبو له تاثیره

که په مرګ که په ژوندون وی خدائے دِ نه کا
دَ رحمان خلاصے دَ زلفو له زنځیره [۱۱۱]

زه رحمان دَ ازادی په [۱۱۲] تالاش کرځم
بارے نه دَ تورو زلفو له زنځیره

○

۸ $\frac{۲۱}{۱۷۷}$ ۲۰۹۰

خو به وران شي دَ دنیا بازاره تاړه
هر نفس دَ بیلتانه په تاخت لتاړه[۱۱۳]

لا غنچې په باغ کښې سترګې سپړدې نه وې
چه خزان ئې دَ زړه خونه کړه ویجاړه[۱۱۴]

هسې باد پر دَ فنا له لوریه والوت[۱۱۵]
دَ لاله قوله ئې پرې یسته له ناړه

یوه هسې بې سوزي مې شوه په بخره
چه سردي ئې لا بتره ده تر ساړه[۱۱۶] ق

څه بزرګي به ئې دَ باز دَ همائې نه شي
سر زباني ذکر که سل رنګ کا خراړه[۱۱۷]

که زر سل کاله ئې تیرشي په اوبو کښې[۱۱۸]
په نرمي به نرمه نه شي وچه تراړه

تر دا هسې عمره نه عمر بهتر دې[۱۱۹]
هر چه حال دَ ځنکدن وي عمر واړه

تر خلاصي ځنې بندي بنه ئې رحمانه
که دَ یار دَ زلفو ځیل دِ شي په غاړه[۱۲۰]

۱۱ $\frac{۲۲}{۱۷۸}$ ۲۱۰۱

ګیده وتړه په پړي سره کلکه[۱۲۱]
دَ روټیه طمع مه کړه له فلکه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

هر سائل چه سوال دَ نان کا له اسمانه
ګویا غواړی په کچکول کښې اوبه[۱۲۲] مکه
له اسمانه چه څوک طبع دَ وفا کا
دغه طبع ئې طاعون ګڼه بې شکه
له بارانه سره هسې بڼلی ووری
چه هر زخم ئې بتر وی تر تهوپکه[۱۲۳]
که په چا ئې شفقت مرحمت وشی
ظلم جور ئې بتر وی تر اوزبکه[۱۲۴]
موړ به نه شی هیڅ سړے بې قناعته
که ئې خونه وی په سیم و په زر ډکه[۱۲۵]
بیا به نه مومی کمال بې کمینیه
که خیمه ئې وی دَ عرش دپاسه لکه[۱۲۶]
که جهان په نورِ عالم باندے فراخ دے
په تنګ چشم باندے تنګ شه ترڅیکه[۱۲۷]
دَ دے دهر په یارانو کښې اب نشته
که ئې غواړے تر سما و تر سمکه
تر شے او بنے دَ عاشق اب و نمک دی
خدائے دِ نه کا څوک بے ابه بے نمکه
دا درازے اندېښنې مه کړه رحمانه
دَ دنیا چارے په تله دی تر دمکه[۱۲۸]

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

۲۱۰۹ $\frac{۲۳}{۱۷۹}$ ۸

چه ئې خونه دَ سيلاب په مخ شوه لکه
دَ حباب تماشه ګوره تر دمکه
هيڅ پکار نه ده ويسا دَ پاڼ په سيوري
که تر لاندې وی دَ اوسپنو ګودیکه
دا دَ لاندې به هسه واړه چيت پيت(۱۲۹) شی
مګر سر وی چا وکښلې تر فلکه
چه په اصل خدائې نسکور دې پيدا کړې
څوک به څه خوری دَ سپهر له بنانکه
چه دښمن ئې دوست نمائې وی اړولې
دَ هغو احتياط بويه له کومکه
راشه واچوه دَ نفس وخولې ته خاورې
څو دِ نه ده خوله دَ ګور په خاورو ډکه
هر چه ډکه ئې دَ ګور په خاورو خوله شی
په هغو باندې حرام ده نوره څکه
که نور څوک ومبارکې کا و بله نورې
و رحمان ته دِ خپل يار وی ومبارکه(۱۳۰)

۲۱۲۴ $\frac{۲۴}{۱۸۰}$ ۱۵،

ته ناحق په ما کينه کړې کينه ناکه
په کينه به ائينه نه کړې څپيا(۱۳۱) که

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

(۱۳۲)
څوک بې وجهې چا ته توره توبرې اخلي
خپل عمل دې چه دنيا ئې کړه هلاکه
چه خندا ئې د بلبل په آه سرد کړه
خندا ئې د ګل ګريوان پاره کړ سينه چاکه
څکه سينې شوې اول د حباب سترګې
(۱۳۳)
چه له بغضه په درياب چوې تناکه
که تن زمکه کړې زړه تخم باران اوښې
(۱۳۴)
لکه نخل سر به وکاږې له خاکه
بالادست به شې هاله په نورو ونو
که تعليم د زيردستۍ واخلې له تاکه
بيا به نه مومې د ترکو واک او حکم
(۱۳۵)
څو ونه وڅې د جهان له جمله واکه
د هغه جهان ژوندون به هغه مومي
(۱۳۶)
چه لاس وکاږي د دې جهان له ژواکه
ته چه ژغورې سر و مال په عاشقۍ کښې
(۱۳۷)
عاشقي دا هسې چرې ده کاواکه
(۱۳۸)
چه دا هسې بزرګ ميلمه وکور ته بيا ئې
اول غولې پاکيزه کړه له خاشاکه
په دوۍ کښې به ورنه شې تر توحيده
څو ضمير دې خالي نه شي له اشراکه
دا همه واړه حجاب دې چه ليده شي
(۱۴۰)
نور د حسن بالا تر دې له افلاکه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

په ظاهر لباس غلط دَ دنیا مه شه
میان ئې کوره چه چغزی ده که متاکه (۱۴۱)
اولیاء په جهان ځکه څرګند نه دی (۱۴۲)
چه پاک ژوی خپسر نغاړی له ناپاکه
هیڅ وفا ئې له هیچا سره و نه کړه
ترو رحمان به څه مانه کا له افلاکه (۱۴۳)

۲۱۳۶ $\frac{۲۵}{۱۸۱}$ ۱۲

که په هجر کښې څوک ما پښتی له حاله (۱۴۴)
حال خو دا دے چه ناتوان یم بے مجاله
زه چه نه شوم تیر ید ے له یوه خسه — ق
مینې تیر کړم هم ترسره هم تر ماله
نه حجت لرم نه عذر بے چاره یم — ق
چه ئې زړه هغه راکاندی نونهاله
چه مے لاس دَ مهرویانو پیچاوی کړه (۱۴۵)
لاس مے وواته له آله له عیاله
زه دَ یار په دیدن ځکه شتابی کړم
چه دَ عمر بقا نه وینم تر کاله
چه ترحسنه ترجماله ئې ځار نه شوم
شرمنده یم دَ خوبانو تر جماله
نه و ما ته نصیحت مه کړه ناصحه (۱۴۶)
عشق بے نیاز دے له ثوابه له وباله

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

بے دَ خپل اشنا دَ حسن لہ تعریفه
هیڅ مے مه پښتته لہ نورہ قیل وقاله
ما دَ عشق په درس کښے نورځه لوستی نه دی
بے له زلفو بے له خطه بے لہ خاله
په دنیا په اخرت مے دِ خدائے نه کا
بے نصیب دَ مهرویانو له وصاله
زہ رحمان به دَ یار وصف تمام نه کړم
که مے هر ویښته زبان شی په [۱۴۷] زرکاله
که یار سر په دیدن غواړی مه جاروځه
دغه حکم رحمان کړے دے دلا له

۸ ۲۶/۱۸۲ ۲۱۴۴

څو ترمیانه ورانه نه کړے دَ تن پوله [۱۴۸]
وُبه نه رسے ترخدایه تر رسوله
خدائے وتاته دین دنیا په غورہ کښیښوہ [۱۴۹]
تا دنیا کړه په دا دواړو کښے قبوله
تر حرص په هورته بله بلا نشته
دا بلا دَ ستا په خونه شوہ نزوله
یو ساعت دَ خدائے په ذکر مشغول نه شوے
تمام عمر دَ خپل ځان په غم مشغوله
چه باقی زندګانی په فانی پلو رے [۱۵۰]
۱ ځان په کوم دانش دانا بولے مجهوله

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

لہ خالقہ روگردان شوے و مخلوق تہ
بیا و ځان تہ عاقل وائے نامعقولہ
نصیحت لکہ هلک دربانده تریخ شہ (۱۵۱)
دَ دنیا پہ شیرینۍ پسے ملولہ
چہ رحمان غوندے خورسند نہ شے پہ نول کښے
خلاص بہ نہ شے پہ هیڅ رنگ دَ زړہ لہ نولہ (۱۵۲)

۲۱۵۳ ۲۷/۱۸۳ ۹

څو بہ صبر پہ جفا دَ یار کومہ
څو بہ موم دَ نمر و مخ تہ گرځومہ (۱۵۳)
عاشقي او صبوري سره دروغ دي
زه بہ دا لاف پہ دروغ څرنگ وهمہ (۱۵۴)
تہ وما تہ نصیحت مہ کړه ناصحہ (۱۵۵)
زه دا خیل تخم خپل ځان لره کرمہ
ما خو زده چہ مینہ اور ده خدائے مین کړم
دانستہ خپسر و اور تہ اچومہ (۱۵۶)
سررشتہ مے خدائے هم دَ یار پہ لاس کړه
پہ هر لورے چہ راکاږی پسے ځمہ (۱۵۷)
دَ اشنا دَ مینے لاس زما گریوان دے
زه بہ دا مامله کښے عذر نہ لرمہ
عاشقانو باندے حق دَ معشوقو دے
حق بہ ولے پہ باطلو بدلومہ (۱۵۸)

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ما چه مینه دَ یار فرضه په خپل ځان کړه
ترو له فرضو غاړه خړنګه غړومه (۱۵۹)
دا هم ژوند دے چه یار نه وینم په سترګو
زه رحمان په جهان سترګے غړومه

۲۱۶۱ ۸ ۲۸/۱۸۴

خبر نه یم چه ئے راواستوم له کومه
بیا ے کومه خواته استوی چه دروم ه
لکه ړوند چه لاس دَ بل په اوږه کیږدی
هیڅ ژوره لوړه نه وی ورمعلومه
خدائے راپیښه نری لار کړه نالیدلے
لکه ورانه ماشوړه هسے سرکومه (۱۶۱)
خراب زړه مے تورو زلفو ته هوس کړ
ولے کښیوت دَ مرغه په شیر په لومه (۱۶۲)
هسے کوډے عاشقی را باندے وکړے
چه سنګین خاطر مے نرم شه ترمومه
چه ئے هیڅ له خدایه ترس و ویره نه شی
الغیاث دے دَ دلبرو تر رسومه
کله راکاندی شراب دَ لعلو لبو
کله جام دَ زهرو راکاندی چه شومه (۱۶۳)
ته چه ځان طالب شمیرے دَ مطلوبانو
اے رحمانه تروکه سیال ئے بیائے مومه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

٢١٦٩ — ٢٩/١٨٥ — ٨

که ستا خپله سیاه روئي نه وي دښمنه
آئینه زما د زړه نه ده خچنه
ته چه ماته په نظر د عیب ګورې
دغه واړه عیب ستا دي عیب ژنه (١٦٤)
خپل صورت په آئینه کښې هرڅوک وینې
که څهره د چا صفا وي که ریمنه (١٦٥)
چوهاړې د حلال خور په نامه بولي
له بنو خلقو بدګوئي نه ده ممکنه
ته چه بد له بله وائې زه ویریږم (١٦٦)
چرې خپله بدي نه کړې معیّنه
تر هغه به ورو مې عیب ستا څرګند شي
وهر چا وته چه کړې د چا غندنه (١٦٧)
هر رنګ تخم چه کرې هغه به اخلې (١٦٨)
خپله خپله میوه نسي هره ونه
که له خپله عیبه ځان ژغورې رحمانه
د هیچا له عیبه مه کوه پېښتنه (١٦٩)

٢١٨٠ — ٣٠/١٨٦ — ١١

ډیر عمر مې تیر کړ بیهوده په زمانه (١٧٠)
نور دې زما سر وي او د نرکو استانه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

هیڅ مے حاصل نه شو په شیخئ او په تقویٰ کښے
بس له دے مے وارد ے هرچه شی په میخانه (۱۷۱)
شیخ او شیخی ورد و وظیفه او ذکر فکر
زه او ساقی جام و باده چنګ و ترانه (۱۷۲)
زه و زاهدانو ته حیران یم دوی و ماته
دیوانه به دِه میخند د دِه به دیوانه
ګنج دَ دُرو ځار شه دَ عاشق تر څاڅکی اوښیو
نه خروار دَ عقل نه دَ عشق یوه دانه (۱۷۳)
تیغ دَ یار له لاسه په مری دَ عاشقانو
هسے لذت کا لکه دَ میو پیمانه (۱۷۴)
خدائے لره به ورشم په سودا دَ یار له مخه
بل مقصد مے نشته په کعبه په بت خانه (۱۷۵)
زه له ډیرے مینے په تش بوی دَ یار شیدا شوم
تل دَ لوندو خټو لره اوبه وی بهانه (۱۷۶)
زهد کا زاهد که دَ یوه جنت دَ پاره
سَر ښند لے نه شی په او ربل دَ جانانه (۱۷۷)
ګوره دَ منصور هسے په دار نه شے رحمانه
مه کړه دا دَ عشق خبرے ډیرے مستانه (۱۷۸)
بله نښانه دَ عاشقئ نشته رحمانه
بے نام و نښان شه که ئے غواړے نښانه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

۲۱۸۸ $\frac{۳۱}{۱۸۷}$ ۸

ق

شمع دَ دلبر سترگے عاشق پر پروانه
ځان پرخپل جلیا کا شی ئے خونه ویرانه (۱۷۹)
مطر په معنیٰ کښے دَ دلبر دَ مینے بحر
شه صدف دَ سترګو واړه پُر په دردانه
غم مے دَ زړه وینے ترچشمانو رابیرون کړے
اوښے نه وی وینے ولے شوے دا بانه (۱۸۰)
زړه په دے له سترګو سیند دَ اوښیو بهومه
وی مخے دَ وصل موج وهی په اب خانه (۱۸۱)
شوه چشمه دَ سترګو ستا دَ غم په وینو صافه
ځکه مے همیش اوښے بهیږی روانه
خیر دَ دیدن وخوار عاشق ته ارزانی کړه
ته دلبر غنی ئے دَ خپل مخ په خزانه
اوښیو دَ فراق دربانده زور وکړ رحمانه
هیڅ پرواه ئے نشی بے پرواهه مستانه (۱۸۲)
عقل دَ رحمان ئے په جفا سره مسلوب کړ
مه کړه مه کړه مه کړه هسے بده یارانه (۱۸۳)

۲۱۹۶ $\frac{۳۲}{۱۸۸}$ ۸

دریغه ولیدے یو ځل هغه مخونه
چه دراز لری مژګان دراز قدونه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دراز قد دراز مژګان درازې زلفې
وړې شونډې وړه خوله واړه غاښونه
دَ اسمان شمس وقمر به تر قربان کړم
هم دَ زمکې په سر واړه سره[١٨٤] ګلونه
چې ئې ووينم په مخ مې اوښې درومي
دَ پسرلي له مخه ووري بارانونه
که يو ځله ئې مخ ووينم په سترګو[١٨٥]
ما په زړه کښې قبول کړي دي نذرونه
دَ هجران په شپه سور کړه راته سو اورشي
يو زمان مې باندې نه لګي اړخونه[١٨٦]
تورې زلفې دِ په سپينو ننګو ځانګي
ښاماران دي دَ چندڼو په ښاخونه[١٨٧]
که خدائې غم دَ جدائيه پراسان کړ
ورحمان وته اسان دي نور غمونه[١٨٨]

٢٢٠٨ — ٣٣/١٨٩ — ١٢

که له مخه يوه خوا کا حجابونه
خدائې به ورکا وخوبانو ثوابونه
کله وي چه يو په رنګ دَ هغه يار شي
که هزار شي په اسمان کښې افتابونه[١٨٩]
په ګرداب دَ زنخدان ئې هسې غرق يم
هيڅوک مه شه غرق په هسې ګردابونه[١٩٠]

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

لکه زه چه ئې له غمه په عذاب یم
خدائې دِ نه بندی په چاهسې عذابونه
گفتگوئې مې هېڅ اثر ورباندې نه کا
که له غمه ئې تصنیف کړم کتابونه
په یوه ځواب مې رد کا هزار سوال(۱۹۱) له
هسې کاندی دَ سوالونو ځوابونه
هېڅ پایاب دفن فریب ئې موندلای نه شی(۱۹۲)
څوک به څه غواړی دَ بحر پایابونه
که لږ سترګې وبله کېږدم راته وائی
په یادی کښې عالم نه کاندی خوبونه(۱۹۳)
مال وملک ئې همه واړه اوبه یوسی
له هغو سترګو چه دروی سیلابونه(۱۹۴)
دَ ابرویو و محراب ته ئې حیران یم
څه نسبت لری بتان او محرابونه
ما هاله له پارسائیه وولاس(۱۹۵) وللی
چه په لاس کړه مطربانو ربابونه
ارغوانی جامې ئې واغوستې رحمانه(۱۹۶)
بیا ئې جوړ کړه ستا دَ قتل اسبابونه

۸ $\frac{۳۴}{۱۹۰}$ ۲۲۱۶

ژوندی کاندی دَ دنیا کاروبارونه(۱۹۷)
په مړو پربیوانه دَ خاورو انبارونه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

څوک سرتور پښے یبله خاورو لره دروی[198]
چا کاږه دی په سر یښی دستارونه
ښه توښه دَ سکه ورونو سره نه شی
بلکه یو ځبله اخلی ازارونه[199]
دَ یوے دانے له ښاخه پیدا کیږی[200]
په چمن کښے هم ګلونه هم خارونه
هومره خلق هره ورځ له دنیا دروی
چه ئے نه په چا حساب شی نه شمارونه
یو یو وار دے په هر چا باندے تیر شوے[201]
همیشه په هیچا نه وی دا وارونه
ډیر تودوکی بازارګی مے ترسر تیر دی[202]
څوک دِ نه کا په ما قینج و بازارونه
جدائی دَ اشنایانو هر دم کاندی
په رحمان باندے دَ تورو ګوزارونه

۲۲۲۳ $\frac{۳۵}{۱۹۱}$ ۷

راکوی دَ بے دردیه بیغورونه[203]
بلوی مے په تندی باندے اورونه
نورځه نشته واړه غوښے دی دَ زړونو
چه ورڅلے شی دَ ترکو په قورونه[204]
هرنګاه ئے په وکښه دَ زړونو شیر دے[205]
همیشه را باندے ازمائی زورونه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

خدائے دِ تور دَ تورو سترګو چاته نه کا [۲۰۶]
عالمونه ئے ورکیږی په تورونه
یو دَ حسن اور ئے بل کړ په جهان کښې
په دا اور باندے ئے وسوَه ډیر کورونه [۲۰۷]
زه دَ یار په مینه غل کړم رقیبانو
ګنه نور ئے کوم راپورے وو پورونه
دَ رحمان دَ عاشقیه هسے غږ شه [۲۰۸]
چه برپائے شو په هر ښهر کښې شورونه

۲۲۳۱ ۳۶/۱۹۲ ۸

په خاطرے غلبه شوه ستا غمونه
لږ دَ خدائے د پاره کیږده قدمونه
څه خو قیاس زما دَ ډیرو اوښیو وکړه
چه مے چرے وو په تن کښې دا زیمونه [۲۰۹]
هرچه ستا په دم ژوندی دی نه رغیږی
که بے تا په ځان پوُکی هزار دمونه
که هزار هزار دمونه په ځان پوُکا
نور به نه کا په دمونو قلمونه [۲۱۰]
له قسمته خلاصیده دَ هیچا نشته [۲۱۱]
که داخل شی دَ مکے په حرمونه
سرے کله په کوشش ترځایه رسی
څو دَ خدائے له لاسته نه وی کرمونه [۲۱۲]

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

چہ توانګر دَ قناعت پہ خزانہ شی
نور بہ څہ کاندی دینار او درمونہ (۲۱۳)
قسم وخوری لہ خوبانو بیا ئے مات کا
څہ باور دے دَ رحمان پہ قسمونہ (۲۱۴)

۲۲۴۲ ۳۷/۱۹۳ ۱۱

زۀ بہ نورۀ نہ کرم پہ بتانو باندے مینہ
کشکے څوک مے کښلی توری وران کا لہ جبینہ (۲۱۵)
زۀ بہ نورۀ نہ کرم پہ خوبانو باندے مینہ
مینہ دَ خوبانو وچوی دَ صورت وینہ
خدائے زما پہ برخہ عاشقی کړہ لہ ازلہ
خوښ یم پہ دا بخرۀ کہ ترخہ دۀ کہ شیرینہ
زهر دی کہ قند دی هم بخپلہ خولہ څکند دی
نہ مومی څوک خوند دَ بل دَ خولے لہ انګبینہ (۲۱۶)
راشہ نجومی زما دیارۀ فال وګورۀ
تللے یار بہ کلہ لہ سفرہ رائشینہ (۲۱۷)
ښہ توبنہ مے نہ شی پہ تش ډاډ دَ کور او کلی
مرد بو یہ چہ واخلی دَ غم پیتے لہ غمګینہ
زمکہ هغہ سوزی هرچہ اور ورباندے بل وی
روغہ خلقہ شوہ دَ رنځورو تماش بینہ (۲۱۸)
نورعالم بہ څہ کړم زۀ مرید دَ هغہ کس یم
هرچہ وما راکا یو پیغام لہ نازنینہ (۲۱۹)

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ځو به سُوک په سترګو غړوم له هسې غمه
ځومې به تل وینې دَ زړه ځاځي له استینه (۲۲۰)
سرِدَ رحمان دروي دَ هجران په تیره توره
ته ئې نګهبان شې یا اِلٰهَ العٰلمینه (۲۲۱)
اور دَ جدائیه په رحمان دے لګیدلے
وقت دے که مدد کړے یا میران محی الدینه

۲۲۵۲ ۳۸/۱۹۴ ۱۰

یاد وے په خوله مکه او مدینه
نسکور پروت ئې دَ عورتے په سینه (۲۲۲)
زوړند سر لکه غنچه مراقبه کړے
پټ دِ نقش دَ زړه رخت دے رنګینه
دَ اطلسو قبا غواړے نه ئې موے
له ناکامه دِ خرقه کړه پشمینه
عبادت دِ څو تیرے تر معصیت (۲۲۳) کړ
څه خو ونسه وځان ته ائینه
کینه بده ده بے شکه جنګ حرام دے
نه له نفس او له شیطان (۲۲۴) سره کینه
دَ مردانو کار له نفسه سره جنګ دے
نه زنان غوندے له نقش و نګینه
ترناپاکو نارینه وُ ده بهتره (۲۲۵)
پاک دامنه پرهیزګاره ارتینه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دَ دیندارے ارتینے تر یوے کو ښے (۲۲۶)
صدقه شه سل بے دینه نارینه
نیکوکار سړے بهتر وی که خورد سال وی
تر سپین ږیریه بدکرداره دیرینه
بدکردار که صدساله وی و رحمان ته (۲۲۷)
څرګند یږی لکه طفل شبینه

۲۲۵۹ $\frac{۳۹}{۱۹۵}$ ۷

ق

اے دَ نوس او دَ حرص په هوالیوه
په ظاهر صورت فرښته په معنیٰ دیوه (۲۲۸)
شدادی خصلت دِ ونیوه دَ ظلم
خبر نه شوے دَ مسکین دَ زړه له غریوه (۲۲۹)
تا چه ځان دَ مرغونے په دود تریخ کړ
په دے خوی به برابر نه شے له سیوه (۲۳۰)
فر وجود به دِ په څه رنګه حصلیږی
چه دِ لیک دَ یار له دره دوه و دریے وه (۲۳۱)
په ظاهر صورت تندرست په روح رنځوره
دریغه وسوے تر روغ پوست لاندے مځ تیوه (۲۳۲)
دَ نیستی له مکافاته هسے خلاص شه
چه هستی ئے دَ فنا په مځ ایرے وه
نیمه شپه وُوده ئے پاڅوه له خوبه (۲۳۳)
و رحمان وته پخپله په نارے وه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

۸ $\frac{۴۰}{۱۹۶}$ ۲۲۶۷

چه په نور څه پورے زره ترے بے خدایه
څه دِ زده چه دا په ځائے کړے که بے ځایه[۲۳۴]
دا خو نشته چه به تل ترتله پائے
که بیا پائے خو ترسلو کالو پا یه
که دِ سل کاله شی عمر خو به تیر شی
دغه پسه به بیا[۲۳۵] څه کړے راته وایه
سم دَ لاسه چارے نه شی مرد هغه دے
چه بیدار وی وغلیم وته له ورایه[۲۳۶]
ته په اصل کښے سرے ئے خاروے نه ئے
دَ چارپایو چارے مه کوه دو پایه
مرتبه به دِ دَ چ او دَ میږی شی
زره په غوښو په غوړ مه تره همایه[۲۳۷]
موږ به نه شے په حرص بے قناعته
اے په تخت دَ اورنگ زیب[۲۳۸] ناسته گدایه
وړاندے سرائے لره توښه تره رحمانه
څو سفر دِ کړے نه دے له دے سرایه[۲۳۹]

۱۰ $\frac{۴۱}{۱۹۷}$ ۲۲۷۷

که دَ عقل څه اثر لرے و سرته
لاس په سرمه شه دَ هرگیدی[۲۴۰] و درته

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

(۲۴۱)
په نظر دَ هغو خاورے سره زر کیږی
هرچه نه لری نظر و سیم و زر ته
بے منته جام دَ زهرو ښخنلے ښه دے
نه هغه چه منت بار وی وکوثر ته
دَ یوسفؑ له حاله زده کړه دغه پسه
وایه حال دَ زمانے و برادر ته
دے فلک وچا ته هیڅ بخښلی نه دی
چه ئے نه دی راپرودلی ځنے بیرته
(۲۴۲)
دَ خروار دعوی ئے وکړه ممکنه
که ئے پوره وی دَیوے جودانے درته
که له خدایه دِ وخلقو ته مخ شی
له فردوسه به دِ مخ شی وسقر ته
(۲۴۳)
همیشه به در په در ګرځے رټلے
دَ استوګے ځائے به نه مومے هیڅر ته
اے رحمانه کړونے وګوره چه څوک دے
(۲۴۴)
له درګاهه ئے سرمه اخله بل در ته
(۲۴۵)
دَ دے سست بدن منت په رحمان بان دے
چه له خپله دره تلے نه شی بل در ته

۸ ۴۲/۱۹۸ ۲۲۸۵

چه نظر کړم دَ خوبانو و رخسار ته
(۲۴۶)
حق حیران دَ خدائے په کړه شم و دے کار ته

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

له دهشته ئے ریبار وړ دوے نه شم (۲۴۷)
خدائے زده څه به ئے وئیلی وی ریبار ته
خلوتیان لکه بـرده پکښے خرڅیږی
غږ ئے نه خیژی دَ حسن وَ بازار ته
ته چه ما پښتے دَ یار له حقیقته
څوک دَ یار خبرے کاندی واغیار ته
درد و غم دَ عاشقۍ څه هومره نه دے
چه ئے عقل دَ چارسی و مقدار ته
زه او یار چه سره خپل غمونه شمار کړو (۲۴۸)
یار وماته حیرانیږی زه و یار ته
دَ دنیا چارے همه واړه په وار شی (۲۴۹)
ما دَ یار غنونه نه پریږدی وَ وار ته
رحمان هسے وزګار چرے دے له عشقه
چه غوږ ونسی ناصح غوندے وزګار ته (۲۵۰)

۲۲۹۲ $\frac{۴۳}{۱۹۹}$ V

مخ ته دِکه نمر وایم دَ نمر زلفے تار تار نشته (۲۵۱)
قد دِکه په سروْ بولم دَ سرو ے یون رفتار نشته
هرڅوک چه دِ ګل وَ اتشین رخسار ته وائی
پوچ وائی دَ اور په مخ کښے وقردَ ګلزار نشته (۲۵۲)
زلفے دِ ناحقه څوک سنبل بولی دلبره
ولے چه دَ مبنکو سره هیڅ دَ ګیاه کار نشته (۲۵۳)

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ما چہ غوږ پہ غوږ وستا دَ سپیو اوریدلے دے
ھسے رنګ بلبلہ پہ چمن کښے خوش ګفتار نشتہ (۲۵۴)

ستا دیدن ھغہ کا چہ ئے سر پہ تنہ نہ وی
ولے چہ دَ سر دَ ښتن ھورے ونہ لار نشتہ (۲۵۵)

دا خو خدائے دے چہ ئے ستا زنخدان
پہ ونہ دَ سروے پورے ھرګز دَ میوے بار نشتہ (۲۵۶) ق

یار بہ دَ رقیب پہ لوری خدائے نہ کړہ رحمانہ
ځکہ چہ دَ سپیو دَ فرښتو سرہ روزګار نشتہ (۲۵۷)

۲۳۰۳ ۴۴/۲۰۰ ۱۱

ستا پہ مخ کښے څہ حساب دَ جمال نشتہ (۲۵۸)
ځکہ ما څخہ دَ صبر مجال نشتہ

تہ دَ سر او دَ مال ویرہ پہ ما مہ بږدہ
ویرہ ما څخہ دَ سر او دَ مال نشتہ

زہ پہ دا سبب لہ ویرے سرہ ریږدم
چہ ستا ویرہ دَ ثواب دَ وبال نشتہ (۲۵۹)

کہ وعدہ دَ یوے چارے یو ساعت کړے
دَ ھغے چارے امید مے پہ کال نشتہ

مخامخ کہ راتہ وګورے دلبرہ
پہ کاتہ کښے دِ ثواب دے وبال نشتہ (۲۶۰)

دَ شھید وَحال نہ ګورہ حال ئے څہ دے
بے تا ھسے حال زما دے بل حال نشتہ

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

روښنائي مے دَ چشمانو ستا دیدن دے
په دا کور کښے بل چراغ او مشال نشته
په جوئبار زما دَ سترګو سروه ته يے
په دا نهر بانده غير نهال نشته
مخ دِ بے خطه بے خاله هسے زيب کا
چه يے هيڅ حاجت په خط او په خال نشته (۲۶۱)
دَ افتاب په مخ کښے هره ورځ زوال دے
ستا دَ حسن په افتاب کښے زوال نشته
ستا په يادو رحمان هسے رنګ مشغول وی
چه په زړه کښے يے هيڅ غم دَ وصال نشته

۲۳۱۴ $\frac{۴۵}{۲۰۱}$ ۱۱

که څوک لاس له سوده وکاړی زيان نشته
په ملنګ بانده قلنګ او تاوان نشته
دَ وفا خريدار دِ بله خوا ته دروځي (۲۶۲)
دا متاع دَ زمانے په دوکان نشته
جدائي له اشنائيه پيدا کيږی (۲۶۳)
نا اشنا لره هيڅ غم دَ هجران نشته
مکر ځان وخدائے ته پاسلی په امان شي
ګنه بله خوا دَ هيچا امان نشته
هغه يار به زړه وکومه خوا ته غوارم
چه يے هيڅ ځے منزل و مکان نشته (۲۶۴)

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

(۲۶۵)
دلبران که هرځو ډیر دی په جهان کښے
زما یار غوندے دلبر په جهان نشته
چه هم قد لری هم زلفے هم سرے شونډے
دغه هسے رنګ افتاب په اسمان نشته
عشق عاشق لره یو هسے ګلستان دے
(۲۶۶)
چه ئے باغ وته ئے لار دَ خزان نشته
عاشقان په عشق کښے واړه سلطانان دی
په دا ښهر کښے نیستګار او ناتوان نشته
(۲۶۷)
که مجنون غوندے په عشق کښے څوک صادق شی
دَ لیلیٰ په دروازه کښے دربان نشته
دانایان به دَ رحمان په قال پوهیږی
(۲۶۸)
دلته کار دَ هیڅ نااهل و نادان نشته

۲۳،۲۳ ۴۶/۲۰۲ ۹

ق

(۲۶۹)
په دنیا کښے ځ دَ یار دے نورخه نشته
هرچه دے دَ یار دیدار دے نورخه نشته
چه وهجر و وصال ته ئے نظر کړم
یو دوزخ دے بل ګلزار دے نورخه نشته
کارخانه چه دَ دے دهر لیده کیږی
همګی دَ عشق سرکار دے نورخه نشته
هرمژګان ئے په ما هسے چارے کاندی
وایم عین ذوالفقار دے نورخه نشته

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

بویه مرد چه ئې له مخه زلفې واخلی
دغه ګنج دے دغه مار دے نورڅه نشته
دَ مُحسن دَ محسنات صفت به څو کړم (۲۷۰)
کوتاه وایم چه بے شمار دے نورڅه نشته
هرطبیب ته چه ځان وښیئم دا وائی
چه له عشقه دِ ازار دے نورڅه نشته
وهرلورته چه دَ زړه په غوږ وځیر شم
جوړ دَ محبت بازار دے نورڅه نشته (۲۷۱)
خوار رحمان که بے تا مینه په چا وکا
عین دَ قتل سزاوار دے نورڅه نشته

۲۳۳۳ ۲۰۳/۴۷ ۱۰

ق

زړه مے هسے رنګ بیمار دے ستاله درده
چه دَ مرګ په انتظار دے ستاله درده (۲۷۲)
زه یو څه چه لا وخلق وته نظرکړم
همه واړه ګرفتار دے ستاله درده
بلبلانو دَ ګل حُسن بهانه کړه
په چمن کښې ئې چغار دے ستاله درده
دا سرود چه نرم نرم وئیل کاندی (۲۷۳)
فریادی ځنې هرتار دے ستاله درده
دا مجلس (چه) دَ سرود په اوازمست شه (۲۷۴)
اروید لے ئې ګفتار دے ستاله درده

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

و هر لور ته چه د زره په غوږ وځیر شم
د ویشتلیو انګهار دے ستا له درده (۲۷۵)

زه چه اه کړم شین لوګے مے له خولے خیژی
په ګوګل کښے مے انګار دے ستا له درده (۲۷۶)

نشته څوک چه د زره حال ورته ښکاره کړم
هر یو یار له ما ویزار دے ستا له درده

چه هیڅ حال ئے ډګنړون نه معلومیږی
زړۀ مے هسے رنګ افګار دے ستاله درده

د رحمان ناره په څوک اروی دلبره
هغه څوک دے چه وزګار دے ستا له درده (۲۷۷)

۷ ۴۸/۲۰۴ ۲۳۴۰

که زما مینه په تا ده خطا نه ده
که بے تا ده نا روا ده روا نه ده

څوک چه بے د ستا له مخه بل مخ ګوری (۲۷۸)
آئینه ئے ناصفا ده صفا نه ده

هر عاشق چه په خپل یار پسے ژړا کا (۲۷۹)
دا ژړا واړه خندا ده ژړا نه ده

د دنیا په تماشا چه څوک نازیږی
خو هم نن ئے تماشا ده سبا نه ده

که ته څ سل ځله له ما سره جفا کړے
ستا جفا واړه وفا ده جفا نه ده

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

هغه تیر شو چه مے مینه په غلا غلا کړه
اوس په درست جهان رسوا ده په غلا نه ده (۲۸۰)
معشوقه که د خپل سر په بها مومی
و رحمان وته ویړیا ده بها نه ده

۲۳۵۱ $\frac{۴۹}{۲۰۵}$ ۱۱

له اغیار سره خندا څه په کار نه ده
له اغیار سره سودا څه په کار نه ده
سل یاری د یوه یار د پاره کیږی (۲۸۱)
اشنائی د هر اشنا څه په کار نه ده
بد له بدو سره بویه نیک له نیکو (۲۸۲)
د جفا په ځائے وفا څه په کار نه ده
هر بلبل به دِ ثنا کا که ته گل شے
په خپل ځان خپله ثنا څه په کار نه ده
عشق دَ بوئی په څیر په پټه خوله څرگند دے (۲۸۳)
په دا چارو کښے غوغا څه په کار نه ده
د عشق درد واړه عاشق لره راحت دے (۲۸۴)
د دے هسے درد دوا څه په کار نه ده
عاشقی حرص و هوا دی سره لرے
د بیمار په ځان هوا څه په کار نه ده (۲۸۵)
عاشقی نادره چار ده په جهان کښے (۲۸۶)
ولے بے خدایه سودا څه په کار نه ده

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

(۲۸۷)
کہ ئے کړم هم څہ ئے نہ کړمہ سوګند دے
وابستګی د دے دنیا څه پہ کار نہ دہ

(۲۸۸)
د دنیا مینه بے کاره اوریدہ شوہ
چہ مے ولیدہ رښتیا څه پہ کار نہ دہ

(۲۸۹)
که رحمان پہ جهان ډیر پایم دلبره
زندګی زما بے تا څه پہ کار نہ دہ

۲۳۶۲ ۵۰/۲۰۶ ۱۱

چہ مے مینہ خدائے پہ تا باندے پیدا کړه
ترکه ما پہ هغه ورځ خپله رضا کړه
اوس د ستا رضا جفا کړے که وفا کړے
ما د ستا جفا قبوله پہ وفا کړه
ګل پہ لعل و پہ ګوهر کله څوک پیری
(۲۹۰)
بے له ما چه تا خندا کړه ما ژړا کړه
بے له ما چه دستا غم پہ هوس پیرم
(۲۹۱)
کوم وګړے پہ هوس د غم سودا کړه
د وه یاران به دا رنګ نه وی چالیدلی
چه یوه ورته بنکنځل کړه بل دعا کړه
ما و درست جهان تہ شا وتا تہ مخ کړ
تا و درست جهان تہ مخ وما ته شا کړه
نا اشنا د بیلتانه له غمه څه زده
خدائے دغه خواری پہ برخه د اشنا کړه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

عاشقان د یار تر سپیو هم ځاریږی
ګنه ما د رقیبانو څه پروا کړه
هم په دا ئے ترهمایه نام بلند شه
چه قبوله عندلیب د ګل جفا کړه
ډیر هندکی په جهان ګرځی دچا یاد دی
عشق عالی پایه د هیر او د رانجا کړه
زهٔ رحمان چه ستا دحُسن ثناخوان شوم (۲۹۲)
ستاله رویه درست جهان زما ثنا کړه

۲۳۷۷ $\frac{۵۱}{۲۰۷}$ ۱۵

باړ ترِ وجاړ باسه هاله زراعت کړه (۲۹۳)
تقوٰی دار شه هله طمع دجنت کړه
عاقلان په وړاندے ځی په وروستو ګوری
په دنیا کښے سرانجام د اُخرت کړه
سم له لاسه کار هر ګوره ډیر مشکل دے
څو لا نه ئے غریب زیرمه دغربت کړه
چه نورخلق ملامت درباندے وائی
لا پخوا ترخلقو خپسر ملامت کړه (۲۹۴)
چه عقبٰی د دے دنیا په اجر موے
خو هم دا عمارت هلته عمارت کړه
څه به ګورے دقیامت و ورځو شپو ته (۲۹۵)
خوهم داجهان په ځان باندے قیامت کړه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

چه دِ نیک وبد په تله کښې تلل شي
خود پخپله تله واخله عدالت کړه
که لښکرے د حرص دربانده زور شي
سر د ننه په قلعه د قناعت کړه
دا به نه شي چه ستا خپ وي د حق خوي
که حق غواړے ته هم خو په حقیقت کړه (۲۹۶)
هغه زړه چه عرش الله دے ګوره کوم دے
خو دِ توان شي د جمله زړونو خدمت کړه
وړاندني هم واړه ستا په شیر سرې وو
ته هم پاڅه د هغو په شیر همت کړه (۲۹۷)
د دنیا چارے خو کل واړه فاني دي
بارے پورته شه یو بل رنګه حکمت کړه
په طبیب د عاشقانو دارو نه شي
درومه بله خوا دارو د خپل زحمت کړه
خو دِ حق موندلے نه دے بے غم مه شه (۲۹۸)
په دا مرسته جهان واړه لت په لت کړه
اے رحمانه اول ته نصیحت واخله
دغه پسه بیا و بل ته نصیحت کړه

۲۳۸۷ ۵۲/۲۰۸ ۱۰

ساقي پورته شه د میو جام تیار کړه
عمر هیڅ ما تلي نه لري تلوار کړه (۲۹۹)

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

زما ستا په ګلو کړئې هر دم تيغ دے (۳۰۰)
هر نفس د خپل نفس له تيغه ډار کړه
ترخودۍ په هورته بله بلا نشته (۳۰۱)
خادمي د بے خودانو په دربار کړه
دا پينځه ورځے ژوندون چه غنيمت دے
شکرانه په دا نعمت د کردګار کړه
که غم خوار غواړے په غم او په اندوه کښے
بنيبنه ډکه د شرابو اختيار کړه
څو دِ دوه ستر کے غريبۍ په جهان کښے
ننداره په هر ساعت د خپل نګار کړه
هغه څوک دے چه تهمت پر وايه نه شي
غوبږ په هيڅ باندے مه باسه خپل کار کړه
مدعي چه په زړه ورشي هغه وائی (۳۰۲)
ګوش وهوش د محبّانو په ګفتار کړه
بے وفا دی د دے دهر ياران واړه
چه دِ پس له مرګه يار شي هغه يار کړه (۳۰۳)
رحمان وائی د دنيا چارے فاني دی
البته په دا خبره اعتبار کړه

۲۳۹۳ ۵۳/۲۰۹ ـ ۶

هسے يمه ياره ستا په غم تازه
لکه وی هره ګياه په نم تازه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ستر کے وخورم کہ ئے کړم لہ غمہ وچے
کہ مے کیږی پہ ژړا صنم[۳۰۴] تازه
زړه بہ څہ کړم د چا چارے بے لہ یاره
هر سړے پہ خپلہ سا پہ دم تازه
راستوی یو نوے غم زیرے د وصل
رغوی د زړهٔ پرهر مرهم[۳۰۵] تازه
کہ دِ زړه لہ غمہ چوی دلګیرمہ شہ
کاتبان کا پہ چَول قلم تازه
بناشتہ یاران ګلونہ وی رحمانہ
بیلتانہ کړه اکثر مړاوی کم تازه

۲۴۰۱ ۵۴/۲۱۰ ۸

اے زما د زړه ارامہ[۳۰۶] راشہ راشہ
سرو قده ګل اندامہ راشہ راشہ
چہ دا نور خوبان دِ واړه مقتدیان دی[۳۰۷]
د همہ واړو امامہ راشہ راشہ
بے تا نشتہ هیڅ حرمت د عاشقانو
د مشتاقو احترامہ[۳۰۸] راشہ راشہ
خدائے زده بیا بہ هسے وقت وی کہ بہ نہ وی[۳۰۹]
زه ویریږم لہ ایامہ راشہ راشہ
نن هنګام دے کہ وفا کړے کہ جفا کړے
چارے نہ شی بے هنګامہ راشہ راشہ

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دا جهان د مسافرو یو رباط دے
تلهٔ دی تلهٔ دی له دے کرامه راشه راشه
پری رویه فرښته خویه عنبر بویه
سُنبل مُویه لاله فامه راشه راشه
شپه لا پریږده بے تا ورځ را باندے[۳۱۰] شپه شوه
د رحمان ماهِ تمامه راشه راشه

۱۳ ۲۴ ۵۵/۲۱۱ ۱۲

په دنیا کښے له دنیا ګوشه کنار شه
سمندر غوندے په اور کښے ګل عذار شه
پس له مرګه که ژوند غواړے سر ګیاه کړه
په پریکړی سربیانوے مرغزار شه
دا ترخے اوبه به څه کوے د بحر
خود په خپله د ګوهر په څیر ابدار[۳۱۱] شه
بے له خدایه نور د هیچا منت مه کړه
په وُچ کانی باندے ونه د کوهسار شه
که د ونے په څیر ګل و میوه غواړے
ځان په نمر کړه سائبان د هر خاکسار شه
دست په دست که د خپل کار په درستول ئے
لا ترځان وړومبے ولاړ د بل په کار شه[۳۱۲]
که دِ ویره شی له خپلے درماندګیه
د درماندو دستګیری کړه خبردار شه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

که هوا دِ دجنت په خاطر کرځي (۳۱۳)
خاک نشین په استانه دهغه یار شه
که په توره تاریکي کښې رڼا غواړې (۳۱۴)
ننداره چي د یارهٔ زلفو و رخسار شه
که په کار دِ د سرو شونډو شیریني ده (۳۱۵)
دخپل ځان په وینو سور لکه انار شه
که راضي یې چه دِ باغ شي د زړه سبز (۳۱۶)
په ژړا لکه باران د نوبهار شه
د رحمان په عاشقي کښې ستر که وشوې
چه څوک وائي عاشق روند دے هغه خوار شه (۳۱۷)

۲۲ ۲۴ $\frac{۵۶}{۲۱۲}$ ۹

پاڅه یو ځله سیراب دعشق په جام شه
په ساغر د ماه و مهر دے آشام شه (۳۱۸)
له اوله بندګي بیا آزادي ده
که مقصود د آزادۍ لرے غلام شه
د صیاد له وحشتو نو خپسر خلاص کړه (۳۱۹)
لکه مرغ خانګي په خپله رام شه
ژوندے ځان په زمکه ښخ کړه لکه تخم
که لوئي غواړے د خاورو په مقام شه
درست جهان د کمینیه په خوی وخوره
لکه زمکه هسے لاندے تر اقدام شه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

په نیستۍ کښې د هستۍ مرتبه ګوره
ند ارچې په ویرانه کښې د خپل بام شه [۳۲۰]
و دښمن ته عیب خپل په خپله وائې
ځان ښخوا ترمرګه ووژنه مدام شه [۳۲۱]
په مستانو کښې د عقل ښښتن غل دے
که په نورو خلقو خاص ئې دلته عام شه
اے رحمانه د بلبلو لفظ زده کړه
دغه پسه په صفت د ګل اندام شه [۳۲۲]

۲۴۳۲ ۵۷/۲۱۳ ۱۰

په امید د کانده ورځے زړهٔ ورمه شه
نقد نسیا ځبله بیل کړه اوترمه شه [۳۲۳]
په امید امید ئې خلق نا امید کړهٔ
د فلک له رهزنۍ بے خبرمه شه [۳۲۴]
د دنیا بادشاهان خواست کا له فقراوٗ
ته بادشاه د هسے ملک ئې خواستګرمه شه
د همائې په ښير طعمه کړه وچ هډوکی
لکه مچ طالب د شهد و شکرمه شه
ځان صدف غوندے وخاورو ته کړه ښیرمه
لکه ځګ هسے د بحر په سرمه شه
ډیر عزیز دی موم دِلان ترسنګدِلانو
یو ښخوئیکے شه د اوښیو ګوهرمه شه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

(۳۲۵)
حیوانات هم په تسبیح د خدائے مشغول دی
ته انسان ئے تر حیوانه بتر مه شه
نفس شیطان سره وکفر ته و باسي
(۳۲۶)
رحم فهم په ځان وکړه کافر مه شه ق
(۳۲۷)
تپ رانده دی عاشقان د یار له عیبه
ته تپ روند د هغه یار په هنر مه شه
دغه ځائے د بیدلانو دے رحمانه
د دلبرو په کوځه دلاور مه شه

۱۰ ۵۸/۲۱۴ ۲۴۴۲

د دنیا د سود د پاره غمګین مه شه
(۳۲۸)
غم د دین او د ایمان کړه بے دین مه شه
هر ګره ګره کشائے لری کم بخته
نا امید له خدایه غوټه جبین مه شه
ډیر خفت دے دارنده چه دانه چین شی
خو دِ آب و دانه شته دانه چین مه شه
هر مرغه چه د بل غوښے خوری مردار دے
(۳۲۹)
ځان حلال کړه لکه زانه شاهین مه شه
د ذرے په څیر افتاب په طلب خپل کړه
لکه تیره هسے پروت په زمین مه شه
کار په تش لستونی نه کیږی بے لاسه
(۳۳۰)
لاس په ږیره کړه بے لاسه استین مه شه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

عاشقي او خودبیني دی سره لرے [۳۳۱]
که مطلب دِ عاشقي وی خودبین مه شه
په خپل کور کښے دِ سفر دے که پوهیږے
مسافر د هندوستان او د چین مه شه
خپل تابوت در ته ولاړ زین کړے اس دے [۳۳۲]
ته په زیرمه د بل اس او د زین مه شه
چه تقوٰی دیانت نه لری رحمانه
د دے هسے هم نشین هم نشین مه شه [۳۳۳]

۲۴۵۲ ۵۹/۲۱۵ ۱۰

هر ساعت چه مے ګذران دے بے مخلصه
هزار بار ارمان دے بے مخلصه [۳۳۴]
که څوک وائی چه له ځان شیرین څه نشته [۳۳۵]
ولے ما ته ځان تاوان دے بے مخلصه
لکه شمع په ورځ مرمه د شپے سوزم [۳۳۶]
تمام عمر مے نقصان دے بے مخلصه
په بلبل کله بهار کله خزان وی
په ما کل سره خزان دے بے مخلصه [۳۳۷]
که شبنم هیش د نور راباندے ووری
په ما کانے د اسمان دے بے مخلصه
ډیر غمونه مے د هجر ترسر تیر دی [۳۳۸]
اوس یو دم راباندے ګران دے بے مخلصه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

د اشنا د مینے اور وماته ګل دے
ګل د اور په دود سوزان دے بے مخلصه
په وصال کښے مے نه مرګ لیده نه تبه
اوس مے مرګ په هر زمان دے بے مخلصه
زه حیران د هغو خلقو په روزګار یم
چه زیستن ورته اسان دے بے مخلصه (۳۳۹)
د رحمان د زړه دمه په هیڅ نه شی
مسافر غوندے حیران دے بے مخلصه

۲۴۶۹ $\frac{۶۰}{۲۱۶}$ ۱۷

که یوځل مے هغه جان ولید ے دریغه
سرفراز مے سرګردان ولیدے دریغه (۳۴۰)
چه د تمام جهان عقل غلبیل کړی
ریز مریز مے ئے پیکان ولیدے دریغه (۳۴۱)
د وجود ګلزار ئے درست سره اغزی شو
خارستان مے باغستان ولیدے دریغه
روغ صورت لکه بادشاه وصحت تخت دے
ناست په تخت شاهجهان ولیدے دریغه (۳۴۲)
د تن ښهر ئے خرابه خرابی شوه
بیا مے دا خراب ودان ولیدے دریغه
لکه زه چه له دے خلقه ګریزان یم
رنځ مے هسے ګریزان ولیدے دریغه (۳۴۳)

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دا سبق راته تعلیم شکستګی کړ
چه روغ کار شکستګان ولیدے دریغه (۳۴۴)
سخت ساعت زمکه اسمان راته یکسان کړه
فراق زمکے او اسمان ولیدے دریغه (۳۴۵)
وَ دے خپلے حیرانۍ وته حیران یم
چرے خو وے صورت شادان ولیدے دریغه (۳۴۶)
د قرآن او د حدیث په کتو بنه شوے
بیا په لاس حدیث قران ولیدے دریغه
چه زما زحمت پیغور کنی و ماته
ما هغه د ځان په شان ولیدے دریغه
خپل یاران مے له زحمته په ژړا دی
ما دغه یاران خندان ولیدے دریغه
د اشنا زلفے مے ونیوے په لاس کښے
بندی لار د هندوستان ولیدے دریغه (۳۴۷)
صبح و شام مے ګدائی دیار د در کړے
په دا کار مے ځان سهمان ولیدے دریغه (۳۴۸)
درخانۍ د ادم خان په ارمان لاړه
لرے ما له زړه ارمان ولیدے دریغه (۳۴۹)
مخامخ مے ګفتګوے له یار سره کړے
ربه ما دِ دا احسان ولیدے دریغه (۳۵۰)
چه خطا دِ واړه عفوه کا رحمانه
یار د هسے مهربان ولیدے دریغه (۳۵۱)

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

۵ ۶۱/۲۱۷ ۲۴۷۴

اعتبار به په دنیا کوے ترکومه
دا رفتار به پسِ شا کوے ترکومه
څو به پټ له مرګه کړے سپینه ږیره
په روښانه ورځ به غلا کوے ترکومه
چه د دهر له یارانو وفا غواړے
صیادي به د عنقا کوے ترکومه
د پیرۍ علاج په ډانګ په لوړه نه شي
دغه کار به په عصا کوے ترکومه
ته چه پند وائے ناصحه ورحمان ته
شکایت به د قضا کوے ترکومه (۳۵۲)

۱۰ ۶۲/۲۱۸ ۲۴۸۴

ق

هر چه خپلے مینے خوار کړ خوارئے مه کڼه
عشق د رحمت ابر دے غبارئے مه کڼه (۳۵۳)
کله تور سنبل کله تور مښک کله عنبر شي
زلفے که د مار په څیر دي مارئے مه کڼه
یو مخ ئے د سوزه دے سل مخه ئے د ساز دي (۳۵۴)
عشق په اصل نار دے ولے نارئے مه کڼه
ډیر بیدار وو د ه وي لکه بُت په غټو سترګو
بُت که د رته غټ کوري بیدارئے مه کڼه

ځرادخوبو اثر دے دخوبانو له رخساره
هرچه اثر نه لري رخسار ئے مه ګڼه (۳۵۵)
خارچه په کل پورے وي دګلو په حساب دے
څه شوکه ئے نوم دخار دے خار ئے مه ګڼه (۳۵۶)
یوه خلق هغه دي چه اقرار په ناپوهي کا
هرچه ځان هوښیار ګڼي هوښیار ئے مه ګڼه (۳۵۷)
بدخو هم هغه وي چه خپل بد ورځ ګندنوي
هرچه ځان بدکار ګڼي بدکار ئے مه ګڼه
هرچا چه اقرار د یار له زلفو سره وکړ
تل به ناقرار وي په قرار ئے مه ګڼه
هرچه کمال غواړي کمیني دِ کا رحمانه (۳۵۸)
عین دغه چار ده بله چار ئے مه ګڼه

۲۵۰۱ ۶۳/۲۱۹ ۱۷

بیا دِ مخ دے جارو تلے څه بلا شوه
دا بلا له کومه لوریه راپیدا شوه
ورځ چه واوري دغه هسے نه وي څه وي
لکه نن چه دخپل یار وماته شا شوه (۳۵۹)
دا زما په یار ګښے مهر وفا نشته
که دنیا واړه بے مهره بے وفا شوه
چه ئے هیڅ له خدایه ترس او ویره نه شي
په نصیب مے یوه هسے دلربا شوه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

چه وحُسن ته ئے گورم حیرانیږم
راخرګندهٔ یوه هسے تماشا شوه
څه دحد او دحساب خبره نه ده
بے صبری مے ترحساب په هغه خواشوه
قراری مے په طلب کښے شوه حرامه
بے غمی مے په مذهب کښے ناروا شوه
چه راکښلے مے پر غشے د دُعا وو
هغه نخښه مے ونه ویشته خطا شوه
لکه پُوچ بادام بے مغزه بے حاصله
هسے پوچه بے حاصله مے دُعا شوه
عاشقی چه مے له خلقو په غلا غلا کړه (۳۶۰)
هغه غلا مے په تمام جهان رسوا شوه
څه بهره به له نسیاؤ ماله موم (۳۶۱)
چه مے نقده په ورغوی کښے نسیا شوه
در دَ بیرته جار وتو شه رانه پورے
په نصیب مے بله نه وه داوه دا شوه (۳۶۲)
یوه بخره هر سړی لره خدائے ورکړه
زما برخه اشنائی د خپل اشنا شوه (۳۶۳)
د تدبیر په دام به څه شکله کښیوځی (۳۶۴)
معشوقه چه مے په مثل دعنقا شوه
چه ئے زر کړه زیړ رخسار زما دخاورو
عاشقی نه وه په باب زما کیمیا شوه (۳۶۵)

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

څه حکمت د یار په مینه کښې خدائ کښېښو
چه عاشق لره هم دردشه هم دواشوه (۳۶۶)
دا باران نه دے چه ووری له اسمانه
د مرغانو په رحمان باندے ژړا شوه (۳۶۷)

۲۵۰۹ ۸ ۶۴/۲۲۰

په حالت د عاشقانو نظر بویه
په زیارت د شهیدانو گذر بویه
بے مرشده خبرخوک د مرید (۳۶۸) اخلی
غوځ په غم د فرزندانو پدر بویه
بے ریباره رسیده و یارته گران دی
په کوڅه د مهرویانو رهبر بویه
بے هنره چا دولت موندلے نه دے
په خدمت د صاحبانو هنر بویه
ستا له سترگو هر کوره ملازه (۳۶۹) شی
له دے هسے سیاه دلانو حذر بویه
ښه چه ستر کے خدائے ملا کړے د ترکو
لږ په زړه د ظالمانو اثر بویه
ستا په داغ به هریو زړه مشرف نه شی
دغه تاج د بزرگانو په سر بویه (۳۷۰)
چه خبر د رحمان نه اخلی یار بد (۳۷۱) کا
بادشاهان له گدایانو خبر بویه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

۶

۲۵۲۰ ۱/۲۲۱ ۱۱

ګاه په غارمه سوزے کښے ریږدے په ساړهٔ
کله مرے له لوږے کله مرے په ډیرخواړهٔ[۱]
واړهٔ په غوغا دی چه راغلی په دنیا دی
نه ئے هغه وږی په قرار دی نه ماړهٔ
کله لاس په سرځبله کیږدی تواضع کا
کله وبله کیږدی لاس په توره په چاړهٔ[۲]
خاورے د آدمؑ چه خمیره کړے فرښتګانو
درست ئے په غمونو په دردونو ولاړهٔ[۳]
څه شو که څوک نن ساعت واهه شی یا تاړه شی
پیښ به شی هغه هم په واهه هم په تاړهٔ[۴]
څوبه وی تندرسته دا زمونږه بناسسته
زهٔ ئے درمانده یم په پښتی په اخاړهٔ ق
ښائی که څوک پس له مرګه خاندی په لحد کښے
هرچا چه په دا ژوندون کښے خیسروژاړهٔ
وینم واړه تلونی هیڅوک نه دی پاتوشونی
یُون دے په دا لارے هم دځوان هم د زاړهٔ
زلفے د دلداردی چه هرڅوک ئے طلبګاردی
لوئے دی که هلک دی که غټان دی که واړهٔ
سخ د هغه چا دے چه په در کښے ئے قبول شی
زار د هغه چا دے چه له دره[۵] ئے شاړهٔ

ماعبدالرحمان غونډے خواب کړ ورته سلو
خدائے خبر چه کوم یو هغے ترکے ولاړه (۶)

ق ۲۵۲۷ $\frac{۲}{۲۲۲}$ ۷

اول زړه زهیرول مینه د یار څهٔ
بیا له مینے جاروتل په لړه چار څهٔ (۷)
معشوقه چه دعاشق په مرګ راضی شي
وعاشق وته خفګان په هسے کار څهٔ (۸)
چه رضا دخپل اشنا په رضا کیږدی (۹)
بیا په دا اختیار د پاسه بل اختیار څهٔ
چه وچا وته رضا په ګمراهی شي
د مسجد د میخانے ترمیانه لار څهٔ
ته څه ځان د مسلمان په نامه بولے (۱۰)
چه په خوله دِ کلیمه په زړه کفار څهٔ
د ریا له عبادته استغفار کړه
چه وخلق وته تسبیح، منم زنار څهٔ
یار بے نیاز دے اے عبدالرحمانهٔ (۱۱)
بادشاهان ئے خاکِ پائے کړه پاتوخوار څهٔ

۲۵۳۷ $\frac{۳}{۲۲۳}$ ۱۰

که څه وایم له هجرانه وایم څهٔ
له دے درده بے درمانه وایم څهٔ (۱۲)

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

توان د دم وهلو نه لرم ویار نه
چه توان نه لرم بے توانه وایم څهٔ
چه ئے ووینم له ځانه خبر نه یم
چه خبر نه یم له ځانه وایم څهٔ
د خپل زړه له حاله هیڅ راوئیل نه شی
له بے نامه بے نښانه وایم څهٔ
د عشق راز چه هیچانه دے بیان کړے (۱۳)
ترو به زهٔ له دے بیانه وایم څهٔ
د خپل یار له غمه درست په اوښیو ډوب یم (۱۴)
له دے هسے رنګ طوفانه وایم څهٔ
زهٔ چه پروت یم د هجران په تناره کښے
د وصال له ګلستانه وایم څهٔ
سرومال د سرے لوټ کا زړه ئے بوسی (۱۵)
له دے هسے دِلستانه وایم څهٔ
زاغان بولی بلبلان شړی له باغه
د دے دهر له باغبانه وایم څهٔ
هر چه وایم تر همه وارو بهتر دے
زهٔ رحمان به له جانانه وایم (۱۶) څهٔ

•

۲۵۴۵ $\frac{۴}{۲۲۴}$ ۸

ولے نه ګورے وماته سم په څهٔ
زیاتوے د غمزده وُ غم په څهٔ

ستنا په غم کښې چه ما وینې عالم ژاړی
ژړوے راسره نور عالم (۱۷) په څهٔ
په مطلب دِ د سرو شونډو نه پوهیږم
چه مے وینے د زړه څښی هر دم په څهٔ
وَ دِ مے خپلو مستو سترګو ته دِ وایهٔ (۱۸)
چه ورژنی مے قلم قلم په څهٔ
ستمګار چه ستم کاندی څه بهنه کا (۱۹)
ته په ما باندے کوے ستم په څهٔ
مه کړه خدائے چه څوک بے یاره خوښ خرم وی
زهٔ به وُسم بے تا خوښ خرم په څهٔ
زهٔ رحمان پخپله کرم یم چه مینِ شوم
دغه نور عالم مے بولی کرم په (۲۰) څهٔ
لرِ ئے وُپښته چه حال ئے د زړه څه دے (۲۱)
د رحمان له سترګو څاڅی نم په څهٔ

۲۵۵۲ ۵/۲۲۵ ۷

ولے تللے ئے له ما مدام په څهٔ
ترهیدلے ئے هر صبح وشام په څهٔ
زهٔ هر صبح وشام دعا کوم و تا ته
ته وما وته کوے دشنام (۲۲) په څهٔ
همیشه لکه وحشی په وحشت ګرځے
یو ساعت راسره نه ئے رام (۲۳) په څهٔ

دائمًا را ځخه دروے مخ په وړاندے (۲۴)
لکه عُمر بیرته نه بړدے کام په ځۀ
راته وایه زړه به هم هغه کومه (۲۵)
رقیبانو ته بخښے انعام په ځۀ
لږ پرهیزکړه له رقیبه دخدائے روئے دے (۲۶)
کړ وے سره حلال حرام په ځۀ
رحمان ستا په مخ بے ځنبو هم میڼ دے (۲۷)
بیهوده دِ ورته کښیښو دام په ځۀ

۹ ۶/۲۲۶ ۲۵۶۱

چه غرقاب شی ترمژګان په یم د زړهٔ
نورخراب شی خانمان په نم (۲۸) د زړهٔ
عبث وائے غم د زړه و بوالهوس ته
ځه پوهیږی هلکان په غم د زړهٔ
په بل مخ باندے سوا د یار له مخه
ما تړلی دی چشمان محکم د زړهٔ
چه ئے عرش وکرسی لاندے دی ترسیوری
بالا تر دے هسے شان عَلَم (۲۹) د زړهٔ
دخلیلؑ ترکعبے دا کعبه ده لویه
که اباد کاځوک ویران حرم د زړهٔ
که نورخلق قدمونه ږدی په زمکه
ما دے ږدے په اسمان قدم د زړهٔ

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دا مکان چه د اسمان زمکے ترمیان دے
یو خلوت دے دا مکان سلم د زړهٔ [30]
زهٔ مَلهَم د زړهٔ له چا غوارم بے خدایه
چه کړے نه شی طبیبان مَلهَم د زړهٔ [31]
صورتی همدمان ډیر دی په جهان کښے
ولے نه موی رحمان همدم د زړهٔ [32]

۲۵۷۳ ۱۲ ۷/۲۲۷

نه یم خوښ د سروکلونو په سایا زهٔ
خوښ یم ستا د مخ په اور باندے جلیا زهٔ
په اُور سوے ښهر وران وی څه حکمت دے
سوے ستا د مخ په اور یمه بسیا زهٔ
خپلوم به دِ په هر رنګ چه خپلیږے
که دِ موم په دروغه په رښتیا زهٔ [33]
نن راغلی په جهان یُو که دیدن کړے
نه به ته په جهان راشے نه به بیا زهٔ
دا وړدے وعدے چه ته کوے منم ئے [34]
کشکے بیاموم فرصت په دا دنیا زهٔ
په تبرونو دِ زهٔ درست ذرے ذرے وے
خو یو دم نه وے له خپل یاره جدا زهٔ [35] ق
چه له ډیرے حیا نه ګورے و ما ته
غوښ غوښ وړے یمه ستا ډیرے حیا زهٔ [36]

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

چه له غمه له اندوهه دِ مړ نه یم
سنګ آهن یمه آدم نه یم ګویا زهٔ
که جوړه تلے ځوک وقبر ونه دریغه
ژاړم دا چه یا به ته نه ئے او یا زهٔ
هیشه دخپلو اوښیو له سیلابه
سرګردان یم تر فلکه تر آسیا زهٔ
که ځوک قیاس زما د ډیرو اوښیو وکا (۳۷)
هسے ګرځم لکه خس پاس په دریا زهٔ
زهٔ رحمان د یار ثنا کوے نه شم (۳۸)
کشکے مه وے په جهان کښے څه ګویا زهٔ

۲۵۸۳ $\frac{۸}{۲۲۸}$ ۱۰

په دوران مے هسے رنګ دلبر پیدا شهٔ
ګویا بل د نمر د پاسه نمر پیدا شهٔ
یا طالع د زمانے یا بخت زما وو
چه دا هسے رنګ شیرین بشر پیدا شهٔ (۳۹)
چه قاصد د ورک یوسفٔ زیرے پروکړ
د یعقوبٔ د سترګو بیا نظر پیدا شهٔ
عشق دے دا که یو فساد دے نه پوهیږم
په جهان کښے چه دا شور و شر پیدا شهٔ
دریغه نخل د عشق مه وے زرغون شوے (۴۰)
چه له ښاخه ئے د غم ثمر پیدا شهٔ

ملائک دعشق له غمه څه خبر دی
خو هم ما لره دا سخت سفر پیدا شهٔ
یو د ترکو بے نیازی بل عاشقی شوه
په پرهر باندے مے بل پرهر پیدا شهٔ
د نااهل زویه پلار به څه ښادی[۴۱] کا
چه له پشته ئے لئیم پسر پیدا شهٔ
بیا به روغ د عاشقی له رنځه نه شی
په هر تن کښے چه دغم اثر پیدا[۴۲] شهٔ
چه هنرعیب کوی عیب هنر[۴۳] کا
د رحمان په دور دا هنر پیدا شهٔ

۲۵۹۰ ۹/۲۲۹ ۷

بیا مے زړه د تورو زلفو مسخر شهٔ
چپ و راست مے دحبشو تور لښکر[۴۴] شهٔ
هر طرف مے د دعا غشی گوزار کړه
ولے یو هم هسے نه وو چه کارگر شهٔ
وَهر لوری ته چه غوږ باسم غوغا ده
یا نارے د بیلتانه دی یا محشر[۴۵] شهٔ
واعظان خو وعظ کاندی بارے څه کا
چه دعشق په لیونیو ئے گذر شهٔ
چه پدر غوندے ئے ماته نصیحت[۴۶] کړه
په دیدن د ستا هغه زما پسر شهٔ

ستنا په در کښې چه پراته دی نیک بختان دی
چه د ستا له دره ووت در په در شه (۴۷)

د عشق زخم به څوک څه کنډی رحمانه
چه کنډ ون ئے په پرهر باندے پرهر شه (۴۸)

۸ ۱۰/۲۳۰ ۲۵۹۸

چه نصیب ئے سینه چاکه زړه افگار شه (۴۹)
جرس څکه په فریاد او په چغار شه
چه ندا د عاشقۍ په عاشق وشوه
د غفلت له خوبه پاڅیده بیدار شه
عبادت د ریا کار څه په کار نه دے (۵۰)
لکه غوک هسے په بحر کښې مردار شه
د جاهل زهد په زهد حساب نه دے
لکه مال په خمر و خرڅ د خمر خوار شه (۵۱)
مشقت د نادانانو واړه پوچ دے
لکه بے بارانه ابر تش غبار شه
علمیت د بے عملو عالمانو
لکه گنج د کتابونو په خره بار شه (۵۲)
چه ئے کاندی و نا اهل و ناقابل ته (۵۳)
نصیحت د ناصحانو کوم په کار شه
د رحمان کلام په غور د بے هنرو
لکه دُر په لاس د طفل هسے خوار شه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

۷ ۱۱/۲۳۱ ۲۶۰۶

هیڅ مے نۀ زده نۀ پوهیږم داڅۀ پیڅ[۵۴] شهٔ
چه دلدار مے داغیار پۀ شکل څیرشهٔ
زمانه مے د رقیب له لاسه وژنی
چه مے سپے کانۀ هغۀ راباندے شیرشهٔ
د هجران غمونو هسے په عذاب کړم
هغۀ عمر چه مے لږ کانۀ اوس ډیرشهٔ
[۵۵] چه په تیغ مے لوبے کړے سزا مے دا ده
ښۀ چه غوښ مے زړه د ترکو پۀ شمشیرشهٔ
تیرساعت به د هیڅا پۀ لاس کښینوځی
اوس به څۀ وایُم وچا وته چه تیر[۵۶] شهٔ
چه مے نوشه د هجران پیاله کړه تلخه
د وصال لذت مے کل زهروکنډیر[۵۷] شهٔ
[۵۸] چه ئے نه په وفا یادنه پۀ جفا وی
سکه رحمان د هغۀ یار له دله هیر شه

۱۷ ۱۲/۲۳۲ ۲۶۲۲

✓ چه لۀ سترګو مے خوناب د زړه عیان شهٔ
له نظره مے هرسنګ دُرومرجان[۵۹] شهٔ
[۶۰] خراب زړه چه مے ژړل د یار لۀ غمهٔ
بیا پۀ اجرد هغے ژړا خندان شهٔ

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

و غښونو مے میوه د بنادی وکړه
ق ځ په پورته مے د غم لښتے روان[۶۱] شۀ
کبینیه له جمله افته خلاص کړم[۶۲]
لکه خاورے د ښمنو په چشمان شۀ
د غصے زهر مے شهد شو له صبره
د خلیلؑ په دود آتش را ګلستان[۶۳] شۀ
عشق یو داد دے په عاشق باندے له خدایه
هسے نه چه وهرچا وته عیان شۀ
چه په ژوند ئے اشنائی وشوه له مرګه
ق د قیامت ساعت پر تیر په دا جهان[۶۴] شۀ
چه د یار زلفے رخسارئے په زړه نقش شو
خپل خلوت ئے هندوستان هم خراسان شۀ
د مکے حاجیان څه واړه حاجیان نه دی
ق جوړ بازار په مُفلسانو کوهستان[۶۵] شۀ
د رنځور علاج ترخه ترخه دارو وی
دغه درد دے چه هم درد شه هم درمان[۶۶] شۀ
چه د ستا د خولو بوی ورباندے[۶۷] راغے
د عطار په ځ د اوښیو رود روان شۀ
عشق د یار په رانه وچولی ولجه دے
ق خو چه وچولے ئے غوټه کړ تاوان[۶۸] شۀ
علامت د استغنا به ئے څرګند وی
هغه ځوک چه تیر تر ځان و ترجهان شۀ

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

د ګريوان په چاکول ئے څه لا رغه وی
چه ئے څيرې ورو مې چاک تر ګريوان شهٔ (۶۹)
نادانان به د دنيا غمونه کاندی
مرد هغه دے چه په زيرمه د خپل ځان شهٔ (۷۰)
نښانه د نادانيهٔ نوره څه وی
چه سړے په خپل کردار باندے پښيمان شهٔ
ادميت څه په دولت نه دے رحمانه
بُت که روغ دے د سرو زرو نهٔ انسان شهٔ (۷۱)

۲۴۳۰ ۱۳/۲۳۳ ۸

که په عقل پسے لاړم په کار نه شهٔ
که له بخته مے ياری غوښته يار نه شهٔ
غرونه غرونه خوب په څاڅکی او به تښتی (۷۲)
يار په سيند زما د اوښيو بيدار نه شهٔ
معلوميږی زه کم بخت د درست جهان يم (۷۳)
چه د درست جهان دلدار زمے دلدار نه شهٔ
ما غندی او رقيب ستائی طالع ګوره
چه سړے ورته د سپی په مقدار نه شهٔ
که ئے سل ځله اقرار راسره وکړ
دا زما ناقرار زړه په قرار نه شهٔ
بے غمونو چه ئے وخوړه يو ځله
په دنيا کښے مے بل هيڅوک غم خوار نه شهٔ (۷۴)

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

که مے سل نصیحتونه و زړه ورکړه
هغه خدائے بے لارے کړے په لار نه شهٔ(۷۵)
سهل کار دے که رحمان په زړهٔ ازار شوم(۷۶)
چه خاطر د هغے مستے ازار نه شهٔ

ی

۲۶۷۶ ۱/۲۳۴ ۴۶

چه پخته شي اشنائي
ترمیان ووځي جدائي

وطالب وته وفاشي
د مطلوب بے وفائي

بادشاهي کاندي بدله
د دیدن په ګدائي

خاني پلوري په وریشه
مرزائي په میزرائي

نظر نه کاندي هیچرے
په لوئ په بډائي

ورته کفر څرګندیږي
خودبیني او خودرائي(۱)

خودرائي په عاشقي کښے
له عاشقه نه ښائي

معشوقے که بے وفا دي
عاشقان خوئے ستائي(۲)

غوږ ئے کړ ستر کے ړندے وي(۳)
د خپل یار په خطائي

که ئے کړي وي سل علمه
هم دیني هم دنیائي

همه واړه فراموش کا
چه پرے ورشي شیدائي

و مطلب ته نه رسیږي
په شیخي په ملائي

اواره ننګ و ناموس کا
په سر واخلي رسوائي

نر ناموس شي ورته بهه
بے ننګي او بے نوائي(۴)

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

هره چارئ په اخلاص وی   نه په روی او ریائی
قبلوی په دواړو سترګو   هرچه یار پر فرمائی (٥)
نصیحت پر اثر نه کا   که څوک سل ځله وائي
فائده نه لری په عشق کښې   د دانا و دانائی
دغه کار کولے نه شی   هر کم فهم کجائی
مشکل کار د عاشقی دے   اسان چرے دے بائی
هر کم بخت ئے کله مومی   د دلبرو همتائی
څه په کسب موقوف نه دے   دغه کار دے عطائی
چه د عشق په لومه کښیوځی   نور ئے نه وی رهائی
بے د یار له مخه نه شی   د عاشق دل کشائی
دخپل یار په طلب ګرځی   غاړے غړونه پیمائی
له عالمه وی وتلے   لکه صیدِ صحرائی
تل تر تله ئے وطن وی   ګوشه کنج وتنهائی (٦)
مدام سوے لوغړن وی   دخپل اه په ګرمائی
هر زمان ئے په اور نسی   د خپل یار تمنائی
نه ئے ملک او نه ئے مال وی (٧)   نه ئے زهد پارسائی
په دا هسے ګرانو چارو   معشوقه ئے ازمائی
په یوه دیدن ئے یوسی   د درست عمر کمائی
ما هم هسے رنګه وژنی   یاره ستا بے وفائی
چه له زړه کړم زړه مے چوی   دغه ستا خودنمائی
هم خودی لرے بے قیاسه   هم د حُسن زیبائی
ضرر نه لری بے نفعے   ستا د مینے سودائی

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ستاسو دا مالره سود دہ — حق به وایم خدائی
په هیڅ مخ کښے لیدہ نه شی — ستا د حُسن صفائی
نمر به څه له تا سیالی کا (۸) — په دا بے سر و پائی
د راک نه رسی د سرو ے — ستا د قد په رعنائی (۹)
لکه ستا چه قد بالا دے — نشته هسے (۱۰) بالائی
که د ستا وصال دریاب دے — زه مهے یم دریائی
د مکسو زندگی (۱۱) دہ — په دکان د حلوائی
زه طوطا شکر پرست یم — د ستا شونډے متهائی (۱۲)
دا گمان په رحمان مه کړه — چه بے تا به وپائی
په پښتو کښے رحمان و وے — په فارسی کښے سنائی (۱۳)

ق

۲۶۸۲ ۲/۲۳۵ ۶

ق

باد د لاس په پلو کښنو څره ریږدی
گل د مخ وته نظر کا خولے پریږدی (۱۴)
له هجرانه څه نه غواړمه عالمه
بد د هجران دے ما د دے په قرار پریږدی
د چمن گلونه واړه تر قربان شی
محبوبا چه د چمن په گلو پښے ږدی (۱۵)
د تولی په منځ کښے دروهی لکه بطه
په قران قران راځی په زړو نو لیږدی
په خمارو سترګو بیا مړانه وکړی (۱۶)
چه له نازے کړی راپورته بیا ئے کیږدی

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دا غزل په حاشیه وکښه رحمانه
د خوشحال د بیاض پاڼے به وُریږدي

۲۶۹۲ ۱۰ ۳/۲۳۶

عاشقي رابانده سیورے کړه مرۍ
هیڅ مے نه دروځي بے یاره تر مرۍ (۱۷)
څه اثر به ئے د عقل وي په سر کښے
د هغو چه په سرکښیني ښاپیرۍ
د مژګانو په پنجو مے زړه راکاږي (۱۸)
خدائے د ترکو برند مے سترګے کړے مزرۍ
علوفه به ئے بے غمه نور څه نه وي (۱۹)
هر چه کاندي د خوبانو چاکرۍ
لږ د صبر سبق ما لره هم راکړئ
که په عشق کښے څوک د غه طاقت لرئ
خدائے د عشق د پهره دارو په لاس ورکړم
شپه او ورځ مے غږوي لکه توُرۍ (۲۰)
په صورت مے نرۍ تبه شوه ولاړه
تا چه د واړه سترګے تورے کړے نرۍ (۲۱)
د وصال دلالان چرته غواړم خدایه
مدام بند شوم د هجران په کچرۍ (۲۲)
نوُر د شمعے په فانوس کله پټیږي
تا چه واغوستے د خیال جامے نرۍ (۲۳)

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

زۀ رحمان په زړۀ نرے کړم هغوجونو
چه ئے ملا دۀ د ویښته په دود نرۍ (۲۴)

۲۷۰۱ ۹ ۴/۲۳۷ ۹

که له تائے شرم نه کیدے مهرۍ
مخ به پټ نه وو د حورو د پرۍ (۲۵)
چه افتاب دِ تر رخسار پورے خجل شه
له دے ویرے زیست په شپه کا قمرۍ (۲۶)
ستا تر حُسنه پورے حُسن وارۀ هیڅ دے
نیست به څه له هستو کا برابرۍ
بے د ستا له تورو سترګو جادوګرو
کوم اهو د بیابان زده دی دم ګرۍ
ستا د عشق د تورے هسے رنګه اب دے
چه له مخه ئے حباب دی ککرۍ
حُسن وارۀ د عاشق په عشق موقوف دے
معشوقه که فرښته وی که پیرۍ (۲۷)
دلبرۍ او دلجوۍ لکه چه تا زده (۲۸)
چا زده هسے دلجوۍ او دلبرۍ
وعاشق ته دیارغم وارۀ بنادی ده
د رضا په ملک کښے نشته دلګیریه
دا دستور دے چه له درده زبیر کے خیژۍ (۲۹)
ګنه څه وو د رحمان له شاعرۍ

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

۲۷۰۹ ۵/۲۳۸ ۸

ستاد تورو زلفو په یاداشت مے سترګے ووری (۳۰)
حق دی چه پریوځی په شبرات دعمر ستوری
زلفے دِ سایه کړے مخ دِ اُور راباندے ووری
اُور دے که وریځ ده نه پوهیږمه په سیوری (۳۱) ق
زلفے دِ سایه کړے مخ دِ اور په جهان بل کړ
هرچا ته چه کورم نیم په نمر وی نیم په سیوری (۳۲)
اُورستاد رخسار په مادے خپلو سترګو (۳۳) بل کړ
تل په آتش سوزی آئینه چه نمر ته ګوری
سترګے مے دستاله خیاله پریوتے وزره ته
څه شوکه بے سترګو صورت دروړی په بل لوری
ګاه و رقیبانو ته نظر کړے ګاه و ماته
ستا باران د مهر په بنو بد و یکسان ووری
یو اصل دے خوګ قند و نبات شوک ځګر خون خوری (۳۴)
خال ستا د لبانو او زما د سترګو توری
ځان په مستو سترګو باندے مه غلوه رحمانه (۳۵)
د امستان هوښیار دی له حکمته سره بنوری

۲۷۲۱ ۶/۲۳۹ ۱۲

د نمر مخ چه ستاله مخه نه شرمیږی
ترو دا رنګ ئے ولے زیړ زرغون ښکاریږی (۳۶)

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دا سپوږمۍ چه نه ے سرشته نه ئے پښے شته
په کوم حُسن به له تا سره سمیږی (۳۷)
زړه مے یو وړستا د مخ په رڼا زلفو
بار ے غل په سپین سبا کله پټیږی
ستا د زلفو د ابرویو له دهشته
هسکی لړم ماران دی چه ویریږی (۳۸)
مخ دِ اوُر خط دِ سبزه دے زه حیران یم (۳۹)
چه سبزه په اوُر کښے څنګه زرغونیږی
اور اوبه سره چا کړ لیدلی نه دی
دا قدرت دے ستا په لبو کښے نمائیږی (۴۰)
لکه لوند زړوکے تاؤ کړے نو ئے ووځی
ستا له غمه مے رنګ زیر پوست ے وچیږی
سپوږمۍ هم دا هسے تاؤخوری ستا له مخه
چه په هره میاشت کښے دوه دوه نیمه کیږی (۴۱)
که قامت دِ څوک شمشاد بولی غلط دے
دَ لرګیو په نرخ سپین زر نه یافتیږی (۴۲)
خم ابروئے دِ په تاؤ د زلفو تم شوے
د لړم له نیشه مار ځبله تاویږی (۴۳)
وَ دندانو ته دِ دُر وئیلے نه شم (۴۴)
کانی کله د بریښنا په دود ځلیږی
باریک خط ئے زلفو لاندے کړ رحمانه
مورچه ګان د شپے له مخه پائمالیږی

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

۲۷۲۶ ۷/۲۴۰ ۵

چا چه نمري وي په خپلو اوښيو وللي
د شبنم په څير به تل وي سپين سپيځلي[۱۴۵]
که صیاد څخه د اوښيو دانے نه وي
د هوا مرغان هیڅ‌چا نه دي نیولي[۱۴۶]
هر یو مخ کله لائق وي دَ ابرویو[۱۴۷]
اوښے نه دروي په مخ د هرناولي
هره شپه به شمعے څه لره ژړا کړه
که ئے نه وے په ژړا کښے څه موندلي
ما رحمان به ژړا نه کړه له خوبانو
که مے نه وے په قسمت دا هسے کښلي

۲۷۳۷ ۸/۲۴۱ ۱۱

خدائے دِ وژغوره له هرے پریشانۍ
اے زما د کور و کلي[۱۴۸] ودانۍ
عاشقي چه ما کښلے دانائي[۱۴۹] وه
اوس خبر شوم له دے خپلے نادانۍ
تر ورخ تیرے اوبه بیرته نه جاروځي
څه بکاردي پوچ بے ځایه پښیمانۍ[۱۵۰]
ودانۍ په یوه دم کښے شي ویرانه
مرد هغه دے چه ودانے کا ورانۍ

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

لکه باد چه ځان وهی له کوه و دشته
زه په تا پسې کوم سرګردانی

دا خو زه د ستا د غم سره لوښیږم
څوک له دیوه سره کړی پهلوانی (۵۱)

چه په اب و په اتش په خاک و باد وی (۵۲)
څه امید دے په هغې زندګانی

ته چه دا رنګے وړ دے وړ دے وعدے کړے
کشکے راکړے وما خط د امانی (۵۳)

که ته زه په هغه وخت وے چابه نه کړے (۵۴)
د مجنون او د لیلی قصه خوانی

زما ستا وننداړو ته به حیران وو (۵۵)
که ژوندی وے ادم خان او درخانی

و هرچا ته چه ئے وائیم حیرانیږی
څه به وائیم د رحمان له خیرانی (۵۶)

۱۰ $\frac{۹}{۲۴۲}$ ۲۷۴۷

زلفے دِ له ډیرے درازی پائے تر سر دی
یا د بنفشے لښتے خورے په صنوبر دی

لب دِ اب حیات دی یا شکرے یا نبات دی
یا خو زه غلط یم تر همه وارو بهتر دی (۵۷)

قد ته دِ څوک نه شی رسیدے له بلندی
ولے چه معراج نه رسیده د پیغمبر دی (۵۸)

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ماچه ستابښائست اونمرسپوږمۍ سره په تول کړه (۵۹)
تللی په میزان کښې تراسمانه سپوږمۍ نمر دی
څاڅکی له اسمانه په هرچا ووری یکسانه
پرخه په واښه شي په صدفو کښې گوهر دی (۶۰)
بخت دے چه ئے څوک متمکن کړه په تخت باندے
څوک دغم په خار سره پاره پاره ځیگر دی (۶۱)
داخوزه له ډیرے کم بختۍ له تا زار کړم
ستاله نیک خوۍ کاني بوټي هم خبر دی (۶۲)
بادچه دِ په زلفو باندے قصد د پریشانۍ کړ
ځکه ئے گرد ونه د جهان واړه په سر دی
هله به سرے شے چه دِ نوم عبدالرحمٰن شي
اوس سرے په څه ئے که دِلوستي زیر و زور دی (۶۳)
سپینې اوښې زیړ رخسار د مینې له دولته
اے رحمانه دا د عاشقانو سیم و زر دی

۲۷۵۳ $\frac{۱۰}{۲۴۳}$ ۶

الف

د واړه سترگے مے کړے دستا په لور دی
مدام ډوبے د فراق په آب شور دی
زه یو سپے یم چارچشمه د ستا د سپیو
چه مے ستا و دَرته دوه سترگے څلور دی
کنډولی مے د دوو سترگو ستا په طمع
وَ هر در وته نیولی کور په کور دی (۶۴)

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

چه مے خال د ترکو ولید په خپل زړه کښے (۶۵)
دواړه کسی بے و زړه و ته نسکوردی
ما قبول د رقیب ناز کړه ستا د یاره
سود او زیان په دا جهان کښے خوراو ورور دی
په رحمان باندے دا هسے گمان مه کړه
چه بے تا په نور څه غلیږی هغه نوردی (۶۶)

۶۳ ۲۷ $\frac{۱۱}{۲۴۴}$ ۱۰

که دلدار په دلداری زما قدم بږدی
گویا هر قدم په لاره دَ حرم (۶۷) بږدی
ځائے لری که بے منته بوسه راکا
کوم کریم په چا منت د خپل کرم بږدی
معشوقه مشفقه بویه مهربانه
نه قارون چه په ځان اسم د حاتم بږدی
هسے پټ لرم دا زیر رخسار له خلقو
لکه زر چه څوک له خلقو پټ پنهم بږدی
خدائے و ما وته گلونه د جنت کړل (۶۸)
که داغونه مے په زړه باندے دغم بږدی
هیڅ مانه دِ څوک له مستو سترگو نه کا (۶۹)
کوم یو مست دے چه قدم په لاره سم بږدی
راحت بے زحمته نه دے چا موندلے
کوم طبیب دے چه په روغ صورت مرهم بږدی (۷۰)

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

زه هرکوره ترخپل حمد پورے شرمیږم (۷۱)
برهمن چه سرپه پښو دخپل صنم یږدی
واسمان ته لاس دعقل نه رسیږی
دا خوعشق دے چه په عرش کرسی قدم یږدی (۷۲)
زه رحمان ئے تاج کنم دیار له لاسه
که مے پنډ په سرد جورو دستم یږدی

۷ ۱۲/۲۴۵ ۲۷۷۰

د دنیا روزګار همه وبله غلول دی
دا کهان په هیڅا مه کړه چه مے خپل دی (۷۳)
هیڅ مزه په دا جهان کښے پاتو نه شوه
دا ئې سیورے په اوبو پورے کول دی (۷۴)
پوزه غوږ د غوښو شته په هرچاپورے
که د شرم پوزه غوږ غواړے باطل دی (۷۵)
که دِ دوه کاسے دانے وی په کندو کښے
پس له شامه هسے وایه چه د بل دی
که ته دوه او درے عیبونه د بل شمار کړے
بل به تاته هسے وائی چه ستا سل دی (۷۶)
نصیحت د ناصحانو اثر نه کا
بیهوده د سرے اوسپنے کوټل دی (۷۷)
دا نااهله همدمان دی نه پوهیږم (۷۸)
که موچې د رحمان پنړے په کوګل دی

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

۹ ۱۳/۲۴۶ ۲۷۷۹

سپین رخسار او مشکین خال و بله ضم دی (۷۹)
یا محمود او ایاز ناست سره هم دم دی
که دِ مخ په زلفو پټ وی باک ئې نشته
د حیات اوبه هم پټې په تور تم دی (۸۰)
ستا له زلفو له رخساره له سرو شونډو
پیدا شوی شام شفق او صبحدم دی
نرۍ ملا دِ په مثال د الماس مخ شه
چه سندل ئې په باریک وروځې قلم دی (۸۱) ق
په دهن کښې دِ غاښونه تجلّی کا
یا غوټیه په غنچه کښې د شبنم دی (۸۲)
بې ژړا وچا ته نه ګوری سیه چشمه (۸۳)
د نرګسو غوړیده د جوئې په نم دی
نه چه اوس زما زړه غوږ ستا په غمزه دے
چاړه غوښې لا قدیم سره په غم دی (۸۴)
راحت نه دے چا موندلے بې زحمته
ستا جفا او وفا دواړه مغتنم دی (۸۵)
ستا د حسن د تعریف له برکته
د رحمان د شعر کوکے په عالم دی (۸۶)

۱۱ ۱۴/۲۴۷ ۲۷۹۰

ق
چه د خپل اشنا له وصله مهجوران دی
که ژوندی دی په معنیٰ کښې مُرده کان دی (۸۷)

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

زه د يار تر جدائيه په مرګ خوښ يم
سخت دارو په سخت بيمار باندے اسان دی
داغه درد دے چه هم درد شی هم دواشی
بيا دارو په تاو وهلے چه سوزان دی (۸۸)
لکه شمع په ورځ مرمه د شپے سوزم
اوس وماته مرګ ژوندون دواړه يکسان دی
د ګلونو تر ډير عمر دا سود ډير دے
چه همه شره کفنونه شهيدان دی (۸۹)
له خزانه د بهار څهره پيدا کا
مخ و څټ د فانی دهر يکسان دی (۹۰)
ما د يار ديدن حاصل که په پرده کښے
د بوئی چارے ئے همه دخوند په شان دی
رياکار چه په ريا طاعت نازيږی
ناسره مهر په لاس ګرځی تکان دی
عاقبت به لکه تش بادام خجل شی
د اسلام جامے اغوستے کافران دی (۹۱)
چه د تن په پاکئ پاک په زړه ناپاک وی
د لړکيو تورے په تيکی سپاهيان دی
چه خپل درد ئے خدائے دارو کاندے رحمانه
د هغو لښتی په سر د غرهٔ روان دی

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

۲۷۹۷ ۱۵/۲۴۸ ۷

ستا د عشق حرفونه تور نه دی ګلګون دی
هم په دا چه نوشته په جګر خون دی
تش به نه شی هغه خم د عشق له میُو (۹۲)
چه ئې خاورے د فرهاد اود مجنون دی
د دنیا چارے همه وارِه کیسے کا
دا د ستا جور و جفا ولے افزون دی
دا مقتول ستا د غمزے دی لاله نه دی (۹۳)
چه په شره کفن له زمکے رابیرون دی
چه ئې هیڅ بها زلمیو څخه نشته
جونه نه دی سکه ګنجونه د قارون دی
بادشاهان په یوه دم کښے ګدایان کا
ما لیدلی فسادونه د ګردون دی (۹۴)
د رحمان د زره خوناب مګر قبول شی (۹۵)
چه مخونه د دلبرو پر ګلګون دی

۲۸۱۰ ۱۶/۲۴۹ ۱۳

چه دا هسے لاس په لاس دنیا پریښودی
څه چوا چندن په ځان پورے د منبو دی (۹۶)
دا دنیا په مثال پوله مرګ سیلاب دے
د سیلاب په مخکښے څه پوله یښسودی (۹۷)

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

اجل زلمی لا واده نه وی سره کونډ شی (۹۸)
دا رنګ چارے د مرګی د خرخښو دی
قافلے چه په دنیا کښے شوے داخلے (۹۹)
بیا هم هسے معلومیږی چه د لښو دی
دا سفر به په هغو بانده اسان وی
چه تر کوچ پخوا په زیرمه د توښو دی
چه بے وقته ارمان کا په وقت وده وی (۱۰۰)
د هغو عالمو ږیرے د وکښو دی
دا لا خدائے دے چه دا خلق ګرځوینه
اجل اور زړونه جونګړے د وښو دی (۱۰۱) ق
په هر شان چه یار خوښیږی زه ئے کړمه
خندول د صاحبانو په پیښو دی (۱۰۲)
د یار غم مے لکه تاج دے په سر ېښے
نور غمونه مے همه لاندے تر پښو دی
معشوقے په عاشقانو خود پوهیږی (۱۰۳)
ق دلته څه د عاشقی نخښے د ښوو دی
تر ابده ازادی ده پر حرامه
ق چه بند شوی د حرص په پلوښو دی (۱۰۴) ق
په خپل ځائے به ئے هر هر کلام په کار شی
د رحمان وئیل طالب لره د کښو دی (۱۰۵) ق
میخواران که ئے خبر شی له مستیه
دَ رحمان د میخانے شراب دخښو دی (۱۰۶)

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

۱۴-۱۷/۲۵۰-۲۸۲۴

مخ د یار شمس و قمر درے وارہ یودی
قد و سرو و صنوبر درے وارہ یودی
حاجت نه لرم په شهد او په شکرو (۱۰۷)
لب د یار شهد و شکر درے وارہ یودی
که بے یارہ د بستر د پاسه پروت یم
نار و خار و دا بستر درے وارہ یودی
چه وَ دراو وَ دیوار ته ئے نظر کرم
باغ بستان و دغه در درے وارہ یودی
چه غبارئے د کوځے راباندے راشی
دا غبار مشک و عنبر درے وارہ یودی
خدائے د یار له هجره هیڅوک خبر مه کړه (۱۰۸)
تاخت او قتل دا خبر درے وارہ یودی
هغه دم چه سرے دروځی له جهانه
تورے خاورے سیم و زر درے وارہ یودی
قلندر چه په رښتیا قلندری کا
خان سلطان او قلندر درے وارہ یودی
ور دِ نه شی په پردی زمکه هیڅوک
مبصر او کور و کر درے وارہ یودی (۱۰۹)
چه دِ نه پکښے یو یار نه دِ اشنا وی
هغه ښهر بحر و بر درے وارہ یودی

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

پہ دُکان دَ نابیناؤ جوهریانو
خرمهرے لعل وګوهر درے وارہ یو دی
پسران دِ عار زما له عشقه نه کا(۱۱۰)
پاک عاشق پیراوپدر درے وارہ یو دی
په سبب دَ ظالمانو حاکمانو
ګور او اور او پیینور درے وارہ یو دی(۱۱۱)
غزا وشوہ که ځان ستائی و رحمان ته
بے هنر اوګاؤ خر درے وارہ یو دی

۲۸۳۵ $\frac{۱۸}{۲۵۱}$ ۱۱

څرخ ے ستا د بنوغشی په سینه دی
پورے وورے ے وتلی ترا یسنه دی(۱۱۲)
تل ئے مخ د یار په مخ باندے وی یښے
هغه زړونه چه بے زنګه ائینه دی
هسے نه چه زه نن ورځ په تاشیدا یم(۱۱۳)
ستا غمونه ے په زړه کښے دیرینه دی
لکه ستوری چه بریښنا کا په اسمان کښے(۱۱۴)
په تتهرے ستا داغونه نګینه دی
نه تنها زما په سترګو کښے جلوه کا
ق ماه و مهر ئے و مخ ته ائینه دی(۱۱۵)
درته وایم چه له اهه ئے پرهیز کا(۱۱۶)
د هغو چه پوشاکونه پشمینه دی

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

که دا ستا رخسار سوزانے لیبے نه دی (۱۱۷)
ولے کسی زما تور سوی نینه دی
څه به سم په صبحدم کورے وچاته
چه دِ سترگے په مے مستے شبینه دی
هغه سترگے چه پیدا کړے خدائے خونریزے
بے غضبه په غضب او په کینه دی (۱۱۸)
شرابیان چه شراب مومی خوئے شومی
کله منع په اختر په ادینه دی
چه تمام دخیل ځیگر په وینو رنگ شه (۱۱۹)
د رحمان خبرے ځکه رنگینه دی

۲۸۴۱ ۱۹/۲۵۲ ۶

دا ژوندی چه معلومیږی واړه مړهٔ دی
که څه دی هم هسے وایه چه څه نهٔ دی
یا د باد په مخکښے خاورے دی دا تورے
یا د اور په مخکښے واړه وچ واښهٔ دی
دخیل عمر شپے او ورځے چه په زړه کړم
هسے دروی گویا بهنده اوبهٔ دی (۱۲۰)
غافلان که وینی اوری به ئے څه کړے
دا ئے خوب دے نه لیدهٔ نه اوریدهٔ دی (۱۲۱)
چه د خدائے له معرفته خبر نه وی
هغه واړه که بیدار دی هم ویدهٔ دی

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

د رحمان د زړه له حاله خدائے خبر دے
چه په زړه ئے د اشنا له غمه څۀ دی

۲۸۵۰ ۲۰/۲۵۳ ۹

عاشقان دِ په اور سوی دی که نه دی
ستا د عشق په اور اولوی دی که نه دی (۱۲۲)
زحمتونه د هجران واړه په عشق کښے
تا وما وته ښوولی دی که نه دی (۱۲۳)
په دنیا کښے خویو سر و مال وئیل شی
د واړه ما په تا پاسلوی دی که نه دی
تل د وروځو په لینده د ښو غشی
تا په ما باندے راکښوی دی که نه دی (۱۲۴)
چه مدام ئے زما زړه له غمه چوی
تورے زُلفے دِ پیچوی دی که نه دی (۱۲۵)
راشه وګوره احوال د عاشقانو
مړۀ دَ عشق په شری کوی دی که نه دی (۱۲۶)
ناصحان چه نصیحت و ما ته وائی (۱۲۷)
چرے دوی هم مینِن شوی دی که نه دی
ښائسته که په ښائست کښے ملائک وی (۱۲۸)
په وکښو دَ زړونو روی دی که نه دی
بلبلان پسے نعرے وهی رحمانه
د بهار ګلونه نوی دی که نه دی (۱۲۹)

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

۲۸۵۷ ۲۱/۲۵۴ ۷

چا چه کړے و دنیا وته اسرے دی
د همه واړو په سرخاوره ایرے دی
نادانان که د دنیا په چار نازیږی
و دانا ته واړه وشتے مسخرے دی (۱۳۰)
چه بے خدایه محبت کا هغه خلق
نارینه ئے واړه خرهٔ ښځے ئے خرے دی (۱۳۱)
وَسپین ږیریو وته مه وایه سپین ږیری
دا همه واړه طفلان د ګوارے دی (۱۳۲)
هسے وایه چه ښځی دی د زنانو
که ئے یښے په دستار کښے قرقرے دی
نه څه فیَض نه بهره ځنے موندهٔ شی
همګی واړه بے فیض و بے بهرے دی
ذخیرهٔ د دنیا مه کوه رحمانه
دا همه واړه د خاورو ذخیرے دی (۱۳۳)

۲۸٦۴ ۲۲/۲۵۵ ۷

ستا له غمه مے په مخ باندے وړے دی
لږ مے وپښته له حاله چه وړے دی؟
زهٔ په تا پسے مجنون یم قارون نه یم
چه مطلب مے غوا وغیلے یا غلے دی (۱۳۴)

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

هغه کوډې لکه تا دي په ما کړې
کله کړې په مجنون باندې ليلې دي
لکه ما چه مصلې د ر پسې لنګ کړې
کوم ملنګ هسې لنګ کړې مصلې دي
بوی هم ستا د وفا نه دې رابلو دلې
ما پخپله خپلې کړې تسلې دي (۱۳۵)
نصيحت اثر په زړه د عاشق نه کا
کنه ياد ې زما ډيرې مسئلې دي (۱۳۶)
که رحمان د عاشقۍ په تيغ شهيد شي
د جنت حورې همه واړه د لې دي

۲۸۷۳ $\frac{۲۳}{۲۵۶}$ ۹

صبحدم چه هغه يار راباندې راشي
عجب نور د نور د پاسه هويدا شي (۱۳۷)
کنبلې مخ لره حاجت د سنګار نشته
بې ترتيبه چه نمر و خيژې رڼا شي (۱۳۸)
چه ئې ووينم له ورايه پورې نبلم
لکه پيښ چه وبله کاه و کاه ربا شي
ما له ډيرې ناچاريه يار ته شا کړه
ناروا د ضرورت په ځائې روا شي (۱۳۹)
زړه په وصل کښې خوارې د هجران ژاړم (۱۴۰)
د هر کار فکر ترکاره لا پخوا شي

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

لا پخوا تر جدائ ژړا بویه
ګنه هلته هر یو ژاړي چه جداشي (۱۴۱)

وصال نه دے چا په سر و مال موندلے
مګر غاړه په دا کار د چا ادا شي

زه به سر و مال د یار تر نامے ځار کړم (۱۴۲)
دا په عشق کښے سهل کار دے که په دا شي

دَ رحمان په اوښیو هسے رنګ پوهیږم
چه اخِر به په تمام جهان رسوا شي (۱۴۳)

۲۸۸۲ ۲۴/۲۵۷ ۹

چه شهید د تورو سترګو په خنجر شي
خوشنودي ئے د سرو شونډو په کوثر شي

چه رایاد ئے سپین رخسار دراز مژګان کړم
هغه دم مے زړه سپند سینه مجمر شي

عندلیب خاطر مے الوځي په ګلشو
که د ترکو سنبل زلفے ئے شهپر شي (۱۴۴)

که یار سل ځله جفا راسره کاندي
زما کله په جفا د یار باور شي

د ناصح په نصیحت به منع نه شم
که هزار ځله مے ورور و برادر شي (۱۴۵)

د رقیب او زما صلح سره نشته
که مو چرے لاس و دست وبله بر شي (۱۴٦)

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

صبوری او قراری له ما خطا دی
ترهغه ساعته پورې چه محشر[۱۴۷] شی
تیر ساعت به د هیچا په لاس کښینو ځی
مګر تللے اشنا بیا په اشنا ورشی
خوبرویان به د سپوږمۍ توکړې ورواخلی
که رحمان کچکول په لاس کا قلندر[۱۴۸] شی

۲۸۸۹ $\frac{۲۵}{۲۵۸}$ ۷

که غبار د ستا د لارې په خوا ورشی
که په دواړو سترګو روند وی مبصّر[۱۴۹] شی
تازه نوې سر پیدا کا لکه شمع
چه ئې غوڅ د ستا په مینه د زړه سر شی
چه کیمیا د قناعت ئې په لاس کښیوځی[۱۵۰]
که ګدائے وی د قارون په څیر توانګر شی
ستا د در ګدایان واړه بادشاهان دی
خو چه ستا له دره ووځی دربه‌در[۱۵۱] شی
تل ئې مخ وی له عالمه جاروتلے
د هغو چه ستا په مخ باندې نظر شی
که د درست جهان له حاله خبردار وی
چه تا ووینی له واړو بے خبر شی
ائینه که د جمال کړې ور څرګنده
دا ګدائے رحمان به شاهِ سکندر شی

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

تبسّم ے د ونکړی پہ روزګار شي
چہ ئے نہ لہ مرګہ ویرہ نہ ئے دار شي (۱۵۲)
لہ دۀ وزیرړی د دۀ د وړاندے ومری
لا ئے مینہ د دنیا پہ کاروبار شي
کہ ئے هر قدم د مړیو پہ سر لاروی (۱۵۳)
یو قدم هسے وانہ خلی چہ پہ لار شي
د ژوندیو نصیحت پر اثر نہ کا
مکر مړہ لہ قبرہ پاځي پہ ګفتار شي
د امید مزے ئے هسے رنګ دراز وی
چہ ترخضرہ ورتہ خپل عمر بسیار شي
سپینہ ږیرہ پہ ورنی کښے زویہ واخلی
چہ بہ ما لرہ سپاهی ومنصب دار شي (۱۵۴)
د خرما زړے نهال کا ورتہ کوری (۱۵۵)
چہ دا سیورے دا میوہ بہ مے پہ کار شي
هر هر فصل چہ تر ریبدی هوسیږی (۱۵۶)
چہ بہ کاندہ راتہ بل فصل تیار شي
لا ئے لیہ تخم هم کرلے نہ وی (۱۵۷)
ناکشتہ ئے ځنے طمع د خروار شي
غړوندے د نا زوکړیو خسیو غړی (۱۵۸)
چہ سبا بیګاہ بہ ما لرہ کوهار شي

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

لکه ووړکی کتوری غواړی له زانو[159]
په دا هسې پوچ کوی ځې اعتبار شی
چه هرګز په عمر نه وی چړے شوی
د هغو ناشد نیو امیدوار شی ق
هلکانو غونډے پاس په کوټه زغلی
خو چه دوه قدمه واخلی نورحصار شی ق
په زحمت د تن له مالګې هم پرهیز کا
هغه نه کا چه له نهی پرهیزګار شی[160] ق
د ژوندون په تیریدو ځې نظر نه وی
چه دا ګنج به ے له لاسه تار په تار شی ق
رحمان څه دے چه به پند وَچا ته وائی
هدایت د هر بنده په کردګار شی

۲۹۱۹ ۲۷/۲۴ ۱۴

کردګلو کړه چه سمه دِ ګلزار شی
اغزی مه کړه په پښو کښے به دِ خار شی
ته چه بل په غشیو ولے هسے پوه شه
چه هم دا غشی به ستا په لورګوزار شی
کوهے مه کنه د بل سړی په لار کښے
چه هم ستا به د کوهی په غاړه لار شی[161]
وَ هر چاته چه په خوارو ستر ګو ګورے
لا روبے به ستا صورت تر هغه خوار شی[162]

اٰدم زاد په معنیٰ واړه یو صورت دے
هر چه بل ازاروی هغه ازار شی
که ته نه کوے نظر د چا په عیب(۱۶۳)
هر سړے به ستا دعیب پرده دار شی
دهقان کر په لوړه مزکه باندے نه کا
سرکوزی کړه چه پټے دِ مرغزار شی
د مات لوښی اواز کله ثابت خیژی
د هر چا عمل څرګند په خپل ګفتار شی
نن چه صبح دَه روښانه لار صحیح کړه
ناګهانه به دا صبح شبِ(۱۶۴) تار شی
لږ ئے مه ګڼه که هر څو ګناه لږ وی
چه لږ لږ وبله جمع کړے بسیار(۱۶۵) شی
که بل بد کاندی ته ښه کړه مه رنځیږه(۱۶۶)
هر یو نخل چه میوه لری سنګسار شی
تل وَ ښو وَته ازار د بدو رسی
هر بچینجے وَ نرم چوب وته دو څار شی
هغه زړه به له طوفانه په امان وی(۱۶۷)
چه کشتئ غوندے دخلقو باربردار شی
خدائے دِ بد له لاسه مه کړه اوکه وی هم
د رحمان(۱۶۸) دِ په کل بدو استغفار شی

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

۲۹۳۸ ۲۸/۲۶۱ ۱۹

هر وګړے چه منصور غونډے په دار شي
دار ئے پس له مرګه نخل میوه دار شي
روغ صورت که روغ عالم لره کمال دے
لیوني لره کمال دے چه سنګسار شي
هر ګیاه چه وکمال ته ورسیږي
سر وزمکے وته کوز کا نګونسار شي
نرے باد به ئے داخل په خپل منزل کا
که څوک پاڅي د خزان غونډے طیار شي (۱۶۹)
غفلت هیڅ مناسب نه دے د سپین بږیرو
صبحدم که حیوانات وي هم بیدار شي (۱۷۰)
چه یو موتے ایرے ناز په آئینه کا
په دغه خبره فخر د خاکسار شي (۱۷۱)
کریمانو سود موندلے دے په زیان کښے
لکه ښاخ د ونے وتراشے باردار شي
خزانه په سخاوت سره زیاتیږي
د کوهي اوبه چه وکاږے بسیار شي (۱۷۲)
مړیده د وږے کیږے مشکل نه وي
مړیده د وږیو سترګو مشکل کار شي (۱۷۳)
کم خوراک سړے فرښتو وته نژدے کا
هر سړے چه بسیار خورشي بسیار خوار شي (۱۷۴)

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

صاف دِلانو لره لږ نصیحت ډیر دے[۱۷۵]
دګوهرو پیوستون په نری تارشی
غلبه د عشق بهنه د حُسن غواړی
توره شپه په عاشق زلفے دخپل یارشی
د توفیق له مخه هر مشکل اسان دے
و ستی و ته د اور لمبے ګلزارشی[۱۷۶]
ناز د حُسن پرورش مومی له عشقه[۱۷۷]
هسے نه چه د خوبانو په سنګارشی
راحت بے زحمته نه دے چا موندلے[۱۷۸]
د وصال خوښی د هجر په مقدارشی
عاشقانو لره واړه سعادت دے
که ئے سرومال د یار تر نامه ځارشی[۱۷۹]
یار یار هرڅوک سره وائی په جهان کښے
زه به پس له مرګه وائم چه یار یارشی[۱۸۰]
لکه ډارکاندی ورغوے له ګرګانو[۱۸۱]
هسے رنګ له جدائیه زما ډارشی
د رحمان دا پوچ کوئی څه په کارنه دے
عاشقی په ګفتار نه شی په کردارشی

۸ ۲۹/۲۶۲ ۲۹۴۶

که دِغم د درست جهان تر زړه چاپیرشی
دلګیرمه شه هسے وایه چه به تیرشی[۱۸۲]

غم هغه دے هرچه څیرمه وی وچا ته
ورومبی واره تر وروستیه پورے هیرشی[۱۸۳]
بےله خدایه چه مدام په یوه حال دے
سرے کله شیرشاهی وی کله سیرشی[۱۸۴]
یو اٰدم دے چه په څورنګه جلوه کا
یو رقم دے کله زوَر شی کله زیرشی
د دنیا چارے مدام په قرار نه وی
د بنو په څمبول کښے په بل پیرشی[۱۸۵]
په لږ عُمر کښے ډیر غم له کومه راغے[۱۸۶]
خوله خپلے بے صبرئ په سرے ډیرشی
چه خریدار و فروشنده وبله راضی شی[۱۸۷]
په سودا کښے سختی نه کا تیروبیرشی
ښائسته په جهان ډیر دی بے حسابه
بارے څوک به د رحمان د یار په څیرشی

۲۹۵۸ ۳۰/۲۶۳ ۱۲

که د زرو مرو سر وی خوچه مړشی
نه ئے نوم په خوله اخست شی نه نومړشی[۱۸۸]
که هیڅ پر کړے نه وی په جهان کښے
وَاجل ته لکه خر په خته پړشی
راشه راشه دا ډیر ناز و کبر مه کړه
یاره څو به دِ دا ناز په جهان وړشی

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دا رخسار چه دِ روښان تر آئینے دیٔ (۱۸۹)
عاقبت به دَ لحد په خاورو خړ شي
مراد همه له دلبری دے غزا وشوه
که دَ سروے په څیر ځوک په قامت لوړ شي (۱۹۰)
نیک نامی له نیک خوئیه پیدا کیږی (۱۹۱)
دغه چاره نه په سُوک نه په لوړ شي
عاقلان چه پښیمانیږی هغه نه کا
هغه شکوے د بے هنرو وی چه سپړ شي (۱۹۲)
دا خوزه له شفقته تا ته وایم
کنه ځان له سر نوشته په چا ژغړ شي (۱۹۳)
د هوا په نغوته مه ځه که دانائے
هوائی ویشتلی غشی ژر په ځوړ شي (۱۹۴)
وران به نه کاندی یو حرف د خپلے بخرے
که په اوښیو د چا درست جهان چقړ شي (۱۹۵)
په تدبیر به د تقدیر شوی نور نه کړے
د قسمت علاج په عقل کله کړ شي (۱۹۶)
په رحمان بے یاره صبر هسے گران دے
لکه زهر چه دیده دانسته نغړ شي

۲۹۶۴ $\frac{۳۱}{۲۶۴}$ ۶

هر چه ستا په زنخدان کښے ئے منزل شي
لکه خس په تناره کښے به جلبل شي

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

څوک چه نوم د ستا د شونډو په خوله واخلي
که ئې زهر وي په خوله کښې هم عسل شي
زړه په هجر کښې بې برګ و بې نوا یم (۱۹۷)
لکه کښت چه اوبه نه مومي شړل شي
په عاشق باندې کمان دا هسې مه کړه
چه یار زړه ور څخه یوسي تش کوکل شي
په جهان تر اشنائ خواږه نشته
ولې حیف چه هجران پکښې حنظل شي (۱۹۸)
زړه رحمان بې یاره هسې شول وشل یم (۱۹۹)
لکه کب چه بې محیطه شول وشل شي

۹ ۳۲/۲۶۵ ۲۹۷۳

که د زړه په وینو رنګ د چا کوکل شي
چه بیلتون په جهان شته دے خو بېل شي (۲۰۰)
که د اوښیو په دریاب باندې ئې تهل کړے (۲۰۱)
نیشکر به نیشکر شي نل به نل شي
مشقت د سړي واړه حبطه دے
په ښوره کښې چه د کلو بوټے تهل شي (۲۰۲)
د دنیا یاري دوستي څه په کار نه ده
له اوّله یار و دوست وي پسے غل شي
که هر څوئې وبله مهر و محبت وي
نهایت سره په جنګ و په جدل شي (۲۰۳)

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

په مثال د دروغژنے مرغلرے
اٰب وتاب ئے په دوه ورځے کښے بدل شی (۲۰۴)
که ئے زنه د ځوانئ په وقت کښے سیب وی
هغه سیب ئے په پیرئ کښے حنظل شی (۲۰۵)
د رقیب له بده خویه به څه وائیم
ترو ئے ګوره چه لا یار ورسره مل شی (۲۰۶)
زه رحمان د یار په بنه او بد پوهیږم (۲۰۷)
کشکے زهر په دهن د چا عسل شی

۲۹۸۳ ۳۳/۲۶۶ ۱۰

که سل ځله هم کنارو هم بغل شی
د دنیا میئن به واړه سره بیل شی (۲۰۸)
دا چه اوس په یوه کور کښے سره ناست دی
عاقبت به ئے جدا جدا منزل شی
دا ګلونه چه ئے ځائے دی په دستار کښے (۲۰۹)
همه واړه به تر پښو لاندے غوبل شی
دا پے مخی چه ئے مخ د نمر په شیر دے
تور وینبته به ئے په مخ باندے ځنګل شی (۲۱۰)
دا شیرین شیرین شربت چه د وصال دے
د هجران په وقت به زهر هلاهل شی
ما د یار په بیلتانه کښے دی لیدلی (۲۱۱)
که دانا د زمانے وی مبدل شی

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

پښه له ویرې د وصال په زمکه نه ږدي[۲۱۲]
چه خبر د جدایۍ په دلدل شي
د ذې هسې رنځ علاج به څوک په څه کا
چه نه فهم د چا رسي نه اټکل شي
که د غرونو په سر کړځي سرې تېټ وي
هرچه زړه ئې د خوبانو یرغمل شي
د رحمان خاطر غمونو هسې زنګ کړ
مګر جام د میو ناب ئې صیقل[۲۱۳] شي

۳۰۳۷ ۳۴/۲۶۷ ۵۴

هغه دم چه زړه ملال شي — یو ساعت ورباندې کال شي[۲۱۴]
حیران تللې وي په فکر — فراموش ئې قیل وقال شي
نه ئې ګفت نه ئې شنود وي — په غوږ کوڼ په ژبه لال[۲۱۵] شي
نه څواب وچا ته کاندي — نه ئې غوږ د چا په سوال شي
علم عقل ځنې[۲۱۶] پاڅي — درست صورت ئې خواب وخیال شي
په رنو سترګو ووده وي — لکه نقش د دیوال شي
قوت ئې وینې د ځیګر شي[۲۱۷] — هم دغه ئې اشتغال شي
دَ چشمانو له بارانه[۲۱۸] — په رخسار ئې پشکال شي
په سبب د عاشقیه — تیر تر ال و تر عیال شي
هم تر ال و تر عیاله — هم ترمال و ترمنال شي
په خپل درد و په خپل غم کښې — له عالمه فارغ بال شي[۲۱۹]
نه طاقت نه ئې مجال وي — بې طاقته بې مجال شي

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

که ژوندے وی په جهان کښے   د مرده وُ په مثال شي
په خشکۍ کښے ماهي کوره (۲۲۰)   هسے بے تیغه حلال شي
پاڅیدے نه شي له ځایه   په زړه غوخ په تن کهال شي
د ویشتلیو په څیر یون کا   د کل خلقو په دنبال (۲۲۱) شي
لکه خس د لوئے لارے   تر قدم لاندے پائمال شي
خدائے له غمه سرے ژغوره   بیا لا بویه چه خوشحال (۲۲۲) شي
چه د زړه ولے شي غوټے   نور ژوندون ئے په اشکال (۲۲۳) شي
د باغبان سترگے کا سپینے   چه تازه نخل ونهال (۲۲۴) شي
روئیدن د کښت اسان دی (۲۲۵)   پرورش ئے لوئے جنجال شي
ویرانی په یوه دم شي   ودانی په ډیر اشکال (۲۲۶) شي
چه پلار ومری بیا لا بویه   چه ئے زوی په کمال (۲۲۷) شي
څوک خبر دے له دے دوره   چه زمان لره څه حال (۲۲۸) شي
چه په حال کښے ئے حال نه وی   څه امید په استقبال شي
د یوه ساعت له مخه   خدائے زده څه رنگ به احوال (۲۲۹) شي
د دُنیا چارے فانی دی   رفت آمد ئے په یرغال شي
په مثال لکه د سیوری   خوا و شا دهر دیوال (۲۳۰) شي
اعتماد په اُبو مه کړه   چه استاد ئے په غربال (۲۳۱) شي
د بنو په ځمبول کښے   شال شړی کا شړی شال شي
که بادشاه د ولایت وی   کنډو لے په لاس کنگال شي
په ثواب ئے غلط مه شه   په یوه ساعت وبال شي
په کمال ئے مه نازیږه   په یوه گړی زوال شي
د هاتیانو سوداگر وی   گاوُ دلال و خر دلال (۲۳۲) شي

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

جوهري وي دَ ګوهرو[۲۳۳] — خاورے اغزي کلال شي
کلالي و ګلکاري کا — فروشنده د مات سفال[۲۳۴] شي
په هستيه کښې اشراف وي — په نيستيه کښې ارذال شي
د ځوانيه په وقت شير وي — په پيرئيه[۲۳۵] کښې شغال شي
چه مشهور په صداقت وي — پوچ ګوئي[۲۳۶] واخلي بطال شي
محتسب وي احتساب کا — کوتوالي واخلي کوتوال شي
نيکوکار و نيک افعال وي — بدکردار و بدافعال[۲۳۷] شي
سرنوشت د سړي ګوره[۲۳۸] — يو عيسیٰؑ وي بل دجال شي
چه نيک بخت وي نيکوئي کا — چه بدبخت وي بدسګال[۲۳۹] شي
لاس وپښے دَ هغه نسه[۲۴۰] — چه خوش خويه خوش خصال شي
په هجران کښې نوميد مه[۲۴۱] شه — خدائے قادر دے که وصال شي
په حرامو اميدوار شه — ګوندے مخ دِ په حلال[۲۴۲] شي
کافر وباسي له کفره — په يوه ساعت ابدال شي
تور بهتر کاندے ترسپينو — په سپين مخ د پاسه خال شي
ارزومند دَ يوه خس[۲۴۳] وي — خداوند د ملک ومال شي
چه سيالي ئے وي[۲۴۴] کذابه — د سيالانو سره سيال شي
چه په عُمر منفصل[۲۴۵] وي — په ساعت کښې اتصال شي
ممکنات به منع نه کا — که څوک سل ځله سمبال شي
چه د خدائے رضا شي پيښه — رمل پاتو د رمال شي

فال به څه ګورے رحمانه
خپل افعال د سړي[۲۴۶] فال شي

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

۹ $\frac{۳۵}{۲۶۸}$ ۲،۴۶

هغه زره چه خلائے روښان کاجام دجم شي
په دا جام کښې ورښکاره تمام عالم شي (۲۴۷)
په آدم کښې دَحیوان خُویونه شته دے
بیا هاله ئے آدم بوله چه آدم شي
چه خویونه د چارپایو پکښې نه وی
سړی هوښ په سړی هله مسلم شي (۲۴۸)
چه اغوستے ئے لباس وی د پاکانو
د ناپاکو چارے کاندی خو به کرم شي
که هرڅو لذیذ طعام وی مزه نه کا (۲۴۹)
چه یوه ذره نمک ئے زیات وکم شي
ښادی هرچرے دغم په اندازه وی
د هغو به څه ښادی وی چه بےغم شي
هرچه خپله رضا پاسلی وَ قضا ته
که هرڅو په ځان ناخوښ وی خوښ خرم شي
عاشقی چه تر کماله ورسیږی (۲۵۰)
د خپل یار له لاسه زخم وی مرهم شي
که په ځان باندے قدم کیږدے رحمانه
نُه فلکه به دِ لاندے تر قدم شي

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

۱۷ $\frac{۳۶}{۲۶۹}$ ۳۰۶۳

چه مجنون غونده یو موټے استخوان شي
په قوّت د عاشقۍ به پهلوان شي
عاشقانو په خپل شکست کښے برے بیاموند
دلته توان د هغو رسي چه ناتوان(۲۵۱) شي
زیړے رنګ د عاشق هسے مراتب دی(۲۵۲)
چه افتاب غونده څرګند په درست جهان شي
له چشمانوئے باران د رحمت ووری
زرغونه ئے په څهره باندے زعفران شي
له رخساره حال د زړونو معلومیږی
له بهاره نیک و بد د کال عیان(۲۵۳) شي
له یوے نکتے تمام علم حصلیږی
درست خروار له یوه مشته نمایان(۲۵۴) شي
بکار نه دی مخالف هزار تقریره
موافق له حاله نیم کلام داستان(۲۵۵) شي
لکه مړه له کاروباره وی وتلی
د هغو خاورے په سر چه غافلان شي
که دِ ډیر عمر بکار دے غفلت مه کړه
په وده باندے سل کاله یو زمان شي
دَ غفلت بنیاد دَ اوښیو په موج(۲۵۶) خیژی
یو څڅویکے خواب الود لره طوفان شي

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ړوند په خپله عصا پریوځی وکوهی ته
خپل دلیل دکم دلیل دَ ځان تاوان شی[۲۵۷]

سرکښی د عاجزانو په کار نه د ه
هر میږے چه وزر وکاندی پښیمان شی

موم دِلان ئے له شرره لمن ژغوری[۲۵۸]
سنګدلان که عین لعل د بدخشان شی

بل پوشاک ئے پکار نه وی بے نمده[۲۵۹]
هغه زړه چه آئینے غوندے روښان شی

چه کیمیا دَ قناعت ئے په لاس کښیوځی
د شړیه په خرقه کښے بادشاهان شی

عاشقی ده ترجمله بلا په هورته
و مجنون ته دیو و دد واړه حیران شی[۲۶۰]

پر به ورکا بُتان دُر دَ خپلو غوږو[۲۶۱]
که ئے تیر تر غوږو شعر دَ رحمان شی

۱۳ $\frac{۳۷}{۲۷۰}$ ۳۰۷۶

د سکوت په تیغ چه ژبه بریده شی
لا قلم غوندے په قال کښے دویده شی

همره اور دَ عاشقیه په زړه یوسی[۲۶۲]
چه لاله ئے له تربته دمیده شی

خم ابروئے د یار نقش وی په لیمه کښے
لکه میاشت چه په لوئے بحر کښے لیده شی

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

همیشه ئې د خپل یار په لوری دَو وی
نهایت چه په دا دَو کښې رسیده شی
څه حاجت دے چه زه یار وَچاته ستائیم (۲۶۳)
کار همه د خپلو سترګو په دیده شی
کله وی چه یو د بل په وئیل غلیږی
مګر صافه د چا خپله عقیده شی
خود څرګند وی لکه صبح په جهان کښې
هر ګریوان چه په یاری کښې دریده شی
ابروئی د عاشق هلته ځان څرګند کا
چه ئې نم دَ زړه له سترګو چکیده شی
د آه غشے ئې په زمکه کله لګی
هر قامت چه کمان طوره خمیده شی
بے مطلبه ئې هیڅ فهم په چا نه وی (۲۶۴)
هر طالب چه په طلب کښې فهمیده شی
هر چه زړه په مهرویانو باندے بائلی (۲۶۵)
بے درمه بے دیناره خریده شی
ما د یار په خیر بل مخ لیدلے نه دے
مګر پس له ننے ورځے افریده شی
یا به شهد یا به قند یا به نبات وی
هر کلام چه له رحمانه شنیده شی

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

۸ ۳۸/۲۷۱ ۳۰۸۴

د عاشق بې خپله یاره قرار نه شی
بې طبیبه قراری د بیمار نه شی
چه په لوح محفوظ کښلې لیونے وی[۲۶۶]
په تعلیم د معلّم به هوښیار نه شی
دخپل پلار په غیږ کښے پروت وی روح ئے واخلی[۲۶۷]
دقضا علاج په مور و په پلار نه شی
وهغو چه خدائے کمال د حُسن ورکړ[۲۶۸]
هیڅ نقصان ئے د منکر په انکار نه شی
درد وغم د عاشقیه ډیر مشکل دے
هیڅ سرے دِ په دا رنځ گرفتار نه شی
زه همه عمر دغه له خدایه غواړم
چه دِ یار د یار له لاسه[۲۶۹] ازار نه شی
یار له یار سره جفا کا هسے ډیره
چه هیڅ فرق ئے د اغیارو دَ یار نه شی[۲۷۰]
که هرخو ئے دلبری و دلجوئی کا
دَ رحمان په ترکو هیڅ اعتبار نه شی[۲۷۱]

۹ ۳۹/۲۷۲ ۳۰۹۳

چه سرے له بله بد وائی بدګوئے شی
لا تر بل ښخوا روان دَ دهٔ بدبوئے شی[۲۷۲]

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

مُردہ شوے چہ هوس کا د بل وَمرګ ته
بل هم پس دَ ده له مرګه مُردہ شوے شي (۲۷۳)

دوست دښمن دَ سړي وارہ خپل عمل دے
هم په دا مقدار ئے اجر موئے په موئے شي (۲۷۴)

هرہ ونه چه کړہ په هغه لوروی (۲۷۵)
عاقبت ئے پریواته په هغه سوئے شي

د اوبو اصل له خاورو پیدا کیږی
خاکساری د خاکسارانو په ابروئے شي

په لوی کښے نور څه نشته بے زواله
هلکان د هلکتوب په سبب لوئے شي

هومرہ زیان له څُوکه خرسه نه رسیږی (۲۷۶)
لکه څوک په ادمیانو کښے بدخوئے شي

سړی هوبش چه د سړی له تنه پاڅی
د سړیو په جامه کښے خربشوئے شي

و هغو وته چه خدائے پخپله وښوو (۲۷۷)
څه حاجت ئے د رحمان په ګفتګوئے شي

۳۱۰۵ ‎‏۱۴۰/۲۷۳‏ ۱۲

ق

هرچه په حیات صورت له مرګ سرہ اشناوی
خلاص به دَ قیامت له خرخښو په دا دنیاوی (۲۷۸)

سخ د هغو ګلو چه برګ ریزئے په بهار دے
کل سرانجام وکا له خزانه بے پرواوی (۲۷۹)

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

(۲۸۰)
غم وهم هغه کا چه هیڅ غم ورسره نه وی
ولے چه ناڅاهه به یو ورځ وربانده راوی
حکم د نیستیه په هغو دے هر چه هست وی
هر چه هستی پریږدی له نیستی ئے څه پرواوی
زړه د عاشقانو له د بښنه لاسته بے غم دے
(۲۸۱)
شمع د مقراض له خصومته په خندا وی
لوړه تنده نشته د قانع په قناعت کښے
ق
داکیمیا چه زده کا په خرقه کښے امرا وی
هیڅ سیرچشمی حاصله نه کړه په حرص کښے
بلکه د قحطی په ملک که شاه وی هم ګدا وی
ما به رښتیا نه وے اے یارانو بارے څه کړم
حقه کلمه نغړدل هرګور سخته بلا وی
زور دَ سیلاب واړه دَ ترل په مقامات وی
زړه د خاموشی په ځائے کښے لا راته ګویا وی
بے خس وخاشاکه د آتش بقا په څه وی
آه وفریاد واړه په مقدار د تمنا وی
زه د رقیب چارو ناوبیا کړم له حبیبه
زلفے په نسبت دَ مارخوړلیو اژدها وی
اے رحمانه هر راحت په اجر د زحمت دے
هر چه ډیر ډیر خاندی هسے ډیر به په ژړا وی

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

۳۱۱۷ ۴۱/۲۷۴ ۱۲

تل دِ ستا دَ خواب الودو سترګو خواب وی
چه فتنې په خوب وودے شی ډیر صواب وی [۲۸۲]

لکه مے چه په مینا کښې تجلی کا
نُور دَ حُسن په حجاب کښې بے حجاب وی

ته چه ما ته لُولوے پټی د صبر
زه هم ډیر په دا راضی یم که مے تاب وی

زه په دا واسطه په ترکو پسے ژاړم
چه ژړا دَ عاشقانو دَ مخ اب وی [۲۸۳]

که نادان وی هم دا هومره خو پوهیږی
څوک چه نه ژاړی په یار پسے کذاب وی [۲۸۴]

د عاشق سترګے په دا سبب شوے پاکے
چه مدام د جوئے په سر لکه حباب وی

له خالی خونے به څه وړی چه څه نه وی
که خټلے د حباب په کور سیلاب وی [۲۸۵]

هم په دا ئے د نغمے اثر پیدا شه
چه په تشه کیږه صبر د رباب وی

د حریص له خپله نقده بهره نشته
لکه مار د ګنج د پاسه پیچ و تاب وی [۲۸۶]

کاملان تعلقات د دنیا نه کا
لکه پانه د خزان پښه په رکاب وی [۲۸۷]

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

غفلت هیڅ عجائب نه دے په دنیا کښے (۲۸۸)
ساکنان د خرابات واړه خراب وی
چه بنادی غواړی بے شماره بے حسابه
په رحمان به د غمونو څه حساب وی

۳۱۵۵ $\frac{۴۲}{۲۷۵}$ ۳۸

هر چه کښت ئے په باران او په سیلاب وی
د هغو عمر به واړه په عذاب وی (۲۸۹)
هغه ملک چه پکښے سیند او روډبار نه وی
دهقانان به ئے همه خانه خراب وی (۲۹۰)
واسمان ته به ئے سترګے وی ختلے (۲۹۱)
د باران له انتظاره به بے خواب وی
لکه څوک چه تلوی ئے په کرهی کښے (۲۹۲)
د هغه ماهی په طور به کباب وی
لا به کله بارانونه پر نزول شی
چه نخیل و زراعت ئے پر سیراب وی (۲۹۳)
همیشه له خدایه خواست د اوبو کاندی
که ئے چرے خواست په عمر مستجاب وی
لکه تل چه ئے په زوره د اوبو غوره وی
هومره غوره ئے نه په چنګ نه په رباب وی
که همه عمر باران وربانده ووری
لا ګرمی ئے په صورت کښے د افتاب وی

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دګرمۍ او د خشکیه له دهشته
د افتاب په څیر کمان ئې په ماهتاب وی [۲۹۴]

د اوبو له ډیرے ډیرے قیمتیه
لړکی لوښی ئې مردار په منجلاب وی [۲۹۵]

فرق د پاکو د ناپاکو اوبو نه کا
که اوبه ئې ګډے وړے له پیشاب وی [۲۹۶]

د اوبو په غلا چه ورشی نه جارووځی [۲۹۷]
که ساکن دَ خانقاه و دَ محراب وی

د اوبو په ویش چه ورشی انصاف پریږدی [۲۹۸]
که په لاس ئې ورقونه د کتاب وی

د اوبو ثواب ئې نه کیږی له لاسه
که په کوټ اوبو ئې عن دَ ج ثواب وی

د باران امید ئې نه کیږی له خدایه
که ئې ورځ و شپه په سر باندے سحاب وی [۲۹۹]

چه دَ نوکو اچولو په ځائے ورشی
تر تنخری ځان بتر کا که عقاب وی [۳۰۰]

پلیتی به ئې له تنه څنګه دروی
چه اوبه پکښے نایابے تر ګلاب وی [۳۰۱]

هیڅ ئې مه پښته له غسله اودسه
چه یو څاڅکے پرے کوهر غوندے نایاب وی

په سبب د ډیرهٔ ډیرهٔ تیمّمه
همیشه ئې سپیره ږیره په تراب وی [۳۰۲]

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دَ للمی سرِی په مخ کښې وی اُب چیرے
هغه خلق چه بے آب وی خو بے آب وی
په اُبه کښې ئے لا هم وی خونه وِرانه (۳۰۳)
هغه کلے چه د بل کلی پائیناب وی
یو به نه سی هیڅ برے له سری ورخه
پائیناوے سرِے که زویه د ارباب وی (۳۰۴)
سم حساب له عزیزانو کله مومی
تل ترتله ئے تر بل لاندے حساب وی (۳۰۵)
نه طاقت دَ رد بدل لری نه صبر (۳۰۶)
لکه مار په ملاو هلے پیچ و تاب وی
نه ئے مرگ نه ئے فتنه له لاسه کیږی (۳۰۷)
لاس ترِلے د خپل شرم په طناب وی
چه ئے زیست روزگار په کار وی تحمل کا (۳۰۸)
همیشه ئے له بد یه اجتناب وی
چه د توک د اچولو په ځائے ورشی
ق له هر څه ئے زیات په سترګو کښے عتاب وی (۳۰۹)
که یوه بده وینا ئے تر خولے ووځی
هغه وقت ئے په خپل ځان باندے عتاب وی (۳۱۰)
یو هغه سرِے تیرے وربانده کاندی (۳۱۱)
چه په عمر نه د سوال نه د ځواب وی
همسایه وی چریکار د پښتانه شی
او په اصل به موچی یا به قصاب وی (۳۱۲)

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ملائیم وئیل اثر په هغو څه کا
چه په زړه کښې ئې نه شرم نه حجاب وی
لکه دیو چه د سړیو په صورت شی
نه کمان کړے چه سړے دے، دے دواب وی
په هیڅ رنګ له بده خویه نه جاروځی (۳۱۳)
هسے مست د جاهلیه په شراب وی
چه اشراف د هسے خرسو په لاس کښیوځی (۳۱۴)
ترو خلاصے به ئے له خونه په کوم باب وی
هسے رزق دِ خدائے هیچا لره ورنه کا
که به رزق د چا په هسے رنګ اسباب وی
تر دا هسے زمیندارو هغه بِه وی (۳۱۵)
چه نوکر دیوه تور کافر کلاب وی
نوکری د یوه سپی ورلره بنه ده
هغه پریږده چه لا نوم ئے د نواب وی
د خشکی له غمه قوم د رحمان خوښ دے
که رفتن ئے له جهانه په شتاب وی (۳۱۶)

۳۱۶۶ ۴۳/۲۷۶ اا

د هغو چه وبله مهرو محبت وی (۳۱۷)
په هستی او په نیستی کښې فراغت وی
عاشقی ده تر هغه مقام په هورته
چه د چا مقام په رنځ و په راحت وی (۳۱۸)

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

څه د اور په لمبو سوے څه په واورو
واړه عشق دے که هجران وی که وصلت وی(۳۱۹)
چه مطلب او مُدعا د سړي خدائے شی(۳۲۰)
ناست ولاړ ئے هم واړه عبادت وی
که په دوه قدمه ومری هم حاجی شی
چا چه کړے د مکے په لوری نیت وی
هغه څوک چه پیروی د اولیاء کا
دا ئے واړه په معنیٰ کښے ولایت وی
که دَ زرو په تخت کښینی غزا وشوه
وَ فهیم وته کم فهمه بے عزت وی(۳۲۱)
خاورے زر په سړی واړه برابر شی
هغه دم چه له جهانه په رحلت وی
دَ دانا او دَ نادان ترمیان یو حد دے
هوښیاری د حد په هورته حماقت وی
تجاوز له خپله حده پکار نه دے
دَ هر چا په خپله خونه کښے حرمت وی
نورعالم که دَ دنیا غمونه کاندی(۳۲۲)
د رحمان سره دِ غم د اٰخرت وی

۳۱۷۹ $\frac{۱۴۴}{۲۷۷}$ ۱۳

دَ هغے بنا چه نوم محنت اٰباد وی
تر دِ خاطر به پکښے څه رنګ د چابنا د وی(۳۲۳)

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

په خواره او په ښه کله وینه نسي
هر مرغه چه په قفس کښې د صیاد وي
د رنځور په خوله کښې کله مزه کاندي
که سل رنګه نعمتونه ئې معتاد وي
پاۍ بسته ولاړه هر چرته زندان وي
هغه هر چرې آزاد وي چه آزاد وي (۳۲۴)
عشق تغیر وتبدیل نه لري یک رنګ دې (۳۲۵)
د اشنا له لاسه داد وي که بیداد وي
بنیادي بیخي هغه دې په یاري کښې
چه په یار پسې بې بیخه بې بنیاد وي (۳۲۶)
بودني هغه بالله شي په دُنیا کښې
چه د تن په نابودي ئې اعتقاد وي (۳۲۷)
نقصاني دي د دنیا عمارتونه
که تر لاندې سل ستونه د فولاد وي (۳۲۸)
زندګي که څوک پوهیږي حضور دم دې
آئنده و رفته کله د چا یاد وي (۳۲۹)
دا دُنیا لکه سیلاب هسې بهیږي
نه ئې چا څخه استوګه نه استاد وي
چه کامله اراده لري په زړه کښې
د مرشد له اشارته ئې ارشاد وي (۳۳۰)
وَ هغو ته چه خدائې خود پخپله ورښو
څه حاجت ئې په ښوونه د استاد وي

دیر یاران ورځنه بیل شو هیڅ کرم نه دے
که رحمان له جدائیه په فریاد وی (۳۳۲)

۳۱۹۰ ۱۴۵/۲۷۸ ۱۱

په دُنیا کښے که هر څو وبله پیوند وی
پس له مرګه به ئے درست صورت بند بند وی
زه به وخورم په دا باب هزار قسمه
که باور دِ په قسم و په سوګند وی
یا به وړاندے ترتا درومی یا دَ وروستو (۳۳۳)
که دِ ورور که دِ عزیز که دِ فرزند وی
زمانه به ئے تر پښو لاندے پائمال کا
که په قطع تر اسمانه سربلند وی (۳۳۴)
هم ئے هسے پیمانه ګنه په خاورو
که دِ ډکه خوله تمام عمر په قند وی (۳۳۵)
هر چه کاندی ازادی په دا جهان کښے (۳۳۶)
پس له مرګه به همه واړه په بند وی
هر چه غاړه ئے وحق ته ښښے نه وی
همیشه به ئے په غاړه کښے کمند وی
دا چه زه وتاته وائیم که ئے خدائے کا
په آیات و په حدیث کښے به څرګند وی (۳۳۷)
ته چه نه کوے باور په آیتونو
ترو زما وئیل به څه درلره پند وی

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

نا پسند به دَ منکر په انکار نه شي
هر کلام چه دلپذیرو دل پسند وی
خدایه گنج د قناعت وَ رحمان ورکړے
چه بے ملکه بے حشمه دولت مند وی (۳۳۸)

۳۲۰۲ ۱۴۶/۲۷۹ ۱۲

که د درستے دنیا غم مے په سر بار وی
وارۀ سهل دے که یار راسرۀ یار وی
هزار وارۀ به د یار تر نامے ځار کړم (۳۳۹)
که په قطع مے دا یو صورت هزار وی
هغه نه دے په شمارۀ د عاشقانو
چه د خپل تتر داغونه ئے په شمار وی
مشکل کار دَ عاشقۍ چه خدائے پیدا کړ
کله بل په جهان هسے مشکل کار وی
څوئے اوښے په مخ لارے روغے نه کا (۳۴۰)
د هغو ومعشوقو ته کله لار وی
ته چه گل زما د یار په جنس غواړے (۳۴۱)
کله دا رنگه گلونه په گلزار وی
نه موندۀ شي په بازار کښے نه په ښهر
هغه رخت چه د خوبانو په بازار وی
زۀ د یار په شیر بل نه وینم په سترگو (۳۴۲)
که په هرۀ خوا خوبان هزار هزار وی

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

د عاشق نظر په لږ او په ډیر نه وی
د خپل یار معرکه لږ وی هم بسیار وی (۳۴۳)
شته هزار هزار خوبان ولے سوګند دے (۳۴۴)
که زما د یار په څیر په هیڅ دیار وی
ق که ئے هر زمان په اب زمزم وینځم
بے مینه ے په زړه بانده غبار وی (۳۴۵)
مرګ له هیچا سره وار نه کا رحمانه (۳۴۶)
یار به ځان تر یار ورومبے کا که په وار وی

۱۰ ۱۴۷/۲۸۰ ۳۲۱۲

له هغو سره به څه فکر د یار وی (۳۴۷)
چه یاران ئے په هر لور هزار هزار وی
په اشنا پسے ویشتلے هم هغه وی
چه له نورے اشنائی ئے استغفار وی.
صبوری او قراری دِ په ما ژوم شی (۳۴۸)
که بے تا به مے یا صبر یا قرار وی
هر ژوندون دَ یار په وصل ښائسته وی
بے مینه که ژوندون وی څه په کار وی
که دَ یار له لاسه اور په یار بلیږی
ق هغه اور وعاشقانو ته ګلزار وی (۳۴۹)
په یاری کښے ازار نشته خدائے دِ نه کا
که ذره به زما زړه له تا ازار وی

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

وهغو ته عاشق نه وئیلے بویه
چه ئے فکر یا دَ سر یا دَ دستار[۳۵۰] وی
ځائے ئے اور شی چه زنار ئے شی په غاړه
ولے نه چه ستا دَ زلفو زنار دار[۳۵۱] وی
ستا د زلفو زنار دار که په اورسوزی
دغه اور به هم همه ستا دَ رخسار وی
هغه جونه به لیلے غوندے رسوا شی
چه رحمان غوندے مجنون ئے په دیار وی

۸ ۱۴۸/۲۸۱ ۳۲۲۰

که دَ ستا د خاطر مینه په اغیار وی
ستا د پاره دِ اغیار هم زما یار[۳۵۳] وی
چه سرے په یوه مخ باندے مئین[۳۵۴] شی
له یوه مخه ئے سل مخه پکار وی
هرچه کاندی نوکری دَ بادشاهانو
خواه ناخواه دَ دربانانو منت بار[۳۵۵] وی
زه به ستا له رقیبانو څه مانه کړم[۳۵۶]
دا دستور دے چه له ګله سره خار وی
څو سل خاره ئے بنخ نه شی په تهتر کښے
ګله وی چه دَ بلبل و ګل ته لار وی
سجاده به دَ ساقی د لارے فرش کا
هر صوفی چه دَ سرو سترګو خریدار[۳۵۷] وی

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

په جذبه د عاشقۍ به لیونے شی
که په قطع افلاطون غوندے هوښیار وی
په رحمان باندے به هیڅ ملامت نه کا
هر سړے چه ستا له حسنه خبردار وی (۳۵۸)

۱۵ ۱۴۹/۲۸۲ ۳۲۳۵

چه په مخ باندے د اوښیو یو رقم وی
عین د تورو له پرهره سره سم وی
که ګریوان مے د سپوږمۍ د نمر مشرق شی (۳۵۹)
زه چه یار په سترګو نه وینم تورتم وی
کړو وروځو غوندے نیش وهلے نه شی
که د زړه د پاسه پروت د چا لړم وی
دلته سر پورته کول د چا رسیږی
چه ښخپله د یار زلفے خم درخم وی
قاعده د دردمندۍ هسے نه ده
چه په درد کښے یو دردمند تربله کم وی (۳۶۰)
معشوقه چه د عاشق په غم وی غوښه
د عاشق سترګے دِ ووځی چه بے غم وی (۳۶۱)
همدمی د دوو همدمو هسے بویه
چه د دواړو زندګی په یوه دم وی (۳۶۲)
که د درست جهان خوبی ورباندے راشی (۳۶۳)
مه کړه خدائے چه ځوک بے یاره خوښ خرم وی

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

بل ستم دَ بیلتانه دَیاسه نشته
که لیدلے چا په سل رنګه ستم وی
دا قضا څه په قاضی موقوفه نه ده[۳۶۴]
خود پخپله یار تر یاره پورے کرم وی
راحت هرچرے هغو لره لازم دے
چه په درد و په محنت کښے مقدم وی
چه خوناب ئے د چشمانو مئے ناب شی[۳۶۵]
پیوسته له دغه جامه سره جم وی
هیڅ حاجت دَ هُنر نشته و نصیب ته
که په اصل څوک عرب وی که عجم وی
هُنرمه غواړه طالع له خدایه غواړه
بے سلیمانه پکار نه دے که خاتم وی[۳۶۶]
دَ رحمان خندا په اجر دَ ژړا ده
تازګی د ګل په قدر دَ شبنم وی

۳۲۴۲ $\frac{۵۰}{۲۸۳}$ ۷

همیشه دِ زما سراو ستا قدم وی
تر هغه ساعته پورے څو مے دم وی[۳۶۷]
زه بے تا هسے ګمان کرم چه بے حال یم[۳۶۸]
که نسکورے په لبانو جام دَجم وی
ستا له لاسه واړه ما لره نافع دی
که مے زهر وی په زخم که مرهم وی[۳۶۹]

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

نور عالم که دَ دنیا په ښادئ ښاد دے (۳۷۰)
زما زړه دِ مدام ښاد دَ ستا په غم وی
که په زړه بانــدے مے سل غمونه راشی
دَ ستا غم دِ تر همه وُ مقدم وی (۳۷۱)
ما دِ خدائے دَ ستا له غمه بے غم نه کا
تر هغه ساعته پورے څو مے دم وی (۳۷۲)
رحمان ستا په مخ مئین دے حق خبر دے
که په دے کښے به هیچرے زیات و کم وی (۳۷۳)

ے

۳۲۵۳ ۱/۲۸۴ ۱۱

زړه مے ورکړ و خود رائے — هر چه شوه تکیه په خدائے (۱)
په سودا دَ عاشقئ کښے — یا به شاه شم یا گدائے
یا به کښینم وَ دوښے ته — یا په سیوری دَ همائے
چه خدائے کا هغه به وشی — نه بل خدائے لرم نه ځائے (۲)
بے دلبره به ورنه کړم — نور وَ هیچا دَ زړه رائے (۳)
پائے بوسی به ئے پرے نه بږدم (۴) — څو مے رسی دست و پائے
یا خندا ده په جهان کښے — یا ژړا ده په وائے وائے
تر دا دوه چارو په هور ته (۵) — نور څه نشته په دا سرائے
عاشق بویه چه صادق وی — نه خودکام و نه خود رائے (۶)
خدائے دِ نه کا څوک په عشق کښے — جو فروش گندم نمائے
زه رحمان په کار پوهیږم — که مے مل وی کارفرمائے (۷)

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

۳۲۶۸ ۲/۲۸۵ ۱۵

که له ډیره غمه دم دَ چا ختي
زهٔ به مړ وم ستا په غم کښې لرغونې (۸)
زړه ئې هسې رنګ په تورو زلفو بائیلو (۹)
لکه ورک په توره شپه کا څوک کالے
په یوه ساعت ے رد هم ے قبول کا
نه پوهیږم چه ئې خپل یم که پردے (۱۰)
په یوه لاس ئې مرهم په بل خنجر دے
نه په مړیو کښې حساب یم نه ژوندے
که په مرګ دَ عاشقانو ئې رضا وي
خدائے دِ ما کا ترهمه وارو ورو ميې (۱۱)
خون بها ے دَ ستیه په خیر نشته
ما بخښلهٔ قبول کړے دے خپل سوے
وَ کوم کوم ته به ادراک دَ پاړو رسی (۱۲)
هر وینبته ئې دَ کاکل شه منکرے ق
څوک دِ غم زما د ډیرو اوښیو نه خوری (۱۳)
کم به نه کا په خوردن سره نه دے
دَ هجران په توره شپه کښې زه ویریږم (۱۴)
چه ئې نه وینم دَ وصل سپین سپوږمے
دَ یار غم لکه مزرے رابانده راشي (۱۵)
خدائے دِ پیښ په هیچا نه کاندے مزرے

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

چه ئے غم غلطومه دَ شپې پا څم[۱۶]
کله مے په شونډو کیږدم کله نے
کړه کتاب کښے رباب په لاس راواخلم
بارے درد مے په هیڅ رنګ نه کاکیے[۱۷]
همسایه مے واوره ووته له خوابه
که په سل کوتو دننه کړم زبیر ګے[۱۸]
که عاشق تر معشوقے پورے یو سپے دے
خدائے د هجر په تیغ مه وژنه یو سپے[۱۹]
زه رحمان دَ یار په غم کښے هسے ډوب یم
چه هیڅ نه وینم په ستر کو مکر دے

۳ ۳۲۷۶ ۸
۲۸۶

چه دارو دَ درد وغم وی هغه مے
ساقی ماره یو دوه جامه پیا پے[۲۰]
مے د خپلو لبو را نهٔ دَ انګورو[۲۱]
چه اول ئے نوشیدن وی پسے قے
په هر تیغ کښے چه اب نه وی دَ شرابو
څوک دَ غم په غلیم نه موی برے[۲۲]
جام دَ میو چه غمخوار د کل جهان شه[۲۳]
زه به اوسم په دا غم کښے تا به کے
راشه یو ځله مے هسے مست خراب کړه
چه خبر نه شم له حاله دَ هیڅ شے[۲۴]

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

بےخودی ھسے پناہ دہ زوراورہ (۲۵)
چه له هرہ غمه خلاص کاندی سرے
زۀ هغه تحصیل تمام کړم په عشق کښے (۲۶)
چه ئے روغ وکړے بولی لیونے
رحمان ځلے له رقیب سرہ په دا کا
اشنا ښه دے البته خوړونکے سپے

۱۰ ۴/۲۸۷ ۳۲۸۶

ورک شه ورک شه بدکردارہ بدسړے (۲۷)
که دِ ورور که دِ عزیز وی که پردے
تر هغه لا نیکوکار بیګانه ښه دے
چه بدکار شی دَ چا زویه یا نسے
لرګی لوښی همه وارہ پر مردار وی
بدکردارہ لکه سولند وړے سپے (۲۸)
هغه خلق همه وارہ لیونی (۲۹) کا
چه په کلی کښے یو سپے شی لیونے
بل علاج دَ لیونیو سپیو نشته
بے له مرګه چه پر ډک شی یو کوهے (۳۰)
حرام خور دَ مخنثو په حساب وی
که په توره یا په تیغ وی مړنے (۳۱)
مړنے وئیلے بویه وَ هغه ته
چه بے وجهے زار نه کاندی یو شے (۳۲)

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دیک ئې ینبې په دیګدان ورومې ترتیغ وی
چه ئې سوړ په آه سرد نه شي نغرې
هسې فیض ئې وَهر چا وَته رسی[۳۳]
چه باله شي دخپل وقت حاتم طې
اې رحمانه چه بد فهمه بدکردار شي
راته وایه سپې بهتر دې که سړې

۳۲۹۵ ۵/۲۸۸ ۹

غم دِ هسې غلبه شه په ما باندې
چه مې نهٔ دننه ځائې شي نه دَ باندې[۳۵]
له زبیرګیه مې نور خلق په عذاب شه[۳۶]
تل دَ وچو له کبله سوزی تاندې
زهٔ دَ ستا په غم کښې شمع غوندې ژاړم[۳۷]
ته زما په ژړا صبح غوندې خاندې
زړهٔ مې هسې ستا په لوری اویزان دې[۳۸]
لکه زلفې دِ په مخ دی اویزاندې
ما د ستا داندیښنو په اور دی سوې
دَ دنیا اندیښنې واړه لکه سپاندې[۳۹]
دا دستور دې چه یو غم په سړی زور شي
نور غمونه ئې همه شي تر پښو لاندې[۴۰]
هرچه ما په نصیحت له تا جارباسی
بیا د ستا په لوری دروی له ما وړاندې

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

زړه رحمان ئے شدنی په ځان کښه
که یار سل ناشدنی چارے راکاندے (۴۱)
سړه لمبه کوره چه څه کا په وچ ږکی
ځ دَ یار په رحمان هسے چارے کاندے ق

۱۲ ۶/۲۸۹ ۳۳۰۷

په هرځائے چه ستا ثنا شی بنیوه کړے
خرمهرے شی هلته در ومرغلرے
دَ هغو سترګو به اوښے وی ګلرنګے (۴۲)
هرچه ستا په ګل رخسار وی منتظرے
هغه کله دَ ناصح خبرے اوری
هرچه اوری ستا ورے ورے خبرے (۴۳)
مرور کاندی عاشق له جُمله خلقه (۴۴)
معشوقے له هیڅا مه شه مرورے
په ساعت کښے سرے مرهم ئے ژوندے کا
طائفے دی دَ خوبانو سحر کړے (۴۵)
زړه ځان ډوب کښم بے تا په خپلو وینو
که مے ډوب کا څوک په شهدو په شکرے
لرے لرے غم دِ واړه رانژدے کړ
چه له مخه دِ حجاب کړ راته لرے
چه مے نوم دَ ستا د تورو زلفو واخست (۴۶)
را پسے شوے دَ بلا تورے لښکرے

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

هيڅ په حق دَ حقدارانو نه کروهيږے
هميشه زما په وړې زړه منکرے (۴۷)
زما ستا مينه ښکنده په جهان ده
ولے دا رنګه ښکنده کواهي نغرے
زه چه ستاله غمه ژاړم آه فرياد کړم
دَ رقيب کړه هم ړول وي هم سندرے
دَ رحمان شعر به ولے نادر نه وي
چه ثنا کاندے له تاغوندے نادرے (۴۸)

۹ ۷/۲۹۰ ۳۳۱۶

غم خواري دا هسے چرے وي غم خورے
چه ما دلے وته ناست لرے ته دورے (۴۹)
هغه خدائے چه دستا مخ بله لمبه کړ
دا لمبه ئے کړه زما په کوکل پورے (۵۰)
هم هغه دي زما تور ليمه سره کړي (۵۱)
چه ئے ستا لاسونه سره کړه سترګے تورے
غل دَ سرو دَ مال غلا په توره شپه کا (۵۲)
ته په ورځ زما دَ سرو دَ مال چورے
اصيل نه دي چا پيرودي نه ئے پلوري (۵۳)
ته اصيل په ديدن پيرے هم ئے پلورے
دا کوم رنګ دَ اشنائيه دَ يارۍ دے
چه زه ستا دَ مخ ثنا کړم ته مے زورے (۵۴)

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

درخانۍ په سل غمونو خلائے اخته کړه
زه به وې له تا زار کوم که ګوره (۵۵)
زه وَتاوته دَ ستا له جوره ژاړم
ته راواخلې سل ګلې نادرې نورې (۵۶)
دَ رحمان په عاشقۍ به آفرین کړې
که لبرِ رخ و آئینه ته کړې وګورې (۵۷)

۳۳۲۳ $\frac{۸}{۲۹۱}$ ۷

خدایه مه کړه ناامید هغه وګړې
چه امید ئے دے دَ ستا په کرم کړې (۵۸)
ستا له رحمه به زه وې نومیدی کړم
چه دِ نام دے دَ رحیم په نام نومړې (۵۹)
دا نیمګړې سړې ننګه دَ خپل نام کا
ته خو خدائے ئے چه په هیڅ نه ئے نیمګړې (۶۰)
هیڅ بنده دِ په بندګۍ کښې لیده نه شي
چه تا خط دَ ازادۍ نه دے ورکړې (۶۱)
دا همه واړه شومیت دے د شومانو (۶۲)
ګنه ته دَ چا په زیرمه نه ئے ستړې
چه بې تا ئے په زړه بله هوا ګرځي
تر مقصوده به وُ نه رسي دوه زړې (۶۳)
هر چه ستا په لار قدم دَ راستۍ کیږدي (۶۴)
که ئے زیان وي زه رحمان ئے پوره ورې

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

۳۳۳۰ ‏‏۹/۲۹۲ ‏۷

دَ اشنا له لاسه ناست یم په زړه ستړے
په فلوس مے په کار نه دے درست وکړے
چه په ژوندئے طمع پریکړے شی له ژونده
نور به څه باندے ویریږی سر پریکړے (۶۵)
که ژوندون دَ عاشقانو په وصال وی
زه مهجور یم په دغه روایت مړے (۶۶)
خوږ ژوندون مے جدائیه هسے تریخ کړ
چه دَغم له تلخئ دَم نه شی رانغړے (۶۷)
دا صورت په مثال خس محبت اور شه
ترو د اور په مخ کښے څهٔ کاندی خسړے (۶۸)
لا علاج به لکه اوښ باربرداری کا
چه په پوزه ئے پیزوان شی دعشق پړے (۶۹)
له احوالهٔ ورو ورو پښتیٔ یارانو (۷۰)
بیلتانه دَ رحمان وار دے خطا کړے

۳۳۴۵ ‏‏۱۰/۲۹۳ ‏۱۵

ما چه سترگے وَکل رُخ ته واړولے (۷۱)
په هغو سترگو مے وینے وژړلے
دَ عمل جزا مے بیاموندهٔ برحقه (۷۲)
دا دستور دے چه کړے هغه اخلے

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

(۷۳)
ترغمز وئیو په سله زره قاتل دے
تل چرے تورے په کانی تیرَولے
خود کرده به څه تاوان له چانه غواړی
چه ئے غوځے په خپل تیغ کړے سینے خپلے
ما لا مرګ دَ ستا په مینه کښے هاله لید
چه ګدائے دَ بادشاهی لا ئے وهلے (۷۴)
له خوبانو به څوک څرنګ وفا غواړی
سروے کله کشمشی میوه نیولے (۷۵)
په دربارئے سندړاسی څه ورته کښینه
تار په تار دَ سر ویښته ایرے مښلے (۷۶)
که ئے لاس دَ خدائے په کار کښے رسیدلے
بدہ بخره به چا چرے قبلولے (۷۷)
چه نیکی دِ و نیکانو ورکوله
دے بدانو څه بدی نه وه غوښتلے (۷۸)
څوک له خاورو ایرو پاڅوے تخت ورکړے
څوک له تخته دَ ایرو په ډیران ولے (۷۹)
ورکړه راپیرودہ دواړه په خپل لاس دی
که وچائے ورکوے که ئے اخلے (۸۰) ق
ځار تر هسے رنځ نیولو څه رحمانه
چه شهی ئے په پښتنه وی راغلے (۸۱) ق
خدائے طاعت (دَ بنده) څه کوی رحمانه
خوئے مینه دَ سړی ده آزمائیلے (۸۲) ق

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ستا چه نیت دَ اشنائۍ نه ووصنمه
دَ رحمان سترګے دِ ولے نه ګنډلے (۸۳)

دَ ازل په ورځ دَ بخرو جواری وه
اے رحمانه چا بائیلوے چا ګټلے (۸۴)

۳۳۵۵ ۱۱/۲۹۴

هسے ډوب یم ستا د غم په دریاب تلے
چه ماهی غونډے بے تیغه یم (۸۵) کوتلے
ما لیدے لیندے چه لندیو به راکښلے
تا دَ وروځو په لیندو یم زه (۸۶) راکښلے
په خیل ځان ے ترهغه پورے نظروو (۸۷)
ځوے ته ٔ په نظر نه وے کښیوتلے
اوس ے ستا په مینه ځان وجهان هیر (۸۸) شه
دَ سیلاب په مخکښے لاړم لکه خلے
عاشقی به ئے دَ باد په مخ بنه کا
که چا ځائے وی کوه قاف غونډے نیولے (۸۹)
چه د عشق له بحره روغ سلامت ووځی
زه ئے نن ګنم له موره زیږیدلے
هرچه واوری په بلا د تورو زلفو
هغه بیا ترکوره نهٔ دے ورغلے (۹۰)
چه له غرونو پریوتلے وی بیا پاځی
پاځیدے نه شی له زړونو پریوتلے

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

چه دَ اور لمبو وهلے وی بیا روغ شی
نه رغیږی دَ ازار لمبو[۹۱] وهلے
زهٔ رحمان ئے هر دم وینم ستا په غم کښے[۹۲]
که خپل مرګ په سترګو نه دے چالیدلے

۸ ۱۲/۲۹۵ ۳۳۶۳

ته چه خپله بے عقلی هوښیاری بولے
کشکے بیا موم دَ غوښتو په نرخ شولے
عشق یو داد دے په عاشق باندے له خدایه
هسے نه دے چه ئے پیرے یائے پرولے[۹۳]
زلیخا غوندے به بله شیدا نه وی
که دَ مصر مستورے شی واړهٔ تولے[۹۴]
هغه بحر څه په بحر حساب نه دے
چه اوبه ئے خاک الودے وی ختولے
له هغو سره به څه فکر دَ یار وی
چه په غم وی دَ کالهٔ یا دَ کهولے[۹۵]
عاشقی دَ خپل نغری په غاړه نه شی
څو په یار پسے وانخلے ځلے ځولے
دَ وصال په نعمتونو غره مه شه
جدائیه خلقے کړے په زړهٔ زمولے
دُر ګوهر په تله نه دی چا تللی
دَ رحمان شعر ګوهر دے څهٔ ئے تولے

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

۹ ۱۳/۲۹۶ ۳۳۷۲

زه دَ ستا له غمه ژاړم واړه وينې
واړه وينې واړه وينې واړه وينې(۹۶)
خود مې وينې چه په ټښ کاته دِ مريم(۹۷)
لا خنجر په کاني مړې دِل سنګينې
هر زمان مې په حضور دَ ستر ګو وژنې
لا يقين دِ دَ زړه نه شي بې يقينې
عالم ستا په مينه ژوی نه پوهيږم
زه په څه سبب وژلې يم ستا مينې(۹۸)
ډير عالم به نمري رنګ کا معلوميږي
تا چه هسې جامې واغوستې رنګينې(۹۹)
پښې ئې نه وی چه وَبله خواته دروی(۱۰۰)
هسې سکنې په غمزه دَ عاشق سپينې
که صورت مې پربله پورې معلوميږي(۱۰۱)
زړه مې ستا له غمه چاود دې نازنينې
هغه څوک دې چه تر تا به بهترين وی
اې تر واړو مهرويانو بهترينې
چه دِ زلفې دَ رحمان په زړه وريځ کړې
تر بڼوئې څکه څاڅي اوبهٔ سپينې(۱۰۲)

۱۳ ۱۴/۲۹۷ ۳۳۸۵

هسې رنګ نعمت ورکړې خدائې وما دې
چه مې هيڅ بهائې نشته بې بها دې(۱۰۳)

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

یو خو دا چه ئے په شکل دَ اٰدم کړم
دویُم دا چه مُحمدؐ مے رهنما دے

لاس و پښے و غوږ و سترګے خوله و ژبه (۱۰۴)
یو صورت مے په ښو اسمه مسمیٰ دے

اسمان زمکه نمر سپوږمۍ و روښان ستوری
درست جهان مے و نظر ته تماشا دے

شپه و ورځ دَ ماه و مهر له پرتوه
ځ دَ مکے راته درست نقره طلا دے

په شپه مښک په ورځ کافور را باندے ووری
درست صورت مے پکښے ډوب ترسرو پا دے (۱۰۵)

چه هر دم زندګانی بخښی و ما ته
هر نسیم د یار له لوریه مسیحا دے

دَ چمن و سرو ګلونو ته چه ګورم
هر هر ګل راته له ورایه په خندا دے (۱۰۶)

دګلګونو میو ناوے راته ناسته
زرنګاری قمیص اغوستے وَ مینا دے (۱۰۷)

خیلے وینے په ورغوی کښے نیولے
هر ساغر دَ مے پرستو جان فدا دے

دَ شنه رود په غاړه ناست سرود په لاس کښے
هر مطرب لکه بلبل هسے ګویا دے (۱۰۸)

سپین مخونه سرے لښتیه دَ دلبرو
هر دیدن ئے دا افتاب په شیر رنا دے (۱۰۹)

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

چه دا هسې معرفت ئې پر پيرزو کړ
په رحمان باندې منت د پاک مولا دے[۱۱۰]

۱۴ $\frac{۱۵}{۲۹۸}$ ۳۳۹۹

يو يو داغ په تهتر يښې د هرچا دے
که بادشاه د ولايت دے که ګدا دے[۱۱۱]
سيرابي په سرچشمه د دُنيا نشته[۱۱۲]
تشنه لب ئې ګوښې ګوښې په غوغا دے
لږ راحت ئې په ډير ډير زحمت مونده شي[۱۱۳]
د دے دهر خس حرام شه که ويړيا دے
د دنيا ښادي بې غمه مونده نه شي
لږ خيرات د شوم له کوره په بلا دے
فراغت پر باندې ولے حرام نه وي
چه داخل په سراچه د دے دنيا دے
د مجنون د حال پښتنه به څوک څه کا
جهان واړه کوراکور مجنون ليلےٰ دے
عشق يو هسې رنګ افسون په عالم پو کړ[۱۱۴]
چه عاشق په تورو سترګو نابينا دے
وهرچا ئې بخره ورکړه ګوښې ګوښې
خپل قسمت د هر سري جدا جدا دے[۱۱۵]
ورکړه راپيرووده تول د بل په لاس دي
دلته دخل نه زما دے نه د ستا دے[۱۱۶]

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

پہ ھر کار چہ دَ صاحب دَ زړہ رضا شی (۱۱۷)
پہ بندہ کہ ناروا وی ھم روا دے
خواہ ناخواہ کہ ئے رضا وی کہ ئے نہ وی
دَ قسمت رسد رضا و نا رضا دے (۱۱۸)
ځان ایمان سپارلے بویہ و ھغہ تہ
چہ ئے حکم جاری شوے پہ ھرچا دے (۱۱۹)
دَ ھرچا پہ لاس چہ حکم حاکم ورکا
جھان وارہ دَ ھغہ پہ مدعا دے (۱۲۰)
چہ مولیٰ ورسرہ مل نہ وی رحمانہ
کہ لښکرے ورسرہ وی یک تنہا دے

۶ ۱۶/۲۹۹ ۳۴۰۵

دا چہ مست پہ میو راغے یار دَ چا دے
بیا بہ تاخت کا پہ کوم غولی وار دَ چا دے
چہ زړہ سوے ئے دحرم پہ صید نہ شی
دا د غشی بے صرفے گوزار دَ چا دے (۱۲۱)
ما خوبے وجھے څوک نہ دی ازار کړی (۱۲۲)
دا چہ ما ازارہ وی ازار دَ چا دے
چہ ئے درست جھان دَ مخ پہ رڼا زلیست کا
دا افتاب غوندے روښان رخسار دَ چا دے
چہ بلبل ئے رسیدے تر گلہ نہ شی (۱۲۳)
دا دننہ پہ حرم گلزار دَ چا دے

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

چه هیڅ ترس په زړه کښې نه لري رحمانه
دا ناترس وبې پروا نګار دَ چا دے

۳۴۱۴ ۱۷/۳ ۹

غواصان که ګوهر غواړي ګوهر دا دے
بیدلان که دلبر غواړي دلبر دا دے
زما یار غوندے به بل یو دلبر نه وي (۱۲۴)
دَ جمله وُ دلبرانو سرور دا دے
خوند دَ لبو او دَ چاهِ زنخدان ئے
راشئ ګورئ زمزم دا دے کوثر دا دے (۱۲۵)
چه دِ وصل او هجران وته نظر کړم (۱۲۶)
زړه ګمان کړم جنت دا دے سقر دا دے
ته خطبه په منبر څه لوله خطیبه
قدم کیږده په ځان باندے منبر دا دے
دَ کعبے سفر اسان دے مرد هاله یئے (۱۲۷)
که له ځانه سفر وکړے سفر دا دے
هر منعم چه دِلجوئ دَ قلندر کا
هغه نه دے قلندر قلندر دا دے
چه توانګر دَ قناعت په خزانه شي
بل توانګر په جهان نشته توانګر دا دے (۱۲۸)
دا هنر نه دے چه خاورے ځوک سره زر کا
چه زر خاورے کا رحمانه هنر دا دے

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

١٢-١٨/٣٠١-٣٤٢٦

دَ ساقي په لاس کښې جام دَ میُوناب دے
مطرب یښې په زانو بانډے رباب دے
محتسب په رقص کړ شه پائے کوب کا
صوفي پروت په میخانه مست وخراب دے [١٢٩] ق
په رقیب بانډے غفلت راغے وودہ شه
یار پلو له مخه واخست بے حجاب دے [١٣٠] ق
ته چه ما وته توبه وائے ناصحه [١٣١]
په دا وقت کښې چا څخه دَ توبے تاب دے
زۀ چه ځان منع کوم دَ عشق له کاره
په دا هسے کار کښې کوم سود وثواب دے
دا اسمان چه لوئے په عقل کښې بالہ شي
په محیط دَ عاشقۍ کښې یو حباب دے
هر چه ژغوري سر و مال په عاشقۍ کښې [١٣٢]
هغه کړے کور په مخکښې دَ سیلاب دے
ته چه خواب غواړے په عشق کښې راته وایه [١٣٣]
کوم چا کړے دَ مزري په خوله کښې خواب دے
بے عمل که کتاب کیږدي په سر خه شو
ګویا یښې ئے تر پښو لاندے کتاب دے
✓ چه دَ شر له عملونو خیر غواړي
تشنه لب غوندے سیر شوے په سراب دے [١٣٤]

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دَ دښمن له مکاریه وویریږه (۱۳۵)
په نرمۍ ئے غلط مه شه سنګ دراب دے
عبادت په شتاب هسے کړه رحمانه
لکه عمر چه دِ تلوئے په شتاب دے

۳۴۳۳ $\frac{۱۹}{۳۰۲}$ ۷

هغه زړه چه ستا دَ عشق په اور کباب دے
که مرهم ورباندے کیږدے ډیر ثواب دے
حجابونه له اغیارو مناسب دی
له یارانو په یارۍ کښے څه حجاب دے (۱۳۶)
بے له تا چه ښائسته ئے بے حسابه
نور ښائست دَ جهان واړه په حساب دے
ښاپیرۍ که هر څو ډیرے ښائسته دی (۱۳۷)
په هغو کښے هم ستا حُسن انتخاب دے
لکه ګل چه تر افتاب پورے خجل وی (۱۳۸)
دغه هسے ستا ترمخ پورے افتاب دے
دا دَ میو دَ مستیه سُرخی نهٔ ده (۱۳۹)
تیغ دَ سترګو دِ په وینو کښے غرقاب دے
زهٔ رحمان به څه خُواب کوم وَ یار ته
و ژوندیو ته دَ مړیو څه خُواب دے

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

۳۴۳۹ $\frac{۲۰}{۳۰۳}$ ۶

چه ترسنګ و ترا هنه ئ زړه سخت دے (۱۴۰)
زړه هغه لره ورکړے ما کم بخت دے
خدایه کله به هغه یاغیان را ایل کړے
چه لو تلے ئ زما د خاطر رخت دے
هره غم به نور په هیچا باندے نه وی (۱۴۱)
لکه غم چه د خپل یار په ما یک لخت دے
مګر بیل په تیره تیغ شی یار له یاره
ګنه ښاخ له خپله ډرخته سره ډرخت دے (۱۴۲)
د پهلنګ او د پیړیه حاجت نشته
د یارانو نشستن د زړه په تخت دے
چه له ډیره غمه وقت پیژندے نه شی
په رحمان د یار له غمه هسے وخت دے (۱۴۳)

۳۴۵۵ $\frac{۲۱}{۳۰۴}$ ۱۶

که ئ مهر و محبت که ئ عناد دے
ما د یار په یاری کړے اعتقاد دے (۱۴۴)
لکه زه چه په خپل یار باندے میئن یم
یو په سله د یار مهر په ما زیاد دے (۱۴۵) ق
زه و یار که په تن دوه په معنیٰ یو یو
هزار خونے واړه یو ښهر بغداد دے (۱۴۶)

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

(۱۴۷)
هیڅ بیلتون زما د یار وبله نشته
کار هسه وار موقوف په خپل میعاد دے
زه خپل آه آتشین له خدایه غوارم
د آشنا خاطر که موم دے که فولاد (۱۴۸) دے
په جذبه د عاشقۍ که برهم نه شی
بے دادی د مطلوبانو واره داد (۱۴۹) دے
(۱۵۰)
هیڅ موقوف د معشوقو په حسن نه دے
د عاشق خاطر په خپله مینه بناد دے
(۱۵۱)
چه د آه و د فریاد طاقت ئے نه وی
هر سکوت د بے طاقتو آه فریاد دے
سل په دا رنګه نومونه د عشق نور دی
لکه نوم چه د مجنون او د فرهاد دے
چه ئے زره شی هلته کښیږی هلته پاتے
عشق د عقل و د هنر کره داماد (۱۵۲) دے
پادشاهان په عاشقۍ کښے ملنګان شی
ما و تا غوندے وګړے د چا یاد دے
(۱۵۳)
چه پریشان د یار د زلفو په خیر نه وی
جمعیت د هغو زړونو لوئے فساد دے
که ریښتیا له خرابیه سره ګنج وی
خرابات د بے بنیادو بیخ بنیاد دے
(۱۵۴)
که کمال د کښینی په اندازه وی
فوقیت د شاګردانو په استاد دے

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

چه به یار پسې ترځان وجهان تیرشي

٦٦/٢٠٦ ١١ (۱۵۵)
په رحمان زمونږه هسې اعتقاد دې

چه د لمر نور د شمعو په رڼا کاندي هغه نه ګڼي
(۶۲۲) رحمان کنږه په لمر نو ځنې اجتهاد دې

زما هغه ... ولاړه ...
۲۲/۳۰۵ ۸ ۲۴۶۳ (۶۲۱)
... ولاړه ... لیده ...

ستا د ابرو په محراب سجده کړې کله اداء شي
(۱۵۶) زما مراد خو ستا د خاطر قرار دې

ستا په مینه به کښیږم زما لاله مخه تښتي
(۶۲۱) کوافت به مې نکه لاس پیا د رې په فساد دې
(۱۵۷) هر اهل چه ستا د کاره شي ستا په مینه دې
(۵۲۱) په ګیمه زما قبول هغه اهلان دي

کو تمام جهان دې بیا نو ځي په لیمه کښې
(۱۵۸) بې تا نه وبا خرکند پرې نه مې یاد ده دې ځن
(۱۵۹) مارچه غوږ ته ستا د عشق ...
نصیحت مې نور ... په غوږ نه ...

او پر زما لمنه ... ورتامه ...
(۱۶۰) چه د ناموس د عاشقی ... زنار ...
هر ګلشن چه ... په کښې ... نوې ...
د عاشق په نظر ... د رضا ...
(۷۲۱) د رحمان ... توابیت ... هو ...
(۱۶۱) خوږ د اوسېنو ... نه ... ادم زاد ...

۳۴۷۴ ۲۳/۳۰۶ ۱۱

دُنیادار که دُنیا دار په سیم وزر دے
هنرمند و سره گنج دَ خپل هنر دے (۱۶۲)

بیهوده به زوراور و خان ته وائی
دَ دنیا سړے که هر څو زوراور دے (۱۶۳)

هسے مه وایه چه زه یم په جهان کښے
پیدا کړے خدائے دَ سردپاسه سر دے

څنے څنے ئے ولیان پیغمبران کړه
نه چه هر یو اولیا او پیغمبر دے (۱۶۴)

جو دانه قدرے یو لعل پکښے پیدا کا
نورجهان واړه دَ توروکانو غر دے (۱۶۵)

یو بادشاه وی چه لښکرے پسے دروی
نهٔ په هرچا پسے کړے خدائے لښکر دے (۱۶۶)

پیدا کړی خدائے سړی په تفاوت دی
هسے نه چه جهان واړه برابر دے

که دَ عمر و رفتن ته څوک نظر کا
دا به وائی چه افتاب دَ نمازدیگر دے

چه ئے سر په زمکه ښے وی ویارته
په اسمان باندے ختلے لکه نمر دے (۱۶۷)

ته زما په ډیرو اوښیو عیب مه کړه
ما موندلے په دا بحر کښے گوهر دے

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دَ ریا خرقه ئے خلائے مه کړه په غاړه
رحمان کوږه دستار تړلے قلندر دے

۳۴۸۲ ۲۴/۳۰۷ ۸

ق

زړه مے ستا دَ غم و غشیو ته سپر دے
بیا دا شپړ په معنی امن دَ خطر دے (۱۶۸)
چه دَ یار له لوریه غشے په یاری کښې
هغه غشے غشے نه دے نیشکر دے (۱۶۹)
دَ دنیا ښادی همه غم ژنو وکړه
بے روژے عالم له عیده څه خبر دے
که ستا هیڅ په ما پوره نه دی دلبره
خدائے کو ما لره بے تا دَ دین ضرر دے
که ظاهر په صورت یم په معنی نه یم
لکه حرف چه دَ لا کښلے په دفتر دے
بے له اسمه مے نور هیڅ نشته له جسمه
د الام په خوله دَ نورو مکرر دے (۱۷۰)
خو ستا قد زما په سترکو کښے خدائے نقش کړ
کڼه دلته یو ویښته په مثال غر دے
دَ رحمان عقل تر ځارشه څو څو واره (۱۷۱)
هر کم عقل چه دَ ستا په عشق اوتر دے

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

۸ ۲۵/۳۰۸ ۳۴۹۰

چه په خاطر ئي ماته دی ګرانه ستاد غم غبار دے
همیشه مے په زړه پروت انبار انبار دے

که رهبر دے ګمراهانو لره خضر
عاشقانو لره خضر مستانه ولیار دے

د ګوندلي چرته څوک د غلاۓ په وړ قبول وي(۱۷۲)
پیتاله لاسه فریاد په هر دیار دے

د شهیدو پر هار ونو څه نظر کړه
هسي رنګه دوه سترګو خونبار دے(۱۷۳)

چه د غم په مار یئ مار زړه دے زما لښلے
هم هغه مے په زړه کښلے په تبار بار دے

چه هر دم دے د غمزے په توره وژني(۱۷۴)
لا مے زړه د هغو سترګو منت بار دے

د اسمان دي د هغو په مخ ځای وي(۱۷۵)
چه په ماتبلندي دے ګرے ستا اخبار دے

د که یار سره هله ځکه په خفه ورسره کاندي(۱۷۶)
د رحمان د ما هسے کله اعتبار دے

۱۱ ۲۶/۳۰۹ ۳۵۰۱

کمیني یو ناهر کله دشه یئ ستا چه کمال ځنے اظهار دے

چه اختیار ئے کمیني کړه | په دانه کښے پټ خروار دے(۱۷۷)
چرګ په دوه پیسے حلال شي(۱۷۸) | باز په سل روپئ مردار دے

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

فقیران دَ ځان ځواب کا — شاهٔ دَ خلقو تاوان دار دے[179] ق

چه اسمان شه سرگردان شه — چه زمین شه برقرار دے

جهان وارهٔ زمکے وخوړ — کیني عجب لوئے کار دے[181] ق

نښتر کوره سرکشي کا — اینکور کوره نګونسار دے[182]

ذره ضعف شوه افتاب شوه — ابر ځورب دے غبار دے[183]

کوه بلند شه سیه سنګ شه — لعل ووړ شه بزرګوار دے[184]

لوئے اسمان توره تبی شه[185] — هلک نمر ځره انوار دے

ووړ سړے کوره رحمانه[186] — چه لوئے فیل نے باربردار دے

۹ ۲۷/۳۱۰ ۳۵۱۰

ستا له غمه مے په سر کښے هسے شور دے
کویا میشت مے په سر ښهر دَ لاهور دے[187]
په افسون او په جادو دَ تورو سترګو
خراب زړه مے له جمله عالمه تور دے
که مے زړه له غمه چوی راته وائی
غم د هجر دغه مه کښه لا نور دے
دَ هجران په بیماری کښے را معلوم شه
چه اخښتے مے ازار دَ پلار و مور دے
درد و غم د عاشقیه ډیر مشکل دے
خدائے ورکړے وَ داناؤ داسوراور دے[188] ق
دا دنیا په مثال کور دے دَ غمونو[189]
چه په هسے کور نازیږی هغه کور دے

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ډاجهان نه دَچا خپل دے نه به خپل شي
چا په خپله رضا پرېښوو چا په زور دے[۱۹۰]
چه دَ مرګ په پور وړيو کښې يو ومرې[۱۹۱]
دے دَ واړو پور وړيو زوئے او ورور دے
که رحمان په عاشقۍ بے عزت کيږم[۱۹۲]
ما په سترګو قبول کړے دا پيغور دے

٣٥١٩ ۲۸/۳۱۱ ۹

چه دَ ښکلے دلبر په لاس ئے جام دے[۱۹۳]
نن اورنګ دَ زمانے زما غلام دے
مدام کله وي دنيا دَ دنيا دارو
بے له عشقه چه دولت ئے مستدام دے[۱۹۴]
دا هارون څرخ پلاۓ نيلے د دے سپهر
څو به دَوکا چه ئے دو په سر دَ بام دے[۱۹۵]
دَ دنيا چارے په مثل دي دَ سيورې
دَ افتاب په مخ دَ سيورې څه مقام دے[۱۹۶]
که ئے صبح ښائسته دَه خنده رويه
بيا ئے هسے په هر صبح پسے شام دے[۱۹۷]
نه په مهر کښے ارام شته نه په ماه کښے
په دُنيا راغلے هر يو بے ارام دے[۱۹۸]
ته چه خپل فراغت غواړے په جهان کښے
فراغت خاطر را وښيه کدام دے[۱۹۹]

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

صورت روغ دَ خاورو خامو دے رحمانه
چه په خامه چار نازیږی هغه خام دے (۲۰۰) ق
بے غمی په دُنیا چرے ده رحمانه
یو بے غم خوشوک راوښیه کدام دے (۲۰۱)

۳۵۲۶ ۷ ۲۹/۳۱۲

ما دَ ستالمن ته اچولے دا خپل ځان دے
ستا دے زمانهٔ دے که دانا دے که نادان دے
خپله سرکشی لوئی مے واړه فراموش شوه
هسے مے زړهٔ ستا وَ لوئے قامت وته حیران دے (۲۰۲)
بے تاکهٔ گذر په گلستان کړم دَ گلو نو
نه پوهیږم هیڅ چه گلستان دے که زندان دے (۲۰۳)
چا پیژندم زه چه عاشق نه وم په جهان کښے
اوس مے ستاله رویه نوم رسوا په درست جهان دے (۲۰۴)
دیر هڅولی تیرشو دَ مجنون بے نام و نقشه
عشق دے چه عاشق لره هم نام دے هم نبان دے
لوئے ترکوم چینجی دے پروانه چه افسانه شه (۲۰۵)
واړه په سبب دَ عاشقیه نمایان دے
واړه دَ خپل ځان په نظر گوره که دانا یئے
اے عبدالرحمانه جهان درست عبدالرحمان دے

۳۵۴۷ ۲۱ ۳۰/۳۱۲

زړه مے ستا په ذکر فکر گلستان دے
تن مے ستا له غمه پانه دَ خزان دے

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ستا دَ غم له بحره هسے بهره مند یم
چه په سترګو کښے مے جوړ دَ دُروکان دے [۲۰۷]
ستا کتو مے عجب زخم په زړه وکړ [۲۰۸]
چه هم وینے تر بهیږی هم خندان دے
هسے رنګ مے دَ خپل زړه له وینو واخست
چه ځان درست راته په شکل دَ جانان دے
که دَ ستا دَ زلفو مار کاندی خونونه
ما موندلے ځنے عمر جاودان دے
ځنکدن که هر څو تریخ و تلخ وایه شی
ستا دَ لبو په مدد ابِ حیوان دے
اشنائیٔ تر جدائیٔ کمزورے نه ده
معطر په بوی دَ مصر درست کنعان دے
لکه نمر په خلورم اسمان لیده شی
محبت په سل حجابه کښے عیان دے [۲۰۹]
نور دَ شمعے په فانوس کله پټیږی
عشق دَ عقل په پرده کښے نمایان دے [۲۱۰]
که دَ ستا په مخ کښے بوی دَ حجاب نشته
زه له ډیرے ځلے وایم چه نهان دے [۲۱۱]
طاؤس رنګے زلفے چا دی سهی کړے
چه هر موئے ئے په څو رنګه په څوشان دے [۲۱۲]
بے پردے به حُسن نه وی چا لیدلے [۲۱۳]
که څوک وائی چه لیده شی تش ګمان دے

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

بنا دی غم غونډے اسانه مونده نه شی
سور په خپلو وینو لعل د بدخشان دے
که وصال په هر زمان نوے هسے دریغه
لکه غم چه د هجران په هر زمان دے
(۲۱۴) بے له ستا له ملاقاته چه مشکل شه
نور مشکل واړه په ما باندے اسان دے
(۲۱۵) هم په دا راته اسان شو نور غمونه
چه ستا غم د حد په هورته راته ګران دے
یو نفس به د له دره بیرته نه شم
(۲۱۶) خو چه یو نفس باقي په دا جهان دے
قافله د صبر هیڅ ویسا پر نه کا
ستا له غمه مے منزل د زړه ویران دے
لکه سر و سامان ستا د زلفو نشته
هسے زړه زما بے سر و بے سامان دے
لکه تا چه تور ګیسو په مخ پریشان کړ
(۲۱۷) هم مے هسے خراب زړه پسے پریشان دے
خوار خاطر به د رحمان سلامت څو وی
(۲۱۸) چه ګذر ئے ستا په چاه زنخدان دے

۳۵۸۲ $\frac{۳۱}{۳۱۴}$ ۳۵

په نامه د هغه خدائے مے دا بیان دے
چه یو نوم ئے په نومونو کښے سبحان دے

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

(۲۱۹)
هم بادشاه دے دَ جمله وُ بادشاهانو
هم دَ هر یوه سلطان په سر سلطان دے
(۲۲۰)
هغه کار چه وَهر چا وته مشکل وی
هغه کار واړه وَ دهٔ وته اسان دے
څوک افتاب شی په اسمان راخیژولے
دهٔ افتاب راخیژولے په اسمان دے
څوک دَ نمر په مخ حجاب شی غوړولے
(۲۲۱)
دهٔ پټ کړے نمر په ابر کښے پنهان دے
څوک په شپه کښے شی مهتاب پیدا کولے
دهٔ په شپه کښے پیدا کړے مه تابان دے
څوک یو څاڅکے پرے یستے شی له اسمانه
نزول کړے دهٔ په مونږ باندے باران دے
څوک له اوره شی اوبه پیدا کولے
(۲۲۲)
دهٔ له اوره پیدا کړے زمستان دے
څوک شی روح ننه یستے په یوه ماشی
(۲۲۳)
زنده کړے دهٔ په روح تمام جهان دے
څوک وسنګ شی رنګ دَ ګلو ورکولے
دهٔ وسنګ ورکړے رنګ دَ ارغوان دے
څوک له خاورو شی یو ګل پیدا کولے
(۲۲۴)
دهٔ له خاورو زرغون کړے ګلستان دے
څوک له سنګه شی ګوهر پیدا کولے
(۲۲۵)
دهٔ له سنګه پیدا کړے دُر مرجان دے

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ځوک شي رزق و هر مخلوق ته رسولے[۲۲۶]
دے دَ هر يوه مخلوق روزي رسان دے
ځوک بنده لره ايمان شي ورکولے
دهٔ ورکړے هر بنده لره ايمان دے
ځوک له زمکے واسمان و ته ختے شي
دهٔ عيسیٰؑ لره ورکړے دا مکان دے
ځوک له خدائے سره خبرے شي کولے
دهٔ موسیٰؑ مشرف کړے په دا شان دے
ځوک يښودے په توسن دَ هوا زين شي
يښے دهٔ په هوا تخت دَ سليمانؑ دے[۲۲۷]
ځوک په سپينه ږيره پائے تر قيامته[۲۲۸]
دهٔ په خضرؑ باندے کړے دا احسان دے
چه په دهٔ شي هغه کار په هيڅ نه شي
هر توانا دَ دهٔ تر توان پورے ناتوان دے
په اوبو کښے ئے دَ کاني کوټ بنا کړ
دهٔ ورکړے پکښے اور لره امان دے
په سجده ئے زمکے سر دے لګولے
هم ئے زوړند په رکوع سره اسمان دے
هره ونه په قيام ورته ولاړه
هر ګياه ئے په تسبيح سره زبان دے
همه واړه په تسبيح د دهٔ مشغول دی
که سړے دے که پيرے دے که حيوان دے[۲۲۹]

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

هر ماهي ئې په دریاب کښې حمد وائي [۲۳۰]
هر مرغه ئې په چمن کښې ثناخوان دے

حق په حق ثنا ئې هیڅ کړے نه ده [۲۳۱]
نهٔ له هیڅ واقع شوے دا بیان دے

مخلوقاتو هسې نه دے پېژندلے
لکه دهٔ څخه چه قدر د خپل ځان دے

حد پایان ئې هیڅ سړي موندلے نه دے
معرفت ئې هسې بحر بې پایان دے [۲۳۲]

نهٔ هیڅوک د دهٔ په خیر د دهٔ په شان دی [۲۳۳]
او نهٔ دے د چا په خیر د چا په شان دے

نه ئې زیان نه ئې زوال نه ئې نقصان شته
دے بې زیانه بې زواله بې نقصان دے

نه ئې مثل، نه مثال، نه ئې مکان شته
دے بې مثله، بې مثاله، بې مکان دے

پاک ئې وکنه بې شکه، بې ګمانه
له هغو چه د چا شک د چا ګمان دے [۲۳۴]

نه ئې څوک په سترګو وینې نه لیده شي
او بې چونه بې چګونه نمایان دے

که څوک وائي لیده نه شي لیده نه شي
او که وائي و هر چا وته عیان دے [۲۳۵]

منزه دے له جمله و جهتونو
او بیا هر جهت په دهٔ باندے ودان دے

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

له هزارو صفتونو باور وکړه
چه ئے کړے نیم صفت عبدالرحمان دے (۲۳۶)

۳۵۹۴ ۳۲/۳۱۵ ۱۲

په دُنیا کښے که څه کار دے خو دَ دین دے
دَ دے کار په کننده وُ افرین دے
چه تقویٰ او دینداری ئے شی په برخه (۲۳۷)
دَ هغو دَ سعادت ستورے قرین دے
قناعت ئے هسے خوند په خوله کښے کښیښوو (۲۳۸)
چه وچ توک ئے په دهن کښے انګبین دے
بے هاتیانو بے اوښانو بادشاهی کا
دَ زاړه پوزی توکرکے ئے قالین دے (۲۳۹)
چه په خواست د حاجت پورته کا لاسونه
دَ اسمان دَ ملائکو پر امین دے
چه قبوله کهتری کا په دنیا کښے
دَ هغو په بهتری باندے یقین دے
تل دَ لوړے اوبه دروړی و ژور ته
حق تعالیٰ کمال ورکړے وکمین دے (۲۴۰)
خاکساری دَ خاکسارانو مرتبه ده
کۀ زر وکی ئے خیرن وی زړه ئے سپین دے
دَ سرکښو سر کۀ ورشی تر اسمانه
په دوه ورځے پس ئے ځائے زیر زمین دے

چه ښیوه په سرکښئ او په لوئ کا
دَ رحمت لائقت نه لری لعین دے (۲۴۱)
که صورت ئے دَ سړی باله شی څه شو
په معنیٰ کښے سړے نه دے شیاطین دے (۲۴۲)
دَ رحمان څخه متاع دَ دُنیا نشته
شکر دا چه نهٔ خود رائے و نهٔ خودبین دے (۲۴۳)

۱۳ ۳۳/۳۱۶ ۳۶۰۷

زهٔ بُلبل ستا دَ وصال یم بوستان څه دے
ستا دَ وصل په نسبت گلستان څه دے
چه اشنا شی ستا له دره له دیواره
انتظار ئے په روضه دَ رضوان څه دے
چه روزی ئے شهادت شی ستا له تیغه
احتیاج ئے په چشمه دَ حیوان څه دے (۲۴۴)
چه مسکن ئے دَ زړه ستا دَ زلفو خم شی
وَ هغو ته دَ عطارو دکان څه دے (۲۴۵)
هر چه لاندے خپل صورت تر خپل قدم کا
عرش ئے لاندے تر قدم شی اسمان څه دے
بوالهوس که بوسه غواړی له تا څه شو
هر رنګ هر رنګ وئیل کاندی نادان څه دے
زه چه ستا له غمه ژاړم آه فریاد کړم
برق و رعد چکاره دے باران څه دے

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

څان جهان مے هسے ستا په مینه هیر دے
نه پوهیږم چه څان څه دے جهان څه دے
ته چه نه ګورے وما ته لږ مے پوه کړه
په دا کار کښے دِ ضرر او نقصان څه دے
که ستا سترګے دی قاتلے زه مقتول یم
وایه نور دِ په خاطر کښے ارمان څه دے
زه بے صبره یم که مهر دَ ستا نشته
له دے دواړو دِ په زړه کښے ګمان څه دے
چه مے وینے ترو مے څه پښتے له حاله
له عیانه احتیاج دَ بیان څه دے
هرچه وائے ستا رسی دَ رحمان غاړه
وَ توانا وته حجت دَ ناتوان څه دے

۳۶۱۷ ۳۴/۳۱۷ ۱۰

دَ عاشق نظر په خوردو په خواب نه دے
مرادئے بے دَ یار له بابه بل باب نه دے (۲۴۶)
ته نظر په خپل هنر په عقل مه کړه
دا اسباب دَ عاشقیه اسباب نه دے
چه دَ یار سره حساب دَ دنیا کاندی
دغه هیڅ په عاشقی کښے حساب نه دے
چه عاشق په عاشقی کښے ارباب نه وی،
که دَ درست جهان ارباب شی ارباب نه دے

پښتو اکېډمي پېښور يونيورسټي

(۲۴۷)
هر چه یار منع کوی له خپله یاره
دا کتاب دَ عاشقانو کتاب نه دے
دا حجاب چه عام عالم ئے حجاب بولی
دا زما دَ یار تر میانه حجاب نه دے
(۲۴۸)
که ثواب دے هم سیوا دَ یار له مخه
ما ګنلے دا ثواب په ثواب نه دے
(۲۴۹)
که لیدلے زلیخا یوسف په خوب دے
ما په ویښه دے لیدلے په خواب نه دے
(۲۵۰)
صبر ونسه په مخ کښے که مراد غواړے
هیڅ کړے دغه کار په شتاب نه دے
رحمان سوال دَ بوسے کړے دے له یاره
لا ئے هیڅ ځنے موندلے ځواب نه دے

۳۶۲۴. ۷ ۳۵/۳۱۸

هغه یار چه بے وفا دے څه یار نه دے
هغه کار چه بے بقا دے څه کار نه دے
که دَ سر ښندل دشوار په ما او تا دی
(۲۵۱)
دا په عشق کښے سهل کار دے دشوار نه دے
اندیښنه سړے بیدار کاندی له خوبه
کم اندیشه که بیدار دے بیدار نه دے
که څه عمر دے عاشق لره وصال دے
(۲۵۲)
دَ هجران عمر په عمر څه شمار نه دے

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دَ چشمانو په ځبل کښې تیرو بیرشي
اعتبار دَ زمانې اعتبار نه دے
که دَ سلو زویو پلار شے به ئے څه کړے
بے وقوفه زویه زویه دَ پلار نه دے (۲۵۳)
معشوقے همیشه ناز په عاشق کاندي
رحمان هیڅ له خپله یاره ازار نه دے

۳۶۳۵ ۳۶/۳۱۹ اا

په تلخۍ دَ میو هر څوک میخوار نه دے
هغه خار چه بوئے دَ ګل لري خار نه دے (۲۵۴)
هر نګار چه بے وفا وي نګار نه دے
په ګلزار کښې چه ګل نه وي ګلزار نه دے (۲۵۵)
دینداري دنیا داري دي و بله لرے (۲۵۶)
مالیدلے هیڅ دیندار دنیادار نه دے
که روزګار دے په جهان کښې عاشقي ده (۲۵۷)
دَ دے نور عالم روزګار څه روزګار نه دے
چه بنا ئے دَ تصدیق محکمه نه وي
دا ظاهر په خوله اقرار څه اقرار نه دے (۲۵۸)
په هر زړه چه دَ خپل یار د غم غبار وي
دغه ابر دَ رحمت دے غبار نه دے (۲۵۹)
چا به کسب دَ عشق نه کړ بارے څه کا
چه دا ګنج و هر یوه ته اظهار نه دے (۲۶۰)

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

معشوقے وفا له هیچا سره نه کا
ګنهګوم یو دَ دے رخت خریدارنه دے
دَخپل یاروصال دَخدائے په دادمونده شي
دغه کار دَ هیڅ بنده په اختیارنه دے [(۲٦۱)]
که یار سل ځله وعده دَ وصال وکړه
ق دَ رحمان په ترکو هیڅ اعتبارنه دے [(۲٦۲)]
په رحمان باندے منت دَخپل محبوب دے
دَ بے حسنو معشوقو منت بارنه دے [(۲٦۳)]

۳٦۴۵ ۳۷/۳۲۰ ۱۰

دَعشق زخم څه دَ زخم په شان نه دے [(۲٦۴)]
دَ بل زخم په څیر سهل واسان نه دے
عاشقان اومعشوقے سره پوهیږی
دغه راز وَ نورعالم ته عیان نه دے [(۲٦۵)]
عاشقي نه ده که ګورے حیراني ده
کوم سړے په دغه کار کښے حیران نه دے
یوعاشق دِ څوک راوښئ په عشق کښے
چه ئے رود په مخ دَ اوښیو روان نه دے
هومره اوښے دَعاشق په ګریوان دروي
ته به وائے چه یوسیند دے ګریوان نه دے [(۲٦٦)]
داهجران دے چه ئے مرګ په عاشق ګران کړ
که هجران ورسره نه وي هیڅ ګران نه دے

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

نورغونه که په ځان دَ سړی بد وی [۲۶۷]
غم دَ ترکو بد دَ هیڅا په ځان نه دے
دَ دوزخ اورکه ډیر تاؤ لری دے کرم
برابر دَ بیلتانه له نیران نه دے [۲۶۸]
که باله شی څوک په عشق کښے کم عقل
دا کم عقل ډیر هوښیار دے نادان نه دے [۲۶۹]
چه بے یاره وجهان وته نظر کړم
رحمانَ وائیم چه ویران دے ودان نه دے [۲۷۰]

۳۸/۳۲۱ ۳۶۶۷

که دَ خلقو و نظر ته اُدے دے
خوار عاشق دَ معشوقے دکوڅے سپے دے [۲۷۱]
هر چه ځان دَ یار په سپیو کښے داخل کا
ترو هاله به ورته وائیم چه سړے دے [۲۷۲]
ما دِ خدائے دَ یار له غمه بے غم نه کا
دا په ملک دعاشقی کښے لوئے ورانے دے [۲۷۳]
زه دَ یار په غم کښے زیړه څهره خوښ یم
دا زما خزان نه دے پسرلے دے [۲۷۴]
زه ژوندون دَ یار وَ وصل وته وائیم
کنه هریو دوزخی په ژوند ژوندے دے
ته چه ما منع کوے دَ یار له دره
کوم یو در له دغه دره برابرے دے

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

زه دَ یار مینے په یار باندے شیدا کړم
که څوک ماکښې زه نه یم واړه دے دے [۲۷۵]

چه وحشي مجنون ئے ښهر لره راوست
دَ لیلیٰ دَ زلفو ھسے غړوندے دے [۲۷۶]

زر داران که اوبهٔ څښي په جام دَ زرو
خوښ زما دا خپل دَ خاورو کنډولے دے [۲۷۷]

اورنګ زیب که دَ ډیلي په تخت نازیږي
خپله خونه هرګدائے لره ډیلے دے

چه له خپله کوره ووځي مسافر شي
څوک ئے پیژني ساهو دے که مرئے دے

چه ئے خاورے شي له خاورو سره ګډے
تروچا څه زده چه دکوم نیکهٔ نسے دے [۲۷۸]

توره شپه په اشنایانو رڼا ورځ ده
رڼا ورځ په نااشناؤ تروږمے دے [۲۷۹]

سترګے غوږ سترګے غوږ نه دي دَ کم شناختو
په معنیٰ کښے یو دیوال سورے سورے دے [۲۸۰]

عاشقان ئے د دنیا له غمه خلاص کړه
عشق په مثل دَ سلیمانؑ بادشاه غمے دے

هرچه حُب دَ عاشقۍ لري په زړه کښے
که په قطع صد ساله وي هم زلمے دے

دا هلال دے چه لیدے شي په شفق کښے
که په لاس دَ ګل انداے سپین وښے دے

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ناآشنا به بهره څشکل څنے مومی
چه مدام ئے په اشنا باندے غورزے دے [۲۸۱]

څربوی ے قربانئ لره پوهیږم
داچه کړے ئے په ما باندے زړه سوے دے

چه په نوم باندے باله شی لیده نه شی
معلومیږی چه نه حُورنه بناپیرے دے [۲۸۲]

چه دَخط په دورئے خلق پکښے پریوځی [۲۸۳]
زنخدان ئے ترسبزے لاندے کوهے دے

زه رحمان له یاره خوښ یم که جفا کا
که جفا نه کا وفا کا څو تیرے دے [۲۸۴]

$\frac{۳۹}{۳۲۲}$ ۳۶۷۴

په ظاهر صورت چه ستادَ درګدائے دے
په معنیٰ کښے دَجمله جهان کدخدائے دے [۲۸۵]

مجنون بید غوندے رونق دګلستان شی [۲۸۶]
چه ئے ستا له غمه سر په پښت پائے دے [۲۸۷]

چه له غمه دِجرس غوندے نالان شه
دَ جمله وُګمراهانو راهنمائے دے

چه څوک زړه وستا وَتورو سترګو ورکا [۲۸۸]
ستا دَ وروځیو ترمحراب لاندے ئے ځائے دے

چه مسکن ئے دَ زړه ستا دَ زلفو خم شی [۲۸۹]
دَ هغو ناستے په سیوری دَهمائے دے

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

چه تا وويني وماته نصيحت کا
شک پر مه کوه بے شکه چه خودرائے دے
که زرداروي اشنايان دَ زردارانو
دَ رحمان دَ اشنايانو تکيه خدائے دے

۳۶۸۲ $\frac{۱۴۰}{۳۲۳}$ ۱۰

که مطلب و مدعا دَ سړي خدائے دے
هر هر مرے دَ ژونديو رهنمائے دے (۲۹۰)
مسافر چه په رحلت کښے وبله غږ کا
هر آوازئے خواب آلود لره درائے دے (۲۹۱)
که سړے وَحقيقت وته نظر کا
ژوندے خلق واړه ناست دَمړو په ځائے دے
داخوبخت دے خوک ئے تور کړ خوک ئے سپين کړ (۲۹۲)
کنه عين لکه زاغ هسے همائے دے
لکه فرق چه دَ همائے و دَ زاغ نشته (۲۹۳)
هم دغه دليل دَ شاه او دَ ګدائے دے
ته نظر د کاريګرو په کار مه کړه
کار همه واړه موقوف په کارفرمائے دے
سالکان چه دَ جهان تماشا کاندي
له جهانه ئے مطلب جهان آرائے دے
که خوک خپل دست وپائے وباسي له ميانه
خدائے په خپله دَ بے دستو دست وپائے دے

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

(۲۹۴)
په هغه جهان نیکي و بدی نشته
هر مطلب د طالبانو په داسرائے دے
زه رحمان یواځے نه یم په دا کار کښے
همیشه د یار په یار پسے وائے وائے دے (۲۹۵)

۳۶۹۳ ۱۴۱/۳۲۴ ۹

(۲۹۶)
ته په هره گړی غم د سیم و زر خورے
زه دِ هره گړی وینم چه خپل سر خورے
عاقبت به دِ یو خنډ ترسینے (۲۹۷) ووځی
ته چه تل په هر هر ښاخ باندے ثمر خورے
معلومیږی چه خپل غم درسره نشته
ځکه غم د برادر و د پسر خورے
په عوض ئے کوم طاعت کړے راته وایه
دا نعمت چه په هر شام په هر سحر خورے
روژتی هم څلور پهره پس افطار (۲۹۸) کا
ته څلور ځله طعام په هر پهر خورے
که یو ځله ترکماله ورسیږے
نور به غوښے د خپل ځان لکه قمر خورے
که ښیښه د نام وننګ دِ شی ترڅنګه
د هرچا په کج روی به خپل ځیګر خورے (۲۹۹)
بے هنرو سره قند زهرِ قاتل دے
قند ئے وګڼه که زهر په هنر خورے

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

نهال په زړه دَ صبر نخل کړه رحمانه (۳۰۰)
چه مدام دَ برخوردارو په خیر برخور ے

۳۷۰۳ ۱۰ ۴۲/۳۲۵

ترا بد ے ورځے پور ے به جفا کړ ے
که به مهر وفا هم چر ے پیدا کړ ے (۳۰۱)
معشوقے کله جفا کله وفا کا (۳۰۲)
می باید چه کله هغه کله دا کړ ے
ما ستا خوئے د ے وهرچا وته ستائیلے
چر ے نه چه دروغژن مے تر هرچا کړ ے (۳۰۳)
چه دغه اوښے زما دغه ستا خوئے وی (۳۰۴)
دا پټ راز به مے په درست جهان رسوا کړ ے
ستا څه لاس راباند ے نه رسی دلبره
چه په لاس دَ رقیبانو مے سزا کړ ے
مرم په دا چه دَ رقیب په رضا دروم ے (۳۰۵)
• نه په دا چه ته په ځان خپله رضا کړ ے
په درست عمر به هیڅ لیدلے نه وی
هغه چار ے چه ته هر ساعت په ما کړ ے
ما رنځور په کټ کښے پریږد ے چه کړیږم (۳۰۶)
ته لا کرځے دَ رقیب سره خندا کړ ے
لاس ترغاړه دَ رقیب سره خندا کړ ے
چه ما وویني له قصده راته شا کړ ے (۳۰۷)

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

هر بیګاه وائی چه خوله به سبا درکړم(۳۰۸)
دا بیګاه به په رحمان کله سبا کړے

۹ ۴۳/۳۲۶ ۳۷۱۲

په پیرۍ کښې چه هوس دَ میُوناب کړے
بیهوده ګمان په صبح دَ ماهتاب کړے
بے طاعته عنایت له خدایه غوا ړے
دَ عتاب په ځائے امید دَ اب وتاب کړے(۳۰۹)
دانسته ګناه کوے توبے وکا ږے
لکه بُت هسے په غتو سترګو خواب کړے(۳۱۰)
په هغو غوږو چه ذکر دَ خدائے اورے
بیا سماع په هغو غوږو دَ رباب کړے
په هغو شونډو چه حمد وثنا وائے
هم هغه شونډے بیا ډوبے په شراب کړے
علم وکړے هیڅ عمل وربانده نه کړے
لکه طفل هسے لوبے په کتاب کړے
په شپه پروت ئے دَ مغان په میخانه کښې
او په ورځے مخ په لوری دَ محراب کړے(۳۱۱)
تمام عمر دَ دنیا په طلب کړے
بیا دَ خدائے په طالبانو ځان حساب کړے
(۳۱۲)
له خالقه دِ نه شرم نه حجاب شی
له رحمانه کوښه ونسے حجاب کړے

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

۳۷۳۳ ۴۴/۳۲۷ ۲۱

چه ملام دَ بل و عیب و ته نظر کړے
خدائے له خپله عیبه وے ناخبر کړے (۳۱۳)
که یوه جو دانه عیب وی په بل کښے
دا یوه جو دانه عیب ئے تور غر کړے (۳۱۴)
که دِ خپله ګناه لویه لکه غر وی
په حیله حیله دا غر دَ مچ وزر کړے
که څوک تله دَ انصاف درته په لاس کا
خپل ټټو دَ بل له اسه برابر کړے (۳۱۵)
تو لعنت دِ په دا هسے منصفی شه
چه له حقه و باطل و ته ګذر کړے
خدائے و تا دَ ملائکو مقام درکړ
ته دا خپل صورت په خپله کاؤ خر کړے
چه خدائے ستا په رضا کار کا ستا هم بویه
چه دا خپله رضا وارۀ وخدائے ور کړے (۳۱۶)
نه هغه دَ چا، دَ ستا په رضا کار کا
ته خپل ځان دَ دۀ په کار کښے موقر کړے (۳۱۷)
په نعمت ئے شکرانه کولے نه شے
چه زحمت دربانده درشی شور و شر کړے
که دِ یو ویښته دَ ځان دَ پاسه کوږ شی (۳۱۸)
ځان هغه ساعت له خدایه مرور کړے

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

که ښندلے دِ په خدائے وی یو کیکوړے (۳۱۹)
نمایان ئے په جهان کښے لکه نمر کړے
لکه څوک تر مکے ورشی بیا تر راشی
دَ دنیا دپاره هسے لوئے سفر کړے
که په (بیعه به) څوک ځ درځنے پیړی
و مکے وته روان به تول تبر کړے (۳۲۰) ق
که یوه رتیه زر دِ په لاس کښیوځی
خرځ خروار دَ عبادت په رتی زر کړے
په دنیا پسے دِ نسری دی رنګ کړی
ځان و خلقو ته درویش وقلندر کړے
دَ ځوانئ عمر دِ تیر کړ په غفلت کښے
دَ پیریه په وقت زیرمه د محشر کړے (۳۲۱)
لکه وار چه دَ زړے لولیه تیر شی
اوس توبه له ضرورته په سپین سر کړے
په پیری کښے دَ ځوانیه چارے نه شی
دَ عاشور په ورځ به څشکله اختر کړے
لکه بیخ دَ زړے ونے چینجی وخوری
په دا تیر عمر به څه بناخ وثمر کړے
دغه باغ به دِ خلاص نه شی له خزانه
که چاپیر ورځنے سد دَ سکندر کړے
و بدخواه وته څوک نیک نصیحت نه کا
رحمان ستا په غم شریک دے که باور کړے

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

۶ ۴۵/۳۲۸ ۳۷۳۹

که نظر په ماتو کوډو د روزګار کړے
هو مره نه دی چه حساب یا به ئے شمار کړے
په هر غم کښے خاموش اوسه او که نه وی (۳۲۲)
د بد خواه خاطر به بنه دوست به ازار کړے
صبر ونسه په مخ کښے که مراد غواړے
په تلوار به هیڅ ونه کړے که تلوار کړے
رضا پاسله وقضا ته فراغت (۳۲۳) شه
او که نور څه نور څه وائے ځان به خوار کړے
ازادی او کاروبار دی وبله لرے
لاس له کاروباره وباسه که کار کړے (۳۲۴)
چه په خپله ئے فانی بولے رحمانه
تر و بیا څه په هغو چار و اعتبار کړے

۹ ۴۶/۳۲۹ ۳۷۴۸

ما په تا پسے دا سینے جامے رنګ کړے
ته لا بیا په ما کمان د نام و ننګ کړے (۳۲۵)
هیڅ اثر دِ په سنګین خاطر و نه شه
که هر څو مے مصلے درپسے لنګ کړے
دلسوزی به دِ په نور و ګړی څه شی (۳۲۶)
چه له ما غوندے مخلصه سره جنګ کړے

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ته په عشق کښې ما هاله دروغژن (۳۲۷) بوله
که یو بل هم هسې ماغوندې ملنګ کړې
دا نارې سورې غمازې دی په عشق کښې
ګنه ما به دَ بلبل په څیر اهنګ کړې (۳۲۸)
عاشقي و معشوقې ته سپینه لار (۳۲۹) ده
ته و ما و ته دا سپینه لار ګړنګ کړې
چه یو دمې له نظره پناه کیږې (۳۳۰)
دا جهان لکه لحد را باندې تنګ کړې
په ښه خوئ سره دَ خلقو افسانه (۳۳۱) ئې
خدائې زما له کم بختیه په زړه سنګ کړې
دا دِ څوک دَ څنګه ناست دې نه پوهیږم (۳۳۲)
چه خبرې له رحمان سره په جنګ کړې

۳۷۶۶ ۴۷/۳۳۰

خدایه زړه دَ مهرویانو مهربان کړې
ما له یاره یار له ماسره یکسان کړې
هغه درد چه دَ اشنا دَ بیلتانه دې
رفع دفع ئې دَ وصل په درمان کړې (۳۳۳)
ته چه ما منع کوې دَ یار له لوری
کشکې (۳۳۴) باد دَ سحر منع په بوستان کړې
نه به منع کړې ته ماله خپله یاره
نه به کوز په زمکه ستوری دَ اسمان کړې (۳۳۵)

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

غم دَ هجر چې بتر تر همه درد دے [۳۳۶]
له دے غمه مے په امن په امان کړے
کاروبار دَ عاشقیه ډیر مشکل دے
دا مشکل زما په ما باندے اسان کړے
حجاب لرے کړے زما دَ یار تر میانه
بے حجابه مخ دَ یار راته عیان کړے
که مطلب دَ نور چا نورے مرتبے وی
ما ګدائے په استانه دَ خپل جانان کړے
که دا نور عالم و بله خوا ته ګوری
ما په لوری دَ دلبرو نګران کړے
زه چه یار لره ورځم په هغے لارے
مهتر خضرؑ مهتر الیاسؑ مے رهبران کړے
تاریکی دَ معصیت را څخه واخلے
دَ طاعت په روښنائی مے زړه روښان کړے
چه زما په پریشانئ ئے زړه ښه کیږی
زړه ئے ما غوندے په یار پسے پریشان کړے
چه زما په چمن راشی ګستاخی کا
دَ شبنم په شیرے عمر یو زمان کړے
چه ازاده دَ منکر تر سره پریوځی
دَ فلک په څرخ مے توره دَ زبان کړے [۳۳۷]
هغه غشے چه د ترکو دَ غمزے دے [۳۳۸]
هر کلام مے دَ هغه غشی پیکان کړے

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

چه کشور دَ افغانانو معطر کـا (۳۳۹)
دَ هر بیت مصراع مے زلفے دَخوبان کړے
چه هر حرف ئے دَ نافے په شیرخوشبوئے شی (۳۴۰)
برکت مے په جزودان په قلمدان کړے
الٰهی دَ خپل حبیبؐ له برکته (۳۴۱)
دا ساده انشا رنګینه دَ رحمان کړے

۳۷۷۴ ۱۶۸/۳۳۱ ۸

ق

څو به هسے ازادی په دا جهان کړے
چه خبرے به دَ سراودَ سامان کړے (۳۴۲)
همیشه به دا بهار درباندے نه وی
چه به سیل په بوستان په ګلستان کړے
واړه دُر دی بدلوے ئے په مشکېو
هر تالاش چه دَ دنیا په سود وزیان کړے
غمخواری دَ اٰل عیال دِ احمقی ده
چه دَ بل په زیرمه کرځے خپل نقصان کړے
په نفاق کېنے به ضائع شے مرد هغه دے (۳۴۳)
چه ښخوا تردښمن جمع خپل کاروان کړے
چه په دوه بیړیو پښے ږدی هغه ډوب شی
بیهوده ئے دلبستګی په این واٰن کړے
دَ تیر عمر ارمان مه کوه رحمانه
چرے نه وی چه په یادساعت ارمان کړے

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دا وئیل واړهٔ ذَ سود او ذَ بهبود دی
که باور په دا وئیلو د رحمان کړے

۳۷۸۴ ۴۹/۳۳۲ ۱۰

تا چه مخ ذَ پرې سترګے ذَ اهو کړے
ترو پرئ ئے که اهوئے که جادو کړے[۳۴۴]
دعا ګو چه ذَ چا ومرې څه بنا دی دهٔ
ته په څه زما ومرګ وته ارزو کړے
په محراب ذَ عاشقانو کاڼی ووری
ته چه چین ذَ جبین غوټه په ابرو کړے
تا چه رنګ د ګلو واخست زهٔ پوهیږم
زرغونه به په څهرهٔ زما کونګو کړے
ستا له ډیرهٔ ډیرهٔ جورهٔ معلومیږی
چه به ما په خپلو اوښیو کښے لاهو کړے[۳۴۶]
که یو ځله تورے زلفے په شانه کړے
خاکستر به په چمن کښے کشمالو کړے[۳۴۷]
درست جهان به قاف تر قافه معطر شی
که یو ځله شانه ګړهٔ په ګیسو کړے[۳۴۸]
ستا ذَ زلفو مار خوړلے به روغ نه شی
که افسون ذَ مسیحا وربانده پو کړے[۳۴۹]
لاس و پښے دِ بے زیورهٔ ښائسته دی
څه منت به ذَ پائیلو ذَ باهو کړے

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

که سوزن د بنو راوړے تار د زلفو
د رحمان د زړګی زخم به رفو کړے (۳۵۰)

۱۲ ۵۰/۲۳۳ ۲۷۹۶

که د عشق شکرے تیرے ترکلو کړے
نوړ لذت به لکه زهر هسے تو کړے
که دِ وشی ملاقات له سروِ قدو
د فاخته په خیر به کوکے په کوکو کړے
عاشقی به د عشق توره دریه لاس کا
ترو د صبر د سکون په ملک به هو کړے (۳۵۱)
په انصاف په عدالت به نوشیروان شے
هر عمل به د خپل ځان په ترازو کړے (۳۵۲)
د شکندر په خیر جهان په درځرګند شی
که سرکوز په ائینه د خپل زانو کړے (۳۵۳)
تریخ لوګے به دِ د قندو په خیر نغردشی
که صورت د عشق په اورکښے تناکو کړے (۳۵۴)
و به نهٔ وینے د ترکو مستے سترګے
مکر ځان په خپلو وینو کښے سالو کړے (۳۵۵)
روغ به نه شے بے د یار له ښه دیدنه
که سل پنډه سپیلنی وځان ته لو کړے (۳۵۶)
د غفلت لیچن لیمه به دِ روښان شی
که د یار د کوځے خاورے دِ ځنبکو کړے (۳۵۷)

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دا دوا که بد دوا کوي طبیبه
چه د یار په دردو غم کښي دارو کړي (٣٥٨)
نصیحت په عاشقانو اثر نه کا
دا محنت واړه بې ځایه بې قابو کړي
په رحمان باندي بې یاره خوب حرام دي
که ئې سل بیچاوني لاندي تر پهلو کړي (٣٥٩)

١٢ ۵١/٣٣٤ ٣٨٠٨

ولي ولي و عاشق ته نظر نه کړي
خوار ګدائي په دیدن ولي توانګر نه کړي (٣٦٠)
ستا دي ډیري حیا ډیر کورونه وران کړه
چه وَ هیچا ته کاته برابر نه کړي (٣٦١)
ستا په ډیر حُسن دي دا عقیده نه شي
چه دا روغ وکړي واړه اوتر نه کړي (٣٦٢)
ته پلو له مخه واخله زه ضامن یم
که اورنګ د زماني قلندر نه کړي
ښنبتن لاس د سپي په سر باندي راکاږي
ته تش سیوري د مخلصو په سر نه کړي (٣٦٣) ق
زما هر زمان هر دم په تا ګذر وي
ته یو دم زما په لوري ګذر نه کړي
لکه ته چه دلاور زما په مرګ یې
چري دارنګي رقیب دلاور نه کړي (٣٦٤)

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

زه دَ ستا په جفا خوښ يم تل تر تله
که غماز ے له دے رازه خبر نه کړے
گذشته جور و جفا دِ اواره وی
که دا جور و جفا بارِ دگر نه کړے
هغه څوک دے چه به ستا له دره دروی
که ئے ته له خپله دره بدر نه کړے
سنگدلی ده هغو خلقو لره ختمه
چه ئے ته په مجلس ورشے اثر نه کړے
رحمانَ ستا مينے رسوا کړ بارے حيف دے
چه ته هيڅ په دا خبره باور نه کړے

۳۸۱۵ ۵۲/۲۳۵ ۷

وَ خوبانو وته ولے نظر نه کړے
دَ چمن په گلو ولے گذر نه کړے
دا بهار چه درست جهان ئے معطر کړ
دماغ ولے په دا بوئی معطر نه کړے (۳۶۵)
رضا ولے په قضا سپارلے نه شے
دغه زهر په ځان ولے شکر نه کړے (۳۶۶)
جک زده چه په ناره دَ مرگ خبرېږے
ځان پخوا تر مرگه ولے خبر نه کړے
چه دِ خاورے په سر اچوی نور خلق
ته پخپله خاورے ولے په سر نه کړے

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

پس له مرګه چه بیا مرے له لوړے تن دے
ولے نن ساعت توبه دَ محشر نه کړے
داویُل چه دِ اثر کاندی په نورو
اے رحمانه په ځان ولے اثر نه کړے

۳۸۲۱ ۵۳/۳۳۶ ۶

له دے کته له پوزیه خو به ولاړ شے
ترو بیا خدائے خبر چه کوم خواته به لاړ شے (۳۶۷)
په ظاهر صورت خو هسے معلومیږی
چه به خس غوندے تر پښو لاندے لتاړ شے
دا اسمان زمکه به وی او ته به نه یئے
په ودانه ودانۍ کښے به ویجاړ شے
دَ بهار دَ ګلو عمر مدام نه وی (۳۶۸)
عندلیب غوندے به پاتو په اهاړ شے
په ولاړ ولاړ به ځان وریسے وچ کړے
چرے نه چه دَ ګل زخونه ووئے لاړ شے (۳۶۹)
که لیلے غواړے رحمانه بائده دا دی
چه مجنون غوندے ساکن دَ کوه وکاړ شے

۳۸۲۸ ۵۴/۳۳۷ ۷

اشنائی توره بلا ده اشنا مه شے (۳۷۰)
جدائی به دِ فنا کا فنا مه شے

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دغه غم به دِ دَ زړهٔ ولے کا غوځے
گرفتار په دردو غم دَ جانا مه شے
په زیړ رنګ به دِ تل سرے اوښے بهیږی
دَ دو رنګو په شیر ګل دَ رعنا مه شے
هم په داچه دروغژن دَ خدائے دښمن دے
و هیچا ته دروغژن په وینا مه شے
خپل ځربنت دَ هر خاروی په ځان قصاب دے
توانائی دَ تن تاوان دے توانا مه شے[٣٧١] ق
که اعلیٰ مرتبه غواړے عاشقی[٣٧٢] دهٔ
نور همه واړهٔ ادنیٰ دی ادنیٰ مه شے
همیشه به سرنګون په فکرناست ئے
دَ رحمان په شیر مشغول په ثنا مه شے

٣٨٣٦ ٥٥/٣٣٨ ٨

ستا دَ مینے ګوهر نشته په هراب کښے
مګر بیاموند شی دَ اوښیو په دریاب کښے
که ته وینے زما پتے ځښے دلبره
رنګ دَ لبو دِ ګواهی لی په دا باب کښے
په هر ځائے چه ستا دَ لبو نوم آغاز شی
دَ لاله وُ باران ووری په حباب[٣٧٣] کښے
له خسته زړونو به څه دلستانی کا
دَ خراج ګنجائش نشته په خراب کښے

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

زه حیران دَ ستا دَ وروځو په تورخال یم
کافر خشکله سجده کا په محراب[۳۷۴] کښې
گل له ډیرے باریکۍ په شبنم خورشي
نازکان زړه بد وی په صاف خُواب کښې
دَ بهار په گلو ووری بارانونه
دَ ځځویکی طاقت نشته په حباب کښې
دَ رحمان غلطی وبخښه اے خدایه
دَ اوترو چارے نه وی په حساب کښې

۸ ۵٦/۳۳۹ ۳۸۴۴

ق

یا دا ستا چشم(و) ابرو وینم په خواب کښې
یا مستان دی ووده شوی په محراب[۳۷۵] کښې
یا په جام کښې ستا دَ مخ عکس لیده شی
یا خورشید دے تجلے کا په حباب کښې
یا ترخط لاندے غوټۍ ستا دَ خولو دی
یا کوکب دے غریق شوے په سحاب[۳۷٦] کښې
یا دِ زلفے په مخ دواړه راخورے کړے
یا سنبل دی گنجلک دَ اور په تاب کښې
یا دِ زلفو په مخ توره تاریکی کړه[۳۷۷]
یا خو تند رڅان ځرګند کړ په آفتاب کښې
یا دا ستا مژګان زما په خاطر ښخ دی
یا سیخونه دی پټ شوی په کباب کښې

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

یا خو ستاله غمه غرق زما صورت دے
یا خسنے دے جار ووځی په گرداب کښے
چه دَ یار دَ مخ کاته له میانه ووځی
دَ رحمان به څه عزت وی په حساب کښے (۳۷۸)

۱۱ ۵۷/۲۴۰ ۳۸۵۵

زړه مے بائیلو ستا په مهر محبت کښے
عاشقیه زهر راکړه په شربت کښے (۳۷۹)
لار زما و یار ته مه تړه ناصحه
ما موندلے دے دا یار په ډیر محنت کښے (۳۸۰)
که صورت دَ هغے مستے درښکاره شی
عقل هوش به دِ هیڅ نه وی په صورت کښے (۳۸۱)
که دَ عشق ترکمر پریوځے غابښ به بائلے
نه چه ما ته غابښ چیچے په نصیحت کښے (۳۸۲)
زۀ توبه په هغه تیر عمر وکاندم
چه صرف شوے دے بے یاره په غفلت کښے
دَ اشنا دَ مینے پت به رامات نه شی
که مے سرله تنه دروی په دا پت کښے (۳۸۳)
له ادبه ئے و مخ ته کتے نه شم (۳۸۴)
خدائے راپیښه جدائی کړه په وصلت کښے
په قیامت که څوک له نیته پښتیده شی (۳۸۵)
زۀ دَ یار دَ کوځے خاورے یم په نیت کښے

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

لکه زه چې يې دَ در په خاورو خوښ يم (۳۸۶)
خوښ به نه وي سلطانان په سلطنت کښې
دَ درګاه په خاک نشينو يې تل سخ وي
دَ غمونو دخل نشته په جنت کښې
دَ دنيا له دولتونو بې پروا (۳۸۷) يُم
زهٔ رحمان دَ عاشقيه په دولت کښې

۳۸۷! ۵۸/۳۴۱ ۱۶

مغرور مه اوسه دَ عشق په کاروبار کښې
هر خسنې تيره تيغ دے په (۳۸۸) دا لار کښې
دا سُور ګل به دِ دستار په وينو (۳۸۹) سُور کا
چه دِ يښې زمانے دے په دستار کښې
ځ دَ ترکو چه تراب حيات صاف دے
زه دے اب حيات سوے يم په نار کښې
چه دَ او سپنے ائينه پر اوبه کيږي (۳۹۰)
ترو زما هستي به څه وي په ديدار کښې
په هر وار ئے چه وسترګو ته نظر کړم
لاس مے وللي وي له ځانه په هر وار کښې
ياره ته چه له ما صبرو قرار غوارے
عاشق کله وي په صبر و په قرار کښې
هيڅ صرفه مه کړه دَ زړونو ازار اخله
که چا (۳۹۱) سود وي دربښولے په ازار کښې

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

که مے سرو مال دَ ستا په مینه دروی
زړه له سر و ماله تیر یم په دا کار کښې
ستا له دره له دربارهٔ به وا نه ووړم
خو ونهٔ مرم ستا په دراوپه دربار[۳۹۲] کښې
عشق دَ عقل په کوڅه استوګه نه کا
چا موندلے نه دے یار په دا دیار[۳۹۳] کښې ق
کم بختان دَ یار په وصل کښې مهجور[۳۹۴] دی
دَ وچ ډکی بهره نه وی په بهار کښې
مفلسانو لره عین کوهستان دے
که همه عمر ئے کوروی په بازار[۳۹۵] کښې
وَ هغو چه خدائے حق بینے سترګے ورکړے
دَ یوسفٔ تجلے وینی په دیوار[۳۹۶] کښې ق
عیَب ژن ته وارهٔ عیَب څرګندیږی[۳۹۷]
بنائسته که ځان یوسف کا په سنګار کښې
چه هنر دَ عاشقی ئے خدائے نصیب[۳۹۸] کړ
بے هنره نورڅه نه وینی په یار کښې
خپل داغونه دَ خپل زړهٔ ورلره بس کا
څه حاجت دے دَ رحمان په لاله زار کښې

۱۲ ۵۹/۳۴۲ ۳۸۸۳

مدام ناست یم وچ کوکل سترګے په نم کښې
عشق راوښو بحر و بر په خپل حرم[۳۹۹] کښې

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ما چه ستا تُوره دَ زخم په خوله ښکل کړه [۴۰۰]
نور مے دالذت بیا نه موند په مرهم کښے

خوار مجنون چه سر په پښو دَ لیلیٰ کښیښو
سرفراز شه په عرب او په عجم [۴۰۱] کښے

زوراور ملام غالب وی په کمزوری
زه له نوره غمه خلاص یم ستا په غم کښے

لکه زه چه ستا په غم کښے مستغرق یم
بل به نه وی په جمله بنی اٰدم کښے

لکه مرے دَ ژوندیو ترمیان پروت وی [۴۰۲]
هسے بیل یم له عالمه په عالم کښے

هیڅ دمه مے دَ دم کړیو په دم نه شی [۴۰۳]
هم په دا چه زما دم دے ستا په دم کښے

ندے بے تا تګ و پوئے نه جستجوئے شته
مُراد مے ته ئے په هر دم په هر قدم کښے

که نصیب مے شی کو غالے ستا دَ سپیو
و به نه کړم نور نظر په جام دَ جم کښے

زړه مے هسے ستا په زلفو پسے ورک شه
لکه غوټه له چا پریوځی په تور تم [۴۰۴] کښے

سرۀ په وینو دَ سرو ګلو په خیر [۴۰۵] زانګی
هزار زړونه ستا دَ زلفو په هر خم کښے

زه رحمان کناره خوښ وم له عالمه [۴۰۶]
بارے ستا سترګو رسوا کړم په عالم کښے

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

۳۸۹۱ ۶۰/۲۴۳ ۸

دَ بلبلو له حال زده کړه په خزان کښې
بیا دَ ګلو ننداره کړه په بوستان کښې[۴۰۷]
خو دِ تیره تلخائی ترستونی نه شی
شیرینی به خوند درنه کا په دهان کښې[۴۰۸]
ما په هجر کښې لذت دَ وصال بیاموند
له یوسفؑ ملاقی شوم په زندان کښې
لکه متن له معنو معنیٰ له[۴۰۹] متنه
یار هم هسې دے زما په دل و جان کښې
عاشقی اسانه مه ګڼه خبر شه
سر بازی ده هر نفس په دا میدان کښې
دَ ناتوان له ناتوانیه وو یرېږه
که هزار ځله توانائے په خپل ځان کښې[۴۱۰]
هم هغه به پس له مرګه ازارېږی
هر چه بل ازاروی په دا جهان کښې
په رحمان باندے بے یاره هسے حال وی
لکه حال دَ زندانیانو په زندان کښې

۳۹۰۲ ۶۱/۲۴۴ ۱۱

هسے بے یاره خفه یم په جهان کښې
چه مے نه شی ځائے په زمکه په اسمان کښې[۴۱۱]

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

سره ګلونه دَ چمن راته سور اور شي
چه قدم بے یاره کیږدم په بوستان[۴۱۲] کښے
چه ئے مړنه یم له ډیرے بے نیازیه[۴۱۳]
حیرانیږم دَ ناتوان صورت په توان کښے
که هر څو فکر دَ ځانه سره وکړم
هیڅ دَ صبر طاقت نه وینم په ځان کښے
هیڅ ساتنه دَ سرکښ خاطر را نه شي
څوک ساتلے شي بڅری په ګریوان کښے
ترهغه به نادان بل په جهان نه وی
چه څوک مهر وفا غواړی په نادان کښے
که ئے سل ځله په ځار په قربان بو لم
غوږ را نه باسی په ځار او په قربان کښے
هسے رنګ زما په ډیره ژړا خاندی
لکه ګل دَ پسرلی خاندی په باران کښے
جوهری شي دُر و لعل کاندی برخیره
چه مے کښیني دَ دوو سترګو په دکان کښے
چه مے هیچرے په خوا په خاطر نه وی[۴۱۴]
زمانه ئے را څرګند کا په زمان کښے
چه په وصل کښے ئے اوښے نه وچیږی
ترو به حال دَ رحمان څه وی په هجران[۴۱۵] کښے

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

۳۹۰۹ ۶۲/۳۴۵ ۷

زړه مې ډوب ډوب کيږي ستا دَغم په غلغلو کښې
هسې لکه څوک چه مستغرق شي په اوبو کښې (۴۱٦)

ستا دَعشق له موجه په هيڅ لوري وتې نه شم
دواړه لاس مې پريواته دَعقل په لامبو کښې

سل توبې مې ماتې کړې وانه وښتم له عشقه
سا ويسا مې نوره پاتو نه شوه په توبو کښې

ته چه له ماځې زما دَ اوښيو باران ګوره
رخ دَ سفر هيڅ نشته په دا ګڼو شيبو کښې

نه يوه سپوږمۍ نه هزار ستوري له اسمانه
بې تا به څوک څه وکا دَ خلقو په جنبو کښې (۴۱۷)

عشق او عقل دواړه سره ضد دي که پوهيږې
کله ودري دَ اور بخرې په پُنبو کښې (۴۱۸)

هر څوک چه دَعشق په اتش سوي دي رحمانه
خدائې ئې ابراهيمٌ غوندې نګاه کا په لمبو کښې (۴۱۹)

۳۹۱۷ ۶۳/۳۴٦ ۸

هسې خوښ يم ستا دَ در په خاکسارۍ کښې
لکه خوښ وي سرداران په سردارۍ کښې

عاشقي که نورو خلقو ته خوارې ده (۴۲۰)
ما موندلې دې دولت په داخوارۍ کښې

وَ بيمار ته که ناخوښ وائې وګړې (۴۲۱)
خوښ يم زه دَ ستا دَعشق په بيمارۍ کښې

دَ خپل بام و روزنونو ته نظر کړه
هسې ستر کې وی زما په بیداری کښې
یار دَ یار له ستر کو اوښې پاکیزه کا
تا دریاب کړې زما اوښې په یاری کښې (۴۲۲)
ما له ډیرې ناچاری وَ یارته شا کړه
سرې عذر دے په ډیرې ناچاری کښې
غم به هیڅ یوه هوښیار خوښ کړے نه وی
ما خوښ کړے دے ستا غم په هوښیاری کښې
دَ رحمان اوښې به څرنګه په قرار وی
چا لیدلے دے دریاب په قراری کښې

۳۹۲۵ ۸ ٦۱۴/۳۴۷

سپین مخونه تور کودے شی په پیری کښې
سم قدونه کوږ لړ کے شی په پیری کښې
لکه شمع دَ سحر افتاب دَ ژمی
هم بے تا به هم زیړے شی په پیری کښې (۴۲۳)
که پل یو سر بڼدے وبلے خواته دروی
خپل صورت تمام پردے شی په پیری کښې (۴۲۴)
دَ مړده ؤ په حساب وی غزا وشرے
که څرګند لیده ژوندے شی په پیری کښې (۴۲۵)
مرګ لا نه دے پس له مرګه بیا ژوندے شی
نشته دا چه څوک زلمے شی په پیری کښې

که څه وخورې لکه زهر نه ارزيږي (۴۲۶)
نه څه څښې نه څه خوړې شي په پيرۍ کښې
دا ځواني ده چه څه اورې يا څه وينې
نه ليدې نه اوريدې شي په پيرۍ کښې
اے رحمانه پيري هسے عاجزي ده
که رستم وي زړه پرسوې شي په پيرۍ کښې (۴۲۷)

۳۹۳۳ $\frac{۶۵}{۳۴۸}$ ۸

وقت دَ عيش و طرب تير شه خزان راغے
ځنکدن دَ بلبلانو په ځان راغے
دلدارى مے تر اميد وه بارے څه کړم
هغه يار دَ دلبرانو په شان راغے
سود سودا دَ عاشقۍ که نفع مند وي
ما هيڅ سود پکښې و نه ليد تاوان راغے (۴۲۸)
تمام عمر که وصال وو هومره نه وو
لکه يو زمان دَ بشکليو هجران راغے
اشنائي مے په هوس وه خو چه بيل شوم
دواړه لاس مے وبله ومنبو ارمان راغے
کوے زما دَ زړه ئے يو وړ په چوګان کښې
بيا دَ ناز په نيلي سور په جولان راغے
غنچه لب چه په خندا کاندي پريښانه (۴۲۹)
په شيبو زما دَ اوښيو باران راغے

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دَ مرزا دَ ارزانی دعوے به پرے (۴۳۰) کا
قدردان دَ شاعرانو رحمان راغے

۳۹۳۹ $\frac{۶۶}{۳۴۹}$ ۶

ق

مست په هغه فخ یم چه مستانے لری ستر گے
بے تورے بے تیغه قاتلانے (۴۳۱) لری ستر گے
بے لیدو کتو غائبان زړونه وړی له خلقو
هسے چشم بندہ ساحرانے (۴۳۲) لری ستر گے
هر څوک چه ئے وویني بل سر کتلے (۴۳۳) نه شی
کښلے په دیوار غوندے حیرانے لری ستر گے
لب آب حیات دی او نفس ئے دَ عیسیٰؑ دے
هیڅ څه عجب نه دے که خوبانے لری ستر گے
هر چه عاشقان دی هغه کله بل سر گوری
واړه ستا په لوری نګرانے لری ستر گے
اے رحمانه دا او بنے هم تخم هم باران دے
کښت دَ هغه شین دے چه گریانے (۴۳۴) لری ستر گے

۳۹۴۵ $\frac{۶۷}{۳۵۰}$ ۶

چه وصال دَ خپل جانان مے دے موندلے
گنج دَ دُر و دَ مرجان مے دے موندلے
هو مرہ طمع مے له خپله بخته نه وه
نه پوهیږم چه څه شان مے دے موندلے

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

که په ډیر مشقت لاس لره خدائے راوست
زه خووائیم چه آسان مے دے موند لے
چه مے یو نفس وصال ورسره وشه
واړه اجر دَ هجران مے دے موند لے
څه عجب دے که تمام جهان زما شی
چه بادشاه دَ درست جهان مے دے موند لے
زه رحمان په خپل اشعار شکر گزار یم
چه دا هسے رنګ دیوان مے دے موند لے

۵۷ ۳۹ $\frac{۶۸}{۳۵۱}$ ۱۲

بدلوے په دنیا دین وایمان و لے
نه پوهیږے په خپل سود وپه زیان و لے
همیشه په ځائے دَ شکر شکایت کړے
منکریږے په عطا دَ سبحان و لے
درنجښلے خدائے دَ هرے چارے توان دے
په ډیر توان کښے خپسر بولے ناتوان و لے
مدام اوښے تویوے دَ رزق له غمه
در گوهر په بها پلورے ارزان (۴۳۵) و لے
چه په هر بیګاه سامان دَ هر سبا کړے
کور وکر شوے دَ محشر په سامان و لے
هیڅ ګیاه له ځایه نهٔ خوځی نم مومی
ته دَ رزق په طلب مړے جهان و لے

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

چه پخوا تر قضا خپله رضا غواړے
بیهوده په لوتو وُلے اسمان ولے
په ژوند ومره چه دَ مرګ له غمه خلاص شے[۴۳۶]
اسان کار دِ کړ په ځان باندے ګران ولے
غیرے میني دِ په زړه باندے انبار کړے[۴۳۷]
په کعبه کښے ننباسے بُتان ولے
زړه دَ نفس په پیروی درخته لاړ شه[۴۳۸]
دَ خبیث په لاس دِ ورکړ قران ولے
چه یوسفؑ دَ حبشی په بها موے
دَ مطلوب په طلب نه ښندے ځان ولے
بد په بدو پښیمانی کاندی رحمانه
ته په خپلو بدو نه شوے پښیمان ولے[۴۳۹]

۳۹۶۵ ۶۹/۳۵۲ ۸

په نور چا پسے بے خدایه ژاړے ولے[۴۴۰]
دَ چارپائے په شیر بے ځایه ناړے ولے
چه روټی میده کوے په شخوند خوجوړ ئے[۴۴۱]
تر و خبرے کوے لواړے لواړے ولے
ته داخپل کلام میده په داخپل شخوند کړه
و داړل ته دِ تیرے کړے داړے ولے
هغه کار چه دِ په نرم وئیل کیږی
بیهوده په پورته نولے لاړے ولے[۴۴۲]

نیک لہ نیکو بد لہ بدو مناسب دی
نیک و بد وبلہ پر بلہ نغاړے وے (۴۴۳)

یو قدم دَ خدائے پہ لورے ینبو وے نہ شے
تمامی عمر پہ بیرتہ لاړے وے (۴۴۴)

تل پہ غاړہ کښے دِ طوق دَ تعلق دے (۴۴۵)
وکښے نہ شے دغہ طوق لہ غاړے وے

چہ پہ ورځ دَ شیخی لاف کړے رحمانہ
پہ شپہ مے لہ مے فروشہ غواړے وے (۴۴۶)

۳۹۷۵ ۱۰ ۷۰/۳۵۳

کشکے زہ خاورے اېرے دَ ستا دَ در وے
چہ قدم دِ همیشہ زما پہ سر وے

خو یو ځلہ زما ستا و بلہ مخ شوے
نور مے موخہ ستا وغشیو تہ تتر وے (۴۴۷)

تمام تن مے دَ رانجو پہ څیر اوړہ شوے (۴۴۸)
خو پہ ما دَ تورو سترګو یو نظر وے

پہ زیر رنګ پہ سپینو اوښیو بہ ما بیاموند
کہ دَ ترکو ملاقات پہ سیم و زر وے

ملامت بہ پہ ما څہ لرہ وایہ شہ (۴۴۹)
کہ دَ ستا دَ دلبریہ څوک خبر وے

مرتبہ کہ ستا دَ عشق شی ورځر ګندہ (۴۵۰)
ملائک بہ واړہ وائی کہ بشر وے

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

تماشا به زما هله دربښکاره شوه
که ته ماغونډے بیدل وے زه دلبر وے (۴۵۱)

په خونبار به زما سترګو غونډے نه وو (۴۵۲)
که په ځمے دَ تیرو تورو پرهر وے

یا نسیم دَ صبح دم یا عندلیب شوے
چه دَ ستا په ګلشنونو ګذر وے (۴۵۳)

ستا په درکښے طبیب وائی و رحمان ته
لا به ښه ووکه دِحال تر دا بتر وے (۴۵۴)

۳۹۸۷ ۷۱/۲۵۴ ۱۲

دَ وصال په هوا والوتے مرغه شوے
دَ هجران په اورکښے درست صورت اوبه شوے (۴۵۵)

نه وزرکا له هوس نه مری له غمه (۴۵۶)
سرے سخت دے کنه یو اثرخو وشوے

زړه که چاود وے هم له دغه غم به چاود وو (۴۵۷)
چه دَ یار دَ بیلتانه خواری په زړه شوے

چه بیلتون ورته اسان دے هغه خلق
ازمئیښت لره په بند دَ بیلتانه شوے (۴۵۸)

دَ رقیب و ناکړدو ته چه نظر کړم
دَ عاشق له اهه رونډ په تورلیمه شوے

ښیخ پوره به دِ نیمګړی نه شوے خدایه (۴۵۹)
که بیلتون دَ دوه یارانو وبله نه شوے

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

چه بیلتون د دوه یارانو وبله کاندی
د هغو خلقو له مرګه واوریده شوے
خدائے رضا لره چا هسے تعوین وکړے
چه لږ زه د هغه یار ترفهمه بنه شوے (۴۶۰)
یو ځل یار په سترګو ولیدے چه دادے
هرچه شوے له هغه پسه بیا هاله شوے
خولږ نوم ئے زما واخستے په ژبه
نورے نوم په دا جهان کښے پاتو مه شوے (۴۶۱)
لکه درست عمر په خوله د رقیب کار کا
دغه هسے یو زمان زما په خوله شوے
زه رحمان په دا معامله کښے حق حیران یم
نه پوهیږم چه د یار له غمه څه شوے (۴۶۲)

٣٩٩۴ $\frac{٧٢}{٣٥٥}$ ٧

ډیرے خولے زما په یاد شکر خورے شوے
بیا زمونږ په زمانه خاورے ایرے شوے (۴۶۳)
د چندنو ونے وسولیدے لا رے
هزار څانګے د شمشادو په ارے شوے (۴۶۴)
په هغو زمکو چه روغے وے ماڼیه
د ایام په ګرد شونو هدیرے شوے
په دنیا کښے چه بنیاد د اشنائی کا
د هجران تورے هغو لره تیرے شوے (۴۶۵)

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دا فلک چه خدائے پیدا کړ دائے خوئے وے
چه وچا وته دعا چا ته بنیرے شوے [۴۶۶۶]
خپل قسمت په سرې کاندی هرچه کاندی
دَچا بخره خاموشی دَچا نارے شوے [۴۶۶۷] ق
دَ دُنیا دَ محلونو خښتے واړه [۴۶۶۸]
و رحمان ته دَ سرونو منارے شوے

۴۰۱ ۷۳/۳۵۶ ۷

ته چه ماته وائے چه په چا باندے شیدائے
زه په تا شیدا یم وایه ته چه یار دَچا یئے [۴۶۶۹]
زه به تا په کومه زیرکۍ شم پیړولے
چا زده لکه تازده هومره وایه چه څه وائے [۴۶۷۰]
زه چه کبرژن وم عاشقی مے کردن مات کړ
ته چه لکه وے هم هغه هسے کبریائے [۴۶۷۱]
ځان که ستا په مینه کښے فنا کړم څه به وکړم
ته چه په دا هسے رنګ له اهٔ بے پروائے [۴۶۷۲]
مرګ مے په تا ولے خدائے اختر کړنه پوهیږم
څه دِ حاصل هم شته که مطلق په مرل زمائے [۴۶۷۳]
څه شوکهٔ یم زه انګشت نمائے په مینه ستا کښے
لا ترما نه خوښه دَ قاضی او دَ ملائے [۴۶۷۴]
ستا دَ عشق تر ټورے ککری دَ رحمان ځارشه
دا هم سهل کار دے زما یاره که په دائے

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

۴۰۹ $\frac{۷۴}{۳۵۷}$ ۸

خو زما په ورمیږه ماتول شیر یئ
که په مرګ د رقیب هم هسې شمشیر یئ
مرګ خو وینې چه په خپله راپسې دے
څه محتاج زما و مرګ وته ډیر یئ (۴۷۵)
کبر و خیال خو لا له ځایه ستا عادت وو
او که نن زما له قصده په بل پیر یئ (۴۷۶)
دا بې شماره عاقلان به شي کم عقل (۴۷۷)
ته چه دا رنګه په زړه وکښه دلیر یئ
ستا خویونه به په خپله ځان څرګند کا
زه به څو وایم چه څو تر بلا تیر یئ
له حیرته دِ تعریف کولے نه شم
چه په څه رنګ دِ ستایم دچا په څیر یئ
ما چه ستا د لبو خوند بیا موند محظوظ شوم (۴۷۸)
که سل ځله په ترخه وئیل ګنډیر یئ
د جهان ښکلی که واړه د رحمان شي
خدائے دِ نه کا چه ئے ته له دله هیر یئ (۴۷۹)

۴۱۰ $\frac{۷۵}{۳۵۸}$ ۸

په یوه ذره به وږے یا به موړ یئ
په یوه ذره به کرم یا به سوړ یئ

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

که ځوانی له خدایه غواړے ځوان به وموړے (۴۸۰)
او که پس له ځوانۍ پلۍ خو به زوړ یې
بنده کان خو کله جوړ کله ناجوړ وی
څه خدائے نه یې چه به تل تر تله جوړ یې (۴۸۱)
عاشقی به د اسمان غوندے څرګند کا (۴۸۲)
که مجنون غوندے هر څو په صورت ووړ یې
عبادت خو په ځوانۍ کیږی رحمانه
ق په پیرۍ کښے به څه زهد کړے چه زوړ یې (۴۸۳)
ق بدئے واړه په بنه ونسه رحمانه
چه پائے بند د یار په مینه یا په مروړ یې
ق که د شعر د رحمان مومند ترغوږ شی
دواړه لاس به په ارمان ورپسے مروړے
عاشقی بے جذبے چرے د ه رحمانه
ته مجذوب د یار په مهر کښے لا ووړ یې (۴۸۴)

۸ ۷۶/۳۵۹ ۴۰۲۵

ق

که په قطع د تمام جهان ملک یې
چه له ځانه خبر نه یې لا هلک یې (۴۸۵)
ادمیت خو څه په مال او په شال نه دے
ته چه خیال په شال و مال کړے ځکه سپک یې (۴۸۶)
منصفان به د انصاف خبره وائی
څه شو څه شو که په خپلو کښے شیرک یې (۴۸۷)

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

که دَ نمر په شیر ځرګند شے په جهان کښے
ځو په زړونو پسندیده نه شے لاورک ئے (۴۸۸)

بزرګی په دلجوئی کښے ده دَ خلقو
ته چه خلق ړوبوے ځرنګه بځرګ ئے (۴۸۹)

په لوئی کښے لوئی چرے ده احمقه
کینیه وته مت کړه که سالک ئے

فلک تاغوندے هزار فنا پیدا کړه
ته لا نوے نوخاسته په ناز نازک ئے

دانایان په دیوال کښلے پند اخلی
ته رحمان په خوار نظر کورے مورک ئے

۴۰۳۹ ۱۴ ۷۷/۳۶۰

په ځوانئ کښے بد دماغه بدګمان ئے
چه پیری دربانده درشی ناتوان ئے (۴۹۰)

که په دا دِ زړه بنه کیږی دا خو نشته
چه به تل ترتله ژوے هم به ځوان ئے (۴۹۱)

چه بے خدایه زړه ترے په نور څه پورے
هم په خدائے هسے باور کړه چه نادان ئے (۴۹۲)

پښیمانی تر پښیمانیه ښخوا بویه
نه هغه چه بیا په تیرساعت پښیمان ئے

هسے رنګ دِ وَ هغه جهان ته شا کړه
ګویا تل به مستقیم په دا جهان ئے

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

هومره سردِ وخپل خدائے وته تیټ نه دے (۴۹۳)
لکه تیټ په لور دَ خان وَ دَ سُلطان یُے

یوه شپه په طاعت نه شے رونولے
هره شپه په مال و ملک باندے پاسبان یُے

په تسبیح دِ تانده ژبه وچ لړکے شی
پوچ کوئ لره بلبل غوندے گویان یُے

وَ نمانځه ته چه نمر خیژی هاله پاځے
په قلبه پسے لا نیمه شپه روان یُے (۴۹۴)

اوداسه لره کوزه اخستے نه شے
چه په لو او په لور ور شے پهلوان یُے (۴۹۵)

دَ هلک په څیر لاس اچوے واور ته
نه خبر په خپل بهبود نه په نقصان یُے (۴۹۶)

پټے سترګے لکه شتور په کانی ګرځے
چه پریوځے وکوهی ته هم دوان یُے (۴۹۷)

چه و بل ته نصیحت کا ځان دِ هیر دے
نور څوک نه دی هغه ته عبدالرحمان یُے (۴۹۸)

مخمّس

هغه یار چه ښائسته دے تر افتابه
مخ به کله راښکاره کاندی له نقابه[۱]
بیلتانه په زړه زهیر کړم بے حسابه
یو سبب وکړے مُسبّبُ الاسبابه
چه زما ملاقات وشی له احبابه

ملاقات دَ ښائسته ؤ مے نصیب کړے[۲]
دَ ښائست په ګلستان مے عندلیب کړے
عندلیب مے په ګلشن دَ خپل حبیب کړے
خدایه ما په دلبرانو کښے قریب کړے
ؤ مے ژغورے دَ دے اهل له عتابه[۳]

هغه یار چه زه ئے مینه په دیدار کړم[۴]
همیشه ئے و دیدن ته انتظار کړم
شپه و ورځ پسے نارے وهم کوکار کړم
که په روئے ورته تمام جهان روئیدار کړم
سترګے نه پورته کوی دَ ناز له خوابه

بیلتانه ئے پټ پنهم په زړه تاراج کړم
و دیدن ته ئے په هسے رنګ محتاج کړم
چه غرقاب ئے دَ غمونو په امواج کړم
هیڅ پایاب ئے مونده نه شی څه علاج کړم
دَ اشنا دَ مینے غم شه ناپایابه

ته چه کس یئ دَ جمله وُ بیکسانو[۵]
هم کارساز یئ دَ جمله وُ خام کارانو
الٰهی په بزرګئ دَ بزرګانو[۶]
زهٔ وصال په دُعا غوارم دَ خوبانو
لا به کله دا دُعا کړے مستجابه

اسیر کړے دِ دَ زلفو په طناب یم
تکبیر کړے دِ دَ سترګو په قصاب[۷] یم
دَ کشتئ غوندے مدام په اضطراب یم
لکه زهٔ چه ستا له غمه په عذاب[۸] یم
خبر مه شه هیڅ بنده له دے عذابه

دریغه مه وے په دنیا کښے پیدا شوے
اوکه وے هم خو دا هسے شان خومهٔ وے[۹]
لکه زهٔ یم د هجران په لمبو سوے
څو به ګرځم په دا هسے اور اولوے
چه سینه مے په درست عمر شوه کبابه

هے هے څه مے دا خراب خاطر ناښاد شه
زیست روزګار مے همیشه آه و فریاد شه
عمارت مے دَ زړهٔ هسے رنګ بربا د شه
چه حباب غوندے بے بیخه بے بنیاد[۱۰] شه
دَ ښادئ طمعه به څه کړم له حبابه[۱۱]

پټ پټ ګرځم دَ ناصح له نصیحته
را ته کاندی نصیحت په څوصورته

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

چه توبه کړم دَ خوبانو له قربته
هیڅ ځواب ئې په ما نه شي له غیرته
درمانده ورته ولاړ یم بې ځوابه

دا ځواب څه هسې نه دے چه په خوله شي
دَ عشق راز څه هسې نه دے چه وایه شي
دا مشکل حکایتونه په ما نه شي
دَ دے بحر بې پایان حساب په څه شي[١٢]
چه ئې زه وچاته وائیم له حسابه

چاموندلے دَ دے بحر پایان نه دے
دغه راز و هر سړي ته عیان نه دے
هیچا کړے د دے چارے بیان نه دے[١٣]
دغه واړه عاشقي ده رحمان نه دے
چه په خوله کښې لعل و دُر لري سیرابه[١٤]

مسبّع

ستا جفا دَ حد په هورته شوه صنمه
تل مے اوښے موج وهي دَ زړه له یَمه
(یکے دوب شومه له سره ترقد مه
دَ زړه زخم مے محروم دے له مرهمه)[١٥]

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ځو به پته واقعه اوسی پنهمه
هسے ډوب په فکر تللے یم له غمه
نه پوهیږم چه په غریم که په سمه
که مے زده وے له دے هسے رنګ خواریه (۱۶)
مابه نوم اخستے نه وو دَ یاریه
خبر نه وم دَ هجران له دلګیریه
صبر وکړم عاقبت له ناچاریه
ستا دَ غم په دریاب ډوب یم تر مریه
بے تا نه لرم هیڅوک دَ دستګیریه
مګر ته په خپله لاس راکړے همدمه
ما وے نور به اشنائی له هیچا نه کړم
هم په دا رنګے مے نیت وو بارے څه کړم
دانسته دَ غم کوهی ته پریواته کړم
په هنر به شلومبے څه رنګه شوده کړم
دَ قسمت علاج په چاشی چه ئے زه کړم
که په سل رنګه تالاش و تدبیر (۱۷) وکړم
خلاصے نه مومم له لوحه له قلمه
خوبرویان که بے وفادی هم خو ورړه دی
عاشقان که وفادار دی هم خو پرړه (۱۸) دی
په ژوندونی په حساب کښے دَ دوی مړه دی
مقتولان واړه دَ مینے په چاړه دی
ستا له غمه هرچه دی زما په زړه دی

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

اوس به حال وچا ته څه وایم چه څه دی
غرض دا دے چه زه کرم یم ته نا کرمه

یو خو دا چه په صورت ئے پری رویه
هم په خوی او په خصلت ئے فرښته خویه (۱۹)
(گلاب آب وابرو واخست ستا له رویه
په تخته دَ زړه نامه ستا کښلے بویه)
هم په قد و په قامت هر گوره لویه (۲۰)
بیا به نه مومی څوک تا غوندے دلجویه
که ئے غواړے په هژده هزار عالمه

ستا له غمه زه په ځان کرم هسے چارے (۲۱)
چه دښنه ئے وبله نه کا کل عذارے
زکه باور نه کړے دا حال وګوره بارے
(چه له سترګو مے دَ وینو دروی دارے)
ته په څه سبب زما له لاس ازارے
دا زما ګناه را وښیه دلدارے (۲۲)
چه توبه کرم نصوحا غوندے محکمه

لاس ترغاړه دَ رقیب سره خندا کړے
چه ما وویني له قصده راته شا کړے (۲۳)
(په غمونو دَ عیش ورځ زما بیګا کړے
یخوا نه وے په دا خوئ اموخته چا کړے)
خدائے ئے وینی هغه چارے چه په ما کړے
ترابده ورځے پورے به جفا کړے (۲۴)

که به کله هم جار ووځې له ستمه [۲۵]

تا چه هسې بې نیازي دَ ځان پیشه کړه [۲۶]
په عاشق دِ دَ خندا زمکه متره کړه
(جور ستم دِ په عاشق دَ ځان شیوه کړه
زه غریب نه کړم چه دِ زړه غواړي هغه کړه.
بیا دِ ورځ په غریبانو توره شپه کړه
نور دا هسې دَ جفا خویونه مه کړه
خلقه به دِ له جوره شي برهمه

۲۷ ستا زما له مینې هر څوک خبردار دي [۲۷]
دا خبرې کورا کور په هر دیار دي
(دَ پیغور مالګې پرتې مې په پرهار دي
دا خبرې شپه او ورځې (څه) پکار دي [۲۸])
چه فلانا فلانا سړي سره دوستدار دي [۲۹]
اوس په بیرته جار واته و ماته عار دي
چه رسوا شوم تر عربه تر عجمه

هغه ژوي چه په تا باندې مئین وي
په وګړي کښې رسوا لکه کوهکن وي.
(په داغونو ستا دَ عشق ئې زړه ګلشن وي
دَ کاکل نازته عشاق لکه سوزن وي)
همیشه انګشت نما په مرد و زن وي
چه دا نخښې پکښې نه وي دروغژن وي [۳۰]
که په هره کړې خوري هزار قسمه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

نښانه دَ عاشقانو اول دا ده
چه مدام ئې سريکار وي له فرياده
ښکلي يار يوه دم نه وباسي له ياده
شيرين نوم خپل برابر کا له فرهاده
تل نامه دَ بدناميه وي پر زباده
نه ويريږي له پيغوره له اهداده
بې دَ يار دَ جدائيه له ماتمه

هر چه زړه ئې مبتلا شي په بتانو
زيست ئې نه شي يو ساعت بې مهرويانو
(خپل روغ ځان کاندي حساب له ديوانګانو (۳۱)
کا دَ عشق په اور بازي دَ پتنګانو)
که ځوک ورکا بادشاهي دَ بادشاهانو
په نسبت دَ هغو سويو سوختګانو
دا متاع ده تر يوه خسني کمه (۳۲)

که سليمان غوندې مسند ئې په هوا وي
په سبب دَ عاشقۍ به خاکِ پا وي
(قيس مجنون غوندې له خلقه به جدا وي
له خاطر ئې هر څه هير بې دَ ليلىٰ وي) (۳۳)
هميشه به په فرياد و په غوغا وي
چه دا هسې نښانې پکښې پيدا وي
و هاله پر عاشقي ده مسلمه (۳۴)
عاشقي دِ هيڅوک نه ګڼي اسانه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دا خبره ده دَ حد په هورته کرانه
دَ بهار راتله خو نشته بے خزانه
غواص نه مومی گوهر بے له عمانه
وصال نه دے چا موندلے بے هجرانه
ته له زړه سره اټکل وکړه رحمانه
په دُنیا کښے بنادی چرے ده بے غمه (۳۵)

رحمان بابا کلیات
رحمان بابا کلیات

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ضمیمې

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ضمیمه

ا

دا شعرونه د 'ط' او "یو" نسخو کښې د غزل ع‍۲۹۳ په ذیل کښې نقل شوی دی. ځکه چه د دے شعرونو قافیه د دغه غزل د قافیې نه بدله ده او مطلع نه لری نو ځکه ضمیمے په طور را نقل شو:

د زړه حال وتاته څه وایم په ژبے
ته خبر د خوبرو زړونو په تمثل یې
هم د ګل په څیر بلبل سیزے په مینه
هم مین لکه بلبل هسے په ګل یې
بے لیدو درڅرګندیږی غیب وارہ
په کمال د جملګی چارو کامل یې
هم قاضی و هم ملا هم محتسب یې
هم ساقی د مے پرستو په محفل یې
یو دِ ذات په دوارو کونو کښې شهره دے
بل په نام له هرچا لویه یو په سل یې
چا ته مخ په عبادت کښې نه جاربا سے
څوک که درسته شپه بدی کاته د ځپل یې

ضمیمه

ب

دا شعرونه ښاغلی برنهارډ ډورن (مؤلف د کرستهو میتهي) په جرمن ژبه کښې لیکلی

دَ پښتو ګرامر کښې دَ مثالونو په طور راوړی دی :

خپل جانان مے هسے (رنګه) وی په زړه کښے
نه پوهیږم چه رحمان یم که جانان یم

(نوټ ۵۲/۱۳۵ وګورئ)

طفلان هم په یو دوه کاله سخندان شی (یو ه)
رحمان زوړ شه ولے نه شه سخندان

(نوټ ۵/۲۲ وګورئ)

هیڅ سړے به په دنیا کښے پاتو نه شوے
که هندکے وی که مغل وی که پښتون وی

یار له یاره بیلول هسے وبال دے
لکه چاچه په ناحقه کړے خون وی

چه بیلتون دَ دوه یارانو سره کاندی
دَ عاشق په نظر واړه ملعون وی

نه مونده شی په بازار کښے نه په ښهر
زړه دَ یار په څیر بل نه وینم په سترګو

دَ وِیَلو حاجت نشته واړه دے دے

(یوه مصرعه)

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ضمیمه

ج

دا غزل د کرستو میتهی په متن کښې راغلے دے :

چه دوے بنځے وی د چا	هم سنی وی هم پارسا[۳۶]
خدمت کړونے د ښتن وی	په ښه خوی وی اراستا
تفاوت پکښې حرام دے	که شرې وی که خاصا
لازم دا دی وښتن ته	تفاوت دِ نه کا بیا
په خوراک هم په پوشاک کښې	که کانړه وی که خذوا (؟)
اوکه دا هسے به نه کا	خپل عمل به کا بیدیا
یو دلے به مجنون ومری	بل هورے به شی روسیا
دا حدیث دے وارد شوے	که څوک فهم کا په دا
هغه څوک چه تفاوت کا	زه ویزار یم دے له ما
په مشکوٰة کښې دی راغلی	ورشه وپوښته علما

رحمان ژغورے یوه خدایه
له عذابه له خطا

ضمیمه

د

(۱)

هغه غزلونه چې د کابل د پښتو ټولنې چاپي دیوان (۱۳۵۶ هش / ۱۹۷۷ ء) کښې چه د چاپ پر له پسې نمبر ۲۲۵ د سه چاپ شوي دي خو زمونږ په قلمي نسخو او چاپي دیوانونو کښې نشته -

که تر ستونی دِ شي کوټ له جامه خاصه
هغه دم به شي دَ غم له شیبو خلاصه (۱)

تل په سپینه جامه تکی بد لیدہ شي
ته دا عامې چارې مه کړه خاص الخاصه

که دِ وړې نهنګ ځان ته یوه لقمه کړي
زړ به راوړې په تحقیق سره غواصه

په لباس به دِ اسان په صورت ګران شي
مشکلات به دِ اسان شي له اخلاصه

که نغمه دَ محبت په غوږو واورې
په فلک به شي زهره غونډې رقاصه

معنوي صورت پیدا کړه که میړه یې
فائدہ څه ده دَ بوټانو له اشخاصه

دَ بل څیز په خاصیت به هغه کوري
چه خبر نه دي دَ ځینې له خواصه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

چه پارچه درځنې رخت دَ مينې نه که (ب)
فهم دار وسه رحمانه له رصاصه

(۵- دا غزل دَ پښتو ټولنې ديوان کښې د 'ص' په پټهئ کښې راغلے دے خو دَ مطلع دَ د دوئمې مصرعې نه بغير دوسره ټولې مصرعې دغسې مناسبې دي لکه چه مونږ وليکلې ـ ځکه موږ په ١٧ پټهئ وليکلې شوے ـ (ب) چاپي نسخه کښې مصرعه داسے ده :"چه تارچه ودځنې رخت دَ مينې نکه ؟ دَدے غزل په باره کښې داوضاحت شوے دے چه د اطلاعاتو او کلتور د خطي کتابتون له دوئمې نسخې ځنې اخستے شوے دے.)

که کوهر دَ عشق په لاس راکړي غواص
بيا هاله ئے دے له ما سره اخلاص
په کاله به دَ رقيب غمونه زور شي
که ے يار کاندے حساب له خاص الخاص
په کمند دَ مستې مينې دَ خوبانو
بندي مه کړے خدائے د حشره پورے خلاص
په رحمان باندے نظر د کرم وکړے
اے چه ئے د پاک الله په دربار خاص

سند: دَ اطلاعاتو او کلتور دَ خطي کتابتون دوئمه نسخه ـ

ساقي راکړه ته وَ ماته جام دَ رقص
زه ارزو په زړه لرم مدام دَ رقص
ده نوے اوس به دَخوښئ ساعت په تا شي
مغني راکړو و ما پيغام د رقص
مستي علم خپل استاد راته تعليم کړه   رانماځ کړ هر تار مقام دَ رقص (ج)

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

سرئې پاس ترنهٔ فلکه څرګندېږی
چه په چا وشی ارشاد اعــلام دَ رقص

چه جلوه پر دَ محبوب له لوری کیږی
هرګز نشته په هغه اشام دَ رقص

لیاقت ئې هر وګړی څخه نشته
په لائقو باندې وی انعام دَ رقص

څوئې سا په وجود شته عبدالرحمانه
حقیقت به ځومبرې نه که تام دَ رقص

(ج) دَ وړومبی مصرعې وړومبې توری "موسیقی" دے. او په دے شان په دے مصرعه کښې "خیل" زائد دے۔ دَ غزل دَ سند دپاره دکومے قلمی نسخے حواله نه ده ورکړے شوے)

❀

په دربار کوم دَ ښکلی دلبر عرض
په هردم په هرساعت مکرّر عرض (د)

که قبول شی دَ مولا په پاک دربار کښې
دا په روئی دَ شاه نبیؐ پیغمبر عرض

په مانند د ګړیال په پنځه وخته
په شورش دغه له خوفه دسفرعرض (ه)

بې خاونده د کار (و) کله څه کیږی
څه که کار ته همیشه که قلندرعرض

دا رحمان بې نبی کله وښتن ته
شوې کولې د بل کار سراسرعرض (و)

(د) چاپي دیوان کښې مقرد دے۔ (ه) دلته او له دے نه پس ته شعر کښې وزن بدل دے۔

و۔ وروستۍ مصرع دیوان کښې داسې ده: دا رحمان بې منې کله درښتې ته۔

دَ غزل سند۔ دَ اطلاعاتو او کلتور دَ خطي کتابتون دوئمه نسخه۔

کـه مې یار په دیدن سـرغواړی عوض
ورقربان شه چه دلبرغواړی عوض
چه هستي واړه نیستي کاندې واصل شي
کنډ کچکول دِ قلندر غواړی عوض
دَ دو نړۍ په اور به څه حاجت موقوف وي
عاشقي تـر خاکستر غواړی عوض
خپل صورت ورته نافه کړه ته دَ مشکو
یار مجمر سره عنبر غواړی عوض
دَ لباس له ښکلیو طمع بوسه مه کړه
دَ بوسې په ورکړه زَر غواړی عوض
دَ دې دهر له تکیه ویره وکړه
دَ کهتر په ځائې بهتر غواړی عوض (ز)
دَ عشق درس څه په اسانه لوسته نه شي
په دا ځائې کښې زیر و زور غواړی عوض (ح)
په یو څله به تر خلاص نه شې رحمانه
سر و مال دِ مکرّر غواړی عوض (ط)

(ز۔ چاپي دیوان دوئمه مصرعه کښې د کهتر په ځائې "کهتری" راوړې ده۔ ح۔ چاپي دیوان کښې وروستۍ مصرع داسې ده: دَ عشق درڅه په... الخ ۔ ط۔ چاپي دیوان کښې د مکرّر په ځائې مقرّر دې۔ دا غزل چاپي دیوان کښې د کومې نسخې د حوالې نه بغیر درج شوې دې)۔

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

زن نګار وماته راکړ دَ يارۍ خط
وې ئې واخله دا دې دَ دلدارۍ خط
دَ غماز له دوراهيه ترهه وکړه
ځان به بائلې دَ مکار په جوارۍ خط (ى)
چيرې نه وى چه ئې څيرې په غفلت کړې
تل ئې لوله په تميز په هوښيارۍ خط
په مدت سره به ستا انجام ته رسى
اسان کله دې دا ستا دَ ريبارۍ خط (يا)
دَ غفلت له خوبه پاڅه بيدارى کړه
تل وتا ته سپارلې دَ بيدارۍ خط (يب)
برابر دَ خط په حکم قدم کيږده
که ته غواړې په عقبىٰ د نامدارۍ خط
له ميزانه که امان غواړې رحمانه
تل خو لوله په ډير عجز په زارۍ خط (يج)

(ى) - داشعر په ديوان کښے داسے دے: دَ غماز له دوراهه تراهى وکړه ځان به بائلے ... الخ.

يا - وړومبۍ مصرع کښے مدت او مدد دواړه صحيح معنى ښندى - يب. دوئمه مصرع کړاوړه ده.

يج - دوئمه مصرع دَ ديوان مطابق وليکلے شوه. دَ "عجز" تلفظ دپاره به دَ ضرورت شعرى باندې

لټوو - دا غزل دَ ديوان په مطابق د اطلاعاتو او کلتور د خطى کتابتون له دوئمے نسخے نقل شوے دے.

بلبلان که له ګلزاره موى حظ
مشتاقان له خپله ياره موى حظ

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

زۀ دَ عشق له تاوده اورۀ بهرۀ مند یم
سمندر له سرۀ انکارۀ مومی حظ

دَ چمن غوټیه وا دَ سحر باد کا
عاشقان خو له ریبارۀ مومی حظ

په طلب ئې نفع مند شوم له هرچانه
تل ښکاری له خپله ښکارۀ مومی حظ

مجنون بیاموندۀ خوښی په بیابان کښې
هر منصور له تیرۀ دارۀ مومی حظ

څو چه ملک دَ جهان زیر دَ قدم نه کا
په خپل ځائې به څوک قرارۀ مومی حظ

شګفته چه دَ غنچې غوندې سحروی
هغه ژړنی به بې شمارۀ مومی حظ

په ښندل دَ سرې سِر دَ وصل بیاموند
وپاری تل له وپارۀ مومی حظ

چه نیولې ئې خپل ځان دَ غم وَ اور نه
رحمان ځکه له انوارۀ مومی حظ

(دا غزل دَ اطلاعاتو او کلتور د خطی کتابتون له دوئمې نسخې نه منقول بیان شوې دے)

❀

که دِ پریکړۀ له وګړیو ریښتیا طمعه
نور بادشاۀ ئې هرګز مه کړۀ لهٔ چا طمعه

زیړې رنګ دَ اشنائیه مبدل شی (ید)
پیدا مه شه دَ اشنا له اشنا طمعه

چه له ښکليو دَ دے دهر وفا غواړی
دَ نادان په څير ئے شی له کيميا طمعه

چه مراد غواړے دَ زړه له مهرويانو
ستا په دام کښے نيوے شی دَ عنقا طمعه ۱

خدائے دَ عقل جواهر ورته بخښلی
له نادانو په څه شان کا دانا طمعه

څکه سپے دَ فقير پښے او لمن نسی
چه دَ خدائے له دره پرے کا ګدا طمعه

له دغه رنځ ئے طاعون تبه بهتر دی
اے رحمانه ! خدائے دِ مه کړه پيدا طمعه

(يد۔ ښائی چه دَ "زيړے رنګ" په ځائے "زړے رنګ" وی۔ دا غزل د اطلاعاتو او کلتور دَ
خطی کتابتون له دويم نسخے نه منقول بيا نيږی)

❀

چه هردم له خپله ځانه ګريزان يم
هم په دا لکه درياب دَ دروکان يم

مريے ترېخ دے چه ژوندون دچاشيرين شی
زهٔ خورسند دَ يار تر وصله په هجران يم (يه)

نادانی ے دانائی شوه لکه طفل
په ناپاکو کوهره کښے پاک دامان يم (يو)

چه دَ نفس دَ حرص ملک ے مسخر کړ
په هوا دَ پاسه تخت دَ سليمان يم (يز)

تن ے څه کړے چه زړه يار راخته يووړ
بيهوده دَ خالی خونے نګهبان يم

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

لکه ګل چه په نار مات کړے اویزان وی
زۀ هم هسے دَ ژوندیو مړیو ترمیان یم (یج)
کله ځان راته ولی کله عاصی ښی
نه خبر په خپل کمال نه په نقصان یم
خپل جانان مے هسے نقش دے په زړۀ کښے
نه پوهیږم چه رحمان یم که جانان یم (یط)

(یه. وړومبی مصرعه په دے شکل کښے زیاته معنی ښندی؟ مرګ ئے تریخ وی چه ژوندون الخ او یمه مصرعه دیوان کښے داسے ده: "زۀ خورسند دَ یار تر وصل په هجران یم"۔ یو. دوئمه مصرعه داسے لوستل پکار وو: "په ناپاکه کهواره کښے پاک دامان یم"۔ ین. د سلیمان[۴] تورے رحمان بابا عام طور سره په دوه سیلابیز شکل کښے پکاروی۔ دلته ئے شکل درے سیلابیز دے۔ یج. وړومبی مصرعه کښے د "نار" په ځائے ناړ لیکل پکار وو۔ دوئمه مصرعه کښے څه تصرف ښکاری۔ دیوان کښے دا مصرعه داسے ده: "زۀ هم هسے دَ ژوندو دَ مړو ترمیان یم" خو دَ ژوندی او مړی جمع ژوندیو او مړیو صحیح ده۔ یط. وګوری زموږ دَ متن دَ $\frac{۲۰}{۱۳۵}$ غزل دوئمه مقطع۔ دیوان کښے دا غزل د اطلاعاتو او کلتور د خطی کتابتون دَ دوئمے نسخے په حواله رانقل شوے دے۔)

✿

زړۀ مدام راته وئیل چه ژاړه ژاړه
په ژړا سره دِ تللے اشنا غواړه
مصلے دَ بے ننګۍ وړے لنګ کړه
بیچاونیه دَ ننګ کیږده وئے نغاړه (ک)
که دَ یار په سرلوړۍ دا ستا رضا وی
په خندا خندا راځه په لکه غاړه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دا فلک چه دَ اسیا په دود گردش کا
په دنیا کښې به پریښږدی دانه لواړه
په دنیا کښې کوره هرچه زندَه سر دے
دَ اجل په تیغ به پرے کا دَ دوی غاړه
دَ مکے زنځیر حاجیان په لاس کښې نسی
رحمان وینوے دَ یار زلفینے دواړه

(ک - وړومبۍ مصرعه کښې د مصطلے په ځائے دیوان کښې مسلے لیکلے شوے دے - دا مصرعه دے ضمیمه کښې له دیوانه نقل شوے دَ ۲۱/۱۷۷ غزل د پنځم شعر دَ وړومبۍ مصرعے په حیث هم راغلے ده - دیوان کښې دا غزل د اطلاعاتو او کلتور دَ خطی کتابتون د دوئمے قلمی نسخے په حواله رانقل شوے دے)

❀

چه ښکاره شو راته راز دَ یار له پټه
پریشان شوم په زړه حیران له دے نمطه
څوک به څه دَ وفا طمع کا له ښکلیو
چه دَ طمع لفظ خالی دے له نقطه
په کشتۍ دَ عاشقۍ به پل کښیږدم
که شم دا ځله خارج دَ غم له شطه
پرے کړه سرچه شے منصور وهراشیا ته
تیره والے دَ قلم راځی له قطه
بیا به څو زړونه محبوبه په منګل وړی
هسے راغله لکه تکه سپینه بطه
دَ یار غم به دِ هاله په زړه میشته شی
که دِ غیر غمونه شی له دله حطه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

نن کاغذ راته ربار دَ یار راوړے
کوره څه به شی معلوم له دغه خطه
چې ے قد دَ یار دراز او نه کوته دے
رحمان واخسته په لاس څکه اوسطه

(دا غزل چاپي ديوان کښے دَ اطلاعاتو او کلتور دَ خطی کتابتون دَ دوېمے نسخے په حواله رانقل شوے دے)

❀

تل ژړا فریاد کړم دَ دلبر پراستانه
کله به وما ته څخ شکاره کا مستانه
زه لکه مجنون ولاړ یم په طمع دَ لیلیٰ یم
اوس به لیلےٰ راشی پر سپین مخ زلفے شانه
راغلم ستا زیارت له که مے زړه یقین نورنه شی
ټیک پیزوان ئے دواړه پیره ستا دی شکرانه
تیغ د معشوقو دِ په گردن دے عاشق ینبے
هسے رنګه زیب کا لکه مے په پیمانه
چرے دَ منصور په دود سنګسار نه شے رحمانه
مه کوه دَ عشق خبرے ډیرے رندانه

(دَ مقطع په لړکښے دکوږئ زموږ متن دَ $\frac{۳۰}{۱۸۷}$ غزل دږومبئ مقطع او دَ 'ه' نوټ ۱۷۸ - دا غزل دَ اطلاعاتو او کلتور دَ خطی کتابتون دَ دویمے نسخے په حواله رانقل شوے دے.)

❀

پټ پناه مے په خاطر لګی اورونه
چه مې یاد شی دَ مینو بشرونه
تل جرس درته واهه دکوچ ډلیال شئ
پردیسیانو زلمیو! وتړئ بارونه (ک)

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

راشه ورشه حال ئې وګوره چه څه دے
پرمئینو باندے پریواته قبرونه
تا چه دا شیرین بشرخاورے بیابان کړ
ترشیرین بشرے وخاته خارونه
دا میئن چه تا لیده اوس لیده نه شی
دی بند شوی دَ لحد په حصارونه
یوه ذره دَ محبت ورکړه رحمان ته
چه بے تا ئې په زړه نور نه شی فکرونه

(کا. وړومبی مصرعه کښے راغلی توریے "ولیال" صحیح نهٔ ښکاری. دَ دیوان فرهنګ نویس
دَ دے لفظ معنیٰ "دَ ولے ملګرے" لیکلی دے چه دلته څه مناسبت نه لری. کیدے شی چه
دا توریے "دَ لیار" وی. د دے غزل قافیئے هم غلطے دی. دیوان کښے دا اطلاعات او کلتور دَ خطی
کتابتون دَ دوئمے نسخے په حواله رانقل شوے دے.

له چشمانو مے دَ غمه اوښے اوری
چه اغیار (ته) یار زما له قصداً ګوری
سرومال به دَ قاصد تر راتلو ځارکړم
چه خبر راله راوړی دَ یار له لوری
تر سورکی پیزوان ئې ځار شه قلندره
لکه مست اتی مدام په زنځیر شوری
ته چه راغلے خوبان واړه پسی شا شول
نمر چه وخیژی نور ځی پټیږی ستوری
شینکے خال دِ دَجبین په مخ کښے زیب کا
لکه حوره دَ طوبیٰ ونے تر سیوری

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

په رحمان دَ بې غمۍ ساعت حرام شو
لکه بید مجنون بې شماله ښورې

(دا غزل هم دَ اطلاعاتو او کلتور دَ خطي کتابتون دَ دوئیم نسخې په حواله رانقل شوې دې۔)

❁

په اول کښې تا دَ عشق وهلې لافې
هغه لافې دِ اوس ولې کړې خلافې
اوس خپل سر ورته محکم نیولې اوسه
چه دَ غم مصۍ دِ ځان ته کړې مصافې (کب)
سپین چلتار په یوه تکې بد نما شي
دَ ارزالو چارې مه کړه که اشراف یې (کج)
بې تمیز خو معرفت کولې نه شي
ته کره او کوټ معلوم کړه که صراف یې
ځان دِ ولې بې حیا کړ بې حجابه
چه پټ کړې دِ دَ مینې په غلاف یې
که دا هسې لوئې غواړې لوئې دا ده
که په اصل کښې منصور غوندې نداف یې
دَ دوران له فسادونو امان غواړه
که په عقل دَ خپل فکر موشکاف یې
دَ تقصیر سبب یې کوم دې رامعلوم کړه
میئن وژنې بې له جرمه نا انصافې (کد)
کوم صفت به زه رحمان دا ستا بیان کړم
په کامل صفت موصوف په کل اوصاف یې

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

(کب۔ وروستۍ مصرعه هم دغسې په دیوان کښې ده۔ کج۔ وړومبۍ مصرعه کښې دَ "چلتار" تورے ښائي چه "چوتار" وی۔ دا شعر له دے نه پس ته څلور شعرونه، او مقطع ردیف هم نهٔ لری۔ کذ۔ دا شعر او مطلع په قافیه کښې یو تر بله سمون خوری۔ غزل دَ اطلاعاتو او کلتور دَ خطی کتابتون دَ دوئمې نسخې په حواله رانقل شوے دے۔)

❀

یو څل ولیدے دَ یار پریشانے زلفے
په عارض باندے حلقه پیچانے زلفے
که تورتم لری ظاهر سیاهی دَ زلفو
حقیقت لری سفیدے روښانے زلفے (کھ)
دا قدرت الٰهی دے راشه ګوره
دَ دانا دَ ګردن طوق نادانے زلفے
هم په څیرے دَ خپل ځان په زړهٔ حیران کړم
په وړو دَ یار پرتے حیرانے زلفے
په شمیم دَ خوشبوئ ئے زړهٔ خوشبو شوم
خدائے دِ نه کا په خپل داد پښیمانے زلفے
په کوم لوری به زړهٔ سر تر نه وکاږم
وَ ګردن ته مے پرتے ریسمانے زلفے
ځکه ژاړم له دوو سترګو او ښے ویښے
چه رحمان وینی دَ یار خندانے زلفے (کو)

(کھ۔ دوئمه مصرعه له وزنه خارجه ده۔ کو۔ وړومبۍ مصرعه کښې دَ "او ښه" تورے په دیوان کښې "اوښکے" لیکلے شوے دے۔ دا غزل هم دَ اطلاعاتو او کلتور دَ خطی کتابتون دَ دوئمې نسخې په حواله رانقل شوے دے۔

❀

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ضمیمه

د (۲)

هغه شعرونه چه د کابل ذکر شوی دیوان کښې شته خو زمونږ قلمی نسخو کښې درج نهٔ دی:

لمبر	شعر نمبر	شعر	حواله
۱	لثم شعر	که پیدا که پوشیده کا دی کراوسطری په هسرهٔ وقوف دار دے رب زما	د نسخے حواله نشته
[illegible]	وروستے شعر: (د مقطع الکاهو شعر)	د لرم چیچلے خوب کولے نه شی چه خوږلے تور بنامار وی ثمر به خوب کا	د نسخے حواله نشته
[illegible]	وروستے شعر	د بباز بندی خو خوب کولے نه شی چه ئے زلفے طوق رسن وی ثمر به خوب کا	د اطلاعاتو او کلتور د خطی کتابتون دوئمه قلمی نسخه
[illegible]	وروستے شعر	که جفا کوے که جور وارهٔ ځلهٔ لری د ستا جور و جفا وارهٔ دی منلی ما	د نسخے حواله نشته
[illegible]	وروستے شعر (د مطلع نه پس شعر)	هو مره تاؤ د بیلتانه راباندے زور شی چه حساب ئے بیان نه شی په کتاب	د نسخے حواله نشته
[illegible]	قصیده کښے د مقطع الکاهو د مے شعرونه:	که ے غواوی که ے وزه وی که ے اس وی که ے خر که ے میږ وی که ے مږ وی که ے اوښ وی که غاتر که په کور کښے ے کالی وی که لونګی وی که ټغر	د نسخے حواله نشته

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

۳/۷۲	دَ قصیدې ۷۶ شعر	نه پخلا نه مرور وی پریشان ګرځی در په در	دَ نسخې حواله نشته۔ زموږ متن کښې دَ دې شعر وړومبۍ مصرع دَ ۶۹ شعر دَ دویمې مصرعې او دویمه مصرع ئې دَ ۵ شعر دَ وړومبۍ مصرعې په حیثیت موجوده ده۔
۴/۹۰	وروستے شعر	که ته غبرګ ورباندے وکړے کار به کیږی مرغاچو به دُر ګوهر نه شی هرګز	دا دوئمې مصرعې وړومبے توری دیوان کښې مرغه چیچ لوستلے شوے دے۔
۱/۱۰۱	وړومبۍ مقطع	رحمان خویش دے دَ خپل یار په درد وغم کښې ته به وائے چه بادشاه دے دَ افاق	دَ نسخې حواله نشته۔ زموږ متن کښې دغزل اتم شعر ملاحظه کړئ۔
۵/۱۴۲	شپږم شعر	لکه غم دَ اشنائی په ما وریږی یاد به نه وی دچا هسے کړې باران	دَ نسخې حواله نشته۔ زموږ متن کښې دَ دې غزل غلورلسم شعر او دَ 'ن' دپټه ۲۷ نوټ ملاحظه کړئ۔
۶/۱۴۳	له مقطع نه اګاهو پرله پسے دری شعرونه	شهریان دَ دنیا واړه ګدایان دی زه دَ عشق په اور کښې سوے سرګردان نه مے حال وچا ته ووے چه داخه دی عالم واړه په فکرت تللے حیران دَ عشق اور را باندے بل شه خدائے خبر دے اوس رسوا شوم په عالم کښې چاک ګریوان	دَ اطلاعاتو او کلتور دَ خطی کتابتون دویمه قلمی نسخه۔ (لکه چه دیوان کښې صراحت شوے دے۔ دا شعرونه دَ غزل وزن سره سمون نه خوری) دَ وزن له اعتباره دا شعرونه ۴/۱۴۱، ۵/۱۴۲، ۷/۱۴۴، ۸/۱۴۵ او ۹/۱۴۶ سره مطابقت لری،

او که دَ "یم" ردیف ورسره اولګی (لکه چه پکار دے) نو بیائے وزن ۲۰/۱۳۵ سره سم دے۔

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

۴/۱۵۲	وړومبے شعر	هیڅ خبر ئے په هیڅ لوری موندهٔ نهٔ شی که ئے غواړم شپه او ورځ په سورو پلیو	دَ نسخے حواله ذ دَ متن دیدمجه ش
۶/۱۶۲	اووم شعر	چه دَ مخ وَ اب وتاب ته ئے نظر کړم راته هیڅ شے دَ ګلونو اب و تابه	دَ نسخے حواله
۱۵/۱۷۱	پنځم شعر	اوس د استاد رضا جفا کړے که وفا کړے دواړه لاس ے اوس ختلی له اختیاره	دَ اطلاعاتو او کلتو کتابتون دوئمه قلم (دوئمه مصرعٔ دا ته دغه: دواړه لاس ے
۱۹/۱۷۵	اووم او اتم شعرونه	دا ے خپل نصیب طالع دے چه راوسیږی ګنه غم کله رسیږی له غمخوره قاف تر قافه بادشاهی به ئے روزی شی چه په چا اوشی د استاد زلفو سیوره	دَ نسخے حواله ذ
۲۱/۱۷۷	پنځم، شپږم او اووم شعرونه	مصلے دَ بے ننګو ورپسے ننګ کړه دَ هوس مصلے قت کړه وے نغا ړه یاد زماد سترګو تور پړ ګرځید لم په هجران کښے دے سترګو رڼا لاړه په خواریه موندے نه شی له سکانو په لوخ سر سره د روزی له بکاړه	دَ نسخے حواله ذ دَ دریم شعر اخری په دیوان کښے هم دغه لکه چه را نقل
۶۱/۲۱۷	وروستے شعر	په غفلت به څه امید دَ مرحمت کړے دَ ناسور دَ رنځ دوا کوے ترکومه	دَ اطلاعاتو او کلتور کتابتون دوئمه قلم
۱۰/۲۴۳	له وروستی شعره وړاندے :	اعتبار دَ زمانے په اشنا مه کړه هسکی واړه دَ خپلو رخنو چور دی	دَ اطلاعاتو او دَ خطی کتابتون، قلمی نسخه۔

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

۲	وروستے شعر	پہ خپل حسن باندے مہ نازیږہ گلہ دغہ رنگ بہ دِ پہ دوو ورځو بدل شی	د اطلاعاتو او کلتور دَ خلی کتابتون دوئمہ قلمی نسخہ۔
	دریم، څلورم، پنځم او شپږم شعرونہ	خواست زما قبول کړہ اے مالک الملکہ ستا دَ اسم اعظم روئے مے دے دروړے خلاص ئے مہ کړہ بندیوان بنہ دے چہ مړینہ چہ پہ غاړہ ئے وی ستا دَ مینے پړے همیشہ بہ رنځوړے او ریمن کړځی چہ ئے نهال وی پہ سینہ دَ مینے زړے کہ ملاح ستا دَ الطاف وی چہ ئے خلاص کا کنہ نہ شی خلاصیدے دعشق سیند وړے	دَ مُلا بنا اُستہ خان جونگ

ضمیمہ

د (۳)

دا درے شعرونہ پہ قلمی نسخو کښے شتہ او نہ دوی چنګښے ذکر شوہ چاپی نسخو نہ بغیر نورو چاپی نسخو کښے موندے کیږی۔

●	دا زما عاجز امید دے کہ رب کاندے پہ قیامت بہ مے شفیع شی خیر الناسؐ	۲/۹۲ وروستے شعر	پہ حانی کاغذ چاپ شوے یوہ نسخہ چہ دیوسرا وبل پاڼے نہ لری دکابل دیوانؒ کښے یادہ شوے دقصہ خوانی چاپی نسخہ شاید هم دا دہ۔
●	پہ جذبہ د محبت مے ځان تہ راکښہ نورحاجت مے پہ دیدار او دلال نشتہ	۴۴/۲۰۰ وروستے شعر	دَ پروفیسر سعدی افغانی چاپی نسخہ۔

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

چه سیلاب دَ عاشقۍ وربانده راغے
مخلوقات په مخه لاړل لکه خـلی — ۷/۲۴ وروستے شعر دپروفیسر سعدی اطلاق چاپي نسخه.

ضمیمه د (۴)

تتمّه

دا شعرونه په مختلفو غزلونو کښے په غلطۍ دَ نقل کولو نه پاتے شوی دی۔ دَ لوستونکو نه دَ معذرت سره ئے دلته راوړو۔

زړه غونډه کاندی دانه زما دَ عیش
چه په زړه ے زرغون خیال شي دَ اشنا — ۴۵/۴۵ وروستے شعر

چه دَ سپي اوازئے واورم هسے خوبنږم
لکه څوک په نغمه خوښ وی دَ رباب — ۳/۵۱ وروستے شعر

چه راياده اشنائي کړم دخپل یار
سرنګون په فکر.................. (دَ یب نسخه) ۳/۵۱ دَ وروستی شعرنه اګاهو

په ژړا ژړا ترهسے حده راغے
چه ګمان روند کړ په یوسفؑ پسے یعقوبؑ — ۵/۵۴ شپږم شعر

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

کتابیات

دَ دیوان دَ متن په سلسله کښے چه دکومو قلمي او چاپي نسخو نه استفاده شوے ده دَ هغو تفصیل دادے:

(۱) أ: دَ عیدگاه وړومبۍ نسخه۔ په دوه دفترونو ویشلے شوے ده۔ وړومبۍ او وروستۍ پاڼے نه لري۔

(۲) ب: دَ پښتو اکیډیمۍ پیښور مکمله نسخه۔ دوه دفتره لري۔ ډیره خوشخطه ده۔

(۳) ج: دَ اکیډیمۍ ناقصه نسخه۔ چه ډیره بوسیده ده۔

(۴) د: دَ اکیډیمۍ نامکمله نسخه۔

(۵) ه: دَ بالاماڼړۍ نسخه۔

(۶) و: دَ عیدگاه دوئمه نسخه چه په ۱۲۷۴ھ کښے لیکلے شوے ده۔ ۱۵۴ پاڼے لري او وړومبۍ پاڼے نشلیدلی دي۔

(۷) ز: دَ عیدگاه دریمه نسخه چه دلیک کال ئے معلوم نه دے۔

(۸) ح: زړه چاپي نسخه چه دَ ۱۸۹۵ء نه مخکښے چاپ شوے ده۔

(۹) ط: دَ برټش میوزیم مائکروفلم چه اصل نسخه ئے سید غلام علي دَ سوات لیکلے ده۔

(۱۰) ی: دَ اکیډیمۍ مکمله نسخه چه ښاغلي ظهیر افریدي اکیډیمۍ ته سوغات کړے وه او تاریخ پرے په شنه روشنائۍ غلط لیکلے شوے دے۔

(۱۱) یا: دَ پښتو اکیډیمۍ دَ اول دفتر نسخه۔

(۱۲) یب: دَ سرشاه سلیمان دَ کلکشن دَ نسخے مائکروفلم چه لیکونکے ئے ظاهرالدین دے۔ او اصل نسخه په ۱۲۸۱ھ کښے لیکلے شوے ده۔

(۱۳) یج: دَ اسلامیه کالج پیښور مکمله قلمي نسخه چه دَ اوریئنټل لائبریرۍ نمبر ۱۹۳۱ لري۔

(۱۴) ید: دَ میاں ثناء الدین صاحب کاکاخیل دَ چمن بے نظیر قلمي نسخه۔

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

(۱۵) یه: انتخاب کلام شعراء (قلمی) چه دَ پښتو اکیډیمی دَ لائبریری نمبر ئے ۳۱۳ دے۔

(۱۶) یو: دَ بناغلی طاهر بخاری نسخه چه دَ دفترونو ویش نه لری۔

(۱۷) کرسټو میتهی: برنهارډ دورن۔ سینټ پیټرز برګ۔ (دا انتخاب دَ رحمان بابا له دوه قلمی نسخو نه شوے دے۔

ګلشن روه: ایچ۔ جی۔ راورټی

(۱۹) کلید افغانی: ریورنډ۔ ټی۔ پی۔ هیوز۔

(۲۰) اوبر داس پښتو: دَ برنهارډ دورن۔ Ueber Das PUSHTO 1840

(۲۱) دَ ښاغلی عبدالرؤف بېنوا چاپ کړے دیوان چه نوټونه ئے ورته د کابل چاپې نسخه لیکلی شوی دی.

(۲۲) دَ مطبع مرتضائی چاپي نسخه چه د اردو ترجمه هم لری. په نستعلیق لیک دود چاپ شوے دے۔

(۲۳) دَ پروفیسر عبدالمجید افغانی دَ مقدمے سره چاپ شوے دیوان۔

(۲۴) دَ مولینا عبدالقادر مرحوم د مقدمے سره چاپ شوے دَ ادارهٔ اشاعت سرحد چاپي نسخه۔

(۲۵) دَ مولینا عبدالقادر مرحوم دَ مقدمے سره چاپ شوے د پښتو اکیډیمی چاپي دیوان۔

(۲۶) دَ پښتو ټولنے ۱۹۷۷ء چاپ شوے دیوان چه دَ څلورو چاپي او پنځلسو قلمی نسخو نه مرتب شوے دے۔

(۲۷) دَ رحمان ادبی جرګے دَ ۱۹۷۷ء چاپ شوے دیوان۔

(۲۸) په حنائی کاغذ چاپ شوی دَ رحمان بابا دَ دیوان څلور نسخے چه وړومبے او وروستی پاڼے ئے شلیدلی دی۔ یوه نسخه ئے په حاشیه دَ عبدالحمید بابا انتخاب هم لری۔

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

نوټونه

بسم اللہ الرحمٰن الرحیم

Date 21-1-96

سرتاج عزیز

= آجے شہید بابا دروغی =

= مست ایئر =

//The

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

بسم الله الرحمن الرحيم

ا

۱- له نیستئ نه د هستئ صورت پیدا کا ـــ یو۔

۲- هم صانع دے د همه وُ مصنوعاتو ـــ یو۔

۳- چه ئے هیچرته نه مثل نه مثال شته ـــ یو۔

۴- خوانندۀ د نام نویسو الخ ـ ب۔ خوانندۀ د نانوشتو الخ ۔ یج

خوانندۀ د نالوستلو ـ یو۔

۵- که ظاهر دے که باطن دے که مابین ـ ی۔ یا۔

۶- حاجت نه لری د نورچا و یارئ ته ـ ب۔ ط۔ یا۔ یب۔ یه۔ یو۔

حاجت نه لری د بل چا الخ ـ ی۔

۷- څهٔ حاجت دے چه و بل خواته ئے غوارم ـ ط۔

۸- تل ترتله په قرار دے الخ ـــ ب۔ ط۔ یا۔

۹- خدائے به نه وۀ پیدا کړے دا دنیا ـــ یو۔

۱۰- که صورت ئے اخرین دے پیدا شوے ـ ب۔ ط۔ ی۔ یا۔

یو۔ که صورت ئے پیدا شوے اخرین دے ـ یج۔

۱۱- محمّد دے د رندو په لاس عصا ـــ یب

۱۲- که رښا دۀ پیروی د محمّد دۀ ـ ط۔ ی۔ یا۔ یج۔ که رښا دۀ

خو په څ د محمّد دۀ ـ ب۔

۱۳- خدائے ئے مه بولئ الخ ـ ط۔ یو۔ دا شعر 'ی' کښے نشته

۱۴- که مے نه کا خدائے له دے دره جدا ـ ب۔ ی۔ یا۔ یج۔ یب۔

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

که ے نه کا له دے دره خلاۓ جلا ـ ط ـ یو ـ

۱۵ـ دا غزل صرف د 'یا' نسخه کښے دے ـ

۱۶ـ عالمان دی روښنائی د دین دُنیا ـ ب ـ یا ـ

۱۷ـ .... غواړی یو خلاۓ الخ ـ ط ـ

۱۸ـ کاڼے وی یا لړتپه الخ ـ یا ـ یو ـ

۱۹ـ هر سړے چه نښه نه لری د علم ـ ی ـ

۲۰ـ زه رحمان د عالمانو خاکِ پا یم ـ و ـ دَ عالمانو خدمتګار یم ـ یا ـ د هر عالم حلقه بګوش یم ـ یب ـ دَ دویُمے مصرعے متن دَ ب ـ ط ـ ی ـ یا ـ یه مطابق دے ـ "یو" کښے د 'عالی' په ځاۓ 'اعلیٰ' دے چه معنوی لحاظ سره مناسبت نهٔ لری ـ ځکه چه اوسط او ادنیٰ سره په تقابل کښے 'عالی' بهتر توړے دے ـ

۲۱ـ نن دِ وقت دے الخ ـ ب ـ ی ـ یب ـ

۲۲ـ مرچا نه دے ژوندے کړے ـ ا، ب، و، ز، ی، یا، یج، یو ـ ژوندے کړے په دنیا ـ ب ـ

۲۳ـ خه کوے ثنا ـ یج ـ څرنګه کړے ثنا ـ ب ـ

۲۴ـ ویر ژړلے ارتینے الخ ـ یب ـ یج ـ دویُمه مصرع یج کښے داسے ده: "تا ته وائی که پوهیږے داوینا"

۲۵ـ هم په دا کښے الخ ـ ی ـ

۲۶ـ ډیر په بیرته بیر ته الخ ـ ب ـ یج ـ

۲۷ـ د عمل په ځاۓ به دا پښتنه نه شی ـ ب

۲۸ـ په خپل ځان ښیګړه وکړه که دانا یۓ ـ ب ـ په خپل ځان ښیګړه وکړه که میړه یۓ ـ و ـ ی ـ دویمه مصرع ب ـ و ـ ی کښے داسے ده: "غره مهٔ شه په ښیګړه دَ ادے او دَ ابا" په دے صورت کښے دا مصرع غیر موزونه ده ـ

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

۲۹- متن دَ ب، ی، یب، یج او یو مطابق دے۔ دوئمه مصرع د، ز، یج کښې داسے ده: "څوک ئے څهٔ کوی الخ"

۳۰- ......که مے نوم واخست دچا۔ یج

۳۱- متن دَ، ب، ز، ی، یب، یج او یو مطابق دے۔

۳۲- دا عیبونه دی همه واړهٔ زما ــــ ب۔ ی۔ یو۔

۳۳- راشه مه کړه له هیچا سره جفا۔ دا ژوندون دِ ضائع کیږی بے وفا۔ یا۔

۳۴- په دنیا کښے هیڅوک نهٔ دی پاتو شونی ـ ط۔
......پاتے شوی ـ یا۔

۳۵- حکماء: د عربۍ دا درے سیلابیز توری "حکماء" رحمان بابا دَ دوه سیلابیز په خیر استعمال کړے دے۔ دَ رحمان بابا نه اکاهو مرزا، دولت او خوشحال خان خټک هم په دے دول پکارولے دے۔ وګورئ ۱۱: ۴، ۳۳: ۱ او ۱۰۶: ۴
یب کښے دا مصرع په دے صورت کښے هم راغلے ده:
په حکمت ئے پیوند نهٔ کا حکماء
خو دا صورت ئے د قلمی نسخو د اکثریت سره د اختلاف له رویه ترک کړے شو۔

۳۶- ګومان مه کړه چه په سترګو لره ورشی۔ ا، ج، و، یج، یو

۳۷- دا په هره ورځ چه خیژی بل بل نمر دے ـ ب۔ ط۔ ی، یو
دا په هره ورځ چه خیژی نوے نمر دے ـ یج۔
دا چه هره ورځ راخیژی بل بل نمر دے ـ یا

۳۸- که جنت په زهد نهٔ دے چا موندلے ـ ب۔ یا
که جنت په زهد نهٔ دے بے له فضله ـ ا۔ و۔ دوئمه مصرع یب کښے داسے ده: "هم سرے دِ خپله غاړه که ادا"

۳۹- که د نفس دپاره سل حکمته وکړے ـ یج۔

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

۴۰- دهم هغه به دِ توښه شي د عقبیٰ - یا-یج -

۴۱- د دوزخ دِ تا ترمیان به شي دریا - یا- د دوزخ د ستا الخ--یج -

۴۲- اشنایان که څوک پوهیږی وقت دادے - یج

۴۳- چه ته بد له بله وائے بل له تا - یا-

۴۴- نه شکرے په فتنه او په غوغا - ب-

۴۵- متن د "یو" مطابق دے- نور قرأتونه دا دی:
نهٔ د غم په خاروخس نهٔ په حلوا - ب، ی، یا
نهٔ د غم په خاوروخس پخه حلوا - یب-یج
نهٔ د غم په پولاؤ ډک نهٔ په حلوا - ز

۴۶- پروند بهتر دے چه بے کامه بے زبان وی - ط

۴۷- متن دَ ل، و، ھ، ط یج مطابق دے- نور قرأتونه دا دی:- که دیو تاله پخوا درشي بهتر دے - یا- دیو که چا لره په خوا ورشي بهتر دے - یا- (نسخه بدل) دیو یا دد که پخوا درشي هغه بهتر دے- ی- دَ دویئمے مصرعے متن دَ ل، ب، و، ز، ھ، ی، یا مطابق دے- 'ط' کښے دویئمه مصرعه دا سے ده: "خلائے دِ بد سرے ورنهٔ ولی په چا"

۴۸- متن دَ و، ط، ی، یا، یب، یج مطابق دے- ب کښے دا شعر دَ دے نه اګاهو دوه شعره او له دے نه پس یو شعر نشته- دویئمه مصرعه 'یا' کښے دا سے ده: "پوره مهٔ شه الخ"

۴۹- چه ښادی ئے یو زمان او غم ئے تل وی - یا- چه خوښی ئے یو زمان وی غم ترتله - ی- چه ښادی ئے یو کړی وی غم تر ډیره - یو- چه ښادی ئے یو زمان وی غم ترتلو-یج دویئمه مصرعه - دغه هسے چار دِ نهٔ کاندی دانا- یا-

۵۰- لکه ځان دے هسے بل وته نظر کړه - ی-

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

۵۱ نهٔ چې نخوته د حرص کا د هوا - ب، و -

۵۲ ځوک فکر ونه د صواب وي ځوک خطا - یا - ځوک فکرونه د صواب دے الخ - یج - ځوک فکرونه د صواب که ځوک خطا -

۵۳ - یا - یج کښې " ځوک عالی دی الخ " راغلے دے - وګورئ نوټ ع۲۰

۵۴ - نهٔ چې موږي نفر ځلئ د اغا - ط - ی - نهٔ چې ځائ د نفر موږي امرا - و - یب نهٔ چې موږي نفر ځلهٔ له امرا - یا -

۵۵ - زهٔ رحمان به شکایت له هیڅانه کړم - نشته دے بل دوست دښمن زمانے ما - یا - زهٔ رحمان شکر شکایت له هیڅانه کړم - نشته بل دوست دښمن زمانے ما - و - ی - یو - رحمان شکر شکایت له هیڅانه کړم - دویمه مصرع مط متن - ط - یج -

۵۶ - وار ه هیڅ کاندی بے وفا الخ - یج - یو -

۵۷ - هر ځوک چې دعوی په دا دنیا دخپلولۍ کړه - ب - دویمه مصرع 'یو' کښې دا سے ده - " واړه غلط وائي الخ "

۵۸ - دا فلک کلال دے ماتول او سازول کا - ب - دا فلک کلال دے سازول کا ماتول کا - یج - دوئیمه مصرع ب کښې دا سے ده " ډیرے ماوته پیدا کړه هم فنا "

۵۹ - وابستګي رحمان بابا رح او نورو متقدمینو د ځلو رسیلابیز په ځائے درے سیلابیز صورت کښے استعمال کړے دے -

۶۰ - ګل که همیشه وي ځو هم نه ترابدا - و - ګل که همیشه دے ځو هم نهٔ دے ابدا - ن - ګل کهٔ همیشه وي هم څهٔ نه ترابدا - ی - ګل کهٔ همیشه دے هسے نه ترابدا - یج -

۶۱ - په بنادۍ ښاد شوے نهٔ یم له هیڅا - یب -

۶۲ - کهٔ زهٔ طمع توقع له هیڅا نه کړم - یا -

۶۳ - په هر لوری رنځوران راته زګیروی کا - ط - ی - په هر کور کښې رنځوران راته پراتهٔ دی - ب - یا - یج - دویمه مصرع 'ب' کښې دا سے ده :- " لاس مے نهٔ رسی د هیڅا په دُعا "

۶۴ - متن دَ و، ط، ی، یا، یب مطابق دے - دَ (ا ، ب ، ه ، یج قرأت دا دے -

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

"ما به ښوک څهٔ کانړے چه نهٔ لرم دنیا"

۶۵- ب : چه ئے پرخه پوره وی نه نیم کړی - تر هغه اشنا بهتر وی نا اشنا

یا - چه دِ نه پرخه پوره وی نه نیم کړی - تر هغه اشنا بهتر وی نااشنا

ی - چه ئے نه پرخه پوره وی نه نیم کړی - دوئیمه مصرعه دَ متن مطابق ده -

۶۶- ب - چه هیڅ بنه تو بنه ئے وځبله نه شی - ښوک به څه کوی هغه سره خندا

یا - چه ئے هیڅ بنه توبنه وبله نه شی - ښوک به څهٔ کاله هغو سره خندا

ی - یج - چه ئے هیڅ بنه توبنه وبله نه شی - دوئیمه مصرع د متن مطابق ده -

۶۷- "یا" او "یج" کښے استوګنه ده -

۶۸- دا شعر "یب" نه رانقل شو -

۶۹- تهٔ جور جفا کړے زهٔ ژړا کوم دلبره - ی - دوئیمه مصرع - ستا کهٔ دغه وے دابه هم نه وو زما - ن -

۷۰- رسم دَ بتانو کهٔ هم داد ے الخ - یج -

۷۱- دا خصلت چه ستا دے خو هم تل که دغه شان وی - یج -

۷۲- دا شعر صرف دَ "یو" نسخه کښے موندے شی -

۷۳- یو د ستاما ځے شی بل غرور الخ - یج - یو ستاما ځے شه بل غرض الخ - ب -

۷۴- زهٔ خو ئے مجنون کړمه الخ - یج -

۷۵- سپے هم په عذاب دَ جدائی دَ وژلو نهٔ دے - یج - زهٔ خو کوندے ستا دکوځے سپے شوم بے نوا - یو -

۷۶- دَ 'یج' متن کښے د دے مصرع قرأت دا دے - "دا زما رضا ده باقی هر چه ستا رضا" دَ یج په حاشیه کښے هغه قرأت هم شته چه موبن متن کښے راوړے دے -

۷۷- په یوه کړی د ستاوی : یا - هو کښے دا شعر نشته -

۷۸- نهٔ نښان لری نهٔ شکل - ط - یو - چه نهٔ شان لری نهٔ شکل - یب نهٔ ئے شان لری الخ - ی -

۷۹- خدائے وریښی مه کړه رحمانه - ی -

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

۸۰- ملامت په دنیا مه کړه - یا- دویمه مصرعه - واوره واوره داوینا-
ھ، یب، یج -

۸۱- کهٔ ترسره ئے صدقه کړے - یج - دویمه مصرعه ا، ب، یا کښے
داسے دہ - "دفع رفع که بلا"

۸۲- بوئ د عود کاندے پیدا- یب

۸۳- کهٔ ئے توے کړے په صحرا کښے - ط - ی - یو -

۸۴- خو ژوندے وی په دنیا کښے - ی - یج - خو ژوندے وی په جهان کښے -
ھ - ط -

۸۵- هر بخیل د خدائے غلیم دے - ط - ی -

۸۶- طالبان د دنیا ډیر دی - یا- دویمه مصرعه - نهٔ ئے مومی خوک له چا یو

۸۷- دا غیر مطبوعه شعر تولو قلمی نسخو کښے شته -

۸۸- دنیا بحر دہ بهیږی - ب - یج -

۸۹- وفادار لره وفاشته - ھ - یج - وفادار لره وفاشی یا

۹۰- چرته خوند کوی دَ زهرو - ھ - یج -

۹۱- هرچه کاندی هغه مومی - ی -

۹۲- لکه دے هسے به پاتی - یج -

۹۳- کهٔ دانائے وپوهیږی - یا

۹۴- دنیا نهٔ ده وارہ دین دے - یب -

۹۵- متن دَ ط، یب مطابق دے - هم مشغول په پنج بنا - ا، ب، ھ،
و، یا، یج، ولاړ وی په پنج بنا - ی -

۹۶- هم په جهر هم په اخفا - و - هم په جهر هم خفیا - ط - یب - هم
ئے جهر هم خفیا - ی - هم په جهر په خفیا - یا - هم په جهر هم
په خفیا - یج -

۹۷- چه بیائے وکه ما - یج -

۹۸- چه ئے مال د دنیا ډیر وی - ھ - یج -

۹۹- غیرمطبوعه شعر په ټولو قلمی نسخو کښے شته - دَ یب قرأت دا دے -
"یائے کسب په ریا وی"

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

۱۰۰- دَ بادشاه ودَ امرا - ب - ط - یب

۱۰۱- نهٔ ئے ویرهٔ شی له خدا یه - ط - یب، یج، یو -

۱۰۲- د فرعون په خیر به ناست وی - ل، و، یب، یج - متن دَ ب، ط، ی، یا، یو مطابق دے -

۱۰۳- متن دَ ل ب هه و ز ط ی یا یب یج یو مطابق دے -

۱۰۴- تولا وتمنا - یج - یو -

۱۰۵- و رحمان ته پبینه مه کړه - یج - دوئیمه مصرعه - ربه هسے رنګ بلا - ی - خدائے دا هسے رنګ بلا - ط - یب - یج -

۱۰۶- مابه صبرستا په جور جفا وکړ - یا - مابه صبر ستا په جوراوجفا وکړ - ی - یب - یو -

بے د ستاله مخه کون وکه مکان دے - یا - و - بے دستاله مخه کون که مکان دے - یب -

۱۰۷- دویئمه مصرع 'یج' کښے داسے ده - "ښه توښه مے په دانه شی نه په دا " ښه توښه مے په دا نه شی نه په دا - هه

۱۰۸- خوے نهٔ دی روح قالب سرهٔ جدا - یا - خوے نهٔ دی روح کالبوت وبله جدا - ط -

۱۰۹- لکه وروستو مقتدیان امام دَ وړاندے - یا -

۱۱۰- زهٔ ئے وینم درست جهان په تا شیدا دے - که بادشاه دے دَ دے دور که ګدا - یا - دوئیمه مصرعه - که بادشاه دے د دے دهر که ګدا - هه - هه کښے وړومبۍ مصرعه دَ متن مطابق ده -

۱۱۱- چه له ماسره وعده وکړے فردا - ی -

۱۱۲- ستاله لوری په ماشوے ده ندا - ط - یا - دلته هم د ذیحے املا مطابق "لوری" "لوریه" لوستلے کیدے شی -

۱۱۳- زهٔ په تا باندے مئین یم له اوله - یا -

۱۱۴- چه د ستاد عاشقۍ په تیغ شهید شی - هه - یا - یج - دوئیمه مصرعه "دَ رحمان به هاله غارهٔ شی ادا - ط - یا - دَ رحمان به هله الخ - ی -

۱۱۵- دَ رحمان وَ زیړی رنګ وته نظر کړه - و - یا - دوئیمه مصرعه - "چه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

مدام په تا پسے کاندے ژړا "۔ دا مقطع په ط ۔ ی ۔ یب ۔ یج او "یو" کښے نشته ۔

۱۱۶۔ متن د ھ، ط ۔ ی ۔ یج ۔ یو مطابق دے ۔ نور قرأتونه دادی: "چه وادهٔ کاندی په ډول و په سُرنا" ب ۔ چه وادهٔ کاندی په ډول او په سُرنا ۔ یا ۔

۱۱۷۔ که مے هر څو دلبری الخ ۔ ط ۔

۱۱۸۔ په یوه کړی مے یار هم مے اشنا شی ۔ ب، ھ، و، یب ۔

۱۱۹۔ متن دَ 'ھ' مطابق دے ۔ نور قرأتونه دادی: "وا زهٔ خپله تسلی کړم یار بولم ۔ ب ۔ یا ۔ دا خو زهٔ خپل تسلے کړم الخ ۔ ط ۔ دا خو خپلے تسلے کړمه یار بولم ۔ ی ۔ واړه خپلے تسلے کړم الخ ۔ یب ۔ یج ۔ دوئمه مصرعه: څه یاری ده د ناتوان و دَ توانا ۔ ب ۔

۱۲۰۔ یو زمان او یو دم بے خپله دلبره ۔ ط ۔ یب ۔ یو ۔ یو زمان او یو ساعت بے خپله یاره ۔ ی ۔

۱۲۱۔ ما له عشقه بل هُنر الخ ۔ ط ۔

۱۲۲۔ پروانهٔ کړی او که وړدے که برنا ۔ ی ۔ پروانهٔ لری که وړی دے په رښا ۔ یا ۔ پروا نهٔ لری که وړے دے که برنا ۔ یج ۔

۱۲۳۔ دَ ا دَ متن قرأت دادے: "چه نما بنام ترستونی تیره کړے الخ" ۔ په حاشیه کښے ئے هم هغه قرأت دے، چه دَ قلمی او چاپي نسخو په سند مونږ متن کښے راوړو ۔

۱۲۴۔ لیونے کړے ډیر حرص ډیرے هوا ۔ یج ۔

۱۲۵۔ لوئے کیږے مختورن کړم هم رسوا ۔ ب ۔ چاپي نسخو کښے دَ "لوئے کیږے" په ځائے "یوے کیږے" راغلے دے ۔ د شعر وړومبۍ مصرعه هم چاپي نسخو کښے "تمام عمر تر اشنا تر عزیز پورے" ده چه قلمی نسخے ئے په اتفاق غلطوی ۔

۱۲۶۔ چه په خپلے رسوائۍ ئے پروا نهٔ شی ۔ نور به څهٔ کا په جهان دَ چا پروا ۔ نں ۔

۱۲۷۔ دا زحمت غواړے له خدایه که دوا ۔ یج ۔

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

۱۲۸- متن دَ ټولو قلمي نسخو مطابق دے۔ مطبوعہ نسخو کښے ورومبے مصرعہ داسے دہ "دل و دین مے هغو ترکے کړه فدا" چہ قافیہ غلطي۔

۱۲۹- دَ ښائست صفت ئے څۀ کړم حیرانیږم۔ ب۔ دَ ښائست صفت ئے څو وکړم حیران یم۔ ط۔ دَ ښائست صفت ئے څو کړمه حیران یم۔ ه۔ دوئیمہ مصرعہ ط، یج، او "یہ" کښے داسے دہ "چہ هیڅ رنګ ئے الخ۔"

۱۳۰- لکہ ذات چہ دَ ویښتو نښته پہ ها۔ ط۔ ی۔

۱۳۱- کہ ئے څوک پہ زلفو پټ وی الخ۔ ا، ه۔ ب۔ ی۔ یج۔

۱۳۲- لکہ زۀ یم ستا پہ غم کښے یک تنها۔ و۔ لکہ زۀ دِ تا پہ غم کښے یم تنها۔ ی۔

۱۳۳- زۀ رحمان نعوذ باللہ منها۔ ا، ب، ه، و۔

۱۳۴- چہ غوږ نہ باسی دچا پہ اَ او نا۔ ط۔

۱۳۵- یا اسمان دے یا عاشق دے یا اسیا۔ ب۔

۱۳۶- تہ چہ غواړے الخ۔ ب۔

۱۳۷ دَ ساقی لہ لاسہ هسے پیالہ الخ۔ ی۔ یا۔

۱۳۸- چہ ئے کسب عاشقي دہ الخ۔ ی۔ چہ ئے کسب عاشقي شی دَ خوبانو۔ یه۔

۱۳۹- دا شعر صرف کرسچن میشن کښے وموندلے شو۔

۱۴۰- ښکلان دی پہ داغم کښے الخ۔ یه۔

۱۴۱- خو هم هومرہ ئے پہ نام و ننګ نظر وی۔ یه۔ دوئیمہ مصرعہ متن کښے دَ "یه" مطابق دہ۔ دَ نورو قلمي نسخو قرأت دا دے۔ "چاچہ نۀ وی اوریدلے نام دَ ستا۔"

۱۴۲- خو پہ خپلو وینو کل غونډے غرق نۀ شی ا، و، ی۔

۱۴۳- صبح وشام پہ هغو خلقو باندے یو دے۔ ب۔ یج۔

۱۴۴- مستی، مستیه: رحمان بابا (او نورو متقدمینو هم) دَ یائے تانیث لرونکو تورو دجمع صیغہ یا حرف عامل لرونکے صیغہ پہ دے شکل کښے استعمال کړے دہ۔ یعنی دَ یائے تانیث نہ پس تہ درسرہ یوہ مکسورہ یا مفتوحہ یَ هم راولی۔

۱۴۵- بوئے دَ ستا د تورو زلفو الخ۔ ب، یب، یو

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

۱۴۶- دا شعر دَ 'ن' په سند راوړے شو. چاپي نسخو کښے نشته.

۱۴۷- رحمان تل دُعا سلام په هغهٔ وائیُم - هرچا مالره راوړی پیغام دَ ستا.ب.

۱۴۸- د دے غزل قافیو کښے دَ یائے معروف او یائے مجهول فرق نهٔ دے ملحوظ ساتلے شوے. ځنے پښتانهٔ اوس هم دَ "لوئے" په ځلئے "لوی" وائی.

۱۴۹- که لوئی کړے څه بے ځایه لوئی نهٔ کړے - یج.

۱۵۰- نوبهار دے عالم سیل دَ بوستان کا - ب، یب.

۱۵۱- هم په دامے له چشمانو نو بهیږی. ا، و، ی - هم په دامے له چشمانو رود بهیږی - یج.

۱۵۲- و هغو ته چه خرګند وی الخ - یب.

۱۵۳- کهٔ سل ځله ته ځهٔ زما ئے الخ - ب. یب.

۱۵۴- دے غزل کښے دَ وزن ډیرے کمی زیاتی محسوسیږی. کوم طاق مصرے چه دَ یوُولسو سیلابو دی نو هغه دَ لس سیلابیزے مطلع دے غزل سره سمون خوری. دغسے لس سیلابیز وطاقو مصرعو کښے یوه مصرعه حیف چه اوریده شی لیده نهٔ شی" که دا سے اولوستے شی چه ورومبی درے سیلابونه نازورلی او څلورم زورلے ؤکیلے شی نو هم مصرعه موزونه شی. دغه حال دَ اکثرو مصرعو دے. مثلاً دوئیم شعر کښے "بیا دوباره نهٔ کوری و بل وته" موزونه مصرعه ده دریُم شعر کښے طاقه مصرعه کښے "یارئے" که درے سیلابیز ؤکیلے شی نو مصرعه موزونه شی. وقس علیٰ هٰذا.

دَ دے وجه شاید دا هم وی چه دَ رحمان بابا زمانه کښے ځنے هغه سیلابونه زورلی استعمالیدهٔ چه نن ئے مونږ نازورلی یکاروو. او ځنے سیلابونه چه مونږ ئے نن سبا زورلی استعمالوو هغه وخت نازورلی یکاریدهٔ. دا غزل بحر کښے هم دے نو شاید چه لهجه کښے دا فرق دَ بحر دَ تتبع وجه وی.

۱۵۵ حسن ولطافت دے الخ - و.

۱۵۶- "بیا دوباره نهٔ کوری وبل وته" که ولوستلے شی نو وزن ئے برابریږی.

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

خودا قرأت ئې یو ے قلمي نسخه کښې هم نشته ـ

۱۵۷ـ متن صرف دَ "ن" مطابق دے ـ دَ نورو قلمي نسخو قرأت دا دے:
خدائې زده چه ته ئې یار دَ کوم یوه ئې "

۱۵۸ـ ما غوندے خاکساره هوادار ستا ـ ی ـ یب ـ

۱۵۹ـ متن دَ "یو" مطابق دے ـ نورو قلمي نسخو کښې مصرعه داسے ده:
"بل کمان په ما باندے ومهٔ کړه "

۱۶۰ـ متن دَ "یو" مطابق دے ـ دَ نورو قلمي او چاپي نسخو قرأت بے وزنه دے ـ

۱۶۱ـ جوَر جفا خوک په بها پیرې ـ ن ـ

۱۶۲ـ یو تار که ضائع کیږی ستا دَ زلفو ـ ا ـ ب ـ ی دویمه مصرعه "ځان به صدقه کړم په هر تار ستا ـ ی ـ یج ـ

۱۶۳ـ دے مصرع کښې یو سیلاب کم دے ـ دَ "ب" او "یج" قرأت دا دے:
"تیر یم زهٔ رحمان له نوره کاره"

۱۶۴ـ یار دے دا کهٔ د عالم سنګار دے دا ـ و ـ یج ـ

۱۶۵ـ خیال دَ زلفوے زما له زړهٔ چاپیر شه ـ ی خیال دَ زلفو ئے زما تر زړهٔ چاپیر دے ـ یج ـ دویمه مصرعه که تر ګنجه الخ ـ یا ـ یا تر ګنجه چاپیر شوے الخ ـ ی ـ

۱۶۶ـ تر عشق زیات (بنه) کار به بل په جهان نهٔ وی ـ تر همه کارونو زیات بنه کار دے دا ـ ی ـ په میاشتو کښې دننه "بنه" زمونږه اضافه ده ـ دا شعر دَ برټش میوزیم په مائکروفلم نسخه ط کښې داسے دے:

ترعشق واړه کار به بل په جهان نهٔ وی
تر همه کارونو واړه ښکار ـ دے ـ دا

دَ رحمان بابا" مطبوعه نسخو کښې دَ یو بل غزل شعر دے: ـ

غوره خط دَ مهرویانو تر خط نشته
که هزار رنګ کتابونه کړے کاتبه (۴/۱۶۰)

دَ دے شعر ورومبۍ مصرعه دریو قلمي نسخو کښې داسے ده:ـ

واړه خط دَ مهرویانو تر خط نشته

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

هرڅو که په دے مصرعه د "وارۀ" مفهوم نرے او مهين هم کيدے شي بلکه د برټش ميوزيم په نسخه کښے ئے ورته په حاشيه کښے "مهين" ليکلی هم دی ولے د زير بحث شعر "غوره" د برټش ميوزيم په نسخه کښے دَ "وارۀ" په شکل او دَ ده دَ پتهئ دَ شعر په وړومبۍ مصرعه کښے هم دا توربے "وارۀ" ليکل بے سببه نۀ ښکاری. دا سے معلوميږی چه دَ رحمان بابا" په دور کښے دَ وارۀ يا وارۀ معنیٰ هم غوره وه. او اوس دا توربے متروک دے.

۱۶۷- دا شعر صرف دَ "يا" نسخه کښے وموندلے شو.

۱۶۸- متن دَ و.ی. مطابق دے. "بل راتله و دے جهان ته الخ" .يج. چاپی نسخو او "ط"، "يب" کښے مصرعه داسے ده: "بيا راتلۀ دِ دے جهان ته الخ" ا، ب، ج، د، ه، ز کښے دا غزل نشته. "يو" کښے صرف دَ دے غزل مطلع دَ يو بل غزل سره راغلے ده.

۱۶۹- دَ وړومبۍ مصرعے متن دَ 'ط' مطابق دے. و.ی. او چاپی نسخو کښے وړومبۍ مصرعه داسے ده "دحباب عمر دِ وګوری چه څه دے" ط کښے دوئمه مصرعه داسے ده: "څوک که شمار کاندی دَ عمر شمار دے دا"

۱۷۰- دَ "اسمان توسن هيچا تينږلے نه دے". يو.

۱۷۱- هيڅ باور مے دا ايام الخ. ط.

۱۷۲- هغه چارے چه هر هر ساعت الخ. ب. ط. هغه چار چه يارے ئے هر ساعت الخ. يو.

۱۷۳- که دَ خاورو په ځائے پريوځم استغنا کا. ب.

۱۷۴- جدائی د خدائے بلا شوه نه پوهيږم. ا. دَ دوئمے مصرعے نور قرأتونه دادی: "خوشے زړۀ مے په ديدن پسے هلاکه. ب. يب خوشے زړۀ مے په ديدن پسے ژړا کا. و. خوشے زړۀ مے په ديدن پسے ويلا کا. ط.

۱۷۵- دا شعر صرف دَ 'ط' په سند رانقل شو.

۱۷۶- که دا اور جامے الخ. ب. يج. يو.

۱۷۷- عاشقی او ننګ ونام دی سره لرے. ط. عاشقی او ننګ ونام دی جُبله لرے. يو.

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

۱۷۸- دا شعر او د دے نه پس دوه شعرونه صرف د اسلامیه کالج په نسخه "یج" کښې شته. نورو ټولو قلمی نسخو کښې دا دوے واړه شعرونه نهٔ یافتیږی.

۱۷۹- چه ځان ستاد درګدا کا- ب-یب- چه دے ستاد درګدا کا- یو-

۱۸۰- وشاهیه وته شاکا- ب-یو- بادشاهی وته نورشاکا-یج-

۱۸۱- نظر بے دَ ستاله لوریه- ب-یو

۱۸۲- ستاپه مهر و محبت کښې- یب-یج-یو-

۱۸۳- متن دَ اب ونړ ی مطابق دے- "د دنیا کوراو ګوری" - یج.

۱۸۴- هره خواته چه ستامخ وی- ز- یب-یو- په هرخواته چه ستامخ وی- و-

۱۸۵- له هغو سره جفا کا- ب-یو-

۱۸۶- له هغو سره وفا کا- یو- (ب دا شعر نهٔ لری)

۱۸۷- هسے نه چه یار زما الخ- یا-

۱۸۸- زړهٔ ئے وړے په رضا دے نهٔ په جور- ن- زړهٔ ئے وړے په احسان دے نهٔ په ظلم- و-(حاشیه) زړهٔ ئے وړے په احسان دے نهٔ په زور-یو- ا

۱۸۹- درست جهان دَ خوبرویانو ناز بردار دے- و- یب-یج- خلق درست دَ خوبرویانو ناز پروړ دے- یو-

۱۹۰- فرښته ئے چه دَ حسن تماشا کا- یا- دَ 'یا' دَ دے قرأت نه بغیر دلته او نورو ځایونو کښې دَ فرښته، فرشته توره دَ دَرسیلابیز په ځائے دوه سیلابیز شکل کښې استعمال شوے دے-

۱۹۱- هغه زویه چه هوښیار وی خهٔ په خوب کا- و.ز-

۱۹۲- کوم طالب مطلب مونده الخ- یج-

۱۹۳- دیدن نهٔ دے الخ- یا-

۱۹۴- زهٔ رحمان دَ یار بنده او خدمتګاریم- یب- زهٔ رحمان دَ یار بندی هم خدمتګاریم- دویمه مصرعه 'یو' کښې داسے ده "چه بندی او خدمتګار وی الخ"

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

۹۵ متن دَ ه، ط، یج مطابق دے۔ نور قرأتونه دادی: هغه زویه چه مئن وی څه به خوب کا۔ ز۔ هغه زړهٔ چه به مئن وی الخ۔ یو۔ د دویئمے مصرے قرأتونه: چه مجنون غوندے کړمن وی څه به خوب کا۔ ب۔ ی۔ چه فرهاد غوندے کوهکن وی الخ۔ یا۔ چه مجنون غوندے الخ۔ یب۔ دویئمه مصرعه نړ کښے د متن مطابق ده۔

۔۱۹۶ هر نفس سرے په تلهٔ دے له جهانه۔ یو۔ هر نفس ډِکو یا تلهٔ دی له جهانه۔ ز۔

۔۱۹۷ څوک چه تږے الخ۔ ا۔ ه۔ ی۔ هرچه تږے الخ۔ یا۔ دَ اکیډیمی اوکابل چاپي نسخو کښے دا شعر نشته۔ ح کښے دَ شعر قرأت دادے:

"داوبو تږی هم خوب کولے نهٔ شی۔ هرچه تږی دَ دیدن الخ"

۱۹۸ وړومبۍ مصرعه دَ ا، ی، ه، ط، یب او دویئمه مصرعه دَ او ط ی مطابق ده۔ دَ دواړو مصرعو نور قرأتونه دادی: خوب خندا له بے غمۍ کیږی رحمانه۔ ب، ی، یا۔ خوب خندا په بے غمۍ کیږی رحمانه۔ یو۔ دویئمه مصرعه: هرچه تا غوندے غمژن وی څه به خوب کا۔ ب۔ یا۔ یب۔

۔۱۹۹ دَ چارپائے په دود بے ځایه محبت کا۔ یا۔

۔۲۰۰ که مدام له خپله نایه محبت کا۔ یا۔ یو۔

۔۲۰۱ تمولو قلمی اوچاپي نسخو کښے "ریش کنده جامه پاره" ده۔ خو عبدالحمید مومند دا ترکیب داسے استعمال کړے دے:

ډیر ے څره خصی کول وکړه پوره نهٔ شوم
ریش کنده جامه پاره له لیونتوبه

دَ عبدالحمید مومند تر اوسه معلومه شوی څلورو قلمی نسخو کښے هم دغه قرأت دے۔ کیدے شی چه د کاف عربي اوکاف عجمی ترمینځه د فرق نه کولو په وجه دَ رحمان بابا دَ نسخه نویسانو نه دا سهو شوے وی۔

۔۲۰۲ دَ بے دردو هموڅی به د الخ۔ ط۔ یو۔ دَ بے دردو همدمی به دِ په دردکا۔ یا۔

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

۲۰۳- په مجلس د ویړ ژړلیو ښوک ور مهٔ شه- یج- یو-
په مجلس د ویړه ژړلیو که ښوک ورشي- ط-
په مجلس د ورژلیو ښوک ورمه شه- ا ب وی (ورژلیو" د زړے
املا له لوریه "ویړه ژلیو هم لوستے شي) په مجلس د ورژلی ښوک
ورمهٔ شه- یا (د لته هم دَ زړے املا لحاظ ساتل پکاردی) دوئیمه
مصرعه 'یا' کښے د اسے دہ: " کرصحیح سلامت روغ وی اه سردکا"

۲۰۴- عاشقان هم دَ دلبرو الخ- یب

۲۰۵- متن دَ ب، ط، ی، یا مطابق دے- نور قرأتونه دادی:
هغه عیش چه بلبلان ئے په گلزار کا- ز- یو- هغه عیش چه ئے
بلبله الخ- یج- هغه عیش چه بلبله الخ- ا دَ نسخو دَ اکثریت او
دَ "عیش" دکلمے د هغه وخت دَ تلفظ په بنیاد دَ متن شعرته ترجیح
ورکړے شوه-

۲۰۶- نیک عمل په بد عمل الخ- ط-

۲۰۷- نقش دَ کورو دَ کوړیو دے په معنیٰ کښے- ب-

۲۰۸- متن دَ ط مطابق دے- نور قرأتونه دادی:
"یکانګیه دَ ماهګیانو کله وارکا" یو- یکانګی دَ زړونو کله هلته کارکا-
ا، ب، ه، و، ز- دَ چاپي نسخو قرأتونه دادی: "مهانګی دَ زړونو
کله هلته کارکا" ح- بیا ملاح دَ زړونو کله هلته کارکا- کابل او
اکیډیمي-

۲۰۹- یار دَ ناز له خوبه پاځي پسے دروهي- ز-

۲۱۰- متن دَ ط، یا مطابق دے- نور قرأتونه دادی:
"بے له تانه مدام سوزی وائے حال دے" ا، ب، و، ی- "هسے
سیزی زمازړهٔ دَ یار په غم کښے"- ز- "نیمے شپے مے ترسر ویږدی
پورے کښینی" یب- نیمے شپے مے ترپوزیه پورے کښینی- یو-
ه دا شعر نهٔ لری-

۲۱۱- متن دَ ط، یب، یا، یو مطابق دے- نور قرأتونه دادی:
"د هوښیاره دَ بیخودیه یون ځرګند دے" ا، ب، ه، و، ی، یج-

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

"دَ مستئ دَ هوښيارئ احوال ښکاره کړے دے" ز۔ دويمه مصرعه
يج کښے داسے ده۔ "په هرچا کښے چه څهٔ وی هغه اظهار کا"۔
۲۱۲۔ دا غزل دَ "ط" او "يو" په سند رانقل شو۔ مطلع کښے عبث "عبس"
ليکلے شوے دے۔
۲۱۳۔ دا شعر ط کښے نشته۔ دَ "يو" په سند رانقل شو
۲۱۴۔ متن د 'يو' مطابق دے۔ دَ 'ط' قرأت دا دے :
هرچه لاړے له اختياره وی وتلے۔ الخ
۲۱۵۔ دَ دے دويمه مصرعه داسے پکار ده : په هنر به کبر نهٔ شی چه ئے نس کا۔
او يا۔ په هنر به کبر نه چه هر نفس کا۔ بهرکيف شعر لکه څنګه چه
دے نهٔ صرف په ګرانه معنیٰ بندی بلکه فنی لحاظ سره هم محل نظر دے۔
۲۱۶۔ متن دَ 'يو' مطابق دے۔ ط کښے وړومبۍ مصرعه داسے ده :
"د اخلاص نماز ګذاردو ...... ب دے" وروستئ حصه ئے نهٔ شی
لوستلے کيدے۔
۲۱۷۔ دَ مقطع مصرعه 'ط' او "يو" دواړو کښے هم داسے ده۔ پکار ده
چه داسے ولوستلے شی : "سياست به ئے تهٔ څهٔ کوے رحمانه" او يا
"چه خودبين وی نهٔ ئے څهٔ کوے رحمانه"
۲۱۸۔ دَ اويو په ځے دَ کوښے بقانهٔ وی۔ ز۔
۲۱۹۔ متن دَ ج، و، ز، يو مطابق دے۔ ب، يب کښے دَ "وړوکی" په ځائے
"ووړکے" او ط، ی، يج کښے "اوړکے" ليکلے شوے دے۔ دَ چاپی نسخو
"پاره نان" يو ے قلمی نسخه کښے هم نشته۔
۲۲۰۔ د دنيا دَ دين نسبت ځبله نشته۔ ط۔ دَ دنيا د دين نسبت خو وبله
نشته۔ يو۔
۲۲۱۔ دا شعر صرف 'ط' کښے وموندے شو۔
۲۲۲۔ متن دَ ك، و، ن، يو۔ مطابق دے۔ نور قرأتونه دا دی :
لکه چشم و ګوش په کار کښے سره بيل دی۔ ن۔ لکه چشم و ګوش
په کار کښے ځبله بيل دی۔ ط۔ دويمه مصرعه "يو" کښے داسے ده۔
"هسے دين او دنيا حکم ځان په ځان کا"۔ ب دا شعر نهٔ لری۔

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

۲۲۳۔ دا غزل دَ ط، یو۔ پہ سند رانقل شو۔

۲۲۴۔ متن د 'ط' مطابق دے۔ دَ 'یو' قرأت دا دے: "پہ کشور دَ صابرانو
به قیامت شی"

۲۲۵۔ کہ دَ باد گذرے وشی خاک پلے تہ۔ یو۔

۲۲۶۔ متن د 'یو' مطابق دے۔ پہ دیدن بہ هندوان وارہ مسلمان کا۔ ط۔

۲۲۷۔ چاپی نسخو او 'یج' کښے دَ "ولو" پہ ځائے "ابرو" دے۔

۲۲۸۔ دَ عاشق د سینے چاک بہ ورښکارہ شی۔ ی۔ یہ۔

۲۲۹۔ رڼا کہ مرګ غوارم بے یارہ کرم مہ کړہ۔ ب۔ یو۔

۲۳۰۔ ورځ چہ بدہ شی عاشق او دانا خہ کا۔ یا۔

۲۳۱۔ چہ بد بخت وی ادے خہ کا ابا خہ کا۔ ب۔ چہ بد بخت شی مور پر
خہ کا ابا خہ کا۔ و۔

۲۳۲۔ پہ بنیرو پہ دُعا نہ شی الخ۔ یا۔

۲۳۳۔ وارہ جور دَ دے دھرے قبول دے۔ یب۔ یج۔

۲۳۴۔ دا دنیا پہ احمقانو دہ ودانہ۔ ب۔

۲۳۵۔ دا شعر صرف دَ 'یو' پہ سند رانقل شو۔ دا غزل دغہ نسخہ کښے دُوہ
ځل راغلے دے۔ یو ځل بغیر د دے شعر نہ او بل ځل د دے شعر سرہ۔

۲۳۶۔ متن دَ ی، یب، یج، یو (دوہ ځل) مطابق دے۔ نور قرأتونہ دا دی:
گدائی کہ ورپیښیږی ځائے ئے دا دے۔ ب۔ ځائے لری کہ بہ لہ
تخته ارتاویږی۔ نہ۔

۲۳۷۔ دا شعر او دَ دے نہ پس دوہ نور شعرونہ د اسلامیہ کالج د قلمی
نسخے "یج" نہ بغیر بلے یوے قلمی نسخہ کښے و نہ موندلے شو۔

۲۳۸۔ دَ دے شعر پہ دویمہ مصرعہ کښے دَ "دوانہ کا" پہ ځائے "روانہ کا"
زیات مناسب ښکاری۔ خو پہ ټولو قلمی نسخو کښے هم "دوانہ کا" راغلے
دے۔ دَ "یو" دَ نسخے یو قرأت کښے "نکاہ نہ کا" هم شته۔

۲۳۹۔ متن دَ و، ی، یب مطابق دے۔ نور قرأتونہ دا دی: کہ اغیار ے
تر دا میانہ پیدا نہ کا۔ ب۔ یج۔ کہ اغیار مو تر دا میانہ پیدا نہ کا۔
ز۔ کہ اغیار ے خدائے ترمیانہ پیدا نہ کا۔ یو۔

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

۲۴۰- یار له هیڅ اسره مهر و فا نهٔ کا- ز-ی-یب

۲۴۱- چه قبول به د غه عذر زما نهٔ کا- ی-

۲۴۲- لکه سروے له خزانه الخ- ا- و- ز-

۲۴۳- که رحمان په عاشقۍ ارام غواړی -یج-

۲۴۴- که سړے د خپلې پوهے الخ- ط-ی-یب-یج- که سړے په خپلې پوهے الخ- ز-یو-

۲۴۵- خواه ناخواه به د تقدیر کښلی وړ پیښ شی-یج-

۲۴۶- دَ هغو چه بخت بیدار شی الخ- ط-ی-یب-یج-یو- دوئیمه مصرعه 'یج' کښے داسے دهٔ- "که هیڅوک بیدار نهٔ وی شپګیر نهٔ کا"-

۲۴۷- دا له خپلے کم فهمیه مونږ څه وایو- ط-ی-یب-یج- دوئیمه مصرعه 'یج' کښے داسے دهٔ "چه فلانا سړے تالاش په تدبیر نهٔ کا" نورو قلمی نسخو کښے دا مصرعه په یو دے شان لیکلے شوے دهٔ- "چه فلانا سړے تالاش تدبیر نهٔ کا" د زړے املا له رویه دد دے دا قرأت هم کیدے شی "چه فلانا سړے تالاشه تدبیر نهٔ کا" دَ 'ی' قرأت داد ے "چه فلانا سړے تالاشو تدبیر نهٔ کا" دے قرأت کښے "تالاشو" د زړے املا له رویه هم "تالاشه" او هم "تالاش و" لوستلے کیدے شی-

۲۴۸- دا نفس په مثال برق صورت فانوس شه- ط-

۲۴۹- دَ دنیا سړی هم واړۀ درمانده دی-یج-

۲۵۰- کوم وادهٔ او کوم کوږدن دهٔ په جهان کښے- ب- "کوم واده کومه کوږدن دهٔ په دنیا کښے" ط-

۲۵۱- چه د پلار وئیل په زویو تاثیر نهٔ کا- و-ی-یب-

۲۵۲- هسے چارے له ناصحو واقع کیږی- و-ی-یج-یو- هسے جو رله ناصحه واقع کیږی- ط-

۲۵۳- کامرانی راځنې غواړی الخ- ا-

۲۵۴- متن دَ ا، و، ی، یب، یو مطابق دے- "یج" دا شعر نهٔ لری- دَ "یو" قرأت داد ے "دَ کوم اس په کام کښے دخل نکام نهٔ کا" دَ ب، ز

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

قرأت کښې د متن د "لغام" په ځائے لګام دے۔

۲۵۵۔ سالک ځکه نیت الخ۔ ب۔ سالک ځکه قصد الخ۔ یج۔ ید۔

۲۵۶۔ په بادی النظر کښې شعر څۀ معنیٰ نه ښندی خو بے معنیٰ نۀ دے۔

۲۵۷۔ رحمان هسے وخیل یارته بے حجت یم۔ ب۔

۲۵۸۔ متن د یب مطابق دے۔ نورو قلمی نسخو کښې دا مصرعه داسے ده
"نۀ ګروهیږی په ژړا سره اشنا زما"۔ [ب، ه، و، ز، ط۔ ی،]۔
اوکښې د دے غزل وروستی درے شعره راغلی دی۔

۲۵۹۔ ستا د غوږ لائقه نۀ کیږی وینا زما۔ ه، یج۔ لا د غوږ لائقت نۀ
کښی الخ۔ ب۔ لا لائقه د غوږ نۀ کښی الخ۔ ط۔ لا د غوږ لائقه
نۀ کښی الخ۔ یب۔ لا لائق د غوږو نه کښی الخ۔ یو۔ متن د ی، یا
مطابق دے۔

۲۶۰۔ په نارو مے به بیدار الخ۔ ی۔ یا۔ په نارو به مے بیدار الخ۔ ط۔

۲۶۱۔ کښت د عشق په تاوده زمکه اسان چرد ے۔ ط۔ زینت د عشق
په تاوده زمکه اسان چرے دے۔ ب۔ کشت د عشق په تاوده زمکه
اسان چرے دے۔ ی۔ یا۔ کښت د عشق په تاوده زمکه اسان نۀ
دے۔ یج۔

۲۶۲۔ متن د "یو" مطابق دے۔ نور ټول قرأتونه بے وزنه دی مثلاً:
"زۀ رحمان بے له خپله یاره نور څۀ نۀ غواړم"۔ ب، یج۔ زۀ رحمان
بے خپله یاره نور څۀ نۀ غواړم۔ ی۔ یا رحمان بے لۀ خپله یاره
نور څۀ نۀ غواړم۔ یب

۲۶۳۔ دا د اسلامیه کالج 'یج' د نسخے قرأت دے۔ نور ټول قرأتونه غیر
موزون دی۔ دے قرأت کښې که په دویمه مصرعه کښې د "وائی" په
ځائے "ووائی" شی نو مصرعه به په حفیف ترین تصرف موزونه
شی۔ د دے ټول غزل کښې یو خصوصیت دا هم دے چه د ردیف
'زما' په دواړه شکله یعنی په یو سیلابیز او دوه سیلابیز صورت
کښې په لوستلو وزن نۀ مجروحیږی۔

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

۲۶۴- سر زما درګاه دَ هغه یار عزیز. یب-یج -

۲۶۵- ما بې عاشقیه نور څۀ زده نۀ دی. یب هرچه دے هم دا دے کاروبار زما- یب-یو-

۲۶۶- بیل وبله نۀ کا الخ- ز-یج- دے غزل کښې 'یو' خلور شعرونه (مطلع مقطع او دوه نور شعرونه) زیاتی راوړی دی- چه مونږ متن کښې دَ دویمے مطلع، وړومبی مقطع او دَ وړومبی او دویم شعر په طور راوړی دی-

۲۶۷- ستا له محبته جار واته زما دروغ دی- یب-یج- ستا له محبته جار واته زما غلط دی-یو-

۲۶۸- خوب دَ هسایو په نارو الخ-یو- دَ 'ب' قرأت کښې دَ آخری کلمے "شه" په ځائے "شی" دے-

۲۶۹- درست جهان که واړه مار جمان وته دلبر شی-یو-

۲۷۰- بے له تا دَ زړۀ آرام کرم الخ- ی-یج-

۲۷۱- د اکثرو نسخو دغه قرأت دے- کوم قرأتونه چه له دے نه مختلف دی هغه ټول بے وزنه دی- البته د پښتو اکیډیمی دَ "انتخاب شعراء" (یه) قرأت دا دے "نور مے هیڅ شه دلته بل مقام زما" لیکن د دے قرأت په حق کښې د قلمی نسخو نه هیڅ مدد نه مونده کیږی- شاید چه "دلیو ته" چه مونږ دَ 'یو' د قرأت مطابق "دے وته" لیکلے دے، دَ "دے نه پورته" یا "دے له هورته" وران شوے شکل وی-

۲۷۲- متن دَ یب، یه، یو مطابق دے- د نورو قلمی نسخو قرأتونه غیر موزون دی-

۲۷۳- دا شعر له وزنه خارج دے- دوه متبادل صورتونه ئے کیدے شی- اول دا چه د موجوده شکل په ځائے "پیر زما شیخان زما" ولوستلے او دویم دا چه "دا پیران شیخان زما" وګڼلے شی- وړومبے صورت ئے دَ غزل دَ عام ساخت مطابق دے ځکه چه په ټولو شعرونو کښې "زما" په تکرار راغلے دے- دَ کابل نسخه کښې "دا پیران شیخان زما" نقل شوے دے- ځنے نورے مطبوعه نسخے هم دغه قرأت لری- دَ

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

اکیډیمۍ ورډمبۍ قلمي نسخه (ب) او د اسلامیه کالج قلمي نسخه
کښې دا شعر نه لري. کومو نسخو کښې چه دا شعر شته نو هم په
دے شکل لکه چه متن کښې راوړے شوے دے

۲۷۴- دا شعر لکه چه متن کښې رانقل شو بے وزنه دے. دَ بناغلي بېنوا
نسخه کښې دا شعر په دے صورت دے:

وصل هم هجران زما اے رحمانه خیر دے
اے رحمانه خیر دے وصل هم هجران زما

لکه چه په (۲۷۳) کښې ووئیل شو. د دے غزل عام ساخت دا دے چه
پکښې دَ "زما" تکرار په هره مصرعه کښې دے. په دے بنیاد دَ
بناغلي بېنوا قرأت د غزل عام ساخت سره سمون نهٔ خوري. البته که
دا شعر داسے ووئیل شي "وصل زما هجران زما الخ" نو دا اعتراض به
پرې نهٔ واردیږي. ټولو قلمي نسخو کښې شعر د متن مطابق دے.

۲۷۵- دَ دے غزل مطلع د پنځم شعر طاقه مصرعه او ټولے جفتے مصرعے
(دَ شعرونو دویمے مصرعے) دَ وزن نه پرېوځي او عجیبه خبره دا ده
چه ټولے قلمي نسخے هم دغه غیرموزون قرأت لري. بناغلي بېنوا په
خپله نسخه کښې حسبِ معمول بغیر د څهٔ حوالے دا قرأت ورکړے
دے:

ستا په خیر نهٔ دي خوبان لیدلي ما — نهٔ په غورو چرے اورېدلي ما
مطبوعه نسخې کښې دَ دویمې مصرعے هم دغه قرأت دے- اوله مصرعه په مطبوعه نسخو کښې البته داسې ده: "کنډ ولی دَ دواړو سترګو ستا په طمع"-

۶۵- متن مطابق ا ب- چې مے خیال دَ ترکو ولید په خپل زړهٔ کښې- و- ط- ی- یو- چې مے خیال ستا دَ خان ولید په خپل زړهٔ کښې- ز- چې مے خیال دَ سترګو ولیدهٔ په زړهٔ کښې- یب- دَ مطبوعه نسخو قرأت دا دے: چې مے خیال دَ ترکو ولیدهٔ په زړهٔ کښې"-

۶۶- په رحمان باندے کمان دا هسې مهٔ کړه- ا، ب، ی- چې بے تا په نورو غلیږی هغه نور دی- ط- یو-

۶۷- دے مصرعه کښې دَ "په لاره" تورے ټولو قلمي نسخو کښې "په لار" لیکلے شوے دے چې "په لاره" هم لوستلے شي او "په لارے" هم- خو هر کله چې "ی" کښې ئے واضح "په لاره" لیکلے دے نو موږ دَ "ی" تتبع وکړه-

۶۸- خدائے و ماوته ملونه دَ جنت کړه- ط- ی- یو-

۶۹- دے مصرعه کښې "مانه" دَ ا، ب، و، ز، ط، ی، یب په سند ولیکلے شوه- مطبوعه نسخو کښې "مانه" ده- "یو" کښې داسې ده: هیڅ ماترے خوک له مستو سترګو نه کا-

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

۷۰- دَ ورومبئ مصرعے متن دَ ل، ب، و، ن، ط، ی، یب، یو مطابق دے دویمه مصرعه 'یب' کښے داسے ده: "کوم طبیب په روغ صورت باندے مرهم پردی."

۷۱- متن دَ "ب" مطابق دے۔ دَ نورو قلمی نسخو قرأتونه دادی: زهٔ هرکوره ترخپل صنم پورے شرمیږم۔ ه۔ و۔ یب او مطبوعه نسخے۔ زهٔ هرکوره تر خپل ممد پورے شرمیږم۔ ا، ن، ی۔ زهٔ هرکوره ترخپل همدم پورے شرمیږم۔ ط۔ یو۔ ټولو نسخو کښے "هرکوره" شریک دے۔ چه ورسره صرف "حمد" دَ وزن له اعتباره سمون خوری چه دَ "ب" قرأت دے۔ ځکه نو مونږ دغه قرأت غوره وګڼلو۔

۷۲- کنه عشق په عرش کرسیٔ باندے قدم پردی۔ ط۔ یو۔

۷۳- متن مطابق ا، و، ن، یب۔ دَ نورو نسخو قرأتونه دادی:

دَ دنیا کار همه وارهٔ غلول دی۔ ب

دَ دنیا وروری همه وبل غلول دی۔ ط۔ یو

دَ دنیا کار همه وبله غلول دی۔ ی۔

دویمه مصرعه یو کښے داسے ده: داګمان له هیچا مه کړه الخ۔

۷۴- هیڅ مزه په دا جهان کښے طمع مه کړه۔ ی۔ یو۔ دَ دویمے مصرعے متن دَ ل، ب، ه، و، ی مطابق دے۔ 'ن' کښے دَ 'سیورے' په ځائے 'سیوری' دے۔ یب کښے "دَیځ سیورے" ط کښے "ویځ سیوری" او 'یو' کښے "دَسیخ سوری" دے۔ سیورے پښتو کښے هغه خوږے یا غوړے روټۍ ته وائی چه په سفر کښے مسافر لځاسره وړی په دَ شعر کښے "دیځ سیوری"

۷۵- پوزه غوږ دَ هرچاشته په بدن پورے ئه که دَشرم پوزه غوږ لری باطل دی۔ ز

۷۶- متن کښے دَ چاپی نسخو دَ "چاشمار" په ځائے "دَبل شمار" دَ ا ب و ز ط ی یو مطابق راوړے شو۔ دویمه مصرعه کښے 'ی' دَ 'سل' په ځائے 'شل' راوړے دے۔

۷۷- ب۔ نصیحت په عاشقانو اثر نه کا۔ ه کښے دویمه مصرعه دا ده: بیهوده سرهٔ او سپین سره کو تل دی۔ متن دَ ا، ه، و، ن، ط او یو مطابق دے۔

۷۸- ټولو قلمی نسخو کښے "نا اهل" لیکلے شوے دے۔ چه دَ زړے املا له رویه "نا اهله"

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

هم لوستے شي۔ موبن مصرعه کښے دَ حستیه په بنیاد" نااهله" غوره وګڼلو۔

۷۹۔ سپین رخسار او مشکین خال دِ و بله ضم دی۔ ا ج ی یو۔ سپین رخسار او مشکین خط و بله ضم دی۔ ب۔

۸۰۔ که دِ مخ په زلفو پټ شه الخ۔ ا ب۔ که دِ مخ په زلفو پټ دے۔ ز۔ یب۔ یو۔ متن مطابق ج ط ی۔ دوئمه مصرعه مطابق دَ ا ج و ی ده۔ ب ون کښے "دَ حیاتو اوبه پټې په تورتم دی" راغلے ده۔

۸۱ ۔ دا شعر صرف دَ 'ط' نه رانقل شو۔ دوئمه مصرعه واضحه نهٔ ده۔ شاید دا سے وی: "چه سکنډلے په باریک وروځے قلم دی"۔

۸۲ ۔ یا په ګل باندے غوټیه دَ شبنم دی۔ ب۔

۸۳۔ بے ژړا چاته نهٔ ګوری مستے سترګے۔ ن۔ بے ژړا چاته نهٔ ګوری سیاه چشمه۔ ب۔ ط۔

۸۴۔ نه چه یو زمازړهٔ غوخ ستا په غمزه دے۔ ز۔ ط۔ یب۔ یو۔ دوئمه مصرعه "چاره غوښے لا قدیم الخ" دَ ا و ج ی یو مطابق ده۔

۸۵۔ ستا وفا او جفا دواړه منقسم دی۔ و۔

۸۶۔ دَ رحمان وئیل پسندلی په عالم دی۔ ط۔

۸۷۔ دا غزل صرف 'ط' نسخه کښے وموندلے شو۔

۸۸۔ دوئمه مصرعه دَ اورسوزیدلے په اور رغیدی دَ مفهوم لرلو باوجود څه خو مبهمه ده۔

۸۹۔ 'ط' نسخه کښے وروستۍ مصرعه دا سے ده: "دَ کلونو تر ډیر عمر دا سود ډیر دے" په دے شکل کښے دواړه مصرعے بے ربطه او شعر بے معنی شی ځکه نو دَ زړے املا له رویه "ګلونو" و لیکلے شو۔

۹۰۔ دَ یکهمان نسخے املا "یکه مان" ده۔

۹۱۔ اصل نسخه کښے دا مصرعه دا سے ده: "ډیرو دَ اسلام جامے الخ" دَ وزن دپاره "ډیرو" زائد وګڼلے شو او ځکه حذف کړے شو۔

۹۲۔ تش به نهٔ شی هغه جام دَ عشق له میو۔ ب۔ و۔

۹۳۔ دا مقتول ستا دَ غمزو دی لا له نهٔ دی۔ ط۔ یو۔

۹۴۔ ما لیدلی فسادونه دَ ګردون دی۔ ن۔

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

۹۵- متن دَ ب او ن مطابق دے ۔ نور قراٗتونه دا دی :
دَ رحمان دَ زړهٔ خوناب مگر ظاهر شو۔ ا وی۔
دَ رحمان دَ زړهٔ خوناب هاله قبول شي ۔ ه ۔ دَ رحمان دَ زړهٔ خوناب مگر قبول شه ۔ ط ۔ یو ۔ دَ رحمان دَ زړهٔ خوناب مگر څرګند شه ۔ یب ۔ په څو نسخو کښے "قبول" د ریو کښے "ظاهر" او یو کښے څرګند وو ځکه نو دَ اکثرو نسخو په تتبع کښے متن دَ 'ن' او 'ب' مطابق را وړے شو۔

۹۶- دَ دے غزل دَ مطلع او وروستي شعر نه بغير نور ټول شعرونه مردّف دی ځکه نو دَ مردّفو غزلونو په ذیل کښے شمار شو۔

۹۷- دَ شعر متن دَ ا و ن مطابق دے ۔ نور قراٗتونه دا دی : دا صورت په مثال پله مرګ ئے سیلاب دے ۔ ط ۔ دا دنیا په مثال (پول) مرګ سیلاب دے ۔ دویمه مصرعه : دَ سیلاب و مخ ته څه پوله پینو دے ۔ یب ۔

۹۸- جل زلمي لا وادہ نهٔ وی ځبله کنړ شي ۔ ن ۔ جل زلمي لا وادہ نه سرہ کنړ اوٗ شي ۔ یو ۔ چاپي نسخه ۔

۹۹- قافلے چه په دنیا کښے شوے راګډے ۔ ط ۔

۱۰۰- چه بے وقته ارمان کا په وقت وودہ شي ۔ ط ۔

۱۰۱- دا شعر صرف دَ 'ط' په سند را وړے شو۔

۱۰۲- په هر شان چه یار خوښیږی کړے بویه ۔ ط ۔ په هر کار چه یار خوښیږی کړے بویه ۔ یو ۔ دَ دویمے مصرعے متن دَ ج ن ط ی مطابق دے۔ نورو قلمي نسخو (ا، ب، یب) کښے دَ "خندول" په ځائے "خپلول" دی۔

۱۰۳- طالبان په مطلوبانو خود پوهیږی ۔ ط۔

۱۰۴- دا شعر صرف 'ط' کښے دے۔

۱۰۵- دا مقطع صرف په 'ط'، 'یو' کښے دہ ۔

۱۰۶- 'ط' کښے دا مقطع نشته۔

۱۰۷- حاجت نه لری په شهد او په شکرو۔ ج، ی، یب ۔

۱۰۸- متن مطابق ب، ج، ن، ی، یب ۔ خدائے دَ یار له هجره هیڅوک خبر نه کا۔ ا ۔

۱۰۹- متن مطابق ب، ن، یب ۔ کورو کی او مبصر درے واړہ یو دی ۔ ا، ج، ی۔

۱۱۰- دا پیران دِ عار زمانه عشقه نه کا۔ ب ۔

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

۱۱۱- اوس او کوږ او پېينوږ درے واړه يو دي - ج -

۱۱۲- ټولو قلمي نسخو کښے "خرخ مے ستا الخ" او ټولو چاپي نسخو کښے "بنخ مے ستا الخ" دے - دوېمه مصرعه د "و" او چاپي نسخو مطابق دا سے ده: "پورا پو رے مے وتلي الخ"۔

۱۱۳- هسے نه چه نه نی ورځ په تا مئين يم - ب -

۱۱۴- لکه ستورې چه جلوه کا په اسمان کښے - ط -

۱۱۵- دا شعر صرف په "ط" او "يو" کښے دے - اصل نسخو کښے ورومبۍ مصرعه دا سے ده: "نه شها زمانه ستړکو الخ" د مضمون له رويه مونږ "شها" په "تنها" بدل کړو۔

۱۱۶- متن صرف د "و" مطابق دے - د نورو نسخو قرأت نه دا دی: درته وائي چه له اهے ئے پرهيز کا - ق - ورته وايه چه له اهے ئے پرهيز کا - ب ج ط ی يو - ورته وايه چه له اهے ئے ويرېږه - ن - ورته وايه چه له اه ئے پرهيزوکا - يب -

۱۱۷- که دا ستا حسن سوزانے لمبے نه دی - ط -

۱۱۸- بے غضبه په غصے او په کينه دی - ن - بے غضب په غضبو نو په کينه دی - يو -

۱۱۹- چه مدام د خپل ځيګر په وينو رنګ دے - ط -

۱۲۰- د خپل عمر شپے او ورځے چه له زړه ګرم - ی - هسے دروی ګويا بهند ے اوبه دی - ج ی يب -

۱۲۱ غافلان که وينې کوری الخ - ج - ی - د "اوری" او "اوريده" په ځائے په ق او يب کښے "اروی" او "ارويده" دی -

۱۲۲- عاشقان د په غم سوی دی که نه دی - ط - يو - دوېمه مصرعه د اج و ز ط ی يب مطابق ده -

۱۲۳ زحمتونه د جهان واړه په عشق کښے - ط - يو - دوېمه مصرعه ټولو قلمي نسخو کښے هم دا سے ده -

۱۲۴- متن مطابق ج نه يب دے - نورو قلمي نسخو کښے د "راکښوی" په ځائے "راکښلی" دے - اګر چه د "تا وماوته بنوولی الخ" مصرعه کښے هم د غزل د قافيے پوره التزام نه دے شوے ليکن هلته ټولو قلمي نسخو کښے لکه چه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

په ۱۲۳ ولیکلی شو هم دغه قرأت دے. دلته "راکبنوی" دَ غزل دَ قافیې د عام التزام سره سمون خوری او دریو قلمی نسخوکښې هم شته ځکه ترجیح ورکړے شوه.

۱۲۵- چه مدام ئې زما زړۀ له درده چوی   تورے زلفې دِ پېچ شوی دی که نهٔ دی.یو

۱۲۶- دا شعر ټولو قلمی نسخوکښې هم دغسے دے. چاپی نسخوکښې دوئمه مصرعه په دے رنګ غلطه راغلې ده: مړه دَ عشق په تیغ کوټلی دی که نهٔ دی.

۱۲۷- ناصحان چه نصیحت ومانه کاندی. ا. و. ناصحان چه نصیحت وائی وَمانه. ی. متن دَ "ج ن ط یب یو" مطابق دے.

۱۲۸- ښائسته که ملائک وی په ښائست کښې. ط. یو.

۱۲۹- بلبلان پسے فریاد کاندی رحمانه. ط. یو. دَ بهار ګلونه شوی دی که نه دی. ن. یب.

۱۳۰- وړومبۍ مصرعه کښې "چار" دَ "ب ه و ن ط ی یب" په سند راوړے شو دوئمه مصرعه دَ "و ن ی یب" مطابق ده. ب دا شعر او ه دا مصرعه نهٔ لری. ن کښې دا غزل دوه ځل راغلے دے. او دواړه ځایه دا شعر دَ متن مطابق دے. ط، یو کښې "و دانا و ته دا وشتے مسخرے دی" راغلے دے.

۱۳۱- نارینه ئې واړۀ خرۀ ښځې ئې خرے دی. ز (دوه ځل). و. ب. ی. ده کښې دا مصرعه نشته. یب. ط: نارینه ئې واړه خرۀ او ښځې خرے دی.

۱۳۲- هغکی واړه طفلان دَ ګوارے دی. ز (دوه ځل). ب.

۱۳۳- ذخیرے دَ دنیامهٔ کوه رحمانه. ز (یو ځل). دوئم ځائے کښې دَ متن مطابق) دوئمه مصرعه ب او ی کښې دا سے ده: "دا همه واړه یا خاورے یا ایرے دی."

۱۳۴- وړومبۍ مصرعه دَ ا ب ج و ن ی یب یو مطابق ده. مطبوعه نسخو کښې زهٔ په تا پسے موسیٰ یُم الخ راوړلے شوے ده. دوئمه مصرعه دَ ا ب و ن ی یب یو مطابق ده. ج کښې مصرعه په دے صورت ناقصه لیکلے شوے ده: چه مطلب مے غوا و غیلے دی" له دے نه هم جوتیږی چه دَ ج کاتب دَ غیلے او غلے په تکرار کښې غلط شوے دے. والله اعلم. چاپی نسخو کښې "چه مطلب مے غوا و غیلے یا کلے دی" لیکلے شوے ده.

۱۳۵- بوځی هم ستا دَ وفا نه دے راالوتلے. یب. دوئمه مصرعه یو کښې دا سے ده:

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

"ما پخپله دَ زړهٔ کړے تسلے دی"۔

۱۳۶۔ "کښې" یادے زمونږ ډیرے مسئلے دی۔ یو۔

۱۳۷۔ چاپ نسخو او 'و' کښے "عجب نمر دَ نمر دپاسه هویدا شی" دے لیکن دَ 'و' نه بغیر ټولو قلمی نسخو کښے "عجب نور دَ نور دپاسه الخ" راغلے دے او اګرچه "نور" دَ "نمر" یوه املا هم ده لیکن پورے قلمی نسخے هم دَ دړومبی (وړیے) شعر دویمه مصرعه "بے ترتیبه چه نمر وخیژی رنا شی" کښے 'نمر' دَ "نور" په صورت کښے نه دے لیکلے ځکه نو "نور دَ نور دپاسه" زمونږ په خیال صحیح دے۔ پروفیسر ډوورن دَ کرسټو میتهی متن کښے "نور په نور دپاسه" او حاشیه کښے "نور دَ نور دپاسه" راوړے دے۔

۱۳۸۔ دَ کرسټو میتهی متن کښے "بے تدبیره چه نمر وخیژی رنا شی" ده۔

۱۳۹۔ متن دَ کرسټو میتهی دَ متن مطابق دے۔ دَ کرسټو میتهی حاشیے او نورو قلمی نسخو کښے دړومبی مصرعه داسے ده: "ماله ډیرے نلچاری ویارته شا کړه" 'و' کښے "ماله ډیرے لاچاری ویارته شاکړه" راغلے ده۔ ب کښے دویمه مصرعه داسے ده: "ناروا دَ ضرورت په وخت رواشی"۔

۱۴۰۔ زهٔ به وصل کښے دَ هجر خواری ژاړم۔ ط۔ یو۔ کرسټو میتهی (حاشیه)۔
زهٔ به وصل کښے خواری دَ هجر ژاړم۔ کرسټو میتهی (متن)

۱۴۱۔ کښه هاله هر یو ژاړی چه جدا شی۔ ا۔ کرسټو میتهی (متن)۔ کښه هلته هر څوک ژاړی الخ۔ کرسټو میتهی (حاشیه)

۱۴۲۔ زهٔ به سرو مال دَ یار تر نامه ځار کړم۔ ب۔ و۔ ی۔ زهٔ به سرو مال دَ یار تر دیدن ځار کړم۔ کرسټو میتهی۔ یو۔

۱۴۳۔ متن مطابق ب 'و' 'ن' ط 'یب۔ کرسټو میتهی۔ دَ نورو نسخو قراتونه په دا شان دی:۔

ا: چه دا پټ راز به په تمام جهان رسوا شی
ج، ی: چه دا پټ رازے به په درست جهان رسوا شی

۱۴۴۔ چه دَ ترکو سنبل زلفے شهپیر شی۔ ط۔ یب۔ یو۔ کرسټو میتهی (متن)
چه دَ ترکو بنګلے زلفے شهپیر شی۔ کرسټو میتهی (حاشیه)

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

۱۴۵- دَ ناصح پہ نصیحت بہ منع نہ شي۔ کرسټو میتهی (متن) دَ کرسټو میتهی دَحاشیې قرأت زمونږ دَ متن (دَ وړومبۍ مصرعې) مطابق دے۔ دوېمه مصرعه 'ن' کښې داسے ده": که هزار ځله مے درد وربرابر شي"

۱۴۶- وړومبۍ مصرعه دَ کرسټو میتهی متن کښې داسے ده: "زما صلح دَ رقیبه سره نشته" دَ کرسټو میتهی حاشیه کښې زمونږ دَ متن مطابق ده۔ دوېمه مصرعه مونږ دَ ج، و، ن، ی، یب او کرسټو میتهی (حاشیه) مطابق راوړه۔ ب کښې دا مصرع داسے ده: "که مے چرے لاس و دست وربانده بر شي" دَ کرسټو میتهی متن کښې ئې په دے صورت راوړے ده "که مے چرے لاس یو وار پر برابو شي"۔ دَ 'وبله' په رعایت "که مے چرے" مونږ "که مو چرے" کړو۔ هم دغه قرأت دَ چاپي نسخو هم دے۔ دَ 'یو' قرأت دا دے: که مے چرے دست رس وربانده بر شي۔

۱۴۷- صبوری او قراری له ما خطا ده۔ (کرسټو میتهی۔ متن)۔ دَ کرسټو میتهی حاشیې کښې چه په 'یوه' بل متن بنا لری دا شعر نشته۔ دوېمه مصرعه 'یو' کښې داسے ده: "تر هغه ساعته پورے څو محشر شي"

۱۴۸- دَ وړومبۍ مصرعې متن دَ ب، ج، و، ن، ی، یو او کرسټو میتهی (حاشیه) مطابق دے۔ ط کښې "تو کړه راواخلی" او دَ کرسټو میتهی متن کښې "تو کړے راواخلی" دے۔ دوېمه مصرعه دَ ب ج و ن ی یب او کرسټو میتهی (متن وحاشیه) مطابق ده۔ دَ چاپي نسخو قرأت دا دے: "که رحمان کچکول په لاس کښې قلندر شي"

۱۴۹- دا غزل ($\frac{۲۵}{۲۵۸}$) دَ 'و' نسخه کښې دَ $\frac{۲۴}{۲۵۷}$ دَ حصے په طور راغلی دے۔ دَ تیر غزل مقطع دَ هغهٔ وړومبۍ مقطع په حیث دَ دغهٔ غزل مقطع دَ دوېمې مقطع په حیث راوړے شوے ده۔ دَ دے غزل دَ مطلع وړومبۍ مصرعه 'ط' کښې داسے ده: "چه غبار دَ ستا دَ لار په هوا ورشي"۔ 'یو' کښې دا مصرعه داسے ده: "چه غبار ستا دَ کوڅے وربانده ورشي"۔ دوېمه مصرعه 'ب' کښې داسے ده: "که په دواړے سترګے پروند وی سترګه ورشي

۱۵۰- چه کیمیا دَ ستا دَ عشق ئے په لاس کښیوځی۔ ط۔ یو۔

۱۵۱- څوک چه ستا له دره ووځی دربه درشی۔ کرسټو میتهی   څو چه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ستا له دره دروی درپه درشي - ا -

۱۵۲- چه ئې نه له خدایه ویره نه ئې ډار شي - ا - و -

۱۵۳- هر قدم په لاره کوږ به دي چه روان شي - ن -

۱۵۴- ورومبۍ مصرعه د ب، ج، ن، ی، یب مطابق ده. د "یو" قرأت داده، سپینه ږیره په ورني کښې لکوپه غواړي - دویمه مصرعه په ی او یب کښې داسې ده: چه به ما لره سپاهي یا منصبدار شي -

۱۵۵- متن د ج، و، ن، ی، یب، یو مطابق دے - د خرما هډوکے نهل کا ورته کوری - ب -

۱۵۶- یو لو قلمي نسخو کښې دا مصرعه داسې ده: "هر هر فصل چه تیریږی هوسیږی" ا، ب، وکښې د "تیریږی" املا "تریبری" ده. چاپي نسخو کښې "ترے ریږی" لیکلے شوے ده. د ا ب و د مسخ شده قرأت او چاپي نسخو د قرأت ترمنځ د تطابق تقاضا داده چه دا "ترے ریږی" ولوستلے شي - ریږل زړه پښتو کښې د "ریبل" په ځلئې راځي او هم له دے توری "رودل" (عامیانه) جوړ شوے دے -

۱۵۷- لاسئې لیه تخم هم نهٔ وی کرلے - ب -

۱۵۸- غړوندے د ناز وکړه خپلو غړي - ن -

۱۵۹- لکه وړکے کټوری غواړی له زاڼو - ن - لکه وړوکی الخ - ح - یو - لکه وړکے کټوری غواړی له زاڼے - ب - ج -

۱۶۰- هغه نه کا چه له نهي توبه کار شي - ن - ی - دا شعر، د دے نه تیر دوه شعره او دے پسے شعر چاپي نسخو کښې نشته - ا ب ج ی و ن یب نه واخستے شو -

۱۶۱- متن د ا ب مطابق دے - نور قرأتونه دادی: "چرے ستا هم د کوهی په غاړه لاړ شي؟ ج و ن ی - هم به ستا د دے کوهی په غاړه لاړ شي - ط - یب - یو -

۱۶۲- متن د ب ج ز ی یا مطابق دے - "له ورومبیه به د ستا صورت ترخوار شي" ا - لا ورومبے به ستا صورت ترخاورو خوار شي - و - ط - یب -

۱۶۳- متن مطابق ا، و، ط، یو - که ته نه کوے نظر د چا و عیب ته - ب، ج، ن، ی، یب - د متقدمینو د روایت مطابق "عیب" دوه سیلابیز دے - ځکه د اقلیت قرأت غوره وګڼلے شو -

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

۱۶۴- تولو قلمي نسخو کښې "صبح" مؤنث راغلې دے ۔ حميد، محمدي صاحبزاده او نورو متقدمينو هم "صبح" مؤنث تړلې دے ۔ دوېمه مصرعه 'ط' کښې داسے ده: "يوه ورځ به ؤ دا صبح شب تار شي"۔

۱۶۵- لوئے مه ګڼه که هرڅو لږ ګناه وي ۔ ز ۔ ی ۔ يو ۔ دوېمه مصرعه: "چه لږ لږ وبله جمع کړے انبار شي" ط ۔ يو ۔

۱۶۶- که بل بد کاندي ته ئې بنه ورسره وکړه ۔ و ۔ که ئ بل بد کاندي ته ئې بنه ورسره وکا ۔ ا ۔ که بل بد کوي ته ئې بنه کړه مه زهيرېږه ۔ يو ۔ د متن په دوېمه مصرعه کښې د وړومبۍ مصرع د "مه رنځېږه" څه تلازمه نشته ۔ وے د اکثريت د رائے مطابق قرأت په وړومبۍ مصرعه کښې راوړے شو ۔

۱۶۷- هغه زړه به له طوفانه په امان شي ۔ ب ۔ ج ۔ ز ۔

۱۶۸- ط ۔ يب ۔ خدائے دِ بد له لاسه نه کا او که وي هم ۔ مطبوعه نسخو کښې هم وړومبۍ مصرعه دغسے ده ۔ ا، و: خدائے دِ بد له لاسه مه کړه او که نه وي ۔ د 'ي' قرأت دادے: خدائے دِ بد د چاله لاسه واقع نه کا ۔ د متن دوېمه مصرعه د "ب، ج، و، ز، ط، ی، يب" مطابق ده ۔ او د مطبوعه نسخو کښې دا مصرعه داسے ده: "د رحمان دِ له کل بدو الخ" ۔

۱۶۹- نرے باد به ئے په خپل منزل داخل کا ۔ و ۔ يب ۔ که څوک پانه د خزان غونډے طيار شي ۔ ج ۔ ی ۔ يو ۔

۱۷۰- صبحدم که څناور وي هم بيدار شي ۔ ب ج ز ی ۔

۱۷۱- متن د "ا، ج، و، ز، ی" مطابق دے ۔ هم په دا خبره فخر د خاکسار شي ۔ ب، ط ۔ يب ۔

۱۷۲- خزانه په سخاوت سره وېرېږي ۔ يو ۔ دوېمه مصرعه: د کوهي اوبه چه وباسے بسيار شي ۔ ا ۔ د کوهي اوبه چه وخيژي بسيار شي ۔ ط ۔ يو ۔

۱۷۳ متن د ا ب ج ز يب يو مطابق دے ۔ مهول د وړے کېدے مشکل نه دی ۔ و ۔ مطبوعه نسخے ۔ دوېمه مصرعه 'و' کښې داسے ده: مهيدل د وړيو ستړګو الخ ۔ مطبوعه نسخو کښې دواړه مصرعے د "مهول" شروع کېږي ۔

۱۷۴- متن د 'ط' مطابق دے ۔ د نورو نسخو قرأتونه دادي: کم خوراک سړے نژدے کا فرښتو ته ۔ ا ب ج ۔ و ی يب يو ۔ لږ خوراک سړے ملکوته نژدے کا ۔ ز ۔

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

د اکثریت قرأت ځکه رد کړے شو چه 'ط' کښے د "فرښتو" تلفظ د درے سیلابیز
(موجوده) په ځائے دوه سیلابیز دے چه د متقدمینو تلفظ سره برابر
دے۔ دویمه مصرعه د ب و ن ط ی یب مطابق ده۔ و کښے د "بسیارخور"
په ځائے "بسیارخوار" راغلے دے۔

۱۷۵۔ صاف ولاړو لره لوے اشارت بس دے۔ ب۔ صاف ولاړو لره لوے نصیحت بس
دے۔ و۔ ز۔ متن د و ط ی یب یو مطابق دے۔

۱۷۶۔ د توفیق له مخه سخت کارونه کیږی۔ و ستړے وته د اورلمبه گلزار شی۔ ز۔

۱۷۷۔ نازوحسن پرورش الخ۔ ط۔ یو۔

۱۷۸۔ متن د ج ز ی یب مطابق دے۔ نور قرأتونه دا دی: راحت بے محنته
نهٔ دے چا موندلے۔ ا۔ و۔ راحت نهٔ دے چا موندلے بے محنته۔ ط۔ دا
شعر ب کښے نشته۔

۱۷۹۔ که دے سره مال د یار نه ناسته ځار شی۔ یب۔

۱۸۰۔ یاره یاره هرڅوک وائی الخ۔ و۔ زهٔ به پس له هغه وایم الخ۔ ط۔ یو۔

۱۸۱ لکه ډار کاندی ورغوے له لیوګانو۔ ط۔ یو۔

۱۸۲۔ دلګیر مړ شه لکه باد هسے به تیر شی۔ ب۔

۱۸۳۔ غم هغه دے هرچه خیر مه وی وتا ته۔ ب۔ غم هغه دے هرچه خیر مه
وی و یار ته۔ ز۔ هغه غم دے هرچه خیر مه وی وما ته۔ یو۔ دویمه مصرعه:
وړے مې واړه تر ورو ستیو پورے هیر شی۔ ز۔ یو۔

۱۸۴۔ سړے که شیں شاهی او که سیں شی۔ ب۔ سړے که شیں شاهی شی که
سیں شی۔ ج ی۔

۱۸۵۔ د بڼو په ځمبول کښے په بیل بیر شی۔ ا۔ د بڼو په ځمبولو په بل بیر شی۔
یو۔

۱۸۶۔ په لږ عمر کښے ډیر غم راغے له کومه۔ ب۔ یو۔

۱۸۷۔ د "خریدار" او "فروشنده" 'خ' او 'ف' ساکن دی۔

۱۸۸۔ که د زړو میړو الخ۔ ب۔ یو۔ که د زړو سورو الخ۔ ز۔ که د زړو مړو
سر وی چه دے مړ شی۔ ج ی۔ ج ی۔ د دویمے مصرعے متن د ا ب ج
ی یب مطابق دے۔ نه ئے نوم به خوله څوک اخلی الخ۔ و۔ ن۔ یو۔

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

۱۸۹- دا رخسار چه دِ صفا تر آئینې دی۔ یو۔

۱۹۰- متن دَ ا ج ز ط ی یو مطابق دے۔ مراد ئې واړه دلبری دهٔ غزا وشوهٔ. و. مراد همه تړ دلبری دے غزا وشوهٔ۔ ی۔ دوېمه مصرعه : که دَ غزا په لیه خوک په قامت لوړ شي۔ یو۔

۱۹۱- نک نامی له نیکوئیه پیدا کیږی۔ یب۔ یو۔ نیک نامی له نیکه خویه پید اکیږی۔ ن۔ چاپي نسخې کښې دَ "نیک خویی نه پس "نه" هم شته۔ چه قلمی نسخو کښې نهٔ دهٔ داوړے۔

۱۹۲- دا دَ ټولو قلمی نسخو قرات دے۔ چاپي نسخو کښې دا مصرعه داسې دهٔ هغه سُوک دَ بے هنر دے چه خپړ شي۔ په دے صورت کښې مصرعه بے معنی دهٔ۔ دَ قلمی نسخو قرأت چه موږ ئې تتبع کړے دهٔ معنی لري۔

۱۹۳- چاپي نسخو کښې دَ شفقت په ځائے مشقت دے۔ دَ دوېمې مصرعې متن دَ ا ج و ه ی یو مطابق دے۔ "کښه ځان له سرنوشته کله نغړ شي۔ ز۔ "کښه ځان له سرنوشته په چا رغړ شي۔ یب۔

۱۹۴- دَ هوا په نغوته مهٔ ځه کړ پوهیږے۔ ط۔ یو۔ دَ دوېمې مصرعې متن دَ ا ج ط یب مطابق دے۔ ن کښې "په هوا ویشتي" او په ب 'و' کښې د"هوا ویشتلي"[۱] دی۔

۱۹۵- متن دَ ب ج و ط ی یب یو مطابق دے۔ ا ن کښې دَ جهان په ځلئے کړیوان دے۔

۱۹۶- 'یو' دَ دے شعر په وړومبی مصرعه کښې دَ "تدبیر" تورے وهلے او دَ هغے په ځائے "نصیب" چه سبب هم لوستلے شی لیکلے دے۔ دوېمه مصرعه دَ قسمت علاج په صبر کله کړ شی۔ ا ب ج ی۔

۱۹۷- په هجران کښې ئے الخ۔ یب

۱۹۸- متن دَ ه مطابق دے۔ نور قرأ توبه دا دی :

په جهان تر اشنائی خوږه نشته
ولے حیف چه هجران کښې ئے حنظل شي۔ ا و ن۔
آشنائی په شان خوږهٔ په جهان نشته
بارے حیف چه هجران پکښې حنظل شي۔ ب۔
په جهان کښې تر اشنا خوږهٔ څه نشته
ولے حیف چه الخ۔ ط۔ یو۔

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

په جهان کښې تراشنا خوارهٔ خه نشته
ولې حيف چه په هجران کښې ئے سکل شي۔ يو (شايد خکل)
په جهان کښې تراشنا غوره خه نشته
ولې حيف چه الخ۔ يب

د لا ونړ منفقه قرأت قابل لحاظ دے خو هر کله چه د اوسنى محاورې مطابق نهٔ دے څکه نظرانداز کړے شو۔ کيدے شي چه د هغه وخت د محاورے مطابق هم دا قرأت (لا ونړ) صحيح وي۔ د مرزا او دولت ديوانونو کښې د دے محاورے مثالونه شته۔

۱۹۹۔ زهٔ رحمان بے ياره هسے کُړ وشل يم ۔ يه ۔ يو۔

۲۰۰۔ چه بيلتون په جهان ګرځي خو به بيل شي۔ ب-و-يو۔ چه بيلتون په سترګو وينې خو به بيل شي۔ ذ۔ چه بيلتون په دنيا شته دے خو به بيل شي۔ يب۔

۲۰۱۔ که د اوښيو په درياب باندے ئے نهال کړے۔ يو۔

۲۰۲۔ مشقت د سړي واړه حبطه شي۔ ب۔ مشقت د سړي واړه حبطه کا۔ يو۔ په بنوره کښې چه د ګل بوټې نهل شي۔ ی۔ د ذيرے املا له رويه "د ګل بوټې" "د ګلو بوټې" هم لوستے شي۔ که د "ی" قرأت صحيح وګڼلے شي نو "نهل" کښې به د ه اعلان ضروري شي۔

۲۰۳۔ عاقبت سره په جنګ او په جدل شي۔ ب۔

۲۰۴۔ په مثال د دروغژنو مرغلرو ۔يو۔ دويمه مصرعه : اب وتاب ئے به دوه ورځے پس بدل شي۔ ب۔

۲۰۵۔ هغه سيب ئے په پيوئ کښې بيا حنظل شي۔ يو۔

۲۰۶۔ ترو ئے وګوره چه يار ورسره مل شي۔ يو۔

۲۰۷۔ متن د اج وي مطابق دے۔ د نړی يب نسخو کښې "بنهٔ په بد" او "يو" کښې "په بد وينا" دے۔

۲۰۸۔ د دنيا مئين به واړه وبل (وبله) بيل شي۔ ب۔ د دنيا مئين به واړه ځبله بيل شي۔ يو۔ کرستهو ميتهی۔

۲۰۹۔ د ګلو نو چه ئے ځائے دے په دستار کښې۔ کرستهو ميتهی (متن) دا

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

"کلونو چه ئے الخ - کرستیو میتهی (حاشیه)

۲۱۰ داپه صبح چه ئے مخ د نمر په څیر دے ؛ تور ویښته ئے به پر مخ باندے مشکل شی۔ کرستیو میتهی (متن)۔ د کرستیو میتهی حاشیه زمونږ د متن مطابق ده ' و ' کښې د " تور ویښته " په ځائے " نور ویښته " لیکلے شوی دی۔

۲۱۱ "دی لیدلی" د زیرے املا له رویه" دے لیدلے " هم لوستے شی۔ 'یو' کښے هم دغه یعنی "دے لیدلے" قرأت دے۔

۲۱۲- د وصال په زمکه پښه له ویرے نه ږدی۔ ط - کرستیو میتهی (حاشیه)

۲۱۳- متن د ج، و، ط، ی، یو کرستیو میتهی (متن) مطابق دے۔ د 'ب' قرأت دا دے : مګر جام د مے ناب وی چه صیقل شی۔

۲۱۴- یو ساعت په سپړی کال شی۔ ب۔

۲۱۵- په غوږ کړ په ژبه لال شی۔ ز۔ یب۔

۲۱۶- علم عقل ځنے لاړ شی۔ ب۔ و۔ ی۔

۲۱۷- متن د و، ن ط ی یب یو مطابق دے۔ قوت ئے وینه د ځیګر وی۔ ب ه۔ د و نسخه کښے دا غزل نامکمل دے ځکه نو دا شعرونه لری۔

۲۱۸ - د چشمانو له بارشه۔ ط - یو۔

۲۱۹ - متن د ه و، ن ط ی یب یو مطابق دے۔ ب کښے دا سے قرأت دے : تر عالم فارغ البال شی۔

۲۲۰- په خشکی کښے مهے کوره۔ ب۔ ی۔ یو۔

۲۲۱ - متن د ا ب و، ن مطابق دے۔ دے نسخو کښے "د کل خلق په دنبال شی" راغلے دے چه "خلقو" او "خلقه" دواړه لوستلے شی۔ ه کښے البته صراحتاً "له کل خلقه په دنبال شی" راغلے دے۔ ا کښے دا قصیده له دے شعره شروع کیږی۔ د قصیدے وړومبی ۱۵ شعرونه لرونک پاڼه ورکه ده۔

۲۲۲- متن د ه و زیب او جزوًا د ط او یو مطابق دے۔ د ا ب ی قرأت دا دے : "پیالا کوره چه الخ" د ط او 'یو' قرأت : پیالا بویه چه څه حال شی۔

۲۲۳- متن د ه و ا و جزوًا د 'یو' ط یب مطابق دے۔ نور قرأتونه دا دی :

چه د زړه وینے شی غوټے　　　نورے وینے پر محال شی۔ ا

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

چې دَ زړۀ وينې شي وېڅې　　نورې مينې پر محال شي ـ ب
چې دَ زړۀ ولې شي غوټې　　نورې عمر په محال شي ـ ن
چې دَ زړۀ وينې شي وېڅې　　نورې وينې پر محال شي ـ ی
چې دَ زړۀ مينې شي غوټې　　نورې ولې پر محال شي ـ یو

۲۲۴ـ متن دَ اب ون ط ـ ی ـ یب ـ یو مطابق دے دَ ھ قرأت دا دے: "چې تازه نخل د نهال شي" ښکاري چې نسخه نويس دَ 'و' په ځائے په غلطۍ 'د' ليکلے دے ـ

۲۲۵ـ نهادن دکښت اسان دی ـ ز ـ دا ياد ساتل پکار دي چې ټولو قلمي نسخو کښې د يائے معروف او يائے مجهول دواړو دپاره يائے معروف ليکلے شي ـ نو "نهادن دَ کښت" او زمونږ دَ متن دَ رويئيدن نه پس "اسان دے" هم لوستل کيدے شي ـ

۲۲۶ـ ابادي په ډير اشکال شي ـ ط ـ يب ـ

۲۲۷ـ چې پلاس ومري بيا لا کوره ـ ا ـ چې ئے څوپه باکمال شي ـ ھ ـ دَ دوئيمې مصرعے متن دَ اب ون ط ی يب يو مطابق دے ـ

۲۲۸ـ څوک خبر دے له دے دوره ـ ط ـ دَ دوئيمې مصرعے متن دَ اب ھ و ز ط ی يب مطابق دے ـ دَ يو قرأت غلط دے ـ

۲۲۹ـ کوره څه رنګ به احوال شي ـ ن ـ

۲۳۰ـ خواوشا دَ هر رجال شي ـ ز ط يب يو ـ حوادث د هر ديوال شي ـ ھ ـ (دا دَ خواوشا غلطه املا ښکاري)

۲۳۱ـ اعتبار په اوبو مهٔ کړه ـ ھ ـ

۲۳۲ـ دَ کاڼو دَ خرو دلال شي ـ و ـ بيا دَ خرو خرکو دلال شي ـ ن ـ

۲۳۳ـ جوهري دے دَ کوهرو ـ ھ ـ دَ متن مصرع دَ ا ون ط ی يو مطابق ده ـ يب کښې دا مصرعه دا ده ـ جوهري وي ګوهر پلوري" چاپي نسخو کښې "جوهري وي جوهر پلوري" راغلے ده ـ 'ح' کښې دَ دے شعر دوئمه مصرعه دا ده : "خاورے اغزي بيا کلال شي" ـ

۲۳۴ـ "فروشنده" کښې 'ف' ساکنه ده ـ

۲۳۵ـ ب دا شعر نهٔ لري ـ متن دَ ا ون ط ی يب مطابق دے ـ دَ يو قرأت دا دے:

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دَ ځوانئ پہ وخت کښے شعر وی۔ ہ پہ پیری ئے سیا شعال شی۔

۲۳۶۔ متن دَ اب و ن ط ی یب یو مطابق دے۔

۲۳۷۔ متن دَ ل ھ وی او جزوًا دَ ن ھ مطابق دے۔ نور قراٗتونہ دا دی:
نیکولی کا نیک افعال وی بدکردارہ بد افعال شی۔ ب
نیکو کارہ نیک افعال وی بدکردارہ بد افعال شی۔ ھ
نیکو کار او نیک افعال وی بدکردار او بد سکال شی۔ ن
نیک کردار او نیک افعال وی۔ ط۔ یو (دویمہ مصرعہ مطابق متن دہ)

۲۳۸۔ سرنوشت دَ سړی خپل وی۔ ن۔ ط یب۔ سرنوشت خپل ورسرہ وی۔ یو۔

۲۳۹۔ چہ بد بخت وی بد افعال شی۔ ن۔

۲۴۰۔ لاس و پښے دَ ھغو نسہ۔ و۔ لاس پہ نام او سہ ھغۂ تہ۔ ن۔ لاس و پښے دَ ھغو نشتہ۔ یو۔ بناؤ چہ 'نشتہ' دَ "نسہ" تصحیف وی۔

۲۴۱۔ ټولو قلمی نسخو کښے دَ "نومید" پہ ځائے ناامید لیکلے شوے دے۔ ھرکلہ چہ "ناامید" وزن ماتوی نو "نومید" تہ ترجیح ورکړے شوہ۔ نومید دَ ناامید مترادف مستقل لغت دے۔

۲۴۲۔ متن دَ اب وی مطابق دے۔ دَ ھ ن ط یب یو قراٗت دا دے: چہ حرام کښے امید وارشہ۔ دویمہ مصرعہ اب یب کښے داسے دہ: "کنہ خو دِ پہ حلال شی"۔

۲۴۳۔ متن دَ ھ ون ط یب یو مطابق دے۔ دَ اب ی قراٗت دا دے: "ارزومند دَ یوہ خرہ وی"۔

۲۴۴۔ متن دَ اب ن ی مطابق دے۔ دَ "ب" قراٗت داسے دے: "چہ سیالی ئے وی کذاب وی"۔ دَ ھ و ط، یب یو او چاپي نسخو قراٗت دا دے: "چہ سیالی ئے کړے نۂ وی" دَ ل ن ی قراٗت دَ معنویت لہ رویہ غورہ وګڼلے شو۔

۲۴۵۔ متن دَ ل و ن ی مطابق دے۔ دَ ب ھ، ط یب یو او چاپي نسخو قراٗت "پہ ډیر عمر منفصل وی" دَ معنویت دَ کمی لہ رویہ ترک کړے شو۔

۲۴۶۔ خپل احوال دَ سړی فال شی۔ ب۔ ن

۲۴۷۔ متن مطابق اب ھ و یب یو۔ پہ ادم کښے دَ حیوان خویونہ ھم شتہ۔ ن۔ ی۔ ط۔

۲۴۸۔ چہ اغوستے ئے جامے وی دَ پاکانو۔ یب۔

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

۲۴۹- که یوه ذره نمک ئې زیات و کم شي - ی.

۲۵۰- دَ خپل یار له لاسه زخم ئې مرهم شي - و، ن - یب - دَ خپل یار له لاسه زهر ئې مرهم شي - ب.

۲۵۱- عاشقانو په شکست کښې برے بیاموند - ن - کرستهو میتهي (متن) - دَ یَ په نسخه کښې دویمه مصرعه داسے ده: "دلته توان دَ هغهٔ الخ"

۲۵۲- متن مطابق ب ج و ن ی یب، کرستهو میتهي (متن) - زیړے رنګ دَ عاشق هسے مرتبه ده - ط - یو - کرستهو میتهي (حاشیه) - کومو قلمي نسخو کښې چې "مراتب" لیکلے شوے دے، هلته 'دي' ورسره هم شته - چې معروف او مجهول دواړه رنګه لوستے شي - دغه صورت کښې به یو قرأت دا هم وي: "زیړے رنګ دَ عاشق هسے مراتب دے" 'مراتب' متقدمینو واحد او جمع دواړو صورتونو کښې استعمال کړے دے.

۲۵۳- له بهاره نیک و بد دَ کل عیان شي - ب - و.

۲۵۴- متن (دَ دواړو مصرعے) دَ "یب" او 'و' او جزوًا دَ ج، ی مطابق دے. دَ قرأتونو تفصیل دا دے: له یوے نکتے تمام علم حاصلیږي - ج، ی - له یوے نکتے حصلیږي تمام علم - ن - ط - له یوے نکتے حاصلیږي تمام علم - ب، کرستهو میتهي (متن) - له یوے نکتے تمام علم حصلیږي - یب - و - له یوے نکتے حاصل شي تمام علم - یو - دویمه مصرعه کښې دَ ب، ن، یب او کرستهو میتهي (متن) دَ "مشته" په ځائے "موتي" راوړے دے.

۲۵۵- موافق له حاله یو کلام داستان شي - ب - ط - کرستهو میتهي - یو.

۲۵۶- دَ غفلت بنا الخ - ج - ن.

۲۵۷- پوهند په خپله عصا پریوځي په کوهي کښې - و - پوهند پخپله عصا پریوت و کوهي ته - ج - ن - پوهند پخپله عصا پریوت شي په جنګ کښې - یو - کرستهو میتهي - پوهند پخپله عصا پریوځي په ځمبل کښې - ط - دویمه مصرعه ج ن ی کرستهو میتهي (متن) کښې داسے ده: خپل دلیل دَ کم دلیل په ځان الخ

۲۵۸- متن دَ ط او دَ نورو قلمي نسخو دَ مشترک قرأت مطابق دے - دَ 'ط' قرأت دا دے: "موم دلان ئے له بخړی لمن ژغوري" دَ نورو نسخو مطابق دا مصرعه داسے ده: "موم دلان به ئے له شړه لمن ژغوري" هر کله چې "شړه"

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

کښې دَ کړمې تلازمه نشته او که "دا شره ولوستے شي نو دَ مخرې معنی به هم ورکړي او دَ قلمي نسخو دَ تصحیف اصلاح به هم وشي - یب کښې دا مصرعه داسے ده : "موم دلان به ئې له شره ځان ژغوري" په دے صورت دا مصرعه بے وزنه ده - "یو" کښې دَ مصرعے صورت دادے : "موم دلان له بې سرېه لمن ژغوري" ! ن او دَ کرسټو میټهي متن دَ "لمن ژغوري" په ځائے "لمن نغاړي" راوړے دے -

۲۵۹- بل پوشاک ئې پکار نهٔ دے بے نمده - کرسټو میټهي (حاشیه)

۲۶۰- متن دَ ج ط ی یب او کرسټو میټهي مطابق دے - نور قرأتونه دا دي :-
"و مجنون ته دیو و دد دواړه حیران شي - و - و مجنون ته دیو دیوار واړه" الخ - ن - و مجنون ته لیوني واړه حیران شي - یو -

۲۶۱- متن دَ و ن ط یب یو کرسټو میټهي مطابق دے - پرے به ورکا بتان دَ لعل دَ غوبدو - ب - پرے به ورکا دربتان دَ خپلو غوبدو - ج -

۲۶۲- هومره اور دَ عاشقۍ رے په زړهٔ بل وي - ن -

۲۶۳- څهٔ حاجت دے چې ئې زهٔ وچاته وایم - ن -

۲۶۴- بے مطلوبه ئې هیڅ فهم په چانهٔ وي - ل و یب یو -

۲۶۵- هرچه زړهٔ په مهرویانو باندے بائیلو - ب -

۲۶۶- دَ زړے املا له رویه په تېرے (معروفے) او بڅے (مجهولے) ی کښې فرق نهٔ وو ځکه ځنې نسخو کښې "چې په لوح محفوظ کښلي لیوني وي" راغلي دي لیکن هرکله چې و ن کښې وضاحتًا "کښلے لیونے" او نورو نسخو کښې "کښلے لیوني" یا "کښلي لیونے" راغلي دے نو ځکه مونږ په دغه واحد شکل کښې غوره وګڼلو -

۲۶۷- متن دَ هـ و مطابق دے - نور قرأتونه دا دي : دَ خپل پلار په غیږه کا پروت وي روح ئې واخلي - ل - ی - دَ خپل پلار په غیږ کښې روح دَ زوزاد واخلي - ن - دَ خپل پلار په غیب کوره ئې روح دروي - ط -- دَ خپل پلار په غیږ کښې پروت وي روح تر واخلي - یب - دَ خپل پلار په غیږے روح دَ زوئے کا قبض - یو - ب دا شعر نهٔ لري -

۲۶۸- متن مطابق دَ و ن ط ی یب یو دے - نور قرأتونه په دا رنګ دي :-

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

و هغه چه خدائے کمال الخ۔ ب۔ ۀ (او اغلباً هم) کښے دا مصرعه داسے ده۔ دَ هغه چه الخ۔

۲۶۹ متن دَ ب، و، ط، ی، یب مطابق دے۔ دَ 'ن' قرأت دادے: زړه هم عمر دغه شان له خدایه غواړم الخ۔ زړهٔ همه عمر له خدایه دغه خواست کړم۔ ه۔ ط۔ زړهٔ همه ساعت له خدایه دغه خواست کړم۔ یو۔ دا شعر ۀ کښے نشته چه متعلقه پاڼه ئے شلیدلے ده۔

۲۷۰۔ دا شعر مطبوعه نسخو کښے نشته۔ متن کښے دَ ون ط ی یب یو په سند داخل شو۔ دَ 'ن' نسخے اوله مصرعه کښے دَ 'هسے' په ځائے "هومره" او دوئمه مصرعه کښے دَ "چه هیڅ فرق ئے" "په ځائے" "چه هیڅ فرق ے" راوړی دی۔

۲۷۱۔ کړُئے هرڅو دلبری او دلجوئی کا۔ یب۔ دوئمه مصرعه 'ن' کښے داسے ده: "دَ رحمان ناقرار زړهٔ په قرار نهٔ شی" او دَ دے دَ مقطع دوئمه مصرعه دَ غزل ع۳۶ مقطع سره داسے مشترکه ده:

که یار سل ځله وعده دوصال وکړه   دَرحمان په ترکو هیڅ اعتبار نهٔ دے

۲۷۲۔ متن دَ ۀ ب ج ون ط ی یب یو مطابق دے۔ دوئمه مصرعه: لا پخوا تر بل الخ۔ ط۔

۲۷۳۔ مرده شوئے چه دَ بل مرګ وته هوس کا۔ ب۔ بل به بس دَ دهٔ له مرګه الخ۔ ط۔ بل به هم بس الخ۔ ن۔

۲۷۴۔ متن مطابق دَ ب ج ز ط ی دے۔ هم په دا مقدارئے اجر موئے په موئے شی۔ ۀ۔ هم په دا (مقدارئے) اجر مویه موئے شی۔ و۔

۲۷۵۔ متن دَ ۀ ج ون ط ی یو مطابق دے۔ هره ونه چه کږه په یوه لوری. ب۔ یب۔

۲۷۶۔ متن دَ ۀ ب ط او جزوًا دَ و مطابق دے۔ نور قرأتونه دادی: هومره زیان له خوک له خرسه الخ۔ و۔ هومره زیان له خوږه خرسه الخ۔ ج ن ی۔ هومره زیان له کرکه خرسه الخ۔ یب۔

۲۷۷۔ متن دَ ۀ ب ج ون ط ی یب مطابق دے۔

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

۲۷۸- دا غزل د 'ط' او 'یو' نه بغیر یوه نسخه کښې هم نشته - دوایه ځاې دا غزل د $\frac{۷۳}{۳۵۲}$ (ته چې ماته ولې چې په چاپاندې شیدا شې) د دویم شعر (ځان که ستا په مینه کښې فاني الخ) نه پس دا سې شروع کیږي: "مرچې په حیات صورت له مرګ سره اشنا شي ـ خلاص به د قیامت له خرخښو په دا دنیا شې" هرکله چې د ط او یو د دې دولسو شعرونو ردیف 'یې' دو نو موږ د بیل غزل په صورت کښې د "وي" ردیف سره دا وړو -

۲۷۹- دویمه مصرعه د 'ط' مطابق ده - 'یو' کښې دا مصرعه داشان ده: "کُل سرانجام وکا له خزانه استغنا وي" دې مصرعه کښې "کُل" کُل هم لوستې شي ولې په موجوده صورت مناسب وګڼلې شو -

۲۸۰- متن د 'ط' مطابق دے - د 'یو' قرأت دا دے: "غم د هم کاچه هیڅ غم ورسره نه وي" "غم وهم" کښې واؤ یا خو د عطف دے او یا د "وهم" د نفس کلمې نه چه پېتانه شې د "و" په حرکت دائي

۲۸۱- متن د 'ط' مطابق دے - 'یو' کښې دا شعر په دے ډول دے:

"ذره د عاشقانو د دښمن له لاسه بې غم دے
لکه شمع د مقراض له خصومته په خندا وي"

۲۸۲ تل د ستا د خواب الوده سترګو خواب وي - ب - دویمه مصرعه کښې 'یو' د خوب په ځاې "خواب" راوړے دے - چاپي دیوانونو کښې د "صواب" په ځاې ثواب لیکلې شوے دے -

۲۸۳- متن د ا ب ج وي یب مطابق دے - ا ب کښې د "واسطه" په ځاې "واسته" لیکلې شوے دے - 'یو' کښې د "واسطه" په ځاې لکه د چاپي نسخې سبب لیکلې شوے دے -

۲۸۴- متن د ا ج وي یب یو مطابق دے - چې څوک نه ژاړي الخ - ب -

۲۸۵- متن د ب، ج، ن، ي، یو مطابق دے - که خټلے د حباب په سر الخ - ا، ویب -

۲۸۶- د حریص له خپله نقده بهره نه وي - ج - ی -

۲۸۷- متن د ب ج وي مطابق دے - لکه پاڼې د خزان الخ - ا یب یو -

۲۸۸- متن د ا ب ج وي یب مطابق دے - چاپي نسخو کښې د "عجائب" په ځاې "مناسب" دے چه شعر بې معنی کوي -

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

۲۸۹- دَ هغو خلقو به عمر په عذاب وی۔ ن۔

۲۹۰- هغه ملک چه پکښې سیند او کاریز نهٔ وی۔ ن۔ دوئیمه مصرعه: دهقانان ئې همیشه خانه خراب وی۔ یو۔

۲۹۱- دَ اسمان په لوړے ستړکے وی ختلے۔ ن۔

۲۹۲- لکه بنه چه تلاوه شی په کړهی کښے۔ ن۔

۲۹۳- چه په خپلو زراعاتو به سیراب وی۔ ن۔

۲۹۴- دَ افتاب په څیر به کرم په مهتاب وی۔ ط۔ یو۔

۲۹۵- لوبنی لړکی مردار په مجلاب وی۔ ا۔ ز۔ دوکی لوبنی ئے مردار په مجلاب وی۔ و۔ یب۔

۲۹۶- که اوبهٔ ئې کړے وڅے په شراب وی۔ ن۔ یو۔

۲۹۷- دَ اوبو په غلا چه ورشی انصاف پرینږدی۔ و۔

۲۹۸- دَ اوبو په ویش چه ورشی نهٔ جاروځی۔ و۔ متن۔ دَ ب ط ی یو مطابق دے۔

۲۹۹- که ئې شپه و ورځ په سرباندے سحاب وی۔ ط۔ یب، یو۔

۳۰۰- متن مطابق ا ی۔ چاپی نسخو کښے نشته۔ خطی قلمی نسخو کښے دَ تحرّی په ځائے تنګری (ط یو) او ځنو کښے تحری (ب) هم راغلے دے۔

۳۰۱- چه اوبهٔ پکښے نایاب الخ۔ ا او هه۔ دَ "ط" یو قرأت دادے: "چه اوبهٔ پکښے نایاک تر کلاب وی"۔ دَ زړے املا له رویه "کلاب" او "کلاب" (ک، ګ یا ک) یو شان لیکلے کیدے شو۔

۳۰۲- "همیشه ئې خوره زیره په تراب وی"۔ یب۔

۳۰۳- متن دَ ب، و، ن، ی مطابق دے۔ دَ الا اغلب چه) او چاپی نسخو قرأت دادے: "په اُبجه کښے لا هم وی خونه ویرانه"

۳۰۴- متن دَ ب، و، ن، ط، ی، یب او یو مطابق دے۔ ا کښے دا مصرعه داسے لیکلے شوے ده۔ "پائی ناب سرے که زویه دَ ارباب وی" دا هم پاتنا وے لوستلے شی۔

۳۰۵- متن دَ ا ب و ز ط ی یب یو مطابق دے۔

۳۰۶- نهٔ طاقت دَ اوریدو لری نهٔ صبر۔ و۔ نهٔ طاقت دَ بد وئیل۔ ح۔ چاپی نسخے۔

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

۳۰۷- وړومبۍ مصرعې کښې استعمال شوې توری "فتنه" د پښتو "پتنه" دے۔ ټولو قلمي نسخو کښې "فتنه" دو ځکه ئې تتبع وکړے شوه. کیدے شي چه د پښتو او عربۍ د توری ترمنځه ځه اشتقاقي رشته وي ولے په دے شکل کښې پښتو کښې دا توری د دشمنۍ او ضد په معنو کښې استعمالیږي او هم دغو معنو کښې د پښتو محاوره "د اوبو پتنه" کښې بکار شوې دے۔

۳۰۸- چه ئې زیست او روزګار هم له تحمل شي - ن - چه ئې څه زیست و روزګار په تحمل شي - ط - یو۔

۳۰۹- دا شعر په دے حالت کښې صرف په 'ن' کښې وموندلے شو ګوندے چه دا د دے قصیدے هم هغه شعر وي چه نوټ ۳۰۰ کښې پرے بحث شوے دے۔ 'ط' کښې دا شعر داسے دے لکه چه نوټ ۳۰۰ کښې ورته اشاره شوے ده۔ یعنی "چه د نوکے اچولو الخ۔

۳۱۰- هغه دم ئې په خپل ځان باندے عتاب وي - ب، ی، یب -

۳۱۱- متن د ا ب و ن ی یب مطابق دے۔ "یو هغه سرے تیرے ور باندے وکړي" ا چاپ -

۳۱۲- وړومبۍ مصرعه ټولو قلمي نسخو کښې هم دغه شان ده۔ د چاپي نسخو قراتونه دا دي:

هسایه ئې چرګار او پوښتانه شي   او په اصل به موچي یا به قصاب وي- ح

هسایه ئې چریکار و پښتانه شي   او په اصل الخ - کابل۔

هسایه او چلیکار ئې پښتانه شي   او په اصل الخ - اکیډیمي -

دویمه مصرعه په ب، ی، یب کښې داسے ده: "او په اصل یا موچي وي یا قصاب وي"۔ دے ټولو قراتونو کښې د اکیډیمۍ قرات معنی لري۔ صرف د چلیکار په ځائے "چریکار" لګول غواړي۔ ځکه چه چلیکار د "چریکار" عامیانه تلفظ دے۔ قلمي نسخو ته نژدے معنی دار قرات داسے هم کیدے شي: "هسایه وي، چریکار ئې پښتانه شي"

۳۱۳- په هیڅ رنګ له دے خیلونو نه ځار ووځي - ز - یب -

۳۱۴- چه اشراف د حریصو په میان کښیوځي - ا ی - چه اشراف د حریصانو الخ - ب.
چه اشراف د نالائقو په لاس کښیوځي - ن - چه اشراف د هسے خرسو په

میان کبنیوځی - یو -

۳۱۵- تر دا ھسے زمیندارہ ھغه به وی - ۱ و ی -

۳۱۶- وړومبۍ مصرعه 'و' کښے داسے ده : "دَ خشکۍ له غمه قام دَ رحمان خوبنږی دے"
دَ دے مقطع نه پس 'ط' کښے دا رباعی ده

درچشم کسے خار فتد چون خسپد آنرا کہ غم یار بود چون خسپد
اے دیدہ کہ گز میکنی وی خسپی آنکس کہ گناہ گار بود چون خسپد

دَ دے رباعۍ دَ وړومبۍ دوؤ مصرعو او دَ رحمان بابا دَ غزل (ع ۲۵/۲۵) دَ مطلع
مضمون سره یو دے سه

چه په سترګو کښے ئے خار وی څه به خوب کا
چه په زړه ئے غم دَ یار وی څه به خوب کا

۳۱۷- متن دَ ټولو قلمی نسخو مطابق ده - ح او کابل کښے دَ "وبله" په ځائے
"څبله" او اکیډیمۍ کښے "خپله" دے -

۳۱۸- عاشق وه تر دا مقام په هورته - ط - دوئیمه مصرعه کښے دَ مقام" په
ځائے ط او یب کښے "نظر" دے - دَ 'ی' قرأت دا دے : "چه نظر دَ چا په
دغې و په راحت وی ؟

۳۱۹- دَ وړومبۍ مصرعے متن دَ اج و ط ی یب مطابق دے - چاپی نسخو کښے
دا مصرعه داسے ده : "څه دَ اور په لمبو سوے څه دَ عشق - دوئیمه مصرعه
په ج، ی کښے په دے شکل ده واړه عشق دے که هجران که ئے وصلت
وی ؟

۳۲۰- چه مطلب او مدعا دَ سړی خدائے وی - ب -

۳۲۱- وَ فهیم وته بے فهمه بے عزت وی - ط -

۳۲۲- که دا نور عالم غوندے دَ دنیا کا - ط

۳۲۳- قلمی نسخو کښے "څه رنګ" دَ "خرنګ" په شکل لیکلے شوے د ... "
"څه رنګ" لوستلے شی او هم "خرنګه" - دواړه صورتونه ئے سو ... .

۳۲۴- پائے بسته و لړه هرچرته زندان دے - ا ی یب - پائے ...
هر چرته زندان وی - ب هغه هرچرته ازار الخ یب

۳۲۵- متن دَ ج ، ئ ی یب مطابق دے - عشق . یک ...

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

۳۲۶- متن د ب ز یب مطابق دے۔ نور قرأتونه دادی: بیخی و بنیادی دے هغه ده په یاری کښے۔ ا۔ بیخ بنیاد د هغو وی په یاری کښے۔ ج۔ ی د ربنتیا بیخو بنیاد هغه دے په یاری کښے۔ و۔ د بنادی نخښه هغه وی په یاری کښے۔ یا۔

۳۲۷- د وړومبی مصرعے متن د ا و ن ط و مطابق دے۔ "بودنی هغه باله شی په معنیٰ کښے۔ ب او چاپ۔ د دویمے مصرعے متن د ا ب ج و یب یو مطابق دے۔

۳۲۸- د دویمے مصرعے متن د ا و ن ی یب یو مطابق دے۔ د دے قرأت مطابق به "ترلاندے" "ترے لاندے" وئیل بکار وی۔ د ب قرأت دادے: "که ترلاندے ئے سل ستنے د پولاد وی"

۳۲۹- اشنده روند ه کله د چا یاد وی۔ ز۔

۳۳۰- د مرشد له اشارته په ارشاد وی۔ ب۔ چاپی نسخو کښے دا مصرعه غلطه ده۔

۳۳۱- د وړومبی مصرعے متن د ا ب ج و مطابق دے۔ د ن، ی، یب، یو قرأت دادے: "وهغو وته چه خدائے پخپله وښو" دویمه مصرعه د ا ب ج ز ی مطابق ده۔ څه حاجت ئے په ښودنه د استاد دی۔ و

۳۳۲- متن د ا ج و ن یب یو مطابق دے۔

۳۳۳- متن د ب ج ط ی یب مطابق دے۔

۳۳۴- وړومبی مصرعه: زمانه ئے تر پښو لاندے پائمال کا۔ و۔ دویمه مصرعه: که به قطع ئے تر آسمانه الخ۔ ج۔ ی۔ که په قطع تر اسمان ئے الخ۔ ط۔

۳۳۵- متن د ا ب وی یب مطابق دے۔

۳۳۶- هرچه کاندی آزادی په دا دنیا کښے۔ ط۔

۳۳۷- متن مطابق د ا ب ج و ط ی یب دے۔

۳۳۸- متن د ا ب و ط ی یب مطابق دے۔

۳۳۹- متن مطابق د و ط یب دے۔ هزار وارے دیار تر نامه ځار کړم۔ یو هزار وار به ئے دیار تر نامه ځار کړم۔ ا ج ی۔

۳۴۰- څو ئے اوښے په مخ لارے جوړے نه کا۔ یو۔

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

۳۴۱- ته چې کل زما د یار په مثل غواړې - یب - ته چې کل د اشنائی له باغه غواړې - ج - ی -

۳۴۲- د دوهمې مصرعې متن د ط یو او جزوًا د و، ی مطابق دے: "زهٔ د یار په خیر مخ نه وینم په سترګو "یب - زهٔ د یار په خیر بل مخ الخ - و - ی - دوهمه مصرعه په 'ط' کښې داسے ده: که په هر طرف خوبان الخ -

۳۴۳- متن مطابق د 'ط' او 'یو' دے - ا، و کښې دا شعر نشته - د ج قرأت دا دے: د عاشق نظر په ډیرو په لږ نهٔ دے ؛ که دیدن د یار په لږ که په بسیار وی -

۳۴۴- شته هزار هزار خوبان بارے سوګند دے - ط -

۳۴۵- دا شعر د 'ط' او "یو" په سند راوړے شو - نورے قلمی نسخے او چاپی دیوانونه دا شعر نهٔ لری - 'یو' کښې دا شعر د $\frac{۴۷}{۲۸۰}$ غزل د مقطع نه اګاهو راغلے دے -

۳۴۶- مرګ له چاسره وار نه کاندی رحمانه - ط

۳۴۷- د هغو سره به څه فکر دیار وی - ا -

۳۴۸- صبوری او قراری دِ په ما زار شی - ا ج - صبوری او قراری دِ په ما زار شی - و - صبوری او قراری دِ په ما زهر شی - یو -

۳۴۹- دغه اور و عاشقانو ته ګلزار وی - ط - هغه اور هم عاشقانو ته الخ - ی - دا شعر چاپی نسخو کښې نشته -

۳۵۰- دا شعر د اسلامیه کالج د نسخے ج نه بغیر نوره قلمی نسخه کښې هم نشته مګر چاپی نسخو کښې شته - چاپی نسخو کښې د "نه ویُیلے" په ځائے "مهٔ ویُیلے" دے -

۳۵۱- ځائے ئے اور شه چې زنار ئے شی په غاړه - ی - ځائے اور شه چه زنار ئے وی په غاړه - یو - دوهمه مصرعه 'یو' کښې داسے ده: ولے نه چې ئے د ستا زلفے زنار وی -

۳۵۲- چې رحمان غوندے مجنون ئے په دربار وی - ا - و - د مقطع نه اګاهو "یو" کښې هغه شعر دے چې ۳۴۵ نوټ کښې ئے ذکر شوے دے -

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

۳۵۳- ستادپاره دااغیار هم ژغایان وی- ا- و-

۳۵۴- متن مطابق ا و ط یب- 'ط' کښې دَ "چه سپې" په ځائې "د سپې" لیکلَ دے- هر سپے چه په یو مخ باندَ الخ- یو-

۳۵۵- متن دَ ا ب ج ی ط یب مطابق دے- 'و' هم دغه قرأت لری ولے "دریانانو" په ځائې "دربانو" لیکلے شوے دے-

۳۵٦- ا ب و ی یب کښې 'مانڼه' او دَ کابل چاپي نسخه کښې مانړه ده- 'یو' کښې "ماڼه" راغلے دے-

۳۵۷- هر سپے چه دَ سرو سترګو خریدار وی- ا- هر صوفی چه دَ سرو شونډو خریدار وی- ج ی-

۳۵۸- متن مطابق دَ ا ب ج و ط ی یب یو دے- چاپي نسخو کښې "ستاله حُسنه" په ځائې "ستاله مخه دے-

۳۵۹- که ګریوانے دَ سپوږمۍ دَ نمر مشرق وی- ب-

۳٦۰- دا شعر صرف 'ط' نسخه کښې وموندلے شو-

۳٦۱- معشوقه چه غمخواریه دَ عاشق کا- ط- دَ عاشق سترګې دِ وو ځی که بے غم وی- ط- یب-

۳٦۲- همدمی دَ دوو همدمو سره بویه- ن- نشانه دَ دوو همدمو اول داده- ط- دوئیمه مصرعه دَ ا ب ج و ن ط ی یب مطابق ده- چاپي نسخو کښې "زندګی" په ځائې "همدمی" راغلے ده-

۳٦۳- کهٔ دَ درست جهان خوبنی وربانده ورشي- ی-

۳٦۴- متن مطابق دَ ا ب ج و ی یب دیے- چاپي نسخو کښې مصرع داسے ده: دا قضا ځنۀ تر تقاضي الخ-

۳٦۵- چه خونابے دَ چشمانو مے ناب وی- ب-

۳٦٦- هرچه غواړے نیک طالع له خدایه غواړکا- یب- دوئیمه مصرعه 'ط' کښې داسے ده: "بے سلیمانه ئے څوک څوک کا کهٔ خاتم وی" دَ "سلیمان" س ساکن دے-

۳٦۷- دا غزل دَ کابل نسخه کښې نشته- دلته مونږ دَ ا ب و ن ط ی یب یو په سند نقل کړو- نورو چاپي نسخو کښې هم شته- ورومبۍ مصرع کښې

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دَ "اوستا" په ځلئ 'ط' "دِ تا" او يب "دَيار" راوړے دے۔ يو کښے دامصرعہ داسے ده: "هيشه دِ زماسر دا ستا قدم وی"

۳۶۸- زهٔ بے تا هسے کمان کړم چه تنهائيم۔ ﻻ۔ زهٔ په تا پسے کمان کړم چه بے حال يم۔ ب۔ زهٔ بے تا هسے کمان کړم چه سفال دے۔ يب۔ ح۔ زهٔ بے تا هسے کمان کړم چه خهٔ نشته۔ ن۔ يقيناً هسے کمان کړهٔ چه خالی دے۔ يو۔ متن دَ و ط ی او جزوٗ ا دَ ب مطابق دے۔

۳۶۹- که مے زهر بدمے په زخم الخ۔ ب۔ يو۔

۳۷۰- نور عالم که دَ دنيا کاروبنه کاندی۔ ب۔

۳۷۱- دا ستا غم دِ الخ۔ ن۔

۳۷۲- دويمه مصرعه کښے دَ مطلع دويمه مصرعه بيا راغلے ده۔

۳۷۳- که په دا کښے به هيچرے زيات وکم وی۔ يو۔

ے

۱- هرچه شی تکيه په خدائے۔ ﻻ ب۔ هرچه شو تکيه په خدائے۔ يو۔

۲- هرچه کا هغه به وشی۔ و۔ ن۔ نهٔ بل ځائے لرم نهٔ خدائے۔ ی۔

۳- متن دَ ﻻ ب ج ی يب مطابق دے۔ بے دلبره به ونه کړم ؛ نور دَ هيچا دَ زړهٔ رائے۔ و۔ نور هيچا ته دَ زړهٔ رائے۔ يو۔

۴- متن دَ ﻻ ب ج و ن يو مطابق دے۔

۵- تر دے دوؤ چارو په هورته۔ يو۔

۶- نهٔ خود کام و خود آرائے۔ و۔

۷- که مے مل شی کار فرمائے۔ يو۔

۸- متن دَ ﻻ ج و ی يو مطابق دے۔ 'و' کښے دا غزل دوه ځل ليکلے شوے دے۔ نور قرأتونه دادی: زهٔ به مړ ومه هجران کښے تاتلے۔ ب۔ زهٔ به مړ دم په هجران کښے لړغونے۔ ط۔ يب۔ 'يو' کښے دَ "لړغونے" په ځائے "نړغونے" راغلے دے۔ دَ چاپی نسخو او دَ و (دويم) دا قرأت دے: زهٔ به مړ وم ستا په عشق کښے الخ۔

۹- متن دَ ﻻ ب ج و ط مطابق دے۔ زړهٔ مے هسے په تورو زلفو بائيلو دے۔ و۔ (دويم)

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

۱۰- په یوه ساعت مې رد بیا مې قبول کا. ط - نهٔ پوهیږم چې زهٔ خپل وم که پردې. ل - متن د ب ج و ط ی یب یو مطابق دې.

۱۱- که په مرګ د عاشقانو دِ رضا وی؛ خدایه دِ ما کا ترهمه واړه ووژنه. ط - که په مرګ د عاشقانو دِ رضا ده. و - (دویم)

۱۲- دا شعر په چاپي نسخو او ب - ط کښې نشته. متن د ج مطابق دې. ل او و کښې وړومبۍ مصرعه دا سې ده: د کوم کوم ته به ادراک د پاړه ودرشي (وشي). د 'و' دویم غزل کښې دا شعر نشته.

۱۳- ځوک دِ غم زما د ډېرو اوښیو نهٔ کا. ط - متن د ل ب ج و ی یب یو مطابق دې.

۱۴- د هجران په توره شپه کښې ویرېږم - ب - و - یب - د هجران په توره شپه کښې مې دهشت وی - ط - وهجران په توره شپه کښې مې دهشت شي - یو -

۱۵- د یار غم لکه مزرې را باندې راغې - ط -

۱۶- چې پرې غم غلطومه د شپې پاڅم - و - چې پرغم غلطوم په شپه کښې پاڅم - یو - چې ئې غم غلطوم نیمې شپې پاڅم - ب - د 'و' دویم قرأت د متن مطابق دې.

۱۷- بارې دردې هیڅ رنګ نه کاندی کمې - یب - بارې دردې په هیڅ نهٔ کوی کمې - ط - یو - بارې دردې په هیڅ رنګ نه کاندی کمې - و - (دویم)

۱۸- همسایه مې واړه ووته له خوبه - ب ج ی و (دویم) - دویمه مصرعه د 'و' یو قرأت کښې "که په سل کوته د ننه کړم الخ" او بل قرأت کښې "که په سل کوته د ننه کړم الخ" ده - 'یو' کښې "سل کوتو" دې - ځکه نو دا لفظ "کتو کوتو" دواړه لوستلې شي - دویمه مصرعه کښې استعمال شوې لفظ "زبیرګې" ځنو نسخو کښې 'زګیر وې' هم لیکلې شوې دې - 'یب' کښې "زویرګې" دې - دا سې ښکاری چې مختلفو نسخه نویسو د خپل تلفظ مطابق دا لفظ بدل کړې دې - ځکه مونږ "زبیرګې" ولیکلو چې موجوده لحاظ سره متفق علیه تلفظ دې.

۱۹- خدایه د هجر په توره وژنه یو سپې - و - خدایه د هجر په تیغ مه وژنه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دا سپے - یو -

۲۰- متن دَ ټولو قلمي نسخو مطابق دے - چاپي نسخو کښے دَ "مارة" په ځلئ "راکړه" راغلے دے -

۲۱- متن دَ ا ب ن ي يب يو او جزوًا دَ "و" مطابق دے - دَ "و" قرأت دا دے:
"مے دَ خپلو لبو راکړه دَ انګورو"

۲۲- څوک دَ غم په قليم (شايد اقليم) نهٔ موي برے - ا - څوک دَ غم په ورځ په غليم الخ - و -

۲۳- جام دَ ميُو چه غم خوړ دَ کل جهان شه - ب - ي - جام دَ ميُو چه غم خوار دَ درست جهان شه - يو -

۲۴- چه خبر نهٔ يم له حاله الخ - ب - و - يب -

۲۵- بے خودي هسے بناوه الخ - ج - ي - بے خودي هسے بلا ده الخ - ن - ميخواري هسے پناه ده الخ - يو -

۲۶- زهٔ هغه سړے تمام کړم په عشق کښے - يو -

۲۷- متن دَ ب ه و ن ي مطابق دے - و - ن کښے وضاحتًا بدکرداره او ب ه ي کښے "بدکردار" راغلے دے چه بدکرداره هم لوستلے شي -

۲۸- مختلف قرأتونه دا دي:

لوبني لړکي همه وارهٔ پړ مردار وي بدکردار څوک لکه سورلنډ ودے سپے - ه
لوبني لړکي وارهٔ پړ مردار وي بدکردار لکه سورلنډ ودے سپے - و
لړکي لوبني ئے همه وارهٔ مردار وي بدکرداره زوبه پمثل سورلنډ سپے - يو
لوبني لړکي همه وارهٔ مردار کا بدکرداره لکه سولند ودے سپے - ي

دا شعر ب کښے نشته - دَ متن وړومبې مصرعه دَ چاپي نسخي او جزوًا دَ و ن ه او دوېمه مصرعه دَ ي مطابق ده - سولند دَ سخت تړي په معنو کښے استعمال شوے دے - او دلته دَ سورلنډ يا سورلنډي په مقابله کښے ځکه غوره دے چه سورلنډے کوزنے ځناور نهٔ دے ځکه دَ لوبني لړکو دَ مردارېدو په ضمن کښے ئے ذکر صحيح نهٔ دے -

۲۹- متن دَ ب، و، ي، يب مطابق دے -

۳۰- متن دَ ب ي مطابق دے - "بے له مرګه چه پرېوک کړے يو کوهے - و - يب -

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

بے له مرګه چه پر ډک کاسه کوېږي- ن- بے له مرګه چه پر ډک کاندی کوېږي- ھ-

۳۱- حرام خور دَ مخلوق په حساب دے- و-ن-ی-که په توره یا په تیغ شی مړېږي- ب-ی-یب-

۳۲- چه بے وجهے آزار نه کا هیڅ سړی- ھ-

۳۳- متن صرف دَ 'یب' مطابق دے- نورو قلمی نسخو کښے مصرعه دا سے ده: "هسے فیض ئے وهرچا وته رسیږی"؛ دَ 'یب' قرأت ته ترجیح ځکه ورکړے شوه چه په دے قرأت کښے دَ "فیض" تلفظ دَ رحمان بابا دَ عام استعمال مطابق "فَیَضْ" دے-

۳۴- متن دَ ب و ن ی مطابق دے-

۳۵- چه ے نهٔ شی ځائے دننه نهٔ دَ باندے- ن-

۳۶- له زبیرګیه ے دروغ خلق په عذاب شه- ن-

۳۷- زړهٔ دستا په غم کښے ژاړم لکه شمع- و-ی-

۳۸- ستا په لورے زړهٔ هسے اویزان دے- ط-

۳۹- دَ وړومبۍ مصرعے متن دَ ا ب ن و ی مطابق دے- ما دَ ستا دَ اندیښنی په اور کښے سوی- ط-یو- دویمه مصرعه: دَ دنیا اندیښنے نورے لکه سپاندے- ا ج و-

۴۰- متن دَ و ن ط ی مطابق دے؛ دا دستور دے چه یو غم په سړی ورشی- ا ب- دویمه مصرعه ط کښے دا سے ده: نور غمونه همه واړه تر پښو کاندے-

۴۱- دا مقطع صرف 'ط' او 'یو' کښے موندے شوه-

۴۲- ځنے قلمی نسخو کښے "کلرنګ" راغلے دے چه دَ ا په سند 'کلرکے' ولوستے شی-

۴۳- متن دَ ا و ن ی یب مطابق دے- هرچه اوری ستا خوږے خوږے خبرے- ب-یو-

۴۴- دا مصرعه دَ "ن" نه بغیر نورو ټولو قلمی نسخو کښے دَ "مرور کاندی عاشق لرجمله خلق" په صورت لیکلے شوے ده چه دروستے تورے

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ئې "خلقه" او "خلقو" دواړه لوستې شي. 'ن' کښې صراحتًا "خلقه" دے نو ځکه دَ دغې نسخې تتبّع وشوه.

۴۵- په ساعت کښې سرے مړ بیائې ژوندے کا. ن. طائفې دی دَ خوبانو زور اودے. ز.

۴۶- چې مې نوم دستا دَ زلفو په خوله واخست. ن.

۴۷- متن دَ ا ب ج و ن ی ط یو مطابق دے. همیشه زما په وړهٔ دَ زړهٔ منکرے. یو. دویَمه مصرعه کښې "منکرے" دَ "منکرئې" په شکل لوستل دَ قافیې له رویه غلط دی. ځکه نو "منکرے" به ندائیه لوستل پکار وی.

۴۸- دَ رحمان ویَیل به ولے نادر نهٔ وی. یو. چې ثنا کاندے دستا غونډے نادرے. ب. ا، و، یب کښې دَ مقطع نه اګاهو دا درے شعرونه هم راغلی دی:

چې میوه ئې دَ کابل خوړلے نهٔ وی — دَ هغو له فهمه وځکې شي ګرګرے
په رند و سترګو حاجت دَ رنجو نهٔ وی — په بد رنګې ناوے څه وائې سندرے
که په غرهٔ په سمه ګرځم باک مې نشته — مزړی تل ګرځي په لوړے په ژورے

دا درے واړه شعرونه دَ خوشحال بابا دی. ځکه نو له دے غزله خارج کړے شو.

۴۹- غم خوړکی دا هسې چرے شي غمخورے. ب. غم خوری دا هسې چرے وی غمخورے. ج ی یو. چې ما دلته جدا ناست لرے ته دورے. ن.

۵۰- دَ وړومبۍ مصرعے متن دَ ا ب ج ز ط یو مطابق دے. هغه خدائے چې ئې ستا مخ بله لمبه کړهٔ. و. یب. ی. دا لمبه ئې کړهٔ زما په زړګی پورے. یب. دا لمبه ئې کړهٔ زما په صورت پورے. ط.

۵۱- هم هغه دی زما تور کسی سرهٔ کړی. یو.

۵۲- متن دَ ا ب و ن ط یب مطابق دے.

۵۳- اصیل نهٔ دے چا په بیع پیرودلے. ن. اصیل نه دے چا پیر ودے پیرولوے. ط. یو.

۵۴- دا کوم رنګ دَ اشنائۍ او دَ یارۍ دے. ز. یو. دویَمه مصرعه کښې

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

"زورے" "څورے" هم لوستلے شی۔

۵۵۔ دا شعر په یوه قلمی نسخه کښے هم نشته۔

۵۶۔ زړهٔ وتاوته دَ ستا له لاسه ژاړم۔ ی۔

۵۷۔ متن دَ ا و ی یب مطابق دے۔ که لږ مخ په ائینه کړے څان ته کوړے۔ ب۔ ن۔ که لږ مخ وائینے وته وګورے۔ ط۔ یو۔

۵۸۔ خدایه مهٔ کړے الخ۔ ز۔ یو۔ کرستو میتهی (متن)۔ دویمه مصرعه دَ و ن ی یب یو کرستو میتهی (حاشیه) مطابق ده۔ چه امیدئے دے دستا ولورته کړے۔ ط۔ کرستو میتهی (متن)

۵۹۔ ستاله رحمه به په څه ناامید کیږم۔ ز۔ ستاله رحمه به زهٔ ولے ناامید یم۔ کرستو میتهی (متن)۔ دویمه مصرعه دَ ج ی ن کرستو میتهی (متن) مطابق ده۔ چه دِ نوم دے دَ رحیم په نوم بللے۔ ط۔ چه دِ څان دے دَ رحیم په نوم نومړے۔ و۔ چه دِ نوم دے دَ رحیم په نوم نومړے۔ یو۔ کرستو میتهی حاشیه۔

۶۰۔ دَ وړومبۍ مصرعے متن دج ط ی، یب او دَ ن مطابق دے۔" دا نیم کړے سړے ننګ دخپل نام کا"۔ ب۔ یو۔ کرستو میتهی (حاشیه)۔ دا هم "ننګه" لوستلے شی۔ دویمه مصرعه په 'ط' یو کښے داسے ده: "ته څو رب ئے چه په هیڅ نهٔ ئے نیمګړے"۔ ته حق خدائے ئے چه په هیڅ نهٔ ئے نیمګړے۔ ب۔

۶۱۔ متن مطابق دَ ج ا و ی 'یب' او کرستو میتهی دے۔ هیڅ بنده دِ په بزرګۍ کښے لیدهٔ نهٔ شی۔ څو تا الخ۔ ب۔

۶۲۔ متن مطابق دَ و ن ط کرستو میتهی دے۔ دَ شومیت په څائے 'یب' کښے 'شومی' او ب ج ی کښے شامیت دے۔ کرستو میتهی (حاشیه) ط یو کښے مصرعه داسے ده: خپل شومیت په څان بلا شوه د شومانو۔

۶۳۔ چه بے تائے په زړهٔ بله مینه کړی۔ ط۔ یو۔ کرستو میتهی (حاشیه)۔ دویمه مصرعه د کرستو میتهی دَ متن او جزوًا دَ 'و' یو مطابق ده۔ نور قرأتونه دادی:

